د افغانستان د بیا رغونې لپاره
ځانګړی عمومي پلټونکی

خوشاله یم چې د افغانستان د بیارغاونې په ډګرکې د امریکا متحده ایالاتوکوبښونو په اړه کانګرس ته د سیګاردرې میاشتنۍ راپور چمتو کوم . څرنګه چې زه د افغانستان د بیا رغاونې لپاره د ځانګړې عمومي پلټونکي رول ننګونکی انګیرم، ژور باور لرم چې د افغانستان راتلونکی چیرته چې مونږ په خپلو انساني او مالي زیرمو پانګه اچونه کړیده په یوه لویه کچه راتلونکې دوو کلونو کې د بیارغاونې په پروګرامونو کې د ملیارډو ډالرو په بریالۍ بشپړونې پورې اړوند دي. د حالاتو اهمیت یوه ځیرکه ، چټکه او چمتو څارنې ته اړتیا لري.

د مهال ویش له مخې په 2014 کال کې د امریکا نظامي حضور په پای ته رسیدو دی، افغان حکومت ته د امنیتي مسولیتونو سپارل، د بسپنه ورکونکو هیوادونو د پیسو بندیدل، او د طالبانو او نورو مسلحو ډلو شته والی ټول هغه څه دي چې د مهمو پروژو د کار په بشپړولو، د بنسټیزو موسسو په پښو درولو او ترڅنګ یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت سره په خپلو مټو د دریدلو لپاره هڅې زیاتي کړیدي. په څارونکې ټولنې کې مونږ ټول اړ یو چې په ځیر کار وکړو تر څو د مالیه ورکوونکو پیسې وساتو، ددې لپاره باید په وخت ستونزې وپیژندل شي او سم عملي ګامونه واخیستل شي.

کانګرس ته ددې رپوټ څرګندونه ښیی چې د یوې لسیزې مبارزې او وینه بهیدنې او تر 89 بلیونه ډالرو ډیر مصرف سربیره د سختو ستونزو پس منظر لاهم روښانه ندی. د بیلګې په توګه په وروستیو کې د سیګار مفتشینو موندلې ده:

- په 2011 مالي کال کې په لویه کچه زیربنایي پروژو کې کیدی د متحده ایالاتو د حکومت د 400 ملیونو ډالرو مرستې یوه دپام وړ برخه ضایع شوي وي.چې د پلان جوړولو، انسجام، او د بشپړولو ضعف، دوامداره اندیښنې راولاړې کړیدي او د یاغیانو ضد فعالیتونو موثریت یې تر سوال لاندې راوستی دی.
- امنیتي مصارف او بیارغیدونکي ساحې کیدی شي لدی کبله چې امنیتي مسولیت له خصوصي امنیتي کمپنیو د افغان عامه محافظت ځواکونو ته لیږدول کیږي لوړ شي.
- د افغانستان ختیځ کې د ولسوالیو په کچه ثبات راوستل چې USAID یې قرارداد کړی پخ پرمخ روان دی. لوړ عملیاتي مصارف لري او د ټول هیواد په کچه تیریدونکې ستراتیژي نلري.
- د متحده ایالاتو پوځ هغه قراردادی ودانۍ منلې چې په ډیر بیکاره کیفیت جوړې شوې، سرحدي پولیسوته د پلان مطابق قرارګاوي چې په ملیونو ډالر پري لګول شویدي ، ندي جوړې شوي. یومرکز په دې دلیل چې د اوبو سیستم نلري د کار اخیستلو نده. نورې نیمګړتیاوې لکه د سون موادو ناسمې لاري، د تشونکو پایپونو نه نښلول، د ساتونکو د برجونو بې کیفیته جوړیدل او د تهویې او ګرمولو د سیستم خرابوالی د یاودلو وړ دي.

که کانګرس بیارغاوني لپاره نوره بودیجه چې اولسمشرېې غواړي ومني نو له 2002 کال رادیخوا د افغانستان په بیارغاونه کې به د امریکا مرستې 100 بلیونه ډالرو ته ورسیږي. په افغانستان کې د امنیت د ښه والي، سمې حکومتولۍ او د ټولنیز- اقتصادي ودې لپاره د دغو پیسو سمه کارونه یوه ستره ننګونه ده. د بیارغاوني لپاره تر 36 بیلیونو ډالرو ډیره بودیجه چې لا لګول شوې نده او په داسې حال کې چې د پروژې د بشپړیدلو په اړه سخت شکونه موجود دي، د چټکې او موثرې څارنې لپاره اړتیا ورځ په ورځ زیاتیږي.

د موثریت زیاتولو، زیان کمولو، متخلیفینو پیژندلو، د خرابو قراردادیانو ځنډولو او بې برخې کولو، د مجرمینو تعقیب، د زیانونو اعاده او د پروګرا م او ماموریت د ښه والي لپاره د ښو ګامونو اخیستلو ته لا هم وخت شته، خو د فرصت کړکۍ په بندیدو دي. له دې کبله به زما تر قیادت لاندې سیګار خپل څارونکي کارونه پیاوړي کړي.

2530 کریسټل ډرایو ارلنګټون، ویرجنیا22202

## سیګار په بي ساري قومنده کې پياوړی دی

سیګار پدی بي ساری دی چې:

- یواځنی IG چې د افغانستان په ماموريت کې متمرکز دی.
- یواځنی IG چې خاصتاً د بيار غاوني برخه کې کار کوي.
- یواځنی IG چې د اداري ډيپارټمنونو تر پولو تيريږي او د ګن اړخيزو پروګرامونو د ارزوني فرمان پرې ورکړل شويدی.

د سیګار د نوي عمومي څارونکي په توګه او لدی چې په نږدې دوو کلونو کې مې دا لومړنی دايمي IG دی، اراده لرم چې د سیګار په ځانګړو مقاماتو خپل نفوذ وکاروم څو په ډيرو کرکيچنو مسالو کې چټکه څارنه وکړي، او کانګرس او نوري اجراکونکي اداري له ستونزو خبر کړي او په خپل وخت تصميم نيولو ته يې تيار کړي. په دې ربع کې مونږ خپلو موخو ته درسيدو لپاره ځينو نويو لومړيتوبونو ته وده ورکړيده.

## د څارونکو لپاره يونوی ګډ ستراتيژيک پلان

د وخت د کموالي او دبنې منسجم شوي او ډيرې موثرې څارنې د اهميت پيژندل هغه څه دي چې په دې وروستيو کې سیګار د 2013 مالي کال لپاره د يوې ګډې ستراتيژيکې څارنې د پرمختيا لپاره پلان جوړولو ته مسوليت په غاړه واخيست. چې د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونه او د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره ورسره په همغاريتوب کار کوي. دا پلان د څارنې د سرچينو په پراخوالې تينګار کوي تر څو د پروګرام بنسټيز تفتيش وکړي او د انتقال د کرکيچن بهير په ترڅ کې له متحده ايالاتو سره مرسته وکړي څوخپل بيارغاونيز اهداف لاس ته راوړي. څارونکي به حالت تر معاينې لاندې نيسي او په بنسټيزو هڅو کې به پرمختګونه غواړي. لکه د افغان ملي ځواکونو د ظرفيت او وړتياوو رغيدنه، په افغان تاسيساتو او زيربناوو کې د متحده ايالاتو د پانګونو ساتنه، د افغان قضايي سيستم وده او ساتنه، او د فساد ضد لومړيتوبونو پلي کول.

## ډيرې چټکې او د تعقيب وړ سپارښتنې

له کانګرس څخه سیګار ته قانوني فرمان د څارنې او تحقيقاتو غوښتنه کوي. خو دا برسيره پر دې سیګار ته لارښونه کوي څو د پاليسی د بدلون لپاره سپارښتنې منسجمې کړي او لارښونه ورته وکړي.او د دفاع او خارجه وزيران "په ستونزو او نواقصو پوره اودوامدره خبر کړي...په سم ګام پورته کولو کې اړتيا او وده وارزوي". (عمومي قانون 181-110 )

دسیګار کار،پداسې حال کې چې غواړي د ځانګړو پروژو د ځای ځای تشخيص لپاره ګام پورته کړي لاندنی پوښتنه هم ده: زمونږ د څارنې پايله څه معني درلودلی شي؟ آيا د نواقصو تر شا کومې سيستميکې او سيمه ايزې ريښې شته؟ آيا مخکنې سپارښتنې کارول شويدي ، او موثريت يې څومره وو؟ کوم نوي، په وخت، جوړونکي او د تعقيب وړ سپارښتنې وړاندې کولای شو څودا پروګرام وژغورو، يا لږ تر لږه نورو ته يوه ښه پايله وروښيو؟ ايا د راتلونکي عملياتو لپاره د زده کړې لپاره څه شته؟

د کانګرس غړيو او کارکوونکو همداراز د اجراييه قوې برخې په توله کې د سیګار له سپارښتنو هرکلی وکړ . خو هغو برسيره پر دې مونږ تشويق کړو تر څو پروګرامونو ته په وخت سپارښتنې، پلانونه او بشپړتياوې وړاندې کړو، تر څو د زيانونو مخه ونيسو او د نيمګړتياوو د سمون لپاره فرصتونه لوړې کچې ته ورسوو. مونږ اوريدلي دي او خپله پاملرنه مو ګرندی کړيده څو دا فرصتونه په ښه کړو. مونږ به تر ډيره وقايوي درملنه وکاروو خو همداراز به پس مرګي طبي معاينه او لازم معلومات د ضرورت پر مهال وړاندې کړو. د افغانستان د زيربناګتنو پر پروګرام زمونږ وروستی تفتيش ددی لارو چارو يوه بيلګه ده. مونږ د غه تفتيش په ځانګړې توګه داسې طرح کړې چې په پروګرام کې په خپل وخت وکاريږي. نو د اصلاح لپاره به تولې ستونزې او فرصتونه وپيژندل شي او پر وخت به په ښه شي.

## د سیستمیک ستونزوته د رسیدنې لپاره کپستون راپورونه

مونږ د بیارغونیزو هڅو په وړاندې سیستمیک ننګونو ته درسیدنې په موخه د یو نوی «کیپستون راپور» په چمتوکولو بوخت یو . د سیګار او IG دفترونو لخوا په سیستم کې په ګوته شوي بیاپیښیدونکې او لویې ستونزې ، ځانګړې پاملرنې ته اړتیا لري . دا راپور د کانګرس او اجرایي ځانګې سره مرسته کوي ترڅو د پروګرام لا اغیرمنتیا لپاره شته موقع وکاروي .

د سیګار لومړی کیپستون راپور چې وروسته په دې کال کې خپریږي ،د پایښت موضوع ته به ځانګړی شي . لکه څنګه چې د سیګار بیلابیل راپورونه او اعلامیې خبرداری ورکړي که چیرې ډاډ تر لاسه نه شي چې افغانستان وړپرسونل ،وړتوبونه ،ټکنالوژی ته لاسرسي ،پانګه اچونې او د پلان جوړونې او څارنې میکانیزمونه د پروګرامونو پایښت لپاره ترتیب کولی شي ، د متحده ایالاتو د میلیاردونو ډالر پانګه اچونه به په افغانستان کې ضایع شي . د پایښت د ا اندیښنه د امنیتي ځواکونو او بریښناستیشن څخه د ښوونځیو او بانکونو تر تنظیم پورې د پانګه اچونې یوه پراخه ساحه تر پوښښ لاندې نیسي .

امنیت او پایښت د افغانستان په بیارغاونې کې د پرمختګ په وړاندې دوه لوېې ننګونې دي . د اغیزمن امنیت څخه پرته د 2002 کال څخه دیخوا د دولتداری او اقتصادي ټولنیزو چارو پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو 50 میلیارده ډالر پانګه اچونه خپلې موخې لاسته نشي راوړلی . خو پرته له پایښت څخه ، د امنیت په ډګر بریالیتوب د ډیرې مودې لپاره نشی زغمل کیدی .

## د مالي پلټنې نوی پروګرام بنسټ ایښودنه

د مالیه ورکونکي ډالرو ساتلو لپاره مالي پلټنې ډیر رغنده رول لوبوي . که څه هم مونږ په افغانستان کې د عملیات کوونکي قراردادیانو ځینې کارونه د اسنادو معاینه کولو لپاره ، ځینې کارونه ترسره کړي خو بیاهم هڅه کوو تر څو دا کارونه پراخه کړو . پدې ربع کې ،د هغو لګښتونو چې د بیارغونیزوقراردادونو کې د لوړخطر سره مخ دي ، د معاینه کولو لپاره سیګار د پلټنې یو نوی پروګرام به پیل کړي . دا پلټنې چې مونږ د خپلو نورو پلټونکې ملګرو سره منسجم کوو،په افغانستان کې اړین په اړه به په وخت او مشرح مالي څارنه وړاندې کړي .

## زمونږ رای

د متحده ایالاتو د ولسمشر لخوا د ځانګړی عمومي پلټونکي په توګه ګومارل یو درنښت او یوه ننګونه ده . ټولې هغې وړتیاوې چې د 30 کلنې تجربې په موده کې دیو وکیل په توګه ،د منظمو جرمونواو نورو وران کارو په وړاندې د دولت او فیډرا ل څارونکي په توګه ، د کانګرس مشري هیت دیو غړي او د کمیټې سلاکارپه توګه او د سوداګرې وزارت د رسمي کارکوونکي په توګه ما لاسته راوړې د خپل نوې دندې ترسره کولو کې به وکاروم.

سیګارهوډلري چې په بیارغونیزومسایلو کې د دولت تر ټولو څخه مستقل ،د اعتماد وړ او مرستندوی سلاکاروي نه یواځې د افغانستان میشن لپاره بلکه په ټولو محلې او د سیندونو پورې خوا هیوادونوکې چې بیارغونیزو هڅو ته اړتیا لري مرسته کوي ترڅو د افغانستان له ناخوالو شرایطو څخه لاسته راغلې درسونو څخه ګټه واخیستل شي .

که چیرې د سیګارد پلټنې او تحقیقاتو مسلکې او تجربه لرونکي کدر او ملاتړ پرسونل بشپړې هڅې نه وې ، دې لویې هیلې ته رسیدل به ډیر ګران وې. زه ددوی ټولو څخه په خاصه بیا د پلټونکو عمومي مشر ستیفن ټرینټ ، څوک چې زما څخه وړاندې د ځانګړی عمومي پلټونکي په توګه دنده ترسره کوله ددوی تیروخدمتونو لپاره مننه کوم او ډاډ ه یم چې مونږ به د افغانستان میشن ، مالي مسولیتونواو د متحده ایالاتو د پالیسي موخو څخه د ملاتړ لپاره د خپلو هڅو اغیزه زیاته کړو.

په درنښت ،

جان ایف .سوپکو
د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

# د د نیولیک جدول



## لومړۍ برخه
## افغانستان ته لنډه کتنه


3 د ستراتیژیک ملګرتیا تړون لاسلیک شو
5 ناټو د امنیتي چارو لیږد پروسې چټک بهیر تصدیق کوي
7 د ټوکیو په کانفرانس کې مرسته کوونکي د 16 میلیارده ډالرو تعهد وکړ
9 د 2014 څخه وروسته د نړیوال بانک ارزوني نظریات
10 د څارني اندیښني
10 پرمختګ




## دویمه برخه
## د سیګار نظارت


15 سیګار نوی ځانګړی عمومي پلټونکي ته ښه راغلاست وایي
16 نوي نوښتونه
18 پلټني
37 تحقیقات
44 سیګار کارکوونکي




## دریمه برخه
## د بیا رغوني تازه حال


49 عمومي کتنه
53 د مالي منابعو وضعیت
67 امنیت
85 دولتداري
111 اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

# د د نیولیک جدول



## څلورمه‌برخه
## د نورو ادارو نظارت


139 د ځارني بشپړې شوي چارې
150 د ځارني رواني چارې


## ضميمې او پايليکونه


162 ضميمه A: د قانوني اړتياوو لپاره دراپورمتقابل ماخذ
166 ضميمه B : د افغانستان بيارغاوني لپاره د متحده ايالاتو مرستې
168 ضميمه C: د سيګار پلټنې
171 ضميمه D: د سيګار پلټنې او توده اړيکې
173 ضميمه E: لنډيزونه او اکرونيم
177 پای ليکونه



**د امنيتي چارو د مسوليت ليږد په اړه فعاليت کول**

ولسمشر بارک اوباما له امريکايي عسکرو سره د بګرام په هوايي ډګر کې وروسته له دې خبرې وکړې، چې د مې په دوهمه د متحده ايالاتو او افغانستان تر منځ ګډ ستراتيژيک تړون لاسليک شو اود 2014 کال تر انتقال وروسته د دوه اړخيزو اړيکو لپاره چوکاټ جوړ شو. (عکس د متحده ايالاتو اردو، SGT رولاند هال)

# 1 افغانستان ته لنډه کتنه



"یوه سخته ورځ به تر مخ وي" خو څومره چې
د انتقال بهیر پر مخ ځي زه ډاډمن یم چې افغان
ځواکونه به لا پیاوړې وده وکړي [او] افغانان به په
خپله د خپل راتلونکې ولکه په لاس کې ونیسي.
زه ډاډه یم چې له دې موافقې سره به افغانان پوه شي
چې متحده ایالات یې تر څنګ ولاړ دي.

— د متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما

سرچینه: سپینه مانۍ،(د ګډ ستراتیژیک ترون د لاسلیک پر مهال د اولسمشر اوباما او افغان اولسمشر حامد کرزي ملاحظې) 2012/2/5

# افغانستان ته لنډه کتنه

کانګرس ته د سیګار له وروستي رپوټ راهیسي، متحده ایالاتو، د ګډ ایتلاف غړیو او افغان حکومت د 2014کال تر انتقال وروسته په بیارغاوني کې د مرستي په موخه یو چوکاټ جوړ کړی، دوی دغه کلونه (2015-2024 ) د بدلون لسیزه نوموليِ ده. تر 2014 کال پوري نړیواله ټولنه اټکل کوي چې د روانو عملیاتو دوام او پراختیا ته د پیسو برابرولو لپاره افغانستان هر کال 9 بلیونه ډالروته اړتیا لري. پدې کې به 5 بلیونه ډالر ددې لپاره په کار وي چې د افغان امنیتي ځواکونو لګښتونه په رواني کچې وساتي او 4 بلیونه نور به له افغان بودیجې څخه د ملاتړ لپاره او د اقتصادي مرستو د برابرولو په موخه کارول کیږي.

د ولسمشر د 2013مالي کال د بودیجي په غوښتنه کې شاوخوا 9،7 بلیونه ډالر د انتقال په ترینګلې بهیر کې د افغان امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره ځانګړي شویدي ، همداراز د حکومتولی د ظرفیت جوړولو ،د اقتصادي ودې د تقویه کولو او د مخدره موادو د قاچاق پر ضد اقدامات شامل دی . تمه کیږي چې بسپنې ته اړتیا به له 2015 کال وروسته په تدریج سره راکمه شي، ځکه ترهغه مهاله به دولتي عواید مخ په لوړیدو وي او افغاستان به نور هم په پښو ولاړ وي.

په دې ربع کې درې کلیدي پیښې- د اوږدمهاله ګډ ستراتیژیک تړون لاسلیک، د ناټو غړیو ناسته، او په ټوکیو کې د بسپنه ورکوونکو هیوادونو کنفرانس – له متحده ایالاتو سره د افغانستان امنیتي روابط په لویه کچه مطرح کړ، افغان حکومت ته د امنیتي مسولیتونو د لیږد مهال ویش لاسلیک او ګړندی شو، او د انتقال په بهیر کې کلیدي ننګوني په نښه شوې.

- افغانستان ته د اوږدمهاله مالي ملاتړ ډاډ ورکول څو د امریکا او متحدینو تر وتلو وروسته د بیارغاوني لاسته راوړني وساتلی شي او پر مخ لاړي شي.
- د بسپنو د وار په وار کمیدو په صورت کې د بیارغاوني د لومړیتوبونو جوړول.
- په افغان دولتي بنسټونو کې د اصلاحاتو تامین ، تر څو حساب ورکونه خپل ځای لاس ته راوړی، له اداري فساد سره مبارزه وشي او په عامه خدماتو کې سمون راوستل شی.
- د معیاراتو ایښودل ، چې لدې سره به افغان دولت او نړیواله ټولنه د پرمختګ کچه معلوموالی شي.

## ګډ ستراتیژیک تړون لاسلیک شو

د 2012 د مي په دوهمه، له یوه کال خبرو اترو وروسته، ولسمشر بارک اوباما او ولسمشر حامد کرزي یوه نوي معاهده لاسلیک کړه، چې د امریکایي ځواکونو تروتلو وروسته یې د افغانستان او متحده ایالاتو د اوږدمهاله اړیکو لپاره بنسټ رامنځ ته کړ. د ګډ ستراتیژیک تړون لاسلیک د افغان امنیتي ځواکونو



**د 2012 کال** د مې پر دوهمه اولسمشر بارک اوباما او اولسمشر حامد کرزي ، وروسته لدې چې د افغانستان او متحده ایالاتو تر منځ تاریخي ګډ ستراتیژیک تړون لاسلیک کړ، لاسونه سره ورکړل، دا تړون به په 2014 کال کې د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته د افغانستان او متحده ایالاتو تر منځ روابطو ته اوږدمهاله چوکاټ جوړ کړي. (عکس په کابل کې د متحده ایالاتوسفارت)

د ساتلو لپاره د متحه ایالاتو ایالاتواوږدمهاله تعهد څرګند کړ، همدا راز د اقتصادي ودې د پروګرامونو تمویلول، د بنې حکومتولی پیاوړتیا، د سیمه ایز همغږیتوب او امنیت ملاتړ، او له افغان حکومت سره د بودیجې له کسر سره په مجادله کې مرسته کول شامل دي. متحده ایالاتو ویلي چې دوی به له هغو هڅو ملاتړ وکړي چې د افغان حکومت د ظرفیت لوړولو ته پاملرنه کوي. دې تړون افغانانو ته ډاډینه او یاغیانو ته خبرداری ورکړ چې متحده ایالاتو له تیرو تجربو زده کړه کړې او له 2014 کاله وروسته به هم افغانستان یواځې پرې نږدي. اولسمشر اوباما وویل چې دا تړون به دا مسله ډاډه کړي چې "که افغانان پښو ګام پورته کوي نو یواځې به نه وي"[1]

د دې برسیره په تړون کې د فساد پر ضد د مبارزې په ارزښت تاکید شوی دی. افغانستان ژمنه وکړه چې خپل د فساد ضد بنسټونه به پیاوړي کړي او د خپل مالي سیستم د ملاتړ په موخه به ګامونه واخلي، برسیره پردې د موثریت او حساب ورکولو د زیاتوالې په موخه د حکومت په ټولو کړیو کې ګامونه اوچت کړي. افغانستان همداراز وعده کړیده چې د بشر حقوق او ډیموکراتیک ارزښتونه وساتي او ملاتړ یې وکړي.لکه په ټولنه کې د ښځې اساسي حقوق، چې دا په خپل وار د دوی ټولنیز، اقتصادي، سیاسي، مدني او کلتوري حقوق خوندي کړي.[2]

د جون په لومړیو کې د افغانستان ملي شورا دغه تړون تصویب کړ.

## افغانستان له ناټو بهر د یو لوی متحد په صفت ومنل شو

د ګډ ستراتیژیک تړون لاسلیک په ترڅ کې متحده ایالاتو تیاری وښود چې افغانستان به له ناټو دباندې د یو لوی متحد په صفت ومنې او د اوږدمهاله دفاعي او امنیتي همغږیتوب لپاره به پر یو چوکاټ کار وکړي. ناټو یا د شمالي اتلانتیک تړون سازمان، په افغانستان کې د پوځي مرستو چمتوکوونکی تر ټولو لوی نړیوال سازمان دی. MNNA ملکونه د متحده ایالاتو له خوا روزنې ته مستحق هیوادونه دي، د پرمختیا او څیړنو په موخه د وسایلو قرضه او بلاخره د دفاعي موخو لپاره په بهر کې پوځ ته مالي آسانتیاوې برابرول هم ددوی امتیازات ګڼل کیږي. د 2012 د جولای په 6 اولسمشر اوباما افغانستان ته د MNNA د موقف د ورکولو فرمان لاسلیک کړ، اوله انتقال وروسته افغانستان سره یې د متحده ایالاتو تعهد اعلان کړ. له 2004 کال وروسته افغانستان لومړنی هیواد دی چې د MNNA په توګه معرفي شو، تر دې مخکې کویت، مراکش او پاکستان هم په دی لست کی شامل کړای شوي وو.

## د بیارغاونې ولایتي ټیمونه د تړل کیدو په درشل کې

ددی برسیره متحده ایالات هڅې پریکړې ته متعهده ده چې له مخې به یې د بیارغاونې ولایتي ټیمونه (پي. آر. ټي)، او د ولسوالیو ملاتړ ټیمونه (ډي. اس. ټي) وتړل شي، د هغو د ځای پر ځای کیدو موخه دا وه چې له سیمه ایزی حکومتداری او د بیارغاونې له لومړیتوبونو ملاتړ وکړي . متحده ایالات او ورسره ګډ ایتلاف د 2012 کال تر پیله د افغانستان له 34 ولایتونو نه په 26 کې د بیارغاونې ولایتي ټیمونه درلودل، په دوی کې د 12 هغو رهبري د متحده ایالاتو پر غاړه وه. افغان حکومت د بیارغاونې ولایتي ټیمونو ته د سیمه ایزو ادارو په وړاندی د موازي حکومتونو په سترګه ګوري او غوښتنه کوي چې افغان امنیتي ځواکونو ته د مسولیتونو له سپارلو سره دی په ارتقایي بڼه وتړل شي. د مهال ویش له مخې د متحده ایالاتو تر رهبری لاندی لومړنی پي. آر. ټي. د دې ریوټ د بشپړیدو سره هم مهاله وتړل شوه. د انتقال د بهیر د پلان سره سم به د ولایتي بیارغاونې ټول ټیمونه د 2014کال تر پایه وتړل شي. متحده ایالات په پام کې لري تر 2014 کال وروسته افغانستان کې لږ ملکي شتون ولري تر څو د امنیت او پراختیا له یو وړوکي پروګرام څخه ملاتړ وکړي.

## دوه اړخیزه امنیتي موافقې لا تر اوسه تر خبرو اترو لاندې دي.

متحده ایالات او افغانستان به دراتلونکي کال په اوږدو کې په یوه نوي دوه اړخیزه امنیتي هوکړې خبرې اترې وکړي، دا به د هغې موجوده موافقې ځای ناستې وي چې د متحده ایالاتو په پوځي صفونو کې اوس مهال کارول کیږي . دغه اوږد مهال ګډ ستراتیژیک تړون تر 2014 کال وروسته د امریکا پوځي حضور ندی توضیح کړی.

## ناټو له چټک امنیتی انتقال څخه ملاتړ کوي

د 2012 کال د مي په 21 د افغانستان په ماموریت کې د برخه لرونکو 50 ملکونو مشرانو په شیکاګو کې سره ولیدل او د انتقال په یوه نوي مهال ویش یې سره هوکړه وکړه چې له مخې به یې افغان امنیتي ځواکونه د 2013 کال تر دوبي امنیتي مشرتوب په غاړه واخلي. د ایتلافي ځواکونو تر وتلو وروسته به د ناټو تر مشری لاندې نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ISAF) د افغان امنیتي ځواکونو ملاتړ وکړي.

په یوې ګډې اعلامیې کې چې ددغې یو ورځنی ناستې په پای کې خپره شوه، مشرانو پریکړه وکړه چې د 2014 کال تر پایه به د ناټو ماموریت له جګړې نه د روزنې، همکارۍ او سلاورکولو برخې ته ولیږدیږي. مشرانو ژمنه وکړه چې له افغانستان سره به یې ګډ مشارکت د انتقال د بهیر تر بشپړیدو وروسته هم دوام وکړي.[3]

## له انتقال وروسته افغان ملي امنیتي ځواکونه به په کال کې 4،1 بلیونه ډالر لګښت وغواړي.

افغان حکومت د امنیتي لګښتونو لپاره کافي عاید نلري او له نړیوالې ټولنې د بسپنې په لټه کې دی تر څو تر 2024 کاله د افغان ملي اردو او ملي پولیسو معاشات او د عملیاتو لګښتونه تر پوښښ لاندې راولي. متحده ایالات او ورسره ګډ ایتلاف د افغان ملي امنیتي ځواکونو ټوله شمیره352000 کسانو ته رسولې ده. د ناټو مشرانو هوکړه وکړه چې د ټول ځواک شمیره تر 2017 کال پورې 228500 ته را ټیټه کړي چې دمالي اکمالاتو له پلوه به یو څه د تحمل وړ وي، البته دا به امنیتي شرایطو ته په کتو سره عملي کیږي. دوی اټکل کړی چې په دې کچې د ځواکونو شمیره به په کال کې 4،1 بلیونه ډالر لګښت وغواړي. د ناټو مشرانو ژمنه وکړه چې دوی به دغه ځواکونه ته د بسپنې د میکانزمونو پر جوړښت خپله ونډه ادا کړي. خو خبرداری ورکوي چې دا میکانزمونه به راڼه، مسول، انعطاف منونکي او ګټور وي او د فساد ضد اقدامات به هم د هغو یوه برخه وي.[4]

متحده ایالات د افغان ملي اردو د لګښتونو تر ټولو ډیره برخه تر پوښښ لاندې راولي او همداراز د ملي پولیسو د مصارفو یوه د پام وړ برخه ورکوي. د ناټو د ناستې ګډه اعلامیه تصریح کوي چې په 2015 کال کې به افغان حکومت د امنیتي مصرافو لپاره 500 ملیونه ډالر ځانګړي کوي او د ملي امنیتي ځواکونو د پایښت لپاره به تر 2024 کال پورې دغه ونډه کال په کال لوړوي.له هغې وروسته به افغانستان د امنیتي ځواکونو پوره مالي مسولیت په غاړه واخلي.

په عین وخت کې، متحده ایالات د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره ترټولو ډیرې پیسې ورکوي. اولسمشر اوباما د 2013 مالي کال بودیجې لپاره د 5،7 بلیونو ډالرو غوښتنه کړیده. چې د افغان ملي پولیسو او ملي اردو ځواکونو په روزنه، تجهیز، جوړښت او پایښت به یې ولګوي.

## د انتقال بهیر دریم پړاو ته داخلیږي

د ناټو له ناستې څخه یوه اونۍ مخکې، ولسمشر کرزي د هغو ولایتونو، ولسوالیو او ښارونو دریمه برخه اعلان کړه چې د انتقال بهیر به پکښې پیل شي او افغان امنیتي ځواکونه به یې د امنیت ولکه په لاس کې واخلي. د انتقال تر دریم پړاو وروسته به د افغانستان 75 سلنه وګړي په هغو سیمو کې وي چې لومړنې امنیتي مسولیتونه یې د افغان ځواکونو په غاړه دي. ایتلافي ځواکونو د انتقال بهیر د 2011 کال د مارچ په میاشت کې پیل کړ، لومړني پړاو د افغانستان 25 سلنه برخه په ځان کې درلودله. د 2011 کال په نوامبر کې افغان ځواکونو د سیمو د دوهمې برخې امنیتي مسولیت په غاړه واخیست. په داسې حال کې چې ترا وسه هم ایتلافي ځواکونه په ډیرو هغو سیمو کې چې د انتقال په بهیر کې شامل دي په جګړو کې برخه اخلي. د ناټو د معلوماتو په اساس د انتقال پروسه به تر بشپړیدلو پورې 18 میاشتې وخت وغواړي.[5]

## ناټود سولې او پخلاینې لپاره غږ اوچتوي.

د ناټو د غونډې ګډونوالو تاکید وکړ چې له یاغیانو سره پخلاینه او د پخوانیو جګړه مارو بیا یوځای کیدل په افغانستان کې دسولې او ثبات په راوستلو کې بنسټیز رول ولري. هغو د پخلاینې په تړاو د نړیوالې ټولنې اوږدمهالې غوښتنې بیا تکرار کړې، چې ویل کیږي د پخلاینې لپاره باید مخالفین له تاوتریخوالې لاس واخلي، له نړیوال تروریزم سره اړیکې وشلوي، او د بشر حقوقود معاهدو برسیره دې افغان اساسې قانون ومني، [6]

## د ټوکیو په کنفرانس کې بسپنه ورکونکو هیوادونو د 16 بلیونو ډالرو مرسته ومنله

د 2012 کال دجولای په 8 ، د 70هیوادونو استازو، نړیوالو ادارو، خیریه ډلو په ټوکیو کې پدې موخه سره غونډه وکړه چې د افغانستان د اقتصادي ودې لپاه اوږدمهاله نړیوال ملاتړ ته یو اوږد مهاله چوکاټ جوړ کړي. تر څو په 2014 کال کې د انتقال د بهیر له پای ته رسیدو سره ، د بدلون ترلسیزې پورې (-2015 2024) له افغانستان سره مرسته وشي. په کنفرانس کې نړیوالې ټولنې ژمنه وکړه چې دوی به تر 2015 کال پورې افغانستان ته 16 بلیونه ډالر مرسته چمتو کړې خو خپل شرایط به لري. د ژمنو په ځواب کې افغان حکومت وعده وکړه چې د حکومتولی د ښه والي لپاره اقتصادي او سیاسي سمونونه پلي کوي، عامه بنسټونه حساب ورکولو ته لا چمتو کوي او له زیاتیدونکې اداري فساد سره به مبارزه کوي.

دغه 16 بلیونه ډالر د ځانګړو ملکونو قوي ژمنې ندي، خو تر ډیره په راتلونکیو ځلورو کلونو کې د روان پرمختګ د ساتلو لپاره یو عمومي تعهد څرګندوي. د بیلګې په توګه د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن د کنفرانس استازو ته وویل چې ددې اداره به له کانګرس څخه وغواړي څو پرمختیایي مرستې په دوامداره توګه سمبالې کړي ، تر څو دوی خپلې مرستې تر 2017 کال پورې د تیرې لسیزې په کچه یا هغې ته نژدې وساتي.د DoS په واسطه اداره کیدونکې بیارغونیز پروګرام ته.[7] د اولسمشر اوباما د 2013 مالي کال بودیجې د اقتصادي ملاتړ بسپنې (ESF) لپاره هم د 1،8 ملیارډه ډالرو غوښتنه کړې وه.دا د امریکا د حکومت لپاره د پراختیایي مرستو په برخه کې لومړنی وسیله ده. همداراز یې 1،5 بلیونه ډالر د مخدراتو د نړیوال کنټرول او د قانون د پلي کولو په موخه ځانګړي کړي.

افغانستان او نړیوالې ټولنې د کنفرانس لپاره یوه ضمیمه چمتو کړې وه چې "د ټوکیو د مسولیت منلو دوه اړخیز چوکاټ" عنوان یې ورکړی وو، په هغه کې د لومړیتوبونو ساحې په نښه شوې او د افغان حکومت لپاره معیارونه تعین شول. په هغې کې په واضحه توګه ویل شوي دي چې له افغانستان څخه د نړیوالې ټولنې د ملاتړ پاینښت خپلو ژمنو ته د افغان حکومت په وفادارۍ پورې تړلې ده.[8]

## نړیواله ټولنه د بیارغاونې لپاره پنځه لومړیتوبونه رامنځ ته کوي.

د ټوکیو تر چوکاټ لاندې نړیواله ټولنه له افغان حکومت سره په ګډه دې موافقې ته سره ورسیدل چې نړیوالې مرستې به په پنځو لویو برخو کې موخو ته د رسیدلو لپاره تمرکز کوي:

- درنو، معتبرو او منل شوو ټاکنو تضمین، چې د ولسمشرۍ به په 2014 کال او پارلماني هغه به په 2015 کال کې وي.
- عدالت ته د ټولو په ځانګړې توګه د ښځو د لاسرسي تضمینول او له فساد سره مبارزه




**د متحده ایالاتو** د بهرنیو چارو وزیرې میرمن هیلري رودام کالینټن د افغانستان په اړه د ټوکیو په کنفرانس کې چې د جاپآن په ټوکیو کې راغوښتل شوی وو برخه واخیسته، 2012 کال دجولای8 (DoS عکس ولیم ان جی)

- د بانکي سکتور او عامه مالي خدماتو د انسجام سمون
- د افغان حکومت د ورتیاوو لوړول ، تر څو وکولای شي عواید په سمه توګه تنظیم کړي او د بودیجې د انکشاف او لګولو په برخه کې یې ورتیاوې لوړې شي.
- بشري ودې، غذایي مصونیت او خصوصي پانګونې ته د تمرکز له لارې د ثابت او تضمین شوي پرمختګ لاس ته راوړل

تر دې چوکاټ لاندې نړیوالې ټولنې یوځل بیا ژمنه وکړه چې لږ تر لږه به د خپلې پراختیایي مرستې50 سلنه د افغان ملي بودیجې له لارې لګوي. د دغومرستو ډیره برخه به د بسپنې جوړو شویو بنسټونو ته لاړې شي لکه د افغانستان د بیارغاونې خیریه بودیجه، چې د نړیوال بانک له خوا اداره کیږي او دافغان حکومت د عادي او انکشافي بودیجو له لارې یې ملاتړ کیږي.

د ټوکیو تر چوکاټ لاندې افغان حکومت او نړیوالې ټولنې موافقه وکړه چې یو رڼه او منظمه پلټونکې پروسه رامنځ ته کړي تر څو بسپنه ورکونکي او حکومت د دوه اړخیزو ژمنو او مسولیتونو

ځارنه وکړي. دا پروسه به د پلټنې د کنټرول د ګډې اوسنۍ مرکزي کومیټې پر ځای جوړه شی، چې د بیارغاونې ستر لومړیتوبونه تصویبوي ، لکه د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا زیاتول.

نړیوالي ټولنې او افغان حکومت په لویه کچه د نړیوال بانک پر هغې وروستۍ ارزونې تکیه کوله چې د افغانستان د اقتصاد په برخه کې یې کړې او ښکېنې د افغانستان مالي اړتیاوې په ګوته شوې او د لومړیتوبونو پنځه ساحې ښکېنې پیژندل شویدي.

## د نړیوال بانک ارزونه تر 2014 کال وروسته ګوري

د رپوټ ورکولو په ترڅ کې نړیوال بانک د ایتلافي ځواکونو تر وتلو او د نړیوالو پراختیایي مرستو له کمیدو سره سم د هغو ننګونو په اړه چې افغان حکومت ورسره مخ دی یوه سخته ارزونه کړیده. په دې رپوټ" افغانستان په انتقال کې": له 2014 کال وروسته کتنې کې، د بانک د څېړنو له مخې افغانستا د نړۍ یو تر ټولو شا ته پاتې او تر ټولو ډیر د بسپنه ورکوونکو په مرستو ولاړ هیواد ښودل شویدی. په 2010 او 2011 کال کې ټولیزه پوځي او ملکي مرستې 15،7 ملیونه ډالرو ته رسیدلې؛د افغانستان ناخالص داخلي عواید په 2010 کال کې د اپینو له تولید پرته 15،9 ملیونه ډالرو ته رسیدل. نړیوال بسپنه ورکونکي د هیواد دبودیجې 48 سلنه تر پوښښ لاندې نیسي، انکشافي پروژې، معاشات او د حساب ورکولو د عملیاتو مصارف ښکېني راځي.[9] په راپور کې څېرل شویدي چې د مرستو کچه به د امریکا او نورو بسپنه ورکونکو له خوا له رواني کچې را ټیټه شي.[10]

نړیوال بانک هغې سترې مالي فاصلې ته ګوته نیولې کوم چې افغان حکومت یې له داخلي عوایدو د سمبالولو وړتیا لری او هغه څه چې نړیواله ټولنه یې د مرستو د چمتو کولو له لارې ورته برابروي. بانک وړاندوینه کوي چې دغه مالي درز به په 2014-2015 کال کې تر 33سلنې له نا خالصو داخلي عوایدو لاسته راشي خو تر 2021-2022 کال پورې به 25 سلنې ته راټیټه شي،افغانستان کولای شي د طبیعي سرچینو له پراختیا په ځانګړې توګه د کانونو د سکتور له لارې د پام وړ عاید تر لاسه کړي. بانک د افغانستان مالي درز له یونان سره پرتله کوي او داسې پایله اخلي چې د یونان روان مالي کړکیچ د ناخالصو عوایدو 13 سلنه ده.[11] د افغانستان مالي درز به د پام وړ نړیوالو مرستو پرته د رغیدو نوې.

امنیتي مصارف تر 2014 کال وروسته د مالي درز نیمه برخه جوړوي. بانک خبرداری ورکوي چې د ځواکونو د شمیر د پام وړ کمولو سره سره به افغان حکومت ددې وړتیا ونه لري چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره معاش او وسایل برابر کړي. ددغو مصارفو د ډیرې برخې د پوښښ لپاره به افغانستان پرنړیوالې ټولنې تکیې ته اړ وي.[12]

بانک اشاره کوي چې د دې باوجود چې نړیوالو مرستو په تیرو لسو کلونو کې دافغانانو ژوند ښه کړی، خو ستونزې یې هم زیږولې دي. "را څیرمه مرستې چې ډیری یې د بودیجې له سیستم سره ندي تړلې زیاتې دي، د ارزونې په بنسټ، دغه کار په مرستو تکیه زیاته کړې اوناسمې ادارې لپاره یې فرصتونه زیات کړي، همدا شان اداري فساد او دمرستو ضایع کول.[13] بانک وړاندیز کوي چې نورمال حالت ته د مرستو د کچې د لا راټیټېدو په صورت کې- که سمه اداره وشي- افغانستان ته به موقع په لاس ورکړي څو دغه ستونزې سمې په نښه کړي او د یو ثابت اقتصاد په لورې ګام واخلي. ترڅنګ یې بانک خبرداری ورکوي چې بسپنه ورکونکي اړ دي چې د یوه لوی پریکون د مخنیوي لپاره په راتلونکي کې خپلې مرستې په تدریجي توګه کمې کړي.[14]

## د سیګار پلټنې

د 2012 کال د جون په 29 د پلټنې راپور په بنسټ، سیګار وموندله چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا د پروژو امنیتي لګښت دپام وړزیاتوالی موندلی دی، علت یې له خصوصي امنیتي کمپنیو د افغان عامه محافظت ځواکونو ته د مسولیت لیږد په ګوته شوی، همدا راز غیر قانوني امنیتی کسان کیدی شی ستونزې راولاړې کړي د جزییاتو لپاره د سیګار تفتیش 12-10 برخه وګورئ"د امنیتي لګښتونو لوړوالی کیدی شي د افغان عامه محافظت ځواک له خوا وي، د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره د لګښتونو څارلو ته اړ دی. ددې تر څنګ دې دا ډاډ لاس ته راوړي چې غیر قانوني امنیتی کسان ونه ګمارل شي. www.sigar.mil

برسیره پردې، بانک وویل چې اقتصادي ودې ته تر ټولو ستر ګړکیچ د مرستو له کموالي څخه نه راځي خو غیر اقتصادي ځواکونه لکه سیاسي نامعلومتیا، ضعیفه حکومتداری او پر تجارت د اعتماد کمیدل یې ستر عوامل دي. لاندې برخي پکښې شاملي دي: "د حکومت او د هغه د پراختیایي شریکانو تولې هڅې په راتلونکي کلونو کې په اقتصادي اجراءاتو کې د ثبات مسله ده همدا راز د امنیت او حکومتي چاپیریال ښه والی په پام کې وي.د دې پروګرام دریمه برخه د متحده ایالاتو پر هغو.[15] بیارغونیزو پروګرامونو چې له حکومتداري او اقتصادي ودې څخه ملاتړ کوي تازه معلومات ورکوي.

## د څارنې اندیښنې

له ایتلافي ځواکونو افغان هغو ته انتقال او له خصوصي امنیتي کمپنیو د افغان عامه محافظت ځواکونو ته امنیتی لیږد کیدی شي د بیارغاوني د پروګرامونو څارنه ستونزمنه کړي. د بیارغاوني پلې کونکي او څارونکي اداري د امریکایي ځواکونو په ملاتړ او د خصوصي امنیتي کمپنیو په مرسته ولایاتو ته سفر کوي او د پروژو پرمختګ پلټي ، برسیره پردې د پروژو په اړه د څارنو او تحقیقاتو کار په لاره اچوي. سیګار لا له مخکې د امریکایي ځواکونو محدودیتونه لیدلي، او د سفر کولو د آسانتیاوو په برابرولو کې ستونزې لري. پلې کوونکي اداري د څارنې په لومړۍ کرښه کې راځي. که د پروژومدیران او قراردادي مامورین له پروژې لیدنه نشي کولای، نو د څارونکو د مسولیتونو ترسره کیدل ډیر ستونزمن کیږي.

تر اوسه نده معلومه چې افغان عامه محافظت ځواکونو ته د مسولیت لیږد د قراردادیانو توان د پروژو په اجرا او د پرمختګ په څارنه کې څومره متاثره کوي، په ځانګړې توګه په سویلي او ختیځو ولایتونو کې. په دې ربع کې سیګار یوه څیړنه خپره کړې چې د افغان عامه محافظت ځواکونو ته د انتقال د لګښتونو او د غوښتل شوي امنیت په تامین کې د هغو د وړتیا په اړه اندیښنې پکښي په ډاګه شویدي. سیګار ، افغان عامه محافظت ځواکونو او امنیت ځواکونو ته د مسولیت د لیږد تاثیرات څاري.

## پر مخ تګ

راتلونکي دوه کلونه له دې چې ایساف افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیت مسولیت لیږدوي کړکیچن دي. په دې دوو کلونو کې به جوته شي چې په تیره لسیزه کې په افغانستان کې د امریکا سترې پانګونې به دغه هیواد په دې وتوانوي چې له ځانه د دفاع وړتیا ولري او خپلو وګرو ته د اساسي خدماتو برابرولو توان لري که نه. په دې دلیل، سیګار له بې ځایه مصارفو مخنیوی کوي، د پروګرامونو نیمګړتیاوې په ګوته کوي، په قراردادونو کې فساد او تقلب رابرسیره کوي، هغه قراردادیان چې سم کارنه کوي یا له کاره باسي او یا یې کارځنډوي، ضایعات جبرانوي او د امریکا بیارغاوني پروګرامونو د سمون لپاره نور ګامونه اوچتوي.

نور عمومي پلټونکي همدغه تعهد او عمل څرګندوي. په دې ربع کې، سیګار او د دفاع وزارت ، بهرنیو چارو وزارت، د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري عمومي پلټونکو موافقه وکړه چې د 2013 مالي کال لپاره د تفتیش یو ستراتیژیک پلان جوړ کړي، چې د امنیت، پراختیا، حکومتدارۍ او د مخدراتو پر ضد مبارزې اړوند 13 مهمو مسایلو باندې څیړنه کوي. سیګار د یو جامع تفتیش د پلان لپاره دغه هڅې رهبري کوي، تر څو کانګرس او پلې کونکو اداروته د بیارغاونې د هڅو یو واضح تصویر ورکړي. همدا راز په وخت سپارښتنې د دې لپاره چې د کلیدی بیارغونیزو پروګرامونو موثریت او مثمریت پیاوړې کړي برابروي. ددغه پلان پر بنسټ سیګار به د متحده ایالاتو د بیارغاونې

پر لومړیتوبونو تمرکز کوي او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ظرفیتونو او وړتیاوو ارزونه کوي. او هغه کچه چې افغان حکومت د ظرفیتونو په برخه کې خپله کړیده تر څو د بسپنو په را جلبولو، تنظیمولو او حساب ورکول کې تري کار واخلي ارزوي. زمونږ پلټونکي به په ټاکنو کې د متحده ایالاتو مرسته وارزوي،دا هغه څه دي چې متحده ایالات او نړیواله ټولنه یې په افغانستان کې د جمهوري ریاست د واک د سوله ایز لیږد لپاره بنسټیز بولي. هغوی به برسیره پر دې بدیلي لارې چارې لکه د متحده ایالاتو د مرستو د پروګرامونو د همغږي اوپلانولو مسایل وازمويي.او دا چې پلي کوونکي اداري ربښتیا هم له قراردادونو، بخششونو او د همغږو موافقو په تړاو اړیني څارني سمبالوي.

ددې تر څنګ سیګار په دوونویو لومړیتوبونو کار کوي تر څو خپلې څارني ژوري او پراخې کړي: د هغو مسایلو چې ځانګړي پاملرنه تضمینوي او د خطرناکو بیارغونیزو قراردادونو مالی تفتیش په اړه وروستني راپورونه. لدې چې د متحده ایالاتو د بیارغونیزو هڅو اوږدمهاله پایلي په دې پوري اړه لري چې افغانان تر کومه حده دغه بیارغونیزې پروژې سا تلای شي. د سیګار لومړنی رپوټ په دغه پوښتني څرخي چې څنګه کولای شو د امریکا له خوا بسپنه شوي پروژې په ښه توګه وساتو. د مالي برخي مفتشین، هغه چې مونږ یي له خپلو څارونکو شریکانو سره همغږي کوو، کولای شي مونږ ته په ترینګلو قراردادونو کې د لوړو مصارفو په اړه په وخت او مفصل معلومات راکړي.

د متحده ایالاتو د بیارغاوني پروګرام په افغانستان کې د هغوی د ستراتیژی یوه بنسټیزه برخه ده چې په هغه کې دالقاعده ماته او پدي ډاډ دی چې ترهګر له افغان خاوري څخه د حملي وړتیا نلري. که چیرته کانګرس د ولسمشر د 2013 مالي کال بودیجه تصویب کړي، د متحده ایالاتو مرسته به تیره لسیزه کې د افغانستان لپاره سلو بلیونو ډالروته ورسیږي، تر څو یو باثباته ملک جوړ کړي چې له ځانه د دفاع وړتیا لري او د خپلو وګړو ژوند ته سمون ورکولای شي. متحده ایالاتو هیڅکله کوم بل هیواد ته د بیارغاوني په موخه په یادې شوې زماني موده کې په دې پیمانه مرستې ندي کړي: د بیلګې په توګه، جرمني ته له دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته (1952-1946) د متحده ایالاتو مرسته د 2011 کال تر 35 بلیونو ډالرو کمه وه. [16] سیګار د دغو فوق العاده بسپنو د چټکي څارني پلي کولو ته ژمن دی ترڅو د مالیه ورکونکو پیسي وژغورل شي او د پروګرام موثریت هم لوړ شي چې دا به د امریکا د بیارغاوني پروګرام ته د بریالیتوب تر ټولو ښه چانس ورپه برخه کړي.



**د زیربناو پلټنه**

د فبروري په 16 مه د سيګار پلټونکی انتوني وارن د ننګرهار لالپور ولسوالۍ د سرحدي پوليسو په يو کيمپ کې د يو تر جمان څخه اوريدلې ده. د سرحدي قواوو لپاره دوه نوي جوړشوي کمپونو د کمښتونو موندلو لپاره د سيګار ټيم امريکايي پوځيان، سرحدي پوليس او د امريکايي اردو د انجينيرانو قطعې سره کارکړی دی.
(د امريکا يي پوځ انځور، SPC امبرليچ )

# 2

# د سیګار
# نظارت



” دا ډيره ستره خبره ده چې مونږ خپلو مشتريانو ته
– کانګرس، د دفاع وزارت، د بهرنيو چارو وزارت،
يو اس ايډ، او د عدليې وزارت – په وخت او په
اعظمي ډول مسلکي ځواب ووايو.
دا هغه څه ده چې مونږ به يې پرمخ بوزو: مونږ به
جدي اوسيږو. مونږ به دقيقه يو.
مونږ به روښانه يو. او مونږ به ځيرکه يو.“

—— ځانګړی عمومي پلټونکی جان ايف. سوپکو

سرچينه: جان ايف.سوپکو، د سيګارغړو لپاره يادونې، 2012/3/7

# د سیګار نظارت

پدې ربع کې، سیګار د تفتیش او پلټنې پنځه راپورونه خپور کړي چې له امله یې بودجې بیرته ګرځول شوي، د قراردادونو روپۍ ساتل شوي او قانوني کړنې ملاتړشوي او په پایله کې یې په جرمي کړنو لاس لرونکي کسان یا شرکتونه تورن، مجرم او له کاره ګوښه شویدي. سیګار پنځه نوي پلټنې اعلان کړي، او د بیارغاونې پروګرامونو لپاره د متحده ایالاتو لخوا ورکړشوي بودجې د پایښت ارزونې لپاره یو نوی څېړنه پیل کړې ده. برسیره پردې سیګار، د دفاع او بهرنیو چاروو‌زارتونو عمومي پلټونکي او یو اس ایډ دې هوکړې ته رسیدلي چې د 2013 م مالي کال کې د کارونو لاربښوونې لپاره د پلټنې یو ستراتیژیک پلان جوړ کړي.

همدا رنګه د راپوروركونې په دې موده کې جان ایف.سپوکو د متحده ایالاتو ولسمشر له خوا د افغانستان بیارغونې لپاره دایمي ځانګړی عمومي پلټونکی ټاکل شوی دی.

پدې درو میاشتو کې، د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي په لاندي موضوعاتو باندي رڼا اچوي:

- د پلټنې څلورراپورونه، چې په یو کې داسې څرګندونه شوې ده چې 86 میلیونه ډالر بودجې په ښه ځای کې کارول شویدي
- په یو بل راپورکې راغلي چې د متحده ایالاتو پوځ په نیمګړي توګه ودان شوي مرکزونه منلي دي، چې له دوی څخه یو مرکز د کارولو وړندی او یو بل هم د کارنه راتللو ګواښ سره مخ دی.
- دوه د محکومیت، اوه د تورن کیدلو او پنځه د ګرفتارۍ پیښې
- د 900000 ډالرو تر لاسه کول
- د یو جدي پای ته رسونې په ترڅ کې د قراردادونو 50 میلیونه ډالر اصلي پروګرام لپاره ساتل شویدي
- 23 د ګوښه کیدلو پای ته رسیدلي پیښې
- 49 مراجعې د دندې ځنډولو یا ګوښه کیدلو لپاره

## سیګار نوی عمومي پلټونکي ته ښه راغلاست وایي

جان ایف.سپوکو د 2012 م کال د جولای په 2 د افغانستان بیارغاونې لپاره د عمومي پلټونکي په توګه لوړه وکړه. د خپل کار په لومړۍ اونۍ کې د سیګار پرسونل سره وکتل او د کارونو لومړیتوبونه یې په ګوته کړل. ده ټینګاروکړ چې د سیګارماموریت د مالیه ورکونکوډالروساتنه او د دولت حیاتي

### بشپړې شوې پلټنې

- 12-10- پلټنـــه: د شخصي امنیتي مرستې خدماتو لپاره د یو اس ایډ لګښتونه
- 12-11 پلټنـــه: د افغانستان د ثبات نو ښت څخه د یو اس ایډ ملاتړ
- 12-12 پلټنـــه: د PIA تطبیق
- 12-13 پلټنـــه: د بهرنو چارو وزارت د عامه- ډیپلوماسي مرستو پایلې

### نوې پلټنې

- د پرمختیایي پروګرامونو لپاره د یو اس ایډ د پایښت پلان جوړونه
- د نه-مصرفیدونکي شتمنۍ څخه د یو اس ایډ څارنه
- د متحده ایالاتو سره دبیارغاونې قراردادکوونکو باندې د افغان دولت تعرفې، مالیات او فیس
- د ممانعتي عملیاتونو لپاره هوایي خوځیدنې ملاتړ
- د افغانستان د بریښنایي ګټې له سوداګریز کولو څخه د امریکا ملاتړ

### رواني پلټنې

- د FSNA د تسهیلاتو لپاره د ECASU M&O قراردادونه
- د افغان ملي پولیسو لپاره پر PMET-A څار
- د تیلو، پطرولیم او روغنیاتو په برخه کې د افغان ملي اردو لوژیستکی وړتیاوې
- په بادغیس ولایت کې د افغان ملي اردو لپاره د تاسیساتو جوړول
- د نړیوال سوکالي او پراختیایی شرکت سره د DIASU ملګرتیا
- د بیارغونې په اړه د دفاع وزارت د معاملاتو په اړه معلومات
- د بیارغونې په اړه د دفاع وزارت د معاملاتو په اړه معلومات
- د بیارغونې په اړه د دفاع وزارت د معاملاتو په اړه معلومات

### بشپړې شوې پلټنې

- د افغان سرحدي پولیسو په مرکزونو کې رغونیزکمښتونه

### روان تفتیشـــــــات

- د USACE درې ودانیزې پروژې



**ځانګړی عمومي پلټونکی جان ايف. سوپکو** د سيګار غړو هر يو ګبرايل ټانسل او انجي نبلاک ته په افغانستان کې ددوی خدمت په بدل کې، د ډاراچوني په وړاندې نړيوالې مبارزې مډالونه وويشل.

پروګرامونوته وده ورکول متحده ايالاتو او د هغه ايتلافي ملګروته د امريکايي او نړيوالو پوځونو څخه د افغان امنيتي قواو ته د امنيتي پړې د ليږد پروسه کې خورا زيات اهميت لري.

سوپکو په قانوني او دولتي خدماتو کې د ديرشو کلونو څخه زياته تجربه لري، په تير نږدې وخت کې يې د قانوی يو نړيوال شرکت سره چې په واشنګټن ډي سي کې مرکز درلود په کار بوخت وو. دی د شلو څخه زياتو کلونو لپاره په کانګرس کې د بريښنا او سوداګري کميټې غړی، د وطني امنيت لپاره د منتخبې کميټې غړی او دسنا د تحقيقاتو فرعي کميټې دايمي غړی په توګه کار کړی دی. د سنا په 110 دور کې دی د کانګرس د بريښنا او سوداګري کميټې لپاره د څارنې او تحقيقاتو مشر سلاکاروو. همدا رنګه سپوکو د متحده ايالاتو د سوداګري وزارت د مرستيال په توګه هم دنده ترسره کړې ده.

سپوکو خپله دنده په اوهايو کې د يو دولتي څارونکي په توګه پيل کړی وو. وروسته بيا د متحده ايالاتو عدليې وزارت د تنظيم شوي جرمونو او په زوره روپۍ اخيستنې څانګه کې د يو ازميښتي مدافع وکيل په توګه کارکاوو. د دندې په موده کې د تنظيم شوي جرمونو د بيلابيل ګروپونو په وړاندې د ډيرو څارنو او تحقيقاتو ژوري هياتونو مشري کړې ده. په لومړی فيډرال RICO(د باج اخيستونکو او اداري فسادپه وړاندې مبارزه) کې دی لاربښونکی وکيل وو، کوم چې په ترڅ کې يې د امريکايي مجرمه کورنۍ لاکوزا نوسرا ټول رهبري چوکاټ تر څارنې لاندې ونيول شو.

د پنسلوانيا پوهنتون څخه فارغ شوی او په قانو ن کې يې خپل سند د کيس ويسټرن ريسرف پوهنتون څخه اخيستې ده.

سپوکو د سټيفن ټرينت څخه وروسته، کوم چې بيرته خپل مخکينی دندې ته د نمايندګيو د تحقيقاتو رياست د رييس په توګه ستون شوی دی، د سيګار سره کار کوي.

## نوي نوښتونه

د راپوروركوني پدې دور كې سیګار د څارنې د ودې په موخه او كانګرس، تطبیق كوونكې ادارې او د امریكا ولس د بیارغوني مسایلو په باب ښه خبرولو لپاره درې نوښتونه ترسره كړیدي. سیګار، د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو عمومي څارونكي او یو اس ایډ دې هوكړې ته رسیدلي چې په 2013 مالي كال كې د پلټنو، څارنو او ارزونو ترسره كولو لپاره په ګډه د پلټنې یو ستراتیژیک پلان جوړكړي. برسیره پردې، سیګار د یو وروستی راپور په جوړولو بوخت دی چې ښیي ایا په افغانستان كې د متحده ایالاتو لخوا د رغونیزو پروګرامونو لپاره وركړشوی بودجې د پاینت وړ دي كه نه سیګار همدارنګه یوه نوې پلټنه پیل كوي چې ترڅو هغه لګښتونه وڅیړي چې د بیارغوني قراردادونكي د لوړ خطر سره مخ دي.

## د پلټنې ګډ ستراتیژیک پلان

سیګار د هغې هڅې مشري كوي كوم چې د لیږد په حساس دور كې د متحده ایالاتو بیارغونیزو موخو ته د رسیدونكي چارو په اعظمي ډول څارنې لپاره یو ګډ پلټونكی پلان پرمخ بوزي. نوموړي پلان د امنیت ؛دولتداري او پرمختیا ؛د مخدره توكوپرضد مبارزه او د قانون حاكمیت ؛د پلان جوړونې د تقاطع ساحې ؛ همغږي او د قرارداد اداره كولو، مسایلو اړوند 13 ټكي څرګند كوي. دا به ډیرې پوښتنې ولاړې كړي چې سیګار او د افغانستان بیارغاوني څخه د څارنې د ګډ ستراتیژیک پلان جوړونې نور غړي به په راتلونكي كال كې د پلان شوي كړنو په ترڅ كې ځواب وركړي. ددې پلان په ضمن كې به عمومي پلټونكی د بیارغوني لاندې مسایل ارزوي :

- د افغان د امنیتي قواو د ظرفیتونو او وړتیاوو ارتقا
- د افغان امنیتي قواو د بودجې (ASFF) اداره كول او د حساب وركوني چارې برابرول
- د افغان حكومتداری د ظرفیتونو او وړتیاو ارتقا
- په افغاني تاسیساتو او زیر بناوو باندې د متحده ایالاتو پایداره پانګه اچونه
- د افغانستان حكومت د ننه د عایداتو زیاتول
- د افغانستان حكومت د ننه د ملكي خدمتونو تحقق او د اصلاحاتو او سمونونو د لګښت وركول
- د افغانستان حكومت د ننه د ملكي خدمتونو تحقق او د اصلاحاتو او سمونونو د لګښت وركول
- د مخدره توكو پر وړاندې د مبارزې پروګرامونو تطبیق او جاري ساتل
- د مخدره توكو پر وړاندې د مبارزې پروګرامونو تطبیق او جاري ساتل
- د فساد پر وړاندې د مبارزې نوښتونو تطبیق او اجرا كول
- د امریكا د مرستو پروګرامو پلانول او همغږي كول
- د مستقیمي مرستې بودجو لپاره د څارنې سیستم چمتو كول
- د بیارغاوني قراردادونو وركول او اداره كول

## وروستی راپورونه پایښت

پاینت یواځنی كلي ده چې ښیي د متحده ایالاتو پانګه اچونې په افغانستان كې ندي ضایع شوي كه چیرې افغان حكومت د پروګرامونو او تسهیلاتو برابرولو په موخه د پرسونل، وړتوبونو، مرستې اود موادو په كارونه كې پاتې راشي نو بیابه حتی ښه پلان شوي او ښه اجراشوي رغونیزې پروژې هم د امریكا

مالیاتي ډالر د ضایع کیدلو له خطر سره مخ کړي. د سیګار لومړۍ وروستی راپور به د پاینبت ننګونه معاینه کوي، د 2002 کال څخه دیخوا لاسته راغلي درسونو په پام کي نیولو سره، پدې اړه چې د روان لیږد پروسي لپاره او د 2014 کال څخه وروسته د بیارغونیزپروګرامونه څنګه پایداره کړو سپارښتني کوي.

د سیګارا و نور څارونکي ادارو پلټني ښودلي چي پاینبت د پلان جوړوني پروګرامونو یواړتیا ده تر څو دا موضوع ډاډه شي چي افغانستان به په دولتي او شخصي سکټور کي خپل بیارغونیزپروګرامونه او پروژې پرمخ بیولی او ساتلی شي. سیګاربه دا وارزوي چي د متحده ایالاتو مرسته تر کومه بریده پاینبت ته ځانګړی پاملرنه کوي او دا به په ګوته کړي چي څه شی اړین دی تر څو ډاډه کړي چي په افغانستان کي د امریکا پانګه اچونه پایداره شوې ده.

د سیګار وروستی راپورونه کي د بیلابیلو سرچینو څخه کټه اخیستل کیږي پلټني، څیړني، تحقیقات دولتي اسناد، نور راپورونه او مرکي تر څو د متحده ایالاتو د مرستو او موخو په وړاندې خطرونه ؛ په پلان جوړونه، اجراکول او همغږي رامینځته کولوکي ننګوني ؛ او هغه ستونزې چي د پالیسی او لومړیتوبونو بیاکتنه اړینه کړي ؛ څرګند ه کړي.

## د مالي پلټني نوی پروګرام

سیګار د مالي پلټني یو نوی پروګرام پیل کوي تر څو هغه لګښتونه چي په بیارغونیزو قراردادونو کي د لوړخطر له ګواښ سره مخ دي، معاینه کړي. دا هڅه د سیګار نوروڅارونکو ملګرو سره ګډ په قراردادونو کي ضایع کیدنه، دوکه او ناوړه کارونه په چټکه توګه برسیره کوي او بېځایه ورکړل شوي لګښتونه بیرته د متحده ایالاتو خزاني ته ګرځول کیږي.ددې پروګرام په لړ کي به سیګار هڅه وکړي تر څو په وخت او تفصیلي ډول د قراردادونو مالي څارني په ترسره کولو سره د افغانستان په ننګونکي چاپیریال کي د مالیه ورکوونکي ډالرو ساتنه وکړي.

## پلټني

کانګرس د وروستی راپوررکولو څخه وروسته، سیګار څلورد پلټني او یو د تحقیق راپورونه بشپړې کړي دي. دا راپورونه د خصوصي امنیتي شرکتونو او د متحده ایالاتو له خوا تمویل شوي پروژې په هکله چي د دولتدارۍ دودې او اقتصادي پرمختیا په موخه ورکړل شوي دي، ډیرې اندیښني ښودلي دي:

- هغه تطبیق کوونکي ملګري چي د یو اس ایډ په مرسته بیارغونیزې پروژې پلي کوي، د افغان عامه نظم ځواک (APPF) درلودونکي دولت ته د امنیتي چارو د لیږد په نتیجه کي به د لسګونو میلیونه ډالر لوړ لګښت سره مخ شي. برسیره پردې تطبیق کوونکي ملګري به امنیتي خدمات د جواز نلرونکي شرکتونو څخه تر لاسه کړي. د ا موندني د لګښتونو، په پروژو باندې فشار، او همدارنګه د تطبیق کوونکي ملګرو لخوا لاسته راغلي د ساتني کیفیت په اړه اندیښني پورته کوي.
- د یواس ایډ د افغانستان د ثبات نوښت ختیځ (ASI-East) یوه درې کلنه هڅه ده تر څو د محلي کار رامینځته کول، د ټولني او دولت د ظرفیت پورته کول او د زیر بنا په برخه کي کاروکولو له لارې د متحده ایالاتو د شورشیانو ــ ضد(COIN) ستراتیژۍ په پلي کولو کي مرسته کوي. په هر حال وروسته له دریو کلونو څخه د افغانستان د ثبات نوښت ختیځ هیڅ پروګرام هم د ستراتیژۍ له (ساتني ) مرحلي څخه د (جوړوني ) مرحلي ته ګام ندی اخیستی، په بدل کي یې یو وتونکی

### بشپړې شوې پلټني

- 12-10 پلټنــــه: په امنیتي لګښتونو کي زیاتوالی ممکن د افغان عامه ساتونکي قوا تر مشرۍ لاندې وي ؛یو اس ایډ ته اړینه ده چي د لګښتونو څخه څارنه وکړي تر څو ډ اډه شي چي له اجازه لیک څخه پرته کوم امنیت چمتو کوونکی کارول شوی نوي.
- 12-11 پلټنــــه: د افغانستان د ثبات نو ښت په شرقي پروګرام کي د یو اس ایډ تر مشر تابه لاندې د ثبات په لور پرمختګ کړی دی خو اوږدمهاله پرمختیایي هڅوته لیږد تر اوسه لاسته ندی راغلی.
- 12-12 پلټنــــه: د پروژې په تطبیق کي ځنډوني اود مرستو دوام لپاره ناسم پلان جوړونه د افغانستان د زیر بنا وجهي صندق د ضایع کیدلو له خطر سره مخ کوي.
- 12-13 پلټنــــه: ټاکل شوي عامه ــ ډیپلوماسي مرستي زیاتره خپلي موخي لاسته راوړيدي خو بیاهم سفارت د مرستي اداري او څارني پرمختګ لپاره ګامونه اخیستلی شي.

ستراتيژي وده کړې ده. د پرمختګ ورو بهير د پروګرام وروستنی بریالیتوب او شفاف لاس په لاس کېدلو په اړه اندېښني پورته کوي.

- د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونه د افغانستان زيربنا لپاره نوی جوړشوی پروګرام کاروي تر څو د شورشيانو ضد ستراتيژ ي لپاره اړين بودجې چمتو کړي. خو د اوو څخه پنځه سروې شوي پروژې د نيم څخه تر يو کال او د درو مياشتو لپاره دي او د پایښت لپار ه يې هم کو م پروګرام په پام کې ندی نيو ل شوی. دا واقعيتونه په ګوته کوي چې د شورشيانو – ضد مبارزې بشپړې لاسته راوړنې به وځنډيږي، او که چيرې پروژې وروسته پاتې شي او وروسته ناکامه شي او پایښت ونلري د عامو افغانانو سره به بد ګوماني پيدا شي.
- په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت په نړی کې د بهرنيوچاروزارت تر ټولو څخه لوی عامه – ډيپلوماسي هڅو مشري کوي: په 2010 او 2011 مالي کلونو کې 560 مرستې او قراردادونه چې په مجموعي ډول د 149 ميليونه ډالرو په ارزښت وو. پهر صورت کله چې د بهرنيو چارو وزارت خپلې مرستې پيلې کړې، اړين کارکوونکي يې هم نه درلودلې. نو په نتيجه کې يې د مرستې څخه وړاندې تګلاره کې PAS د ننګونو سره مخ شو لکه ازاد او وړ سيالي کول ؛ سيګارومونډله چې د مرستې نيمايي برخه اساني سرچيني وې. همدارنګه، د شلو څخه 14 پروګرامونه تر يوې اندازې پورې د پایښت بودجې ته اړتيادرلودې خو هيڅ څوک د پایښت لپاره کوم پلان نه درلود ځکه چې هيڅ څو ک نه وو غوښتی، چې پدې سره د 32 ميليونه ډالرو په ارزښت پانګه اچونه له ګواښ سره مخ کيده.
- د سيګار يو پلټنه د ننګرهار ولايت سرحدي پوليسو په درې مرکزونو کې رغونيز نيمګړتياوې مونډلې. دا ستونزې په دې ډول وې : د کاروني وړ اوبه رسوني سيستم نشتون، نيمګړی سيپټيک سيستم، او د ناولو اوبو ناوړه سيستم. برسيره پردې، سيګار د تيلو ليک شوي پيپونه، بيل شو ي د تخليې پيپونه، د ساتونکو لپاره نيمګړی جوړ شوي برجونه او ناسم نصب شوي بخاری او د تهويې سيستم ومونډله. بل دا چې د دې تسهيلاتو ډيري برخه يا خو نه کارول کيده يا هم د نورو موخو لپاره کارول کيدل.

پدې راپورونو کې سيګار، د پروګرام پلې کولو پرمختګ، د څارنې او حساب ورکونې د ودې لپاره او د پوښتنې پاروونکې لګښتونو څخه مخنيوی لپاره په مجموعي ډول 29 سپارښتنې کړيدي. په سپارښتنو کې ښه اسناد اخيستل او کنټرول، د نويو يا جاري قرارداد شوي مرستې د لګښت / ګټې ارزونې په لاره اچول، د ادارو ونډ ه او ذمه واری څرګندکول، او د زيربنايي پروژو لپاره ولسي ملاتړ برابرول شامل دي.

## د سيګار د سپارښتونو وضعيت

پدې ربع کې سيګار د پلټنې 35 سپارښتنې وترل چې پدې کې 10 د پلټنې راپورونه دي. د 2009 کال څخه ديخوا سيګار 61 پلټنې او تحقيقات خپاره کړي او د بودجو بيرته لاسته راوړلو، د اداري څارنو دودې ا و د پروګرامونو د اغيزې زياتولو لپاره د 200 څخه زياتې سپارښتنې کړيدي. سيګار ددې سپارښتونو نردې نيمايي بندې کړيدي. د يوې سپارښتنې ترل د سيګار ارزونه ښيي چې پلټل شوی اداره يا خو سپارښتنه تطبيق کړې ده ياهم يادشوي ټکي يې په سمه توګه په پام کې نيولي ده.

## د پلټنو بشپړ شوي راپورونه

پدې ربع کې سيګار د خصوصي امنيتي شرکتونو، باثباته کولو هڅې، د زيربنا پرمختګ او عامه ډيپلوماسۍ پورې تړلې پروژو او د پروګرام اداره کولو په هکله څلو ر د پلټنې راپورونه خپاره کړيدي. د پلټنې بشپړ راپورونه د PDF په بڼه د سيګار په ويبپاڼه کې پوست شويدي. (www.sigar.mil).

### 12-10 پلټنـــه: شخصي امنيتي کمپنۍ

**په امنيتي لګښتونو کې زياتوالی ممکن د افغان عامه ساتونکي قوا تر مشري لاندې وي ؛يو اس ايډ ته اړينه ده چې د لګښتونو څخه څارنه وکړي تر څو ډ اډه شي چې له اجازه ليک څخه پرته کوم امنيتي شرکت په کار ګومارل شوی نه وي.**

د 2009 مالي کال څخه تر 2011 مالي کاله پورې، يو اس ايډ خپل تطبيق کوونکي ملګروته په افغانستان کې د بيارغونيزو او پرمختيايي پروګرامونو د ترسره کولو لپاره 4.2 ميلیارډه ډالر ورکړيدي. تطبيق کوونکي ملګري به خپل امنيتي اړتياوې پخپله بشپړې کوي. ډيري يې د خپلو دفترونو، کورونو، د پروژو ساحو او د پرسونل خوځيدنو لپاره د خصوصي امنيتي شرکتونوسره قرارداد کوي.

د 2011 په مارچ کې افغان حکومت « د 62 ولسمشري فرمان تطبيق کولو لپاره د پلبندي ستراتيژي » پلي کول پيل کړ چې د ډيرو خصوصي امينيتي شرکتونو منحل کولو لپاره چمتو شوی وو. ددې ستراتيژۍ په اساس د افغان حکومت غوښتنه دا وه چې د 2012 کال له مارچ څخه وروسته د پرمختيايي کارونو امنيتي خدما ت به د افغان عامه نظم ځواک په غاړه واچول شي. د 2012 کال په مارچ کې ولسمشر کرزی يو ماډل ومنله چې له امله يې تطبيق کوونکي ملګري کولی شواى د سايټونو، پرسونل، لو جستيک، د اسبابو او وسايلو انتقال ورکول، او د قرارداد اداري اړوندو ستونزو په هکله د خطراداره کوونکي شرکتونو (RMCs) سره سلامشورې وکړي.

سيګار د 2009- 2011 مالي کلونو تر مينځ د يو اس ايډ د 13 تطبيق کوونکي ملګرو چې 29 لويې پروژې پلي کولې، د حساب صورتونو او نورو معلوماتو تجزيه ترسره کړه. همدا رنګه سيګار دا هم لټوله چې ايا ددې پروژو پلي کوونکي، افغاني اجازه لرونکي خصوصي امنيتي شرکتونه په کار ګوماري که څنګه ؟

**اهداف**

دا پلټنه غوښتل شويده تر څو څرګنده کړي

- د 2009- 2011 مالي کلونو په ترڅ کې د يو اس ايډ پروژو لپاره د خصوصي امنيتي شرکتونو (PSCs) سره يو ځای پرسونل او نقليه وسايلو شمير او لګښت
- د خصوصي امنيتي شرکتونو څخه د افغان عامه نظم ځواک ته د امنيتي خدماتو د ليږد پروسې او د ليږد څخه وروسته د تطبيق کوونکي ملګرو لپاره د پلانونو احتمالي لګښت

**موندنې**

1. سيګارد يو اس ايډ 29 پروژو له معاينه کولو څخه وروسته وموندله چې د 2009–2011 مالي کلونو په ترڅ کې د 2.9 ميلیارډه ډالرو څخه 300 ميليونه ډالر (يا 10.4% ) يو اخي د امنيتي

خدماتو په برخه کې لګول شوي وي. ددې 300 ډالرو څخه نژدې 140 میلیونه ډالر د خصوصي امنیتي شرکتونو پرسونل لپاره او 27 میلیونه ډالر د نقلیه وسایلو په برخه کې مصرف شوي وي. سیګارومونده چې ځیني تطبیق کوونکي ملګري د خپلوارتیاو بشپړکولو لپاره د 4.1 میلیونه ډالرو په لګښت زغر لرونکي یا اجاروي ګاډي اخیستي وي، دا ځکه چې دوی نه شي کولی د افغان دولت د راجستر او ګمرک له لارې په موقع اخیستل شوي ګاډي لاسته راوړي.

2. فرض کوو چې د افغان مسلحو ساتونکو اړتیاوې تغیر نه مومي، د سیګار د معاینې له مخې د افغان عامه نظم ځواک ته د لیږد څخه وروسته په لومړي کال کې د افغان کارکوونکو نیولو له امله به د 29 څخه د 13 پروژو په لګښت کې 46% یا 3.1 میلیونه ډالر زیاتوالی راشي. برسیره پردې، سیګارمونده چې ځیني تطبیق کوونکي ملګري داسې وایي چې دوی به د لیږد اسانولو لپاره د RMCs له لارې ډیر مساپرین په کاروګوماري. د یو تطبیق کوونکي ملګري په اټکل، د افغان عامه نظم ځواک ته د لیږد په لومړي کال کې د مساپرو کارکوونکو ګومارلو لګښت په 13 معاینه شویو پروژو کې به 200% یا 52.1 میلیونه ډالر زیات شي. تطبیق کوونکي ملګري ځیني نور لاملونه هم یادولي لکه د امنیتي زیربناو زیاتیدل، چې دا به لګښتونه لا پسې زیات کړي. د 2012 کال په اپریل کې، یو اس ایډ خپل تجزیه کړي معلومات چې د افغان عامه نظم ځواک ته د لیږد په لومړۍ میاشت کې د تطبیق کوونکو څخه لاس ته راوړي وو سیګارته وړاندې کړ. دا تجزیه داسې ښودله چې امنیتي لګښتونه لږ شوي وي. په هر صورت، سیګاروموندہ چې د یو اس ایډ تطبیق کوونکو لخوا چمتو شوی معلومات متناقض او نیمګړي دي چې دا د یو اس ایډ عمومي پریکړه تر پوښتنې لاندې راولي. په پای کې، د 2012 کال د جون تر میاشتې پورې د یو اس ایډ ډیر تطبیق کوونکي ملګري د افغان عامه نظم ځواک سره د څو اونیو څخه پرته تجربه نه درلودل. د لیږد په لومړي پړاو کې د ځینو پیښو پر بنسټ لکه د افغان عامه نظم ځواک د یونیفارم او ټوپک څخه پرته ګرځیدنې او د توقع څخه پورته مادي ملاتړ غوښتنې، ځیني تطبیق کوونکي د لیږد په اړه اندیښمنې کړې. پداسې حال کې چې د افغان عامه نظم ځواک ته لیږد په جریان کې دی، د یو اس ایډ روان او راتلونکي پروژو او پروګرامونو لپاره احتمالي امنیتي لګښت ندی ټاکل شوی.

3. سیګارومونده چې د 2011 کال ډسمبر څخه دیخوا تطبیق کوونکي ملګري د شپږو پروژولپاره د جوازنلرونکي امنیتي شرکتونو څخه کار اخیستي ول.د اسې کاروني غیر قانوني دي او د یو اس ایډ بیارغونیزې مرستې له ګواښ سره مخ کوي. د خطر بیرغ هغه وخت پورته شو چې د 2010 کال په می کې د یو اس ایډ څخه د عمومي پلټونکي دفتر اعلان وکړچې مونږ. ډاډه نه یو چې د تطبیق کوونکو لخوا ټول ګومارل شوي امنیتي شرکتونه د داخلي وزارت څخه د کار جواز ولري.

**سپارښتنې**

د افغان عامه نظم ځواک تر مشرۍ لاندې ممکنه زیاتیدونکي لګښت په پام کې نیولو سره سیګار په کابل کې د یو اس ایډ د مشن رییس ته لاندې سپارښتنې وړاندې کوي. د روان، راتلونکي او نوي قراردادونو امنیتي لګښتونو دوه سیستماټیکي ارزونې تر سره شي :

1. د روانو ټولو پروژو چې افغان عامه نظم ځواک ګومارلی وي یایې پلان ولري، د امنیتي لګښتونو په اړه پراخه تجزیه ترسره کړئ تر څو معلوم کړئ چې (a)ایاد اضافي امنیتي لګښتونو لپاره به بودجه پاتې شي (b)اضافي لګښتونه به د پروژې د تطبیق په بهیر کومې اغیزې ولري

2. مخکي له دې چې نوې مرستي یا راتلونکي قراردادونه، تعاوني هوکړې یا د بیارغونیزو او پرمختیایي پروژو لپاره پیرزویني ترسره کړئ، د هرې مرستي لپاره د لګښت – ګټي ارزونه ترسره کړئ چې دا به په میتودولوژیک ډول ومومي چې که چیرې د پروژې امنیتي لګښت د اټکل شوي ګټي څخه زیات شي نو پروژه په کوم بل ځای کي ولګول شي.

یوبله سپارښتنه داوه چې ډاډټر لاسه شي چې تطبیق کوونکي ملګرې یواځې د خطر اداره کولو جوازلرونکي شرکتونه په کارګوماري :

3. یوه رسمي بیا کتنه ترسره کړئ تر څو ډاډه شئ چې تطبیق کوونکي ملګرې یواځې د خطر اداره کولو جوازلرونکي شرکتونه په کارګوماري.

**د اداري تبصرې**

یو اس ایډ منلي ده چې د خطر اداره کولو جوازلرونکي شرکتونو د ګومارلو له اړخه باید د تطبیق کوونکي کارونو ته بیاکتنه وشي.

یو اس ایډ ونه منله چې د اضافي لګښت د ارزونې په هکله څه تر سره کړي یو اس ایډ وویلې چې د روانو پروژو په هکله یې وړاندې شوي سپارښتني په پام کې نیولي دي، او شته پالیسي یې داسې ده چې د راتلونکو پروژو لپاره امنیتي لګښتونه ارزوي. په هر صورت کې، لکه څنګه چې افغان عامه نظم ځواک نوی او بې ساری دی، او ورتیاوې یې ندي څرګندې شوي، سیګارپدې اند دی چې لګښتونه یې په جدي توګه وڅارل شي دا پداسې حال کې چې د یو اس ایډ تطبیق کوونکي ملګرې به ډیرې تجربې ورسره ولري.

## 11-12 پلټنه : حکومتي او اقتصادي پرمختګ

**د افغانستان د ثبات نو ښت په شرقي پروګرام کې د یو اس ایډ تر مشر تابه لاندې د ثبات په لور پرمختګ کړی دی خو اوږدمهاله پرمختیایي هڅوته لیږد تر اوسه لاسته ندی راغلی.**

د متحده ایالاتو COIN ستراتیژي د (څرګند، ساتنه او رغونه ) پړاوونه لري چې په ترڅ کې به یې تر هدف لاندې ولسوالۍ په دایمي توګه د ثبات خاوندان شي. د کواین ستراتیژې د ساتني پړاو څخه ملاتړ کول د یو اس ایډ پروګرام، د افغانستان باثباته کولو نوښت ختیځ (ASI-East) اساسي موخه جوړوي. ASI- ختیځ، ټولني ته د ودې ورکولو، د دولت ظرفیتونو ارتقا، ددولت څخه ولسي ملاتړکول لکه خلکولپاره د کارونو زمینه برابرول، محلي زیربناو ته وده ورکول، او عامه خدماتو ته د لاس موندني زیاتول، له لارې د کواین ستراتیژي ساتني پړاو څخه ملاترکوي. ASI ختیځ د مشرقي ولایتونو لسو ولسوالیو کې د ځایي تطبیق کوونکو سره مرسته کوي.

د 2009 کال په جون کې، د یو اس ایډ د لیږد نوښتونو دفتر(OTI) د 151 میلیون ډالرو په ارزښت درې کلنه بودجه د پرمختیایي بدیلونو شرکت (DAI) ته ورکړه ترڅو د ASI – ختیځ پروګرام پلي کړي. د ټاسک ارډر قرارداد څخه وروسته د لیږد نوښتونو دفتر له پرمختیایي بدیلونو شرکت څخه وغوښته چې د ولسوالیو په کچه د بې ثباتیو ځانګړي سرچینوموندلو په موخه یوه ستراتیژیکه کړنلاره خپله کړي.

د 2010 کال په فبروري کې DAI د ولسوالیو ثبات نوی چوکاټ په پلي کولو پیل کړ، کوم چې د ولسوالیو په کچه د کارونو ترسره کولو لپاره د ځارنه – کچه کول – برابرول تګلاری څخه کاراخلي.

د 2012 کال په فبروري کې، OTI د 161.5 میلیونه ډالرو په لګښت یو بل تعقیبي قرارداد د نریوال نوښتګرو ملګرو شرکت سره لاسلیک کړ ترڅو د یوائځني تطبیق کوونکي ملګری په توګه د افغانستان په ختیځ او سهیلي سیمو کې د ASI پروګرامونو ته ادامه ورکړي. نوی پیل شوی کار به په اټکلي توګه د 2015 کال په فبروري کې پای ته ورسیږي.

**اهداف**

د ASI- ختیځ پلټنه وارزول شو

- ترکومه بریده چې د ASI – ختیځ لګښتونه مصرفي شوي وي روا، دتخصیص وړ او معقولي وي
- د تطبیق او سرته رسولو په بهیر کې د څارني، ارزوني او مانیتورینګ کچه
- د شورشیانو – ضد ستراتیژی په اساس د ولسوالیو پرمختګ د رغوني پړاو خوا ته د پروګرام د کارونو کچه

**موندني**

1. د ASI – ختیځ په بهیر کې چې څومره لګښتونه مصرف شویدي روا، د تخصیص وړ او منطقي دي خو د لګښت اړوند ټاکلي مسایلو یادولو ته اړتیا شته. دا مسایل د پروګرام ځیني لوړ مصارف دي چې د 590,000 ډالرو څخه زیات په مشکوکو ځایونو کې کارول شوي، او یو شمیر وخت نیونکي او د حساب صورت ورکولو نیمګړتیاوې دي چې له امله یې د ناوړه مصارفو خطرونه زیات شویدي.
2. DAI د پروګرام څارني، مانیټورنګ او ارزوني لپاره ځیني کارونه ترسره کړیدي. په هر حال، پایلي تراوسه لا پاتي دي چې باید وټاکل شي او ځانګړي اداري مسایل د پروګرام څارني اړوند شته دي چې ښایي په تعقیبي ټاسک اردر قرارداد کې ورته پام وشي. د ASI – ختیځ د پروګرامونو پایلي ارزونه به یو اس ایډ ته ګرانه وي تر څو پریکړه وکړي چې د ولسوالیو د ثبات چوکاټ DSF ترکومه بریده او څنګه د یو اس ایډ د باثباته کولو هڅو په کلیدي سیمو کې د پلي کیدو وړ د ي. د پروګرام مانیټورنګ او ارزونه لکه څنګه چې په DSF میتودولوژي کې راغلي ده دیو دري - پوړیز سیستم په مرسته ترسره کیږي. لومړني پایلي ښیي چې د ASI – ختیځ پروګرامونه په بریالي توګه پلي شوي او د ولسوالیو په کچه ښي مثبتي اغیزې لرلي دي. مګر د ثبات لپاره کومي نښي چې د DAI ا و د مانیټورنګ او ارزوني فرعي قرار داد کونکو لخوا یي چمتو شویدي دا سي ښیي چې د ASI – ختیځ تر پروګرامونو لاندې په لسو ولسوالیو کې د ثبات بهیر د قناعت وړ ندی.
3. برسیره پردې چې درې کلني هڅې شویدي، خو د ASI – ختیځ تر هدف لاندې ولسوالیو کې هیڅ یو د «ساتني» پړاو څخه د« رغوني» پړاو ته ندي لیږدول شوي. OTI د ولسوالیو – په کچه د بیکاره کولو لپاره په نږدې وخت کې معیارونه ټاکلي دي. په افغانستان کې د ASI لپاره د OTI شته ستراتیږي د تعقیبي ټاسک اردر تر موادو لاندې پر مخ بیول کیږي. دا هڅې اړتیا لري چې د ولسوالیو د ثبات چوکاټ میتودولوږي د پلان شوي پرمختګونه او ارزونو سره انسجام ومومي.

**سپارښتني**

په پلټنه کې نښه شوي ستونزو اړوند سیګار شپږ سپارښتني کړیدي.

د دې لپاره چې ډاډ تر لاسه شي چې ایا پروګرام په قرارداد کې د یادشوو موادو سره سم پرمخ ځي، سیګار د یو اس ایډ د ډموکراسی، ټکر او بشري مرستو اداره (DCHA) او OTI ته لاندې دوې سپارښتنې کړیدي :

1. د ASI – ختیځ پروګرام د مصرف کولو نمونوته کتنه وکړئ تر څو څرګند شي چې ایا د مصرف کولو شته کچه د پروګرام د مصرف او عملیاتي لګښت تر مینځ یو منطقي برابروالی لري که نه.
2. قرارداد کوونکي ته لارښوونه وکړئ تر څو په نښه شوي دداخلي کنټرول ضعف او د وخت پیرندني او صورت حساب جوړوني تګلارو نیمګړتیاوې، سمې کړي.

د ددې لپاره چې ډاډ تر لاسه شي چې د ASI- ختیځ پروګرام لګښتونه روا، د تخصیص وړ او منطقي دي، سیګار سپارښتنه کوي چې په واشنګټن ډی. سي کې د قرار دادونو مدیر لاندې کار ترسره کړي :

3. د 590,000 ډالرو څخه زیات تر پوښتنې لاندې لګښتونو ته بیا کتنه وکړي اوکه مناسبه بولي ادا رو پې بیرته وګرځول شي :
   - 500,000 ډالر غیر قانوني لګښت د DAI فرعي قرارداد کونکي، د مانیټورنګ او ارزوني لپاره د التای سلاکاري خدمات، اړوند
   - 3,400 ډالر په بیرۍ کې دمال راوړني غیر قانوني لګښت د DAI یوبل قرارداد اړوند د زغر لرونکو ګاډو د بیمې لپاره 50,000 ډالر بیځایه لګښت چې وروسته بیا ګټه ترې نه وه اخیستل.
   - د اجاره نیول شوو ګاډو د بیمې لپاره 38,500 ډالر بیځایه لګښت. د ASI-ختیځ پروګرام د کارونو څارنه، مانیټورنګ او ارزوني سیسټمونو د پرمختګ لپاره سیګار، په کابل کې د OTI میشن غړی او د ثبات واحد له مشر سره یو ځای د یو اس ایډ، DCHA، او په واشنګټن ډې. سي کې د OTI دفتر ته دوې لاندې سپارښتنې لري :
4. د فعالیتونو لاس ته راغلي نتایج د مانیټورنګ او ارزوني میټوډولوړي په مرسته وارزوئ، او په نویو ولسوالیو کې د کارپیل کولو څخه وړاندې د ثبات مانیټورنګ او ارزونه تر سره کړئ.
5. د ثبات ځانګي مشر ته معلومات چمتو کړئ تر څو د ASI – ختیځ پروګرامونو کې پلي شوی د ولسوالیو ثبات چوکاټ څخه لاسته راغلي درسونوڅخه په موقتي او وروستنی ډول لنډیز برابرکړي تر څو په راتلونکي کې چې د ثبات په نورو پروګرامونو کې د ولسوالیو ثبات چوکاټ پلي کیري د یو اس ایډ، پوځ او د بهرنیو چارو وزارت د مقاماتو له خوا په پام کې ونیول شي.

د دې لپاره چې په راتلونکي کې د کواین سټراټیږي په اساس رغوني پراو ته د ولسوالیو لیږد ولوکې پرمختګ وشي، سیګارپه واشنګټن ډي.سي کې د یو اس ایډ DCHA/OTI دفترونو ته یو ه سپارښتنه کوي تر څو په کابل کې د OTI میشن له غړو سره یو ځای پلي کړي :

6. د ولسوالیو په کچه د پریکړې نیوني اسانه کولو لپاره د بیکاره کولو معیارونو طرحه قطعي شي، او د هیواد په کچه د پروګرامونو په اړه د OTI پریکړو لپاره د پریښولو سټراټیږي ته پرمختګ ورکول.

**د اداري تبصرې**

یو اس ایډ د سیګار له سپارښتنو سره هوکړه وکړه ا و همدارنګه هغه کارونه یې چې تر سره کړې وویا په پام کې درلوده، په ګوته کړه. که څه هم یو اس ایډ د قرارداد په لګښت کې 500,000 ډالرو په اړه چې په پلټنه کې مشکوک ښودل شوي وې وویلې چې کارونه یې د قانون سره سم وو، خو د خپل ادعا ثبوت لپاره یې سیګارته کوم معلومات وړاندې نکړ. اداري وویلې چې دمشکوکو لګښتونو څخه 3,400 ډالر بیرته ګرځول شویدي او 88,500 ډالر تربیاکتنې لاندې دي. د یواس ایډ دیوې بلې تبصرې پر بنسټ سیګارخپل څلورم او پنځم سپارښتنو ته بیاکتنه وکړه تر څو په کابل کې د ثبات ځانګې مشرته هم ویناوکړي. دا ځانګه د یو اس ایډ لخوا د ولسوالیو باثباته کولو چوکاټ په شمول د یو اس ایډ باثباته کولو ټولې هڅې مانیټورینګ او ارزونه ترسره کوي.

## 12-12 پلټنه : زیربنا

**د پروژو په پلي کولو کې ځنډ او د پایښت ناسم پلان جوړونه د افغانستان د زیربناو مرسته د ضایع کیدلو له ګواښ سره مخ کوي.**

کانګرس د متحده ایالاتو د شورشیانو ــضد هڅې څخه د ملاتړلپاره د زیربناجوړولو په موخه د افغانستان د زیربنا بودجه (AIF)منلي ده. کانګرس شرط کینوده چې د دفاع وزارت چې د زیربنا بودجه اداره کوي د بهرنیو چاروو‌زارت ا و یو اس ایډ په ګډه سره د افغانستان د زیربنا پروګرام چمتو کړي. د زیربنا بودجه د دفاعي او بهرنیو عملیاتونو لپاره ځانګړې شوې ده تر څو د کواین موخو ته رسیدلو لپاره د اوبو، برېښنا، ټرانسپورټیشن او نورو پروژو کې ولګول شي.

کانګرس د افغانستان زیر بنا پروګرام څخه د ملاتړ لپاره په 2011 مالي کال کې د افغانستان زیر بنابودجې ته 400 میلیونه ډالر او همدومره نورې روپۍ د 2012 مالي کال کې د افغانستان زیربنا پروګرام څخه د ملاتړ لپاره ځانګړې کړه. د بهرنیو چارو وزارت ا و یو اس ایډ مسولیت درلوده چې د افغانستان لپاره د اقتصادي ملاتړځانګړې شوې بودجې څخه د افغانستان د زیربنا پرګرامونو لګښت برابر کړي. د AIP پروژو لپاره د قانون جوړولو کتنې د بهرنیو چارو او دفاع وزارت له خوا په ګډه وده او منل کیږي، او د بهرنیو چارو وزارت لخوا د دفاع وزارت په مرسته پلي کیږي (مګر داچې اداري هوکړه کړې وي چې باید د دفاع وزارت لخوا پلي شي ) یو اس ایډ د د بهرنیو چارو وزارت د پروژو پلي کوونکی دی ؛او د متحده ایالاتو ځواکونه افغانستان (USFOR-A) د دفاع وزارت د پروژو پلي کوونکی دی. یو اس ایډ خپلې پروژې د هغو قراردادونو په مرسته پلي کوي چې پخپله یې چمتوکړي وي، خو (USFOR-A) خپلې پروژې د هغو قراردادونو په مرسته پلي کوي چې د امریکایي پوځ د انجینیرانو قطعې (USACE) لخوا چمتو شوې وي.

د AIP اړوند قوانین د پلي کوونکي اداروځخه غواړی ترڅو وښیې چې دوی به څنګه پروژه خوندي وساتي، اوهم د AIP پروژو لپاره د بودجې اخیستلو څخه وړاندې، د خرڅولو په ترڅ کې، او د انتقال په بهیر کې کانګرس ته راپور ورکړي.

**اهداف**

دغه پلټنه ترسره شوې ده تر څو د لاندې مواردو پراخوالی په ګوته کړي

- پروژې د مهال ویش سره سم پلي شویدي او د کواین پلان شوي اغیزې لاسته راغلي دي.

- د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونه او يو اس ايډ د پروژې د پاينت لګښتونه او نور د پاينت ننګوني سمي کړيدي.
- کومي اداري چې د AIP سره مرسته کړې وي يا هم په ګډه اداره کړې وي.

**موندني**

1. په 2011 مالي کال کي د AIF له اوو څخه پنځه پروژې 15-6مياشتي مهال ويش درلودي، او زياتي پروژې به د ډيرو کلونو لپاره د کواين د خوښي لاسته راوړني ونلري. په 2011 مالي کال کي د AIF ډيري پروژې د لاسته راوړني او بودجي د ځنډ له امله د اجرا کولو په مهال ويش کي ځنډ راغلي دي، پدې کي د بريښنا څانګي ټولي پروژې شاملي دي پرته د کندهار پل بندی د حل لاري څخه چي خلکو ته د سون مواد چمتو کوي. په ځيني مواردو کي، پروژې د کواين د غوښتني خلاف اغيزې پر ځاى پريږدي دا ځکه چي د هيلو – واقعيتونو تر مينځ يو خلاامينځته کيږي يا هم پروژه د ولسي ملاتړ څخه بې برخي وي.
2. د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونه د 2011 مالي کال پروژو د پاينت په هکله ډاډ نه وو ورکړي. د بيلګي په توګه ددفاع او بهرنيو چارو وزارتونه او يو اس ايډ د پاينت داسي پلانونه په لاس کي نه وو نيولي چي د 2011 مالي کال د AIF پروژو لګښتونه په واقعي توګه اټکل کړي، او نه هم اداري د لګښتونو اړوندي اړيکي د افغان حکومت سره ندي نيولي. په ځيني حالاتو کي لکه د کندهار پلبندی د حل لاره او د سهيل ختيځ بريښنا سيستم د پروژو بقا او پاينت د ضمني پروژو پلي کولو پورې تړلي دي چي اوسه پورې ټاکل شوی ندي ياهم بودجه يې چمتو شوې نده او ياهم د پروژې بشپړيدو وروستی نيټه د 2014 کال څخه وروسته وي.
3. پلي کوونکي اداري د پروژو ګډ اداره کولو لپاره يو ميکانيزم چمتو کوي. په هر حال، د پروژو په اړه د يو جامع او ګډ معلومات د نشتون له امله او د پروژو په پلي کولو کي دادارې ونډې په هکله ناروښه لارښوونه، دکانګرس په څارنه او د ادارو ترمينځ په همغږۍ کي محدوديت راولي. د بيلګي په توګه په 2011 مالي کال کي د دفاع وزارت د AIF داسي يوې پروژې پلي کولو لپاره د 86 ميليونه ډالرورکول پلان کوي چي د مګړی يې د يو بل مرسته کوونکي څخه فنډ تر لاسه کوله.

**سپارښتني**

د اغيزمنه څارنه او د لويو او يو په بل پورې تړلي زيربنايي پروژو کي د ګډ پريکړه نيوني په بهير کي د کانګرس د ظرفيت لوړولو لپاره، سيګارسپارښتنه کوي چي د افغانستان لپاره د متحده ايالاتو سفير او د يو اس ايډ مشن مشر د USFOR-A قومانداان سره په ګډه لاندي ګام پورته کړي :

1. ټولي هغي زيربنايي پروژې چي په AIP کي شامليږي تعريف او په ګوته شي، په شمول د هغو پروژو چي د AIF او ESF لخوا فنډ ورکړشوی وي، او د کانګرس له طرفه په غوښتل شوی را پورکي د AIP يوې برخي په توګه ځاى په ځاى شي. دا خبرتيا بايد د زيربنايي پروژو خپل مينځي اړيکي څرګندي کړي.

د دفاع وزارت (USFOR-A او USACE )، دولت، او یو اس ایډ ترمینځ د څارني او همغږۍ پرمختګ لپاره، سیګار سپارښتنه کوي چې د USFOR-A قوماندان، د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سفیر د یو اس ایډ مشن مشر سره ګډ لاندې ګامونه پورته کړي :

2. د AIP پروژو د څارني او پلي کولو لپاره د لاربنود او ثانوي ادارو ونډې او مسولیتونه وټاکئ، او
3. د پروژې پلي کولو او څارني مانیټورنګ لپاره، یو ګډ یا د ویب په اساس ډیټابیس چمتوکړئ یاهم د AIP ټولې پروژې په موجود ګډ ډیټابیس کې چې د ویب په اساس چمتو شوی وي، شامل کړئ. (د ټولې پرمختیایي / زیربنایي پروژو لپاره ورته ټکي چې د سیګاراو او GAO لخوا وویل شو، په پام کې ونیول شي. )

د افغانستان بریښنا ځانګې د بریالیتوب او په وخت پرمختګ لپاره ددې په څنګ کې چې د متحده ایالاتو بیلابیلو دولتي ادارو او نور نړیوالومرسته کوونکو د یو بل پورې تړلې پروژې پلي کول ګټوردي ؛ سیګار سپارښتنه کوي چې د USFOR-A قوماندان، د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سفیر، د یو اس ایډ مشن مشر د نورو کلیدي ذیربطو ادارو سره یو ځای لکه افغان دولت او اسیا پرمختیایي بانک :

4. د متحده ایالاتو په مرسته چمتو شوي زیربنایي پروژو پلي کولو لپاره یو اجرایي مهال ویش برابرکړي تر څود ذیربطو او پلي کوونکو لپاره بحراني لار په نښه او څرګند شي، او دې مهال ویش ته د اسیا پرمختیایي بانک لخواچې د افغانستان د بریښنا سکټور لپاره کوم ماسټر پلان چمتو کیږي، ځای ورکړي.

ددې لپاره چې د افغانستان د بریښنا سکټور په وخت او بریالی پرمختګ سره مرسته وشي کوم چې د متحده ایالاتو بیلابیلو دولتي ادارو او نور نړیوالو مرسته کوونکو له لوري د یو بل پورې تړلې پروژو په بڼه پلي کیدونکي پروژوسره تړاو لري، او ددې لپاره چې ډاډ تر لاسه شي د 2011 مالي کال د AIF پورې تړلې 101 میلیونه ډالر خلاص شوی نه وي، سیګار سپارښتنه کوي چې د دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو:

5. د 2011 مالي کال AIF پورې تړلې 101 میلیون ډالرو لیږد د د فاع وزارت څخه بهرنیو چارو ته او په پای کې یو اس ایډ ته ګړندی کړي تر څو د دشت برچې څخه تر غزني پورې د NEPS پروژه کې ولګول شي.

ددې لپاره چې ډاډه شو چې د AIP پروژې د کواین موخې لاس ته راوړي، سیګار سپارښتنه کوي چې د USFOR-A قوماندان، د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سفیر او د یو اس ایډ مشن مشر لاندې ګام پورته کړي :

6. د AIP لپاره چمتو شوي قوانینو په اساس د کواین موخو لاسته راوړلو لپاره چې د کانګرس خبرتیا کې د زیر بنایي پروژو لپاره کومه موده ټاکل شوې ده په څرګنده توګه ښکاره شي.
7. د AIP لاربنووني او د پروژې ټاکلو معیارونه بیا کتنه وشي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې د AIP پروژې د متاثره ولس ملاتړ له ځانه سره لري.

ددې لپاره چې د AIP پروژو د پایښت او بقا سره د بشپړیدو پورې مرسته وشي، سیګارسپارښتنه کوي چې د USFOR-A قوماندان، د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سفیر او د یو اس ایډ مشن مشر لاندې ګام پورته کړي :

8. د AIP هرې پروژې لپاره د پایښت یو پراخ پلان چمتو شي چې لږ تر لږه لاندې ځانګړتیاوې ولري (a) د پروژې پایښت د لګښت لپاره یو واقعي اټکل تر سره شي، ددې بودجې لپاره پلان شوې سرچینه، او د پلان شوې سرچینې د باوریتوب ارزونه ؛(b) ددې شواهد چې اټکل شوی لګښت د افغان دولت لپاره چمتو شوی دی او دا چې دافغان حکومت د پروژې له پایښت سره د مرستې وعده ورکړې ده ؛ او (c) د افغان دولت دهغې برخې ظرفیت چې د پروژې پایښت ورپه غاړه دی، په ګډه ارزول. د پایښت پلانونوټول هغه وړتیاوې چې د کانګرس په خبرتیاکې راغلي دي، ولري.

ددې لپاره چې د AIP پروژو اړوند د کانګرس خبرتیاوې او راپورونو په وخت بشپړیدلو سره مرسته وشي او همدا رنګه ځانګړی شوی بودجه په خپل وخت لاسته ورشي، سیګارسپارښتنه کوي چې د دفاع او بهرنیو چارو وزیران لاندې ګام واخلي :

9. د AIP پروژو اړتیاوې او د خبرتیاو فارمټ او د راپور ورکولو مجموعه او د تصویب بهیر، او کانګرس لپاره د خبرتیاو او راپور چمتو کولو متوقع ټاکل شوې مودې په شمول، څرګند او قانوني شي.

**د اداري تبصرې**

د سیګار دبیلابیلو ادارو او دفترونو څخه تبصرې لاسته راوړي دي لکه د بهرنیو چارو وزارت، په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت، د دفاع وزارت دفتر (OSD)، USFOR-A او یو اس ایډ. که څه هم ټولې یا ځینې اداري او دفاتر دسپارښتنې له ډیرې برخې سره موافقه لري، ددوی لپاره اړینه ده چې د سیګار لخوا چمتو شوي راپورټ کې په ګوتو شوي مسایلو ته د رسیدګي کولو لپاره خپل غبرګون او اصلاحي ګامونه په منسجم ډول تر سره کړي. OSD په دې اند دی چې پلټنه له وخت څخه مخکې چمتو شوېده او د راپور له ډیروموندنو او نتایجو سره په کلکه مخالفت کوي. سیګار د پروګرام په پلي کولو کې خپل راپور وختي ځکه چمتو کړیده چې مخکې له دې څخه چې د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو له پلو ه پروژه بیرته واخیستل شي ټولې ستونزې او د رغولو موقع په اړه څرګندوني وشي. د سیګار هڅه دا نده چې د کواین مفکوره تعبیر کړي، بلکه هڅه یې داده چې د کواین ګټو په اړه چې د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا کانګرس ته په چمتوشوي راپور کې ویل شویدي، وارزوي چې ترکومه بریده لاس ته راغلي دي.

## 12-13 پلټنه : حکومتداري

**ټاکل شوې عامه – ډیلوماسي مرستې زیاتره خپلې موخې لاسته راوړیدي خو بیاهم سفارت د مرستې اداري او څارنې پرمختګ لپاره ګامونه اخیستلی شي**

د 2010–2011 مالي کلونو په ترڅ کې د متحده ایالاتو سفارت د کابل د عامه چارو څانګه (PAS) شاوخوا د 149 میلیون ډالروپه لګښت د 560 عامه – ډیپلوماسي مرستو ترنوم لاندې قراردادونه

لاسلیک کړ پدې ډول مرستو کې چې د امریکا سفارت لخوا چمتو کیده بې ساری دي.دا مرستې د هغو هڅو سره د مرستې لپاره چمتو شویدي چې افغان دولت پرمختګ په لور بیایي او ولس دې ته هڅوي چې د زور زیاتی په وړاندې مقاومت وښیي او شدید افراطیت رد کړي.

PAS د عامه – ډیپلوماسي پروګرام لومړی اداره کوونکی دا برخې لري :د مطبوعاتو او عامه چارو دفترونه، د ستراتیژیک اړیکو څانګه، د سلاکاري یو ه څانګه چې د دولت په مطبوعاتي مرکز کې په کاربوخت دی او د پوځي معلوماتو ملاتړ لپاره یو چمتو شوی ټیم. د PAS کارکوونکي کولی شي چې د مرستو منصبدار، د مرستې د منصبدارنماینده او د مرستې هیت د غړي په توګه خدمت وکړي

سیګارد 2010 او 2011 مالي کلونو په ترڅ کې د PAS عامه – ډیپلوماسی د 20 لویو مرستو د ټاکني او څارني بهیر ته بیاکتنه کړې ده (کوم چې یو میلیون ډالروڅخه زیات لګښت درلود). دا مرستې په ټولیزه توګه 57 میلیونه ډالرلګښت درلوده چې پدې موده کې د عامه – ډیپلوماسی مرستو 38 سلنه جوړوله. سیګارهمدارنګه دیو مطبوعاتي مرکز چې د مرستو په بودجه جوړ شوی و او دولتي چاړواکوسره یې مستقیمه مرسته کوله، اداري وضعیت معاینه کړه.

**اهداف**

دا پلټنه ترسره شوې ده تر څو لاندې موارد په نښه کړي

- د عامه- ډیپلوماسي مرستو پروګرام لپاره چمتو شوي کارکوونکي او بودجه
- د ټاکنې او اداره کولو تګلاري پراخوالی چې د PAS لخوا ترسره کیږي
- ایا مرستې د متحده ایالاتو له ستراتیژیکو موخو سره جوړراتلې اوهم په نظرکې نیول شوي پایلې درلودې
- د مرسته شوي بودجې پورې اړوند وسایلو او تجهیزاتو د پاینټ اندازه چې د PAS لخوا په پام کې نیول شویدي.

**موندني**

1. د بهرنیو چارو وزارت د عامه ډیپلوماسی پروګرام د افغانستان لپاره د 2010 او 2011 کلونو ترمینځ زیاته پانګه اچونه لاسته راوړې ده. په هرحال، د مرستې چارو له زیاتیدو سره د سفارت په چارواکو کې توپیر ندی راغلی، چې له امله یې د قرارداد څخه وړاندې اداره او د اسنادو اړتیاوې له ننګوني سره مخ شوې دي.
2. د اسنادو نشتون ددې لامل شوی ده چې سیګارد PAS په بهیرکې د قرارداد څخه وړاندې اړین ګامونه، د ګواښونو ارزونه، داخیستونکو ظرفیت، د فرعي قراردادونو کارونه او لګښتونو، پراخوالي په ټاکنه کې پاتې راشي. په نتیجه کې، سیګار ددې په ټاکنه کې پاتې راغلی ده چې ایا PAS به دا تضمین ورکړي چې ګواښونه له موندلو څخه وروسته سپک شوي دي، اخیستونکي لوري د مرسته شوې بودجې اداره کولو ظرفیت لري، فرعي قرارداد کوونکي هغه لوري ندي چې مخکې رد شوې وي او اټکل شوې لګښتونه منطقي دي. د ډیرو قراردادونو لپاره د پرانیستی او وړې سیالی اسناد ندي چمتو شوي، همدارنګه سیګاروموندله چې نیمایي معاینه شوي قراردادونه اساني سرچینې دي. په 2011 کال کې PAS د قرارداد ارزونې او د ټاکنې تګلارې اړوند ځینې

ګامونه پورته کړ. همدارنګه سیګارومونده چې، د پای ته رسیدلي مرستي بې وخته بندول د 253,432 ډالر له مصرف څخه پاتي پانګي لامل شوي ده چې وروسته بیا بیرته ګرځول شوي یا بیقیده شوي نه دي، او داچي په شلو قراردادونوکي لګول شوي 12 میلیونه ډالر مالي پلټني ته ندي ښودل شوي.

3. د PAS قراردادشوي مرستي د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د ملکی – پوځي کمپاین پلان سره په موافقه پلي کیږي. د شلو څخه 15 معاینه شوي قراردادونوکي اخیستونکي، په پام کي نیول شوي نتایج لاسته راوړي وې یاهم د لاسته راوړلو په تکل کي وې. سیګارومونده چي څلور قراردادونه په پام کي نیول شوي نتایجو د لاسته راوړلو جوګه نه وې. یو قرارداد د افغاني چارواکو او د اخیستونکی ترمینځ د ګډ فعالیت نشتون له امله فسخ شوی و.
4. څوارلس قراردادونه د قرارداد له پای ته رسیدو څخه وروسته د کارکوونکو، عملیاتونو او چلوني لپاره تریو بریده د پایښت پانګي ته اړتیا درلودلي، خو د هیڅ یو لپاره د پایښت پلان موجود نه و، ځکه چي د 2012 مالي کال څخه وړاندې داسي پلانونه په پام کي نه و نیول شوي. نو په نتیجه کي که چیرې دپایښت پلانونه چمتو نه شي تر 32 میلیونه ډالر پانګه اچونه د ضایع کیدلو له ګواښ سره مخ کیږي. PAS پایښت ته د رسیدني لپاره ځیني ګامونه پورته کړیدي تر څو په 2012 مالي کال کي د مرسته شوو پروژو له پیل کیدلو څخه وړاندې ددې مرستو لپاره د پایښت پلان لاسته راوړي.
5. د یو بیاکتل شوی اخیستونکی په اړه د دولت مطبوعاتي معلوماتو مرکز کره اسناد نه وو چي ددولت چارواکي دي. د ډاډ نشتون د سفارت وړوالی تر اغیزې لاندې راولي چي ایا اخیستونکي سره د مرستي لپاره تصدیق لیک برابرکړي که نه

**سپارښتني**

سیګار د عامه- ډیپلو ماسي پروګرام پرمختګ لپاره شپږ سپارښتني کړیدي.

ددې لپاره چي په افغانستان کي د عامه ډیپلوماسي پروګرام د مرستي اخیستونکو څخه سمه څارنه وشي سیګار سپارښتنه کوي چي د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سفیر لاندې څلور ګامونه پورته کړي :

1. ددې ډاډمن کولو لپاره ګامونه پورته کړي چي PAS د بهرنیو چارو وزارت د مرستي پالیسي له لاربښوونو سره سم د قرارداد څخه وړاندې ارزوني اود عامه – ډیپلوماسي مرستو لپاره د ټاکني له بهیر څخه اسناد چمتو کړي.
2. د عامه – ډیپلو ماسي مرستو پر وخت بشپړیدو لپاره ډاډمن ګامونه پورته کړي.
3. د عامه – ډیپلوماسي مرستو څخه چي په نابېره توګه پای ته رسول شویدي، د 253,432 ډالرولګښت بیرته وګرځول شي.
4. د عامه ډیپلوماسي قراردادونو لپاره د مالي پلټني قرارداد غوښتنه وشي، او که چیرې اړین وې، د هغو ادارو سره چي په افغانستان کي د پلټني قراردادونه لري، انسجام رامینځته کړي.

ددې لپاره چي د قراردادونو لاسته راوړني ډاډمن شي، سیګارسپارښتنه کوي چي د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو سفیراو د مرکزي او سهیلي اسیا لپاره د مرستیال وزیر په ګډون لاندې درې ګامونه پورته کړي :

5. د ځلورروانوقراردادونو بهيرته چې د ستونزو سره مخ شويدي او په نظرکې نيول شوي نتايج لاسته ندي راغلي، بياکتنه وکړي چې ايا پرمخ بو زي، بدلون راوستل شي يا پای ته ورسول شي.
6. د هغو14 قراردادونو لپاره چې د 32 ميليونه ډالرو په مجموعي لګښت د 2010 او 2011 مالي کلونو په ترڅ کې مرسته شويدي او ښايي د قرارداد له خلاصيدو څخه وروسته ضمني لګښت ته اړتياوومومي، د پايښت اړتياوې او پلانونه و ټاکل شي.

**د اداري تبصرې**

په کابل کې د متحده ايالاتو سفارت د مرستو د اداري او څارني اړوند د لومړيو پنځو سپارښتنو سره هوکړه کړې ده. که څه هم سفارت دا سپارښتنه نده منلې چې د 2010 او 2011 مالي کلونو په ترڅ د مرسته شويو 14 قراردادونو لپاره د پايښت اړتياوې او پلان چمتوکړي، سيګار خپل دې سپارښتنې باندې لاتراوسه ټينګار کوي او باورلري چې دا سپارښتنه ډيرارزښتمن دی ځکه چې د ټولو قراردادونو لپاره د پايښت پلانونه ندي چمتوشوي.

## په دې درې مياشتنی کې اعلان شوې نوې پلټنې

ددې مودې په ترڅ کې سيګار پنځه پلټنې پيل کړيدي. دا پلټنې به د يو اس ايډ د پايښت پلان جوړونه ؛ د يو اس ايډ لخواد غيرمصرفي شتمنيو څارنه چې د پلي کوونکي ادارو لخوا د بيارغونيزو پروګرامونو لپاره اخيستل شوي دي ؛ د متحده ايالاتو د مرستې قرارداد کوونکو باندې د افغان حکومت لخوا اړول شوي ګمرکي تعرفې، ماليات او نور فيسونه ؛ د افغان بريښنايي ګټو وړتيا ؛او د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې لپاره هوايي خوځېدنه ارزوي.

### په افغانستان کې د يو اس ايډ پرمختيايي پروګرامونو لپاره د پايښت پلان کول

که چيرې د متحده ايالاتو پرمختيايي پروګرامونه د افغان دولت ياهم د مرسته کوونکي ډونور لخوا پايښت ونه مومي، د ميلياردونو ډالر په ارزښت پانګه اچونې به د ضايع کيدو له ګواښ سره مخ شي. د 2011 کال په جون کې يو اس ايډ په افغانستان کې د خپل پروګرامونو سره د مرستې په لړکې، د پايښت پلانونو د ښه انسجام لپاره يو لارښود خپور کړ. په نتيجه کې کانګرس فرمان خپورکړ چې، د بهرنيو چارو وزارت د يو اس ايډ په مشورې سره تصديق کړي چې مرستې ددې لارښود په پام کې نيولو سره کارول کيږي. سيګار دا پلټنه په لاره اچولې ده تر څو په افغانستان کې د پرمختيايي پروګرامونو لپاره د يو اس ايډ د پايښت پلانونه و ارزوي.

### په افغانستان کې د نه- مصرفيدونکي شتمنيو کنټرول لپاره د يو اس ايډ تګلارې

يو اس ايډ د افغانستان سره خپلې مرستې په بنيادي توګه د پلي کونکو ملګرو له لارې چمتو کوي. دا مرستې هغه پانګه اچونې په برکې نيسي چې پلي کوونکو ملګروته د نه – مصرفيدونکي شتمنيو لکه د معلوماتي ټکنالوژي وسايل، د کارکوونکوڅخه د ملاتړلپاره فرنيچراو نوراسباب، او زيربناو رغولو لپاره درانده وسايل لاسته راوړلو په موخه ورکول کيږي. د متحده ايالاتو قانون د پلي کوونکو ملګرو څخه غوښتنه کوي چې د ټول نه – مصرفيدونکي شتمنيو رسيد پاڼه، کارونه، څارنه، ساتنه، خونديتوب او پاملرنې په اړه کره اسناد چمتو او وساتي. په بل لوري کې يو اس ايډ مسؤليت لري چې د پلي کوونکو

**نوې پلټنې**

- په افغانستان کې د يو اس ايډ پرمختيايي پروګرامونو لپاره دوام لرونکی پلان جوړونه
- په افغانستان کې د نه- مصرفيدونکي شتمنی کنټرول اړوند د يو اس ايډ طرزالعملونه
- د امريکا قرار داد کوونکو باندې چې په افغانستان کې د بيار غاوني کارونه پرمخ بيايي، د افغانستان اسلامي جمهوري له خوا ټاکل شوي ګمرکي تعرفې، ماليات او نور فيسونه
- د مخدره توکو پر ضد افغان عملياتونو لپاره د هوايي خوځيدنې ملاتړ
- د افغانستان د بريښنا سوداګريز کولو بهير کې د متحده ايالاتو هڅې د افغانستان بريښنا شرکت (DABS)

ملګرو د پروګرامونو څخه څارنه کوي تر څو د نه مصرفيدونکي شتمنيو په اړه ورسره مرسته وکړي. سيګار دا پلټنه په لاره اچولې ده تر څو د پلي کوونکي ملګرو لخوا د نه مصرفيدونکي شتمنيو لاسته راوړني څخه د يواس ايډ د څارني بهير معلومه کړي. پلټنه به دا هم وارزوي چې د پلي کوونکي ملګرو لخوا اخيستل شوی شتمني ايا په سمه توګه د بيارغونيزو کارونو څخه د ملاتړ لپاره په کار اچول کيږي او د اړوند و قوانينو او د قرارداد د موادو سره سم له کاره خلاصيږي او که نه.

## د متحده ايالاتو دمرستو قراردادکوونکو باندې چې په افغانستان کې بيارغونيزې چارې پرمخ بيايي، د افغانستان اسلامي جمهوريت له خوا اړول شوې ګمرکي تعرفې، ماليات، او نور فيسونه

د امريکا متحده ايالات په بنيادي توګه په قرارداد کوونکو او فرعي قرارداد کوونکو باندې باور کوي تر څو په افغانستان کې بيارغونيزپروګرامونه پلي کړي. د افغانستان حکومت د متحده ايالاتو په مرسته پلي شوو بيارغونيزو پروګرامونو ته د وارد شوي موادو څخه د راپور مطابق ګمرکي تعرفې، ماليات او نو ر فيسونه اخلي. دا پلټنه، چې د کانګرس انديښنو ته رسيدنه کوي، معلوموي چې کوم فيسونه بايد د ماليې په توګه ورکړل شي او داچې ايا دا فيس د کاروني وړ بين المللي هوکړه ليکونو سره موافقه لري که نه. ددې پلټنه د يوې برخې په توګه، سيګار ارزوي چې د 2014 ليږد بهير څخه وروسته د ايتلافي ځواکونو د فعاليت کموالي به د افغان دولت په عملياتي لګښت کومې اغيزې ولري.

## د مخدره توکو په وړاندې د افغان مبارزې عملياتونو لپاره د هوايي خوځيدنې ملاتړ

د کوکنارو د کرهنې او د درمل د قاچاق کمولو لپاره د نړيوالې ټولنې او افغان دولت د هڅو بر سيره، افغانستان لاهم د نړی 90 سلنه ترياک توليدوي. د مخدره توکو د قاچاق سوداګري همدا رنګه د ياغي توب سره مرسته کوي. د متحده ايالاتو د مخدره توکو په وړاند ې دمبارزې ستراتيژې زيار باسي تر څو د مخ نيونکي عملياتونو په مرسته ياغيانو ته د بودجې له چمتو کيدلو څخه مخنيوی وکړي. دا عملياتونه د متحده ايالاتو او افغان قانون پلي کوونکي چارواکو ته د متحده ايالاتو په مرسته د هوايي خوځيدنې د چمتو کولو سره تړاو لري. د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې پايښت لپاره د افغان ځانګړی ميشن ځانګې وړتياو ته وده ورکولو لپاره چې د هوايي مخ نيوونکي ځانګې په نوم هم يادېږي د متحده ايالاتو هڅې اړينې دي. داپلټنه د متحده ايالاتود حساسې مرستې حدود ټاکي چې د مخدره توکو څخه د مخنيوي لپاره د قانون پلي کوونکوچارواکو سره تر سره کوي، د هوايي مخنيوي ځانګې سره د مرستې بهير څخه د متحده ايالاتو د ادارو څارنه ارزوي، او همدارنګه پدې اړه ارزونه ترسره کوي چې د متحده ايالاتو مرستې ترکومه بريده د مخدره توکوپه وړاندې د مبارزې په ډګر کې د هوايي خوځيدنې اوږد مهاله وړتيا ته وده ورکړې ده.

## د افغانستان د بريښنا ګټې سوداګريز کولو په بهير کې د متحده ايالاتو مرستندويه هڅې د افغانستان بريښنا شرکت (DABS)

د متحده ايالاتو دولت ديوې خود کفا بريښنايي شبکې موندلو لپاره د پراخو هڅوپه لړکې، د افغانستان بريښنا شرکت له سوداګريز کولو او د ملي بريښنا ګټورتو ب څخه ملاتړ کوي. په داسې حال کې

چي د یو اس ایډ په فنډ ډېرې پروژې پای ته رسیدلي دي، یواس ایډ هوډمن دی چي د بریښنایي ګټې پرمختیا څخه د ملاتړ لپاره ځیني نوي قراردادونه لاسلیک کړي. دا پلټنه د متحده ایالاتو هغه مرستندوی پروګرامونه په نښه کوي چي د افغانستان بریښنا شرکت سوداګریز کولو لپاره یې کړې دي او ددې هڅو نتایج ارزوي. همدارنګه دا پلټنه د متحده ایالاتو د پلي کوونکو ادارو هغې هڅې ارزوي چي د افغانستان بریښناشرکت پر خپلو پښو درولو په موخه یې منسجم کړیدي.

## روانې پلټنې

سیګار پنځه اضافي رواني پلټني لري چې د بیارغوني په دریو لویو برخو کې امنیت، حکومتولي او پرمختیا پرګرامونه او قراردادونه معاینه کوي. برسیره پردې، سیګار د بیارغوني دریو لویو بودجو په اړه د دفاع او بهرنیو چارو وزارت او یو اس ایډ د معاملاتو په معلوماتو باندې خپلې بیاکتنې ته ادامه ورکوي د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه (ASFF)، د اقتصادي ملاتړ بودیجه (ESF)، د مخدره توکو کنټرول او دقانو پلي کولو نړیوال حساب (INCLE)

### د ANSF تسهیلاتو لپاره د ITT سیستم له شرکت سره د USACE عملیاتونه ا و د چلوني قراردادونه

د 2010 کال په جولای کې USACE د افغان ملي امنیت ځواکونو ته دعملیاتي او مراقبتي تسهیلاتو چمتوکولو لپاره د ITT سیسټم شرکت سره دوه ثابت قیمت لرونکي قراردادونه لاسلیک کړ. د 800 میلیون ډالرو په ارزښت دغه قراردادونو د افغانستان په شمال او جنوب کې د اردو او پلیسو لپاره یاد خدمتونه وړاندي کول د پروګرام د مدیر په وینا، ممکن دغه قرارداد 660 کاري سیمي تر پوښښ لاندي راولي. قراردادونه یو اساسي کال او څلو ر اختیاري کلونه لري، او غواړي چي قرارداد کونکی د عملیاتو او مراقبتونو په ټولو برخو کي افغان کار کوونکو ته روزنه ورکړي. سیګار د هغه د لګښت، مهال ویش، د قرارداد د شرایطو سره دهغه تطابق، د قرارداد د څار او پایداری په اړه ارزونه ترسره کوي. DoD OIG د قراردادونو پر روزنیز بُعد باندي جلا پلټنه ترسره کوي.

### د افغان ملي پولیسو لپاره د افغانستان له تخنیکي وسایلو سره سمبالولو پروګرام (A-TEMP)اړوند لګښتونه او څارنه

د امنیتي لیږد ګډ اداره کول افغانستان (CSTC-A) د A-TEMP تر پوښښ لاندې افغان ملي پولیسو سره دمرستي په موخه د اوتوموتیف اداره کولو خدمتونه او PAE دولتي خدماتو شرکت سره قراردادونه لاسلیک کړیدي. دا پلټنه به د اصلي او فرعي قرارداد کوونکي، قرارداد پورې اړوند لګښتونه، د ګاډو پرزې او د چلوني مواد حساب ورکونه، او افغان ملي پولیسو ته د ګاډي لیږدولو له هڅو څخه د دولت پر څارنه تمرکز وکړي.

### د پټرول، غوړي او تیلو لپاره د افغان ملي پوځ (ANA) د لوجیستیک وړتیاوې

د امریکا متحده ایالات د CSTC-A له لارې کارکوي تر څو افغان ملي پوځ (ANA) یو خپلواک او پایداره لوجیستیکي وړتیا ومومي. پدې ربع کې، سیګاریوه پلټنه پیل کړې ده چي د نفتي توکو اداره کولو او ویشلوکي د افغا ن ملي پوځ د وړتیاو پرمختیا لپاره، د CSTC-A د هڅو وضعیت تر څیړني لاندي

## روانې پلټنې

- د افغان ملي امنیتي پوځ د تاسیساتو لپاره د ITT سیستمونو شرکت سره د USACE د عملیاتو او حفظ او مراقبت قراردادونه
- د افغان ملي پولیسو لپاره د افغانستان په تخنیکي وسایلو سمبالولو پروګرام (A-TEMP) اړوند لګښتونه او څارنه
- د تیلو، پطرولیم او روغنیاتو په برخه کې د افغان ملي اردو لوژیستکی وړتیاوې
- په بادغیس ولایت کې د دریم غونډ، د افغان پوځي قطعاتو 702 عسکري قشلي جوړونه
- د نړیوال سوکالي او پرمختیایي شرکت په ملګرتیا د سهیلي سیمي لپاره د یو اس ایډ کرهنیزه پرمختیایي پروژه
- د افغانستان بیارغاوني پورې تړلي د دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او یو اس ایډ معاملاتو اړوندو معلوماتو ته عدلي کتنه

نيسي. دغه پلټنــــــــه به همدا ډول معلومه کړي چه ایا افغان ملي اردو د نفتي توکو په اړه د حساب ورکولو او د نامسولو کسانو لخوا د تیلو څخه د ګټې اخیستلو او غلا په ګډون د فساد، ناوړه ګټې اخیستلو او ضیاع د مخ نیوي په برخه کې اړین داخلي کنترول لري او که نه.

## په بادغیس ولایت کې د دریم غونډ، د افغان پوځي قطعاتو 207 عسکري قشلې جوړونه

د 2012 کال په جنوري کې سیګار یوادعا لاسته راوړله چې د ناټو روزنیز میشن افغانستان / CSTC-A مخکې له دې چې USACE د افغان ملي پوځ یوې قشلې رغوني لپاره د 81.3 میلیون ډالرو په لګښت یو قرارداد لاسلیک کړی و، کم لګښته قراردادونه یې په پام کې نه نیوله. د متحده ایالاتو له پوځي چارواکو او USACE سره د ملاحظاتو اړوند غږېدلو په موخه تر کتنې وروسته، سیګار درغوني قرارداد د پریکړه نیوني د اساس موندلو لپاره یوه پلټنه پیل کړه.

## د نړیوال سوکالي او پرمختیایي شرکت په ملګرتیا سره د سهیلي سیمي لپاره د یو اس اېډ کرهنیزه پرمختیایي پروژه

یو اس ایډ د ځایي بې ثباتي سره د مبارزې، د کرهنیزو دندو اوعایداتو زیاتول، ا و دسیمي سره مرسته کول او د یوې ناامني ساحي څخه یوه پایداره او خوشاله کرهنیزاقتصاد درلودونکی سیمي ته اړولو په موخه د سهیلي سیمي د کرهنې پرمختیایي پروژې ته فنډ چمتو کوي. د 2012 کال په فبروري کې سیګارځیني ادعاوې لاسته راوړلې چې د یو اس ایډ پلي کوونکی ملګری نړیوال سوکالي او پرمختیایي شرکت (IRD) د ځایي دولتي او پوځي چارواکو سره په سم انسجام راوستلو کې پاتې راغلی وو، او همدارنګه، پرته له قضاوت څخه ډیر لګښتونه یې پر سولرونو او ټرکټورونو مصرف کړی وو. سیګارد لاندې مواردو په اړه پلټنې تر سره کوي تر څو (1) د سولر او فارمونوټراکټور اخیستلو او ویشلو بنسټ و ارزوي، او (2) دا چې ایا د IRD لګښتونه د ستراتیژیک ملګرتیا هوکړې لیک او د پروګرام په پام کې نیول شوي موخو، سره انډول دي.

## ساینسي پلټنې

عامه قانون 181-110، لکه څنګه چې سمون موندلې ده، پریکړه کوي چې سیګار پای ته رسیدلو څخه د مخه اړ ينه ده چې په افغانستان کې د کانګرس لخوا ځانګړی شوې بسپنې یا په نورو حالاتوکې چمتو شو ي بودجې او د پروګرامونو او عملیاتونو اړوند یو ه وروستی قانوني پلټنه د کانګرس اړوندې کمیټې لپاره ترسره کړي. د مالیات ورکوونکي ډالرو دضایع کیدو، دوکه او ناوړه کاروني په نښه کولو لپاره، سیګار ددریو لویو بیارغونیزو بسپنو په اړه معلومات ټولولو او قانوني بیاکتنې ترسره کوي :

- د دفاع وزارت لخوا اداره شوی، ASFF
- د یو اس ایډ لخوا اداره شوی، ESF
- د بهرنیو چارو وزارت لخوا اداره شوی، د INCLE حساب

## بشپړي شوي معاینې

- 12-01 معاینه : د افغان سرحدي پولیسو د مرکزونو رغونیزکمښتونه 91 میلیونه امریکایي ډالر پانګه اچونه له خطر سره مخ کوي

د راپور ورکولو په دې دور کې، سیګار د دفاعي امنیت مرستندویه اداري (DSCA) د ځارني دندې او په افغانستان کې د بیارغوني لګښت اړوند معلوماتو غوښتلو په موخه یوه رسمي خبرتیا خپره کړه. موخه دا وه چې د سیګار د پلټني او قانوني دندې تر سره کولو لپاره د ASFF بسپنه ورکولو اړوند تفصیلي معلومات لاسته راولي، او دا په نښه کړي چې (1) د ASFF کومې بسپنې اخیستل شوي دي، (2) د ASFF څومره بسپنې په ځانګړو خریداریو کې کارول شوي دي، ا و (3) کوم چاروا‌کي د کاذب – پردی پوځي خریداریو پیښو کې کارولي دي.

### معاینې

پدې ربع کې، سیګار د افغان پولیسو دریو مرکزونو پلټنې بشپړې کړې او په ټولو کې یې ځینې رغونیزې نیمګړتیاوې موندلې دي. دا په افغانستان کې د امنیتي ځواکونو جوړولو لپاره د متحده ایالاتو په بسپنه زیربنایي پروژې چې د متحده ایالاتو د پوځي قطعاتو انجینیران – د اتلس نه پورې غاړې د افغانستان شمال (USACE-TAN) لخوا پلي کیږي، معاینه کولو لپاره د ځلورو معاینو څخه لومړی معاینه ده.

سیګار سږ کال خپل معایناتي پروګرام د وخته پیل کړی ؤ، ځکه چې ډیرې پلټنې په نښه کړې وې چې د پاینښت په شمول د متحده ایالاتو دزیربنایي پروژو لګښتونه له ګواښ سره مخ دي. سیګار د رغونې د چارو د کیفیت په اړه ازموینه ترسره کوی او همدا ډول معلومه وي چه ایا تاسیسات د ټاکل شوو اهدافو او موخو لپاره کارول کیږي او که څنګه.

### د افغان سرحدي پولیسو په مرکزونو کې رغونیزې نیمګړتیاوې 19 میلیونه پانګونه له ګواښ سره مخ کوي.

CSTC-A د ASFF څخه د 19 میلیونه ډالرو پانګه لاسته راوړې ده تر څو د افغانستان په ختیځ پوله د ننګرهار ولایت کې د افغان سرحدي پولیسو لپاره ځلو رمرکزونه جوړ کړي. سیګار له دوی څخه د دریو فیزیکي معاینه ترسره کړې ده. دا معاینه ځکه تر سره شوه چې په نښه کړي

- ایا وداني د قرارداد له موادو سره سم او د رغونې د کاروني وړ معیارونو په پام کې نیولو سره ترسره شوي.
- ایا د رغونې نیمګړتیاوې له دې څخه مخکې چې CSTC-A ته تسلیم کړای شی سمې شویدي که څنګه
- ایا تسهیلات لکه څنګه چې په پام کې نیول شوی ؤ کارول کیږي

#### موندنې

1. سیګار د سرحدي پولیسو په دريو واړو مرکزونو کې رغونیزې نیمګړتیاوې وموندلې. دا ستونزې په دې ډول وې : د اوبه رسوني پایداره سیستم نشتون، نیمګړی سپټیک سیستم او د ناولو اوبو تشولو غیرمناسب سیستم. د سون موادو پایپونو څڅیدنې، بیل شوي د تخلیې پایپونه، او د بخاری او هواکښ سیستمونو ناسم ځای په ځای کول، نورې نیمګړتیاوې وې.

2. د سيګار په ګوته کړي ستونزې پرته له سميدو څخه پاته شوې، ځکه چې نه قرارداد کوونکي او نه USACE د کيفيت ډاډ من کولو لپاره کومه اغيزمنه پروسه نه درلوده.
3. ددې تسهيلاتو ډېرى تشې پاتې شولي يا هم د غوښتل شويو موخو لپاره ونه کارول شول. يو مرکز د اوبه رسوني سم سيستم نشتون له امله له سره نه کارول کيږي. د يوبل مرکز يو تعمير چې د مرکز ځا يکې ده، د چرګانو مرغانچې په توګه کارول کيږي.

**سپارښتنې**

ددې لپاره چې ډاډينه تر لاسه شي چې دسرحدي ګزمې څلور مرکزونو ودانۍ د قرار داد له موادوسره سم ا و د رغونې مناسب معيارونو په پام کې نيولو سره جوړې شويدي، سيګار سپارښتنه کوي چې USACE-TAN لاندې ګام پورته کړي :

1. د څلورو مرکزونو له تسليميدو څخه وړاندې د رغونې نيمګړتيا وې په شمول د اوبه رسونې سم سيستم نشتون، سيپټيک او ناولو اوبو لرې کولو سيسټم وضعيت ته نظر واچوي، او د اضافي لګښت څخه پرته داسې پريکړه وکړي چې د متحده ايالاتو د حکومت په ګټه وي. په ځانګړې توګه د نيمګړتياو رغولو لپاره يو ډيرغوره ميتود په ګوته کړ ي، لکه :
   - د قرارداد موادو سره سم د قرارداد کوونکي لخوا بشپړې شي
   - تر ضمانت لاندې رغونه، لکه څنګه چې د قرارداد سموني د وخت چوکاټ او د ضمانت موادو کې تصريح شويده
   - وټاکل شي چې د پروژې تم شوې روپۍ به د نيمګړتياو له سمولو څخه وروسته قرارداد کوونکي ته بيرته ګرځول کيږي
2. په لومړۍ سپارښتنه کې د ټاکنې پر بنسټ، لکه څنګه چې مخکې هم غوښتنه وشوه د ترميم کاريو لپاره يوپلان چمتو کړئ، او څومره مناسبه چې شونې وي ډاډه کړئ چې ترميمونه بشپړې شوي، معاينه شوي او منل شويدي.
3. د روانو او راتلونکو رغونو قراردادونو لپاره، د کيفيت اداره کولو پروګرام ښه اداره کولو په موخه، د لاندې مواردو په ډاډه کولو سره د فيډرال لاسته راوړلو قانون او--USACE ER 118016 څخه پيروي وکړئ :
   - د USACE هر استوګن / سيمې دفتر د کاروني وړ ډاډمن کيفيت څارلو پروګرام ته لاسرسي لري او پرې خبردى.
   - قرارداد کوونکى د قرارداد کوونکوکيفيت لپاره د کنټرول يو اغيزمن پروګرام چمتو کړى چې، د کيفيت ډاډه کولو پروګرام له لوري يې ارزونه او څارنه تر سره کيږي.
   - د ليرد پروسې يو ي برخې په توګه، د پروژې په پاى کې د رغونې کيفيت ډاډه کولو لپاره، رغونيزې نيمګړتياوې وڅارل شي او په ترتيب سره ترميم شي.
4. د ليرد پروسې له موادو سره سم، ډاډه کړئ چې د تسهيلاتو اغيزمنې او خوندې کاروني لپاره د سيمه ييز همغږى غبرګون مرکز اړين عملياتونه او د څارنې لارښووني او همدارنګه وړ تخنيکي اسناد چمتو کوي.

## روان تفتيشـــــــــــات

- په وردګ کې د افغان ملي پوليس روزنيز مرکز (USACE)
- د افغان ملي اردو د جلال اباد پايګاه (USACE)
- د افغان ملي اردو تاسيسات، د قندوز ولايت – 2/209 مرکزونه (USACE)

**د اداري تبصري**


USACE-TAN د سپارښتنو سره موافقه وښودله او د پلي کولو لپاره یي خپل سرته رسولي یا تر کارلاندي ګامونه په ګوته کړه. USACE-TAN همدارنګه وویلي چي ددې سرحدي پوستو سیمه کې د جدي امنیتي ستونز و له امله دوی نشي کولی تر څو په عادي توګه د کیفیت اداره کولو ګامونه پورته کړي. همدارنګه دا وویلي چي دا سرحدي پوستي په ډیرلږي او د لاسرسی څخه پرته سیمو کي دي. سیګاردا ننګوني مني، خوپدې باور دی چي USACE-TAN اړتیا لري تر څو د پروژي له لیرد څخه وړاندې د ځیني مسایلو په اړه لکه د کیفیت غوښتل شوی راپور، د قرارداد کوونکي څخه وغواړي

## رواني معایني

سیګار په وردګ، ننګرهاراو کندز ولایتونو کي د افغان ملي امنیت ځواکونو لپاره د تسهیلاتو رغونیزوپروژو چي د USACE لخوا قراردا د شوي، دري معاینې ترسره کوي. د سیګارپلټني موندلي چي د 2012 مالي کال تر پایه پوري د امریکا متحده ایالاتو یو اځي په امنیتي سکتور کي د افغان ملي پولیس او ملي پوځ لپاره لږ تر لږه د 900 تسهیلاتو جوړولو پلان کړې ده. سیګار په کندز، وردګ او ننګرهار کې د ANSF تسهیلاتو ازموینه ترسره کوي چي ایا د غوښتل شوي موخي لپاره عملیات او څارنه کیږي که څنګه.

## تحقیقات

د راپور ورکولو پدې دورکي، د سیګار پلټني په افغنستان او متحده ایالاتو کي د بندي کیدل ا و تورن کیدلو، همدارنګه د 900,000 څخه زیات ډالرو بیرته ګرځیدل او د قراردادونو شاوخوا 50 میلیونه ډالر خوندي ساتل کیدو لامل شوېدي. د سیګار پلټنو په نتیجه کي دوه کسان مجرم، پنځه کسان بندي او اووه کسان تورن شویدي. د مخکنیو سپارښتنو په ځواب کي پلي کوونکي اداري 23 کسان له دندې څخه ګوښه کړیدي. د سیګار ګرمه لیکه 35 شکایتونه لاسته راوړیدي، چي له دوی څخه څلور یي نوو پلټنو ته لمن وهلي دي. همدارنګه پدې ربع کي د سیګار ځانګړي غړي، د امریکاپوځ یو پخواني احتیاطي قوماندان په افغانستان کي د متحده ایالاتو د عملیاتونه له پیل څخه وروسته ترتولو نه لوی رشوت اخیستني په تور محکمي ته وړاندي کولو سره، د ولسي خدماتو جایزې تر لاسه کړل.




2.1 شکل

د سیګار تحقیقات: د 2012 م کال د جون 30 پورې د پرانیستو تحقیقاتو شمیر

سرچینه: د سیګار تحقیقاتو ریاست، 7/12/2012

سیګار د فساد په وړاندې نړیوال عملیاتي ځواک (ICCTF) او افغان قانون پلي کوونکو په چوکاټ کي د متحده ایالاتو قانون پلي کوونکو ادارو سره مرسته کوي تر څو په قرارداد او تدارکاتو کي د دوکې، فساد او غلا په اړه تحقیقات تر سره کړي. سیګاردا ربع د 188 جرمي پرانستو تحقیقاتو سره تړې چي له دوی څخه په 132 هغو کي د پلټنو مسؤلیت په غاړه لري. د 2012 کال د مارچ 31 څخه د جون تر30 پوري سیګار25 نوي پلټني پرانیستي او یوه یي تړلې ده. د 25 پرانستو تحقیقاتو په 17 هغو کې سیګار لارښوده اداره ده. د سیګار پنځوس سلنه پیښې په تدارکاتوکي دوکي په اړه دي، لکه چې په 2.1 شکل کي ښودل شوي ؛29 سلني یي د عامه فساد او رشوت په اړه دي. پاتي 21 سلني په بیارغونیزو بسپنو کې د غلا او داسي نور غیر قانوني کارونو په اړه دي.

د جنایي او مدني دعواوې جوړولو برسیره، د سیګارڅیرونکي د قرارداد کوونکي چاراوکو سره مرسته کوي تر څو نیمګړی کارکوونکي قرارداد یان په نښه کړي. سیګار همدارنګه د فساد- په وړاندي مبارزه کوونکو ادارو څخه ملاتړکوي لکه عملي ځواک 2010، چي د دفاع وزارت لخوا جوړشوی ؤ

ترڅو په قرارداد او تدارکاتوکې د دوکې سره مبارزه وکړي او ترهګرو ته د متحده ایالاتو د بسپنو څخه ګټه اخیستنه ګرانه کړي.

## نوي نوښتونه

پدې ربع کې د سیګار څیړونکې دوه نوي نوښتونه پیل کړي. لومړی، د سوداګرۍ وزارت سره په همغږی، په جنايي شبکو پورې تړلي کسان یا شرکتونه په نښه کوي. دویم، د پوځ جنايي تحقیقاتو له عملیاتي ځواک (CITF)سره د معلوماتو په شریکولو مرسته کوي، تر څو جنايي تحقیقات پرمختګ وکړي.

سیګارد سوداګري وزارت سره کار کوي ترڅو ډاډه کړي کوم کسان یا شرکتونه چې د جنايي کړیو سره یې تړاو ومونډل شي، د وزارت په هغه لست کې وکښل شي چې له دوی سره به متحده ایالات هیڅ سوداګریز معامله نکوي. کوم کسان یا شرکتونه چې پدې لست کې وکښل شول، په افغانستان کې د متحده ایالاتو په بسپنه د بیارغونیزو قراردادونو څخه وځنډول شي یا ګوښه کړای شي.

سیګار خپل یو پخوانی څیرونکی د CITF سره په دنده ګومارلې ده تر څو د افغانستان بیارغوني لپاره تخصیص شوې بسپنې جنایي پیښو اړوند د معلوماتو بدلونه اسانه کړي. CITF پیچلې ډیټا بیس او معلوماتو ته لاسرسي لري چې په افغانستان کې دننه یا چاپیر د جنايي شبکو په اړه د سیګار عملیاتي پوهه زیاتولی شي. CITF د روانو جنايي تحقیقاتو په اړ ه سیګارته ځیني استخباراتي مواد چمتوکړي او لیږلي دي. سیګار د دعوی په مخته وړلو کې له دې معلوماتو څخه کار اخلي. سیګار او CITF د اړیکو رسمي کولو لپاره د تفاهم یو یادښت په لاسلیک کولو فکر کوي.



**د سیګار کارکوونکي** داسې کسان دي چې د 2002 م کال څخه دیخوا په افغانستان کې د عامه خدماتو جایزې موندلي او د رشوه اخیستنې ډیرې لویې پیښې یې په بریالی توګه څارلي او څیړلي دي. د ښي نه چپې خوا ته : ډانیس فیزپریک (AUSA)، کاسټا سوجیلکویچ (AUSA)، ای.جې.کیلي (DEA)، ستیف بالاګ (DEA)، مارک بروسو (DEA)، جوانا کوردوا (DCIS)، جان ګوډ پسټر (FBI)، وای مان لیونګ (سیګار )، نیل ایچ.مک براید (USA-EDVA). Not pictured: فیلیپ کازن (سیګار).

## د سیګار غړي د ولسي خدمت جايزې تر لاسه کوي

د 2012 کال د مى په 11 د سيګار دوه ځانګړي غړي فيليپ کازن او واى من لانګ په افغانستان کې د متحده ايالاتو دبیارغونيزو هڅو له پيل کولوڅخه وروسته په 2002 کال کې، د ستر رشوت اخيستنې پيښې د څيړلو په بدل کې د ولسي خدمت جايزې ترلاسه کړل. د ويرجينيا ايالت ختيځه ولسوالي لپاره د متحده ايالاتو څارنوال د فيډرال دوسيې په څيړنه کې د غير معمولي خدمت ترسره کولو په بدل کې د سيګار، د فدرال تحقيقاتو اداره (FBI)، د جنايي تحقيقاتو دفاعي خدمتونه (DCIS)، ددرمل قانون پلي کونکی ادارې (DEA) ځانګړي غړوته جايزې وړاندې کړې، چې يو بل سره په ګډ ه د سيډارت هانډا په وړاندې يوه دوسيه جوړه کړې وه کوم چې د امريکاپوځ يو پخوانی احتياطي قوماندان ؤ او د ميليونو ډالر رشوت ټول کړی ؤ همدارنګه يو پلان يې کښلی ؤ چې له مخه يې د سهيل ختيځ اسيا هيروبين په متحد ه ايالاتو کې خپروله. هانډا د زندان په لسو کالو سزا محکوم شو.

په ستاينليک کې راغلي چې " ښاغلی فيليپ کازن په افغانستان کې د کارسړی ؤ " همدارنګه راغلي چې ځنګه فيليپ وتوانيده چې يو پټ ګروپ رامينځته کړي تر څو د يو کال لپاره هانډا او د هانډا اړيکې تر نظر لاندې ونيسي. په پای کې هانډا وويل چې څنګه يې په افغانستان کې د يو شپږ مياشتنی بخل موده کې د متحده ايالاتوپه بسپنو، رغونيزوقراردادونوڅخه د رشوت اخيستني په نتيجه کې دوه ميليونه ماليه ورکوونکي ډالرو څخه زيات ټول کړی ؤ. د DCIS ،FBI او DEA سره کارکوونکی ځانګړی غړی، وای من ليونګ د قرارداد او بانکي اسنادو ټولولو، او د هانډا پخواني پوځي ملګري او مديرانو سره د مرکو په مرسته يوه جنايي دوسيه جوړه کړه.

## تحقيقاتي نتايج

پدې ربع کې د سيګار تحقيقات د 900,000 ډالرو څخه زيات بيرته ګرځولي او 50 ميليونه ډالريي په قراردادونو کې خوندي ساتلي، همدارنګه د دوو کسانو تورن کيدو، د شپږو مجرميت او د پنځو کسانو بندي کيدلو لامل شويدي.

### تحقيقاتو د USAF په قرارداد کې د 914,477 ډالر بيرته لاسته راوړي دي.

د سيګارا و د ځانګړو تحقيقاتو لپاره د متحده ايالاتو هوايي ځواک (OSI) په يوه ګډ ه څيړنه کې د 917,477 ډالرو په کچه زيات ورکړشوي روپۍ بيرته وګرځول شوې. پلټنه ومونډله چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو دولت قراردادي د يو- ثابته- بيه درلودونکی قرارداد د موادو سره سم د امنيتي پرسونل په شمير کې پاتي راغلی او په نتيجه کې يې د متحده ايالاتو پر هوايي ځواک اضافي لګښت اړولی ؤ. داسې وانګيرل شو چې امنيتي پرسونل د بګرام او قندهار هوايي ميدانونو لپاره ټاکل شوي ؤ. پلټنه وښودله چې د قرارداد موادو په پلي کولو کې د قرارداد کوونکي پاتې راتلل ددې لامل شو چې د متحده ايالاتو حکومت په ناسمه توګه تاواني شي. د سيګار او OSI پلټنې په نتيجه کې، د متحده ايالاتو حکومت په منصفانه توګه دقرارداد سره برابرولو له لارې ټول اضافي لګښتونه بيرته وګرځول.

## د بیارغونې قراردادونو کې 50 میلیونه ډالر خوندي وساتل شو

پدې ربع کې د مالیه ورکوونکي امریکایي ډالرو خوندي ساتلو لپاره د سیګار نوښت، چې د قرارداد کوونکي چارواکو سره یې مرسته کوله تر څو نیمګړې کارکوونکي قراردادیان په نښه کړي، ددې لامل شو چې ډیرقراردادونه د نیمګړتیاو له امله پای ته ورسول شي. د پای ته رسولو په نتیجه کې 50 میلیونه ډالر خوندي وساتل شو چې په نورو حالاتو کې باید قراردادیانو ته سپارل شوي وای. پای ته رسول شوي قراردادونه په لاندې ډول ؤ :

- د افغان ملي پو ځ لپاره د ازمویني او مهماتو مرکز جوړونه چې د 40.6 میلیونه ډالرو په لګښت د USACE لخوا قرارداد شوی ؤ، د نه قانع کوونکي پرمختګ له امله پای ته ورسول شو چې په نتیجه کې یې 37 میلیونه ډالر خوندي وساتل شو. قراردا د کوونکی په څومره موده کې چې باید د کار 87 سلنه یې بشپړ کړې وای یواځې لس سلنه یې بشپړ کړی ؤ.
- د متحده ایالاتو پوځ د انجینیرانو قطعي(USACE) لخوا د 36.1 میلیونه ډالرو په لګښت یو رغونیز قرارداد، د نیمګړتیاو له امله پای ته ورسول شو، چې په نتیجه کې یې د متحده ایالاتو دولت 3.8 میلیونه ډالر خوندي وساتل شو. د سیګاریوه پلټنه وموندله چې قرارداد کوونکی د روپۍ ورکولو ډیروتصدیق لیکونو غلط ایستل او فرعي قراردادیان، د موادو رسوونکي او کارګرانو ته د روپۍ نه ورکولو په څیر غیر قانوني کړنو باندې اخته ؤ.
- په 2011 کال کې د کم – مانډر بیړنی غبرګون پروګرام (CERP) ترمشري لاندې په مخته تللی عملیات کوونکي مرکز (FOB) سالیرنو کې د مشکوکو پروژو اړوند د سیګار بیاکتني د قوماندې مشران دې ته وهڅول چې د ځان له طرفه ارزونه او پلټنه تر سره کړي. د اپریل میاشتې تر لسمي پورې، په ټولیزه توګه د 19 میلیونه ډالر په ارزښت پروژې پای ته رسول شوي دي، چې په نتیجه کې یې په مشکوکو پروژو باندې د 9 میلیونه ډالر لګښت څخه مخنیوی شوې ده.

## دولتي قراردادکوونکی په مخابراتي چل، د هویت پېژنه اوتوطیه کولو تورن شو

د 2012 کال د جون په 27 یو ستر فیډرال منصفه هییت د متحده ایالاتو یو قرارداد کوونکی چې په افغانستان کې کارکوله دمتحده ایالاتو تیرایستلو په موخه د مخابراتي چل، د څیرې ورانوونکی پېژنه او توطیه جوړولو په جرمونو تورن کړ. درې یادشوي تورونه د شمالي کرولینا د ختیځې ولسوالی په محکمه کې د سیګار او د پوځ دجنایي پلټنو څانګې (CID) د رواني پلټنې په نتیجه کې لاسته راغلل.

د تور په وینا، لاویټ ډومینیک او نور ملګري یې د متحده ایالاتو حکومت تیر ایستلو لپاره په شمالي کارولیناکې د امریکایي سره صلیب په دفتر کې فایټ ویل ته ټیلیفون کړی ؤ او په دروغو یې ویلی ؤ چې د مدعي علیه ورور په ملواکې، ویسکونسین کې مړ شوی دی. پرډومینیک ادعاشویده چې د پوهې برسیره ددې لامل شوی چې امریکایي سره صلیب د مړیني دروغه خبرتیا په افغانستان کې مدعي علیه ته واستوي. مدعي علیه د مړیني دروغه خبرتیا د معاش وړاندې اخیستلو او رخصتي لاسته راوړلو لپاره وکاروله پدې پلمه چې ګنې د خپل ورور جنازې ته به ځان ورسوي، ددې ټولو لګښت په ټګې سره د متحده ایالاتوپرغاړه اچول شوی ؤ.

## د متحده ایالاتود پوځ حوالداراو ملکي قرارداد کوونکی د 1.7 میلیونه ډالرو په لګښت غلاشوي تیلو په اړوند په رشوت اخیستلو تورن شویدي

د 2012 کال د جون په 12 د امریکایي پوځ یو حوالدار او یوپوځي قرارداد کوونکی د امریکا کولرادو ولسوالي په محکمه کې د FOB زیرمي څخه د جبې الوتکو له تیلو څخه نژدې 1.7 میلیونه ډالرو په غلاکولو تورن شول. ډلګی مشر کریستوفر ویفر او جاناتان هایټور، د فلورشرکت یو تن کارکوونکی، د متحده ایالاتو تیرایستني په توطیه او رشوت اخیستلو تورن شوی دی. سیګار، د دوو مخکني دسیګار سرچینو په مرسته دا پلټنه پیل کړې ده.

د تورن کولو اسنادو په وینا، ویفر او هایټاور په وړاندې عملیات کوونکي مرکز کې، چې د جبې تیلو ویشلو یو مرکزدی، په کار بوخت ؤ. ویفر د تیلو ویشلو څخه څارنه کوله ؛ فلور شرکت، د تیل اچولو اډې لپاره کارکوونکي چمتوکوله.

تورونه وایي چې ویفر او هایټاور د 100 لاري بارونوپه کچه د جبې تیلو غلا لپاره لاره هواره کړې ول. دوی باندې ادعاشویده چې د لاریو دشرکت یواستازي سره توطیه جوړه کړې تر څو د مرکز څخه د تیلو ویستلو لپاره په دروغو د ټرانسپورټیشن اسناد چمتو کړي د تورن کولو اسنادو په وینا، ویفر او هایټاور د توطیې له یوبل ملګري سره د تیلو لومړی لاری په ویستلو 5,000 ډالر لاسته راوړي ول.

دا غلا د 2010 کال د جنوري ا و جولای میاشتو تر مینځ پیښه شوې ده. د خپریدو په وخت کې کومه ازمیښتي نیټه نده ښودل شوې.

## د امریکایي پوځ دوه سرتیري د رشوت په تور مجرم وګڼل شو

پدې ربع کې، د امریکایي پوځ دوه سرتیري د افغانستان په پرمخ تللی عملیات کولو مرکز کې د جبې سون مواد و غلا په طرحه کې د لاس لرلو په تور مجرم پیژندل شویدي. سیګار د ICCTF له نورو غړو سره یو ځای پلټنه په لاره اچولې ده.

د 2012 کال د جون په اتمه ډلګی مشر رینالډ ډیکسون او متخصص لاري ایمونس د متحده ایالاتو د هاوایي محکمي قاضي مخې ته وړاندې شوې دوسیې له مخې، په رشوت کې د لاس لرلو په تور مجرم پیژندل شویدي. د محکمې اسناد و له مخې، دا دوه کسان د افغانستان جلال آباد ته نژدې، د FOB زیرمو څخه د چلوونکي 8- سون موادو په زرهاوو ګیلن غلاکولو لپاره د توطیې په جوړولو کې لاس درلود. د محکمې پریکړه به د 2012 کال د اوکتوبر په ځلورمه خپره شي. ډیکسون او ایموس د پیښې جبران کولو لپاره به تر15 کاله بند، جریمې او دستورونو سره مخ کیږي.

د امریکا پوځ د FOB زیرمو کې د مرکز اړتیاو لپاره همدارنګه بل FOB ته د لیږد ولو لپاره، سون مواد ذخیره کوي. ډیکسون د ساتونکو ټانکونو څخه د ټکټر ټانکونو ته د پټرولیم لیږدولو پړه په غاړه لري. د محکمې اسناد ښیي چې ایمونس یا کوم بل توطیه جوړوونکی د دروغ ټرانسپورټیشن خوځښتونو او د مرکز څخه د تیل ایستلو پوځي فرمان چمتوکړي چې له مخې یې تیل د یو مرکز څخه بل مرکز لپاره ویستل کیدای شي. مدعي علیه او ددوی د توطیې ملګري د سون مواد د افغان پوځ په یو بارچلونکی قراردادي باندې خرڅ کړی، چې خپل ګاډي به یې په پټه توګه د ورځې په داسې وخت کې ډکوله چې بد ګماني رابرسیره نکړي. کمپني د مرکز څخه د تیلو ویستلو لپاره دروغ اسناد چمتو کړی ؤ

د امریکا حکومت اټکل کړي چې ډیکسون، ایمونس او ناپیژندل شوي د توطیې ملګري د جټ 135,000 ګیلن تیل خرڅ کړي دي. دوی په هر ټرک کې 3,000 ګیلن په سر 6,000 ډالر اخیستل. ددوی احساساتي پریکړوېو برخې په توګه، ډیکسون او ایمونس د پلټنې په ترڅ کې بیلابیل د روپیو مبلغ فیډرال پولیسو ته ورکړي دي.

ددې پلټنې په نتیجه کې، پوځي چاروکو د FOB زیرمو څخه د تیلو ویستلو غوښتنې له سره ډیزاین کړي دي، تر څو د بدلون یا جوړونې ګواښ کچه ټیټه کړي.

**افغان قرارداد کوونکی په رشوت اخیستلو تورن شوی دی**

د راپوروركولو پدې موده کې، محمد ځدران، یو افغان تیل چلوونکی قراردادي، د امریکا یو عسکر ته په رشوت ورکولو تورن شویدی. سیګار دا پلټنه هغه وخت پیل کړه چې د یو مرسته کوونکي شاهد څخه یې راپور تر لاسه کړل چې یو افغان قراردادي د هوا له لارې FOB په انتقالولو کې د مرستې لپاره یو امریکایي عسکر ته د روپې ورکولو وړاندیزکړی ؤ سیګار او د ICCTF نور غړي دافغان مدافع وکلاو دفتر سره یوځای کارکوي تر څو د ځدران ځارنه په بصري او بریښنایي ډول تر سره کړي. ځدرانې پدې تور نیول شوی ؤ چې دمرکز څخه 800 ګیلن تیلو ایستلو لپاره یو مرستندوی شاهد ته یې لومړی د رشوت وړاندیزکړی ؤ او وروسته رشوت ورکړی ؤ. افغان چاروکو ځدرانې ددوو ټرک چلوونکو سره یو ځای بندي کړي دي. د پیښې تعقیب د مدافعو وکیلانو په دفتر کې د فساد سره دمبارزې څانګې په غاړه دی.

**افغان قراردادکوونکی بندي شو**

د راپور ورکولو پدې موده کې، یو افغانی، ایوبي محمد حامد، د سیګار او ICCTF نورو غړو د پلټنې په نتیجه کې د رشوت او مالیې پورې تړلې جرمونو په تور د افغان قانون په بنسټ د افغاني چاروکو لخوا بندي شوی دی. د 2012 کال د جون په 30، سیګار ا و د ICCTF نورې غړې په بګرام هوایي میدان کې د بشري مرستو انګړ په هکله یوه څیړنه په لاره واچوله. د مدافعو وکیلانوعمومي دفتر د فساد ضد څانګې غړې او سیګار د حامد سره یوه مرکه ترسره کړه، کوم چې د بشري مرستو انګړته د ننوتلو اجازې موندلو لپاره یې د متحده ایالاتو یو عسکر ته د 25,000 ډالر رشوت ورکولو اقرار کړی ؤ. حامد د متحده ایالاتو سره قرارداد درلود چې د مرستو انګړ څخه ساتنه وکړي او د اړتیا په صورت کې افغانانو ته د بشري هوسایني مواد چمتوکړي. پلټنه ځکه پیل شوه چې حامد امریکایي پرسونل ته په رشوت ورکولو، ټیټ کیفیت لرونکي مواد برابرول، د بارچلونکو شرکتونو سره توطیه جوړولو د هغوشرکتونو په شمول چې ده ته یې د هوسایني توکو د ټرانسپورټ بیې زیاتولو په بدل کې پټې ګټې ورکولې، تورن ؤ.

## تعلیق او تعطیل یا مخنیوی

د راپور ورکولو پدې موده کې، سیګارد 49 کسانو یا شرکتونو د ځنډولو یا ګوښه کولو غوښتنه کړې ده، چې پدې سره د غوښتنو شمیر 146 ته (80 کسان او 66 شرکتونه ) رسیږي، لکه چې په 2.2 شکل کې ښود ل شوې ده. پدې ربع کې پلې کوونکي ادارې 23 کسان له دندې څخه ګوښه کړې دي. د 2012


کال د جون تر دیرشمې پورې، د سیګار غوښتنو د 35 کسانو تعلیق، 38 کسانو له کاره ګوښه کیدلو لامل شوي او د متحده ایالاتو په مرسته د بیارغونې کارونو باندې بوخت د 82 کسانو یا شرکتونو له کار څخه ګوښه کیدلو غوښتنې کړیدي. سیګار په 2011 مالي کال کې دا تعرضي ځنډول او ګوښه کول ځکه تر سره کړ چې په افغانستان کې دقرار داد کوونکو لخوا د جدي ستونزو لکه چل، فساد او نیمګړی کار کولو مخه ونیسي.

پدې ربع کې د ګوښه کولو او ځنډولو 26 پیښې هغو کسانو یا شرکتونو پورې اړه درلودې چې د افغانانو لپاره د یو اس ایډ په مرسته د وړو او متوسطو پرمختیایي پروژو مسؤلیت په غاړه وه. غوښتنې د تورن په دروغو خبرو، دروغې ادعاوې، غلا او کارګرانو او فرعي قراردادیانو ته د روپۍ نه ورکولو پر بنسټ ولاړې شوې وې. 14 نور کسان او شرکتونه د رشوت په تور، دروغې ادعاوې او په افغانستان کې شته شورشیانو او جنایي ډلو ته د موادو په رسولو کې د مرستې په تور ادارو ته د ګوښه کولو لپاره پیژندل شویدي.

سیګار په دوو ترینګلو برخو کې خپل ځنډول او ګوښه کولو ته ادامه ورکوي : د میشتو کوربه کسانو بارچلونکو قراردادیانو په مرسته د چلبازۍ په ګوته کول او مخنیوی کول، او د قراردادیانو لخوا ځایي افغان قراردادیانو ته د وسایلو او خدماتو په وړاندې روپۍ نه ورکولو څخه مخنیوی. پدې برخو کې د سیګار پلټنې مرسته کوي تر څو افغان قرارداد کوونکي ټولنې قانون ته درناوی وکړي، ځایي ټولنو ته د قراردادي ډالرو بهیر ترکنټرول لاندې راولي او داسې سوداګرۍ ته وده ورکوي چې په راتلونکي کې د نړیوالې ټولنې په بسپنه د بیارغونیزو پروژو پرمختګ لامل ګرځي.

2.2 شکل

د سیګار تحقیقات: د دندې ځنډولو یاهم د ندې څخه ګوښه کیدلو زیاتیدونکي پیښې،
Q2 FY 2011–Q3 FY 2012




سرچینه: د سیګار تحقیقاتو ریاست، 7/11/2012

سيګار د بشپړشويو پلټنو پر بنسټ د متحده ايالاتو ادارې داسې ګامونه پورته کړي چې له امله يې هغو شرکتونوته چې په ناوړو کارونوتورن دي د فدرال قراردادونه يا مرستې نه ورکوي د ځنډولو ياګوښه کولو لپاره غوښتنې کوي. سيګار يوې ادارې ته د ګام پورته کولو لپاره ټول اړين اسنادچمتو کوي. برسيره پردې چه د اړينو ګامونو په موخه اداراتو د موارد راجع کيږي، سيګار د دندو تعليق او د هغه څخه ممانعت د بيارغونې په برخه کې د يو اصلاحي ګام په توګه د مطرح کولو په موخه هم اړين ګامونه اوچت کړي دي.

يوزاې بامسوليته اداراتو د قراردادو د ورکولو په هدف د دندو څخه ممانعت او د هغه تعليق يو مهم اصل دي. د سيګار پروګرام په افغانستان کې د دريو ننګونو څخه چې د متحده ايالاتو دتګلارې او د قرارداد کولو احتمالي پيبنو له امله رامينځته کيږي، ځارنه کوي : چټک عمل ته اړتيا، د افغان وګړو او کمپنيو په برخه کې د امريکا متحده ايالاتو محدود صلاحيتونه او د دويم لاس يا فرعي قراردادیانو د بررسی په برخه کې بيلابيلې ننګونې او مشکلات

د 2012 کال د جون تر ديرشمې پورې د سيګار لخوا د ځنډولو او ګوښه کولو غوښتنو بشپړ لست ددې راپور په ضميمه D راغلي دي.


## د سيګار کارکوونکي

د راپور ورکولو پدې مرحله کې سيګار د خپلو کارکوونکو شميره د 147 څخه 165 فدرال کار کوونکو ته اوچته کړه. سيګار د نوروګومارلو وړانديزونه هم کړيدي چې د 2012 کال د اګست تر پايه پورې به د سيګار بشپړ وخت کارکونکو شمير 175 کسانو ته ورسيږي.سيګار هوډ لري چې په 2013 مالي کال کې داشمير 200 ته پورته کړي.

سيګار دکارکوونکو لپاره 33 رسمي بستونه په کابل کې د متحده ايالاتو په سفارت کې او 16 رسمي بستونه د سفارت څخه بهر بستونه لري. سيګار خپل غړي دهيواد په بيلابيلو ځايونو کې په کار ګومارلي دي لکه کندهار، بګرام هوايي ميدان، ليترنيک کيمپ، FOBسالرنو، په کابل کې د USFOR-A اداري مرکزونه، او په هرات کې د متحده ايالاتو قونسلګري، لکه چې په 2.3 شکل کې ښودل شوي دي. سيګار د کابل په دفتر کې د خپلو تحقيقاتو او پلټنو سره د مرستې لپار ه څلور ځايي افغانان په دنده ګومارلي. برسيره پردې سيګار د لنډ وخت لپاره د نيمه ورځې کارکوونکو سره چه په افغانستان کې ځای پر ځای شوي دي خپلو مرستو ته دوام ورکوي. پدې ربع کې، سيګار په افغانستان کې د 95 ورځولپاره 8 موقتي غړي درلود.

2.3 شکل

په افغانستان کې د سیګار شتون





**د قاضیانو نوی نسل**

په افغانستان کې د قاضیانو لپاره د دوکلن پروګرام فارغینو د جون په 20 د افغانستان په ستري محکمې کې د افغان او امریکایي مسولینو خبرې واورېدې. د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا ادارې د هغه پروګرام لپاره چې کلرکوونکو ته د نصاب د ودې او د ښونیزو سیستمونو په اړه زده کړې ورکوي تخنیکي مرستې برابرې کړیدي. (په کابل کښې د امریکا متحده ایالاتو د سفارت انځور)

# 3

# د بیا رغونې
# تازه حال



“مونږ باید په څلورو ګروپونو کې تر ټولو پیاوړې همکاري تامین کړو ، تر څو د بدلون لسیزه سمې پایلې ولري: افغان حکومت او خلک، تر ټولو مخکې او لومړی نړیوالہ ټولنه، د افغانستان ګاونډي؛ او خصوصي سکتور”.

—د بهرنیو چارو وزیره هیلري رودام کلینټن

سرچینه: DoS: “د افغانستان په اړه په ټوکیو کنفرانس کې د بهرنیو چارو د وزیرې هیلري رودام کلنټن ملاحظې” 2021/7/8

# بشپړه کتنه

دریمه برخه د افغانستان په بیا رغونه کې د لاسته راوړنو، ننګونو، او لومړیتوبونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي، ترڅو د ځارنې لپاره شرایط چمتو کړي. د دغو هڅو په تړاو د سیګار رواني او بشپړې شوې پلټنې په وروو مقالو کې پیژندل شويدي. لومړنې سکشن ته د لا زیاتو جزییاتو د موندلو لپاره مراجعه وکړئ.

پدې برخه کې سیګار د 181-110 عامه قانون په پیروۍ هغه اسناد وړاندې کوي چې د نورو برخو برسیره فرمان ورکړل شوی چې د افغانستان د بیارغونې د فعالیتونو په تړاو کانګرس ته په هره ربع کې راپور وړاندې کړي.

- د ځانګړیو شویو بسپنو لګول او د هغو ژمنې
- د متحده ایالاتو د حکومت په شته والې کې د قراردادونو، هوکړو، او بخښنو د میکانزمونو په اړه څرګندونې
- د متحده ایالاتو د حکومت په شته والې کې تمویل شویو پروژو او پروګرامونو ته د بهرنیو هیوادونو یا نړیوالو سازمانو له خو چمتو شوې بسپنې

## موضوعات

دغه برخه په څان کې نورې فرعې څانګې لري: د مرستو حالت، امنیت، حکومتداري او اقتصادې او ټولنیزه پراختیا.

د مرستو د څرنګوالې څېرکی د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړیو شویو پیسو ، ژمنه شویو او ورکول شویو پیسو په اړه څرګندونې کوي، په دې کی د متحد ایالاتو او نړیوالو متحدینو بسپنې شاملې دي.

د دریو نورو برخو سمبالول هغو دریو ستنو ته څرګندونه ورکوي چې له لومړیتوب ورکولو او د پلان پراختیا سره تړاو لري، دې ته د 2010 کال په جولای کې په یو نړیوال کنفرانس کې ودخ ورکړل شوه او د افغان حکومت له لوري یې اعلان وشو.

د امنیت برخه د متحده ایالاتو هغه هڅې څرګندوي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو (ملي اردو او ملي پولیسو) د پیاوړتیا لپاره یې کړیدي. له خصوصي امنیتي قرادادیانو د مسولیت لیرد، او د مخدراتو پر وړاندې مبارزه هم پکښې شامله ده.

د حکومتداری برخه د افغان حکومت پر هغو پرمختګونو کتنه کوي چې د ظرفیت جوړولو، د قانون د واک لومړیتوبونو، او د بشر حقوقو پیژندلو له لارې یې د ښې حکومتولې په برخه کې کړیدي. دغه برخه برسیره پر دې د پخلاینې او مجدد استقرار حالت روښانه کوي او په بیلابیلو ولایتونو کې د افغان حکومت ولکه او د فساد ضد مبارزې لومړیتوبونه څرګندوي .

د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا برخه د بيلابيلو سکتورونو لکه انرژي ، روغتيا او کانونو د بيارغونې فعاليتونه تر کتنې لاندې نيسي . او د اقتصادی حالت او په مالی مقرارتو کښې د پرمختيا، په هر مالی کال کښی د تر لاسه شوی پايښت او ثبات او د ضروری چوپړيزو خدماتو په واړندی کولو کښی د تر لاسه شوو پرمختياو په اړه کار او ډيری تمرکز کوی.

## تګلاره/ميتودولوژي

دريمه برخه د متحده ايالاتو د استازي له اسنادو او آزادو منابعو چمتو شوی وو. په پايليکونو يا له جدولونو او شکلونو سره په ليکل شوو نوټونو کې منسوبې برخې څرګندې شوېدي. لدې چې بيلابيلې اداري اسناد چمتو کوي ، کيدی شي حساب سره توپير ولري. سيګار له خپلو پلټنو او څارنو پرته پر نورو اسنادو اعتماد نه کوي . له نورو سرچينو اخيستل شوي معلومات د يسګار ليد لوری نه څرګندوي. په دې ربع کې د سيګار د پلټنو او څارنو ليدلو ته دوهم فصل ته مراجعه وکړئ.

## د معلوماتو خپراوی

د معلوماتو خپراوی د پوښتنو هغه لړۍ ده چې د بيارغونې په پروګرامونو او په افغانستان کې د چارو په څرنګوالي د متحده ايالاتود ادارو ونډه او ښکيلتيا روښانه کوي. د متحده ايالاتو هغو ادارو چې د معلوماتو د خپراوي په وروستي بهير کې يې ونډه درلوده د بهرنيو چارواو د فاع وزارتونه ، خزانه، او د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيا اداره پکښې يادولای شو. برخه لرونکو ادارو په سر کې ددې برخې يوه لومړنی مسوده لاس ته راوړله، چې پدې اساس دوی کولای شي پدې ربع کې چمتو شوې اسناد تاييد کړي او تبصره پرې وکړي.

## د ازاد منابعو څېړنه


د ازادو منابعو څېړنه پر وروستنيو او د وګړنيزو منابعو، چې د ډېر باور وړ دي، ولاړه ده. کارول شوي سرچينې د معلوماتو د خپراوي په برخه کې د متحده ايالاتو برخه لرونکې اداری هم رانغاړي، همداراز نړيوال سوله ساتي ځواکونه، ملګري ملتونه (او ورسره تړلې برخې)، د پيسو نړيوال صندوق، نړيوال بانک، افغان وزارتونه او نورې ادارې هم پکښې شاملې دي.

# په شکلونو او د معلوماتو په اصطلاحاتو پوهه

ټولو شکلونو او جدولونو د دغو درو مياشتو د اسنادو ريوټ وړاندي کړ؛ خو د پېژندل شويو سرليکونو او يادښتونو له پېژندني پرته.

## د مليون او بليون واحدونه

څرنګه چي دا ريوټ په ميليون او بيليون ډالرو دی؛ نو اړينه ده، چي د ميليون او بيليون ترمنځ توپير وښوول شي. که چيرته د ډالرو شمير بليونونه وي نو په اسماني رنګ په نښه کيږي او که يي شمير مليونونه وي نو په شنه رنګ ښودل کيږي.




کلچه يي چارټ په
ميليارډونو



کلچه يي چارټ په
ميليونو نو


## کليزه او لمريز کلونه

افغانستان له هجري لمزيزي کليزي څخه چي د عيسوي کليزي له 622 کال څخه پيليږی پيروي کوي. سيګار هجري لمريز کلونه عيسوی هغو ته اړوي. روان افغان لمريز کال 1391 دی چي د 2012 د مي په 20 پيل شوي او د 2013 کال د مي په 20 پای ته رسيږي.د افغان حکومت مالي کال له لمريز هغه سره سم دی، خو روان مالي کال به د 2012 د مارچ له شلمي د ډيسيمبر تر 31 پوري وي ، يواځي د يوه وار لپاره به دغه مالي کال د نهو مياشتو لپاره وي او وروسته به افغان حکومت خپل مالي کال د جنوري له لومړی د ډيسيمبر تر 31 پوري عيار کړي.





## څرګند چارتونه

دا ريوټ ډيري فنډونه او پروژې رااخلي، چي ارزښت يي له ميلونو نه تر بيلونو ډالرو ته رسيږي. د دغو شميرو د يو سم ګرافيکي تمثيل د چمتو کولو په موخه ، ځيني ستون ډوله ګرافونه په يوې برخي کي مات شويدي(يوه موجي ليکه)، موخه پکښي داده چي دصفر او يوی غټي شميري تر منځ واټن ووهي.





څرګند چارټ په مقياس
کي له وقفي څخه پرته




څرګند چارټ په مقياس
کي د وقفي سره

## د پانګوني نښانه ګر

د پانګوني نښانه ګر، چي په متن کي راغلی، شخصي پانګي ښيي. د مرستو دسمبالولو مسوله اداره د مرستي د نوم تر لاندي چوکاټ کي لست کړای شويدي.



# د پانګونې حالت


سیګار د قانوني فرمان د بشپړاوي په موخه پدې برخه کې د متحده ایالاتو د ځانګړیو شویو، ورکړل شویو او ژمنه شویو بسپنو د حالت په اړه جزییات وړاندې کوي. د 2012 کال د جون تر 30، متحده ایالاتو له 2002 مالي کال راهیسې د افغانستان بیارغونې ته نږدې 89،48 بلیونه ډالر مرستې کړې چې په لاندې ډول ځانګړې شویدې:

- 52.15 میلیارډ ډالره د امنیت لپاره
- 22،34 ملیارډ ډالر د پراختیا او حکومتدارۍ لپاره
- 6 ملیارډ ډالر د مخدره توکو پر ضد مبارزې لپاره
- 2،37 ملیارډ ډالر د بشري مرستو لپاره
- 6،62 میلیارډ ډلره د نظارت او عملیاتو لپاره

3.1 شکل په دغو هڅو کې د متحد ایالاتو د لویو بسپنو ونډه ښیي.

3.1 شکل

متحده ایالات د افغانستان د بیارغونې هڅو څخه ملاتړ کوي (ملیاردونه ډالر)





یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.

a. بیلابیلې اداري د عدلیې وزارت, د بهرنیو چارو وزارت, د دفاع وزارت, ، د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداري ، د مالیې وزارت ، او USDA دي.

سرچینې: د سیګارمعلوماتي غوښتنوته د DoD ځوابونه ، 2012/20/7 ، 2012/18/7 ، 2012/16/7، 2012/2/7، 2012/26/6، 2009/14/10 و 2009/1/10؛ د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځوابونه، 2012/13/7، او 2012/7/6؛ د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب، 2012/20/7؛ د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د متحده ایالاتو د USAID ځوابونه ، 2012/28/6 ، 2010/15/10، 2010/15/1.؛ د د سیګار معلوماتي غوښتنې د عدلیې وزارت ځوابونه،2009/7/7 ؛ د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د USDAځواب، 2009/4، P.L 112-74؛ 2011/23/12، P.L 111-212 ،2011/15/4، P.L 112-10 2010/29/10؛ 2009/19/12، P.L 111-118؛ د 2010 مالي کال دفاعي تشریحي اعلامیه.

**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ
**CERP:** د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام
**AIF:** د افغانستان زیربنای پانګه یا بودیجه
**TFBSO:** د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک
**DoD CN:** د دفاع وزارت د مخدره موادو د مخنیوي او مخدره موادو سره د مبارزې فعالیتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بودیجه
**INCLE:** د نړیوالو مخدره موادو کنټرول او د قانون نفاذ
**نور:** نورې پانګونې




**د متحده ایالاتو اوو لویو بسپنو ته چمتو شوې پیسې له 2002 مالي کال راهیسې د افغانستان د بیارغونې لپاره د ټولیزې مرستې تر 85،2 سلنې زیاته برخه رانغاړي. له دې شمیرې تر 75،8 سلنې ډیره (لږ تر لږه 57،74 ملیارډ ډالر ژمنه شوي)، او د 65،40 سلنې شاوخوا (لږ تر لږه 49،86 ملیارډ ډالر) لګول شویدي. لاندې صفحې د دغه مرستو په اړه لا زیات معلومات وړاندې کوي.**

## د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا مرستې


د 2012 کال د جون تر 30 د افغانستان بیارغونې او هوسایي ته د متحده ایالاتو د ټولیزې ځانګړې شوې بسپنې اندازه 89و48 ملیارډ ډالرو ته ورسیده. دا ټولې پیسې د بیارغونې پر پنځو لویو پانګونو ویشل کېدای شي. امنیت، د حکومت د واک خپراوی او پرمختیا، د نشه یي توکیو پرضد مبارزه، بشري حقونو او څار او عملیات. د متحدو ایالتونو د ځانګړو شویو مرستو په اړه د بشپړومعلوماتو لپاره د B پایځور وګورئ.

د 2012 کال د جون تر دیرشمې د 2012 مالي کال په بودیجه کې د افغانستان بیارغاونې او هوسایني ته 16،52 ملیارډ ډالر ځانګړي شول، چې د 2012 مالي کال د ټولیزې متراکمې بسپنې 18،5 سلنې ته لوړه شوه، 3.2 شکل له 2002 کال تر 2012 کال پورې د متراکمو ځانګړو شویو بسپنو د ویش لوړیدونکی ګراف روښانه کوي. دا شکل هغه شمیرې رابرسیره کوي چې د مربوطو ادارو له خوا راپور شویدي او تر ځانګړي کیدو وروسته یي قانوني تصویت بشپړ شویدي.

کانګرس په 2010، 2011، او2 201 کال کې د بیارغونې او پراختیا په موخه 16 ملیارډ ډالر ځانګړي کړل، چې د حاشیې د پاڼې په 3.3 شکل کې ښودل شویدي. دغه شمیرو په ګډه له 2002 کاله راهیسې د ځانګړیو شویو نږدې 89،48 ملیارډ ډالرو نږدې 55،8 سلنه برخه جوړوي.

3.2 شکل

د 2012 کال د جون تر دیرشمې د بسپنو د ویش په بنسټ مترکمې یا ډیریدونکې ځانګړنې(ملیاردونه ډالر)





یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې.

سرچینې: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب ، 2012/20/7 ، 2012/18/7 ، 2012/16/7، 2012/2/7، 2012/26/6، 2009/14/10 و 2009/1/10؛ د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځوابونه، 2012/13/7، او 2012/7/6؛ د سیګار معلوماتي غوښتنې ته دخزانې ځواب ،2012/20/7؛ د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداري ځواب، 2012/28/6 ، 2010/15/10، 2010/15/1.؛ د د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د عدلیې وزارت ځواب،2009/7/7 ؛ د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب ،2009/4، P.L 112-74؛ 2011/23/12، P.L 111-212 2010/29/10، P.L 112-102011/15/4؛ P.L 111-118، 2009/19/12؛ د 2010 مالي کال تشریحي دفاعي اعلامیه

په 2011 مالي کال کې د افغان ملي امنيتي پوځ رغولو، روزنې او تجهيز د 2012 کال د بيارغونې د مرستو ډيرۍ برخه ترلاسه کړه ده. د 2006 مالي کال راپديخوا، د بيارغونې د مرستو څخه د امنيتي چار لپاره ځانګړې شوه برخه، نږدې ټول د افغان ملي امنيتي پوځ د وجهي صندوق (ASFF) په چوکاټ کې ترسره شوې ده. په 2012 کال کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وجهي صندوق لپاره ځانګړي شوي پيسي 11،20 مليارډ ډالره دي چې ددغه مالي کال د ټولې بيارغونيزې بسپنې 67،8 سلنه جوړوي. افغان ملي امنيتي پوځ ته د مسوليتونو د سپارلو د لړۍ د ترسره کيدو په درشل کې د ASFF لباره د مرستو کچه هم راکميـــــــــــږي. په 2012 کال کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وجهي صندوق يا ASFF لپاره ځانګړې شوي پيسي تر 2011 کاله چې 11،62مليارډ ډالر وو د 419،28 مليونه ډالرو کمی په ګوته کوي.

3.3 شکل

په مالي کال کې د ځانګړيو شويو بسپنو ويش (په مليارډ او له سلنې سره)




يادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي.


سرچينې: د سيګار معلوماتي غوښتنې ته د د دفاع وزارت ځوابونه، 2012/20/7 ، 2012/18/7 ، 2012/16/7، 2012/2/7، 2012/26/6، 2009/14/10 و 2009/1/10؛ د سيګار معلوماتي غوښتنې ته د بهرنيو چارو وزارت ځوابونه، 2012/13/7، او 2012/7/6؛ د سيګار معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب ،2012/20/7؛ د سيګار معلوماتي غوښتنې ته د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيا اداري ځوابونه، 2012/28/6 ، 2010/15/10، 2010/15/1.؛ د سيګار معلوماتي غوښتنې د عدليې وزارت ځواب،2009/7/7 ؛ د سيګار معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب ،2009/4، P.L 112-74؛ 2011/23/12، P.L 111-212 2010/29/10، P.L 112-102011/15/4؛ P.L 111-118، 2009/19/12؛ د 2010 مالي کال تشريحي دفاعي اعلاميه..

## د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه

کانګرس د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره وجهي صندوق يا ASFF رامنځ ته کړ، موخه يې ښې داده چې د نوي رغوني، بيارغوني او د زير بناوو د ترميم په شان دغه ځواکونه هم وروزل شي،تجهيز او اكمال شي او خدمات وروسپيري.[17] د افغان ملي امنيتي ځواکونو د رغاوني لومړنى مسول د ناټو يو برخه ده چې د افغانستان د روزني ماموريت/د افغانستان د ګډ امنيتي ليږد رهبري[18]نومول شويده.

2012 كال لپاره د ځانګړيو شويو بسپنو د ادغام شورا د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره وجهي صندوق يا ASFF لپاره 11،20 مليارډ ډالر چمتو کړيدي، چې ددغه صندوق لپاره يې مجموعي ځانګړي شوي بسپنې 50،63 مليارډ ډالرو ته ورسولې.[19] د 2012 كال د جون په ديرشمه ددغې شميرې نږدې 37،80 مليارډه ومنل شوې چې له هغې جملې 33،50 مليارډ ډالر يې ولګول شول.[20] 3.4 شكل په مالي كال كې د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره وجهي صندوق ته موجودى پيسې روښانه کوي.

د دفاع وزارت راپور ورکوي چې د 2012 د جون په 30، منل شوې مجموعي مرستې د 2012 د مارچ د 31 د مجموعي مرستو په نسبت د 794،87 مليونو ډالرو په شاوخوا لوړې شويدي. د 2012 كال د جون په 30 مجموعي لګول شوي پيسې د 2012 د مارچ د 21د مجموعي لګول شويو پيسو په نسبت د 911.93 مليونو ډالرو په شاوخوا كې لوړې شويدي.[21] 3.5 شكل د منل شويو، موجودو او




**د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره وجهي صندوق يا ASFF ترمينالوژي (اصطلاحات).**

د دفاع وزارت د ASFF بوديجې د موجودې، منل شوې، يا لګول شوې په توګه راپور کړي.

موجودې: ټولې هغه ژمنې شوي پيسي چې موجودې دي


منل شوي: د پيسو ورکړې ته تعهد

لګول شوي: هغه پيسې چې لګېدلې دي

سرچينه: د سيګار د2010/13/4 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.

3.5 شكل

**دافغان ملي امنيتي ځواکونو د وجهي صندوق ټوليزه مقايسه** (په مليارډونو)





يادونې: شمېرې په ګردي كولو اغېزمنې شوي. د افغان ملي امنيتي ځواكونو لپاره وجهي صندوق يا ASFF لپاره په مرستو كې د ادارې له خوا د يو مليارډ ډالرو كموالى د دفاع وزارت نه څرګندوي.

سرچينې: د سيګار معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب ،2012/16/7، 2011/23/12، P.L 112-74؛ 2011/15/4 ، P.L 112-10.

3.4 شكل

**د افغان ملي امنيتي ځواكونو لپاره وجهي صندوق يا ASFF لپاره په مالي كال كې موجودې پيسې** (مليارډونه ډالر)




يادونې: شمېرې په ګردي كولو اغېزمنې شوي. د افغان ملي امنيتي ځواكونو لپاره وجهي صندوق يا ASFF لپاره په مرستو كې د ادارې له خوا د يو مليارډ ډالرو كموالى د دفاع وزارت نه څرګندوي.

سرچينې: د سيګارمعلوماتي غوښتنې ته د د دفاع وزارت ځواب، ،2012/16/7، 2011/23/12، P.L 112-74؛ 2011/15/4 ، P.L 112-10.

لګول شویو پیسو تر منځ یوه مجموعي مقایسه کوي، چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د وجهي صندوق لپاره ورکړل شویدي.

## د افغان امنیتي ځواکونو فنډ د فعالیتونو لګښت

DoD د ASFF سره د درې بودیجي فعالیت ډلو ته پانګي منظوروي:

- دفاعی ځواک (د افغانستان ملی اردو)
- کورنیو چارو ځواک (د افغانستان ملی پولیس)
- اړوندو فعالیتونه(ابتدایي زنداني عملیات)

د هر فعالیتي ګروپ لپاره ځانګړې شوې مرستي په خپل وار سره په خلورو نورو فرعي فعاليتي ګروپونو باندي ويشل کيږي: جوړښت، تجهیزات او لیږد، روزنه او عملیات او وده.[22]

د 2012 کال د جون تر دیرشمي د دفاع وزارت د افغان ملي امنيتي ځواکونو وجهي صندوق د لومړيتوبونو په تړاو تر 33،50 ملیارډه ډیر ډالر لګولي دي. لدې جملې د 21.70 ملیارډو په شاوخوا د افغان ملي اردو او د 11.64 ملیارډ ډالر د ملي پولیسو لپاره لګول شویدي؛ پاتي 0.17 ملیارډ ډالر ورسره تړلو فعالیتونو ته ځانګړي شویدي.[23]


لکه په 3.6 شکل کې چې ښودل شوي د مرستو تر ټولو لویه برخه ملي اردو باندي لګول شوي- نږدي 9.05 ملیارډ ډالر د ترانسپورت او تجهیزاتو لپاره لګول شویدي. په ملي پولیسود لګولو شویو پیسو تر ټولو لویه برخه – شاوخوا 3.98 ملیارډ ډالر د پایښت د ملاتړ په موخه لګول شویدي چې په 3.7 شکل کې ښودل شویدي. [24]

## د قومندان بيرنی عکس العمل پروګرام

د قوماندان بیړني ځواب پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قوماندانان په دې توانوي چې د هغو پروګرامونو په ملاتړ کولو سره چې د سیمییزې ابادی سمدستي مرسته وکړي، د خپل

3.7 شکل

د افغان ملي امنیتي ځواکونو د وجهي صندوق ځخه د ملي پولیسو لپاره لګښتونه
2005 مالي کال – د 2012 کال دجون 30 ، تر
فعالیت لاندي د ګروپونو راپور (په ملیاردونو)





یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.

سرچینه: د سیګار د2012/16/7 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.

3.6 شکل

د افغان ملي امنیتي ځواکونو د وجهي صندوق ځخه د ملي اردو لپاره لګښتونه
2005 مالي کال – د 2012 کال دجون 30 ، تر
فعالیت لاندي د ګروپونو راپور (په ملیاردونو)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي.

سرچینه: د سیګار 2012/16/7 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.

**د فعالیت د بودیجي ډلې:** د مرستو د حساب یا ځانګړیو شویو بسپنو ویش، ترڅو موخي، پروژې، یا د ځانګړیو شویو پیسو د مالي برخي له خوا د فعالیتونو ډول

**او تر فعالیت لاندي ډلې وپیژندل شي:** هغه حسابي ډلي چې د قوماندې لګښتونه په فعالیتي برخو کې ویشي.


سرچینې: د دفاع وزارت ، "د د فاع وزارت 7110.1 ام . منول د بودیجې د لاربښونې منول "؛ په 2009/28/9 نیټه وارزول شو؛ د بحري ځواکونو برخه،" د صحي آسانتیاوو د اداري لاسي کتاب"؛ 5 مخ؛ د 2009/2/10 په نیټه وارزول شو.

مسوولیت په برخو کې بیړنیو بشري مرستو او د بیا رغونې غوښتنو ته ځواب ووايي. تر دې پروګرام لاندې بسپنه د هغو وړو پروژو لپاره ځانګړې شویده چې تر 500000 ډالرو لږ لګښت پرې راځي.[25] داسې پروژې چې لګښت يې تر يو مليون ډالرو اوړي په هغه صورت کې مجاز دي چې د متحده ایالاتو د مرکزي قومندې له قوماندان څخه يې هوکړه اخیستي وي.او تر 5 میلیونو ډالره د زیات لګښت پروژې د د فاع وزارت د معاون هوکړه غواړي. د CERP یا د قومندان د بیړني ځواب پروګرام پروژې به تر 20 میلیونو ډالرو نه لوړیږي.[26]

د 2012 کال د جون پر 30، د دفاع وزارت راپور ورکړ چې د CERP لپاره مجموعې متراکمې بسپنې 3.44 ملیارډ ډالروته ختلي دي.[27] د دفاع وزارت راپور ورکړ چې لدې شمیرې، نږدې 2.22ملیونه ډالرمنل شوي چې له هغې جملې د 2.08 ملیارډ ډالرو شاوخوا لګول شویدي.[28] 3.8 شکل د CERP لپاره د مالي کال په اساس تخصیصات بیانوي.

د دفاع وزارت راپور ورکوي چې د 2012 د جون په 30 منل شوي مجموعي مرستې د 2012 د مارچ د 31 د مجموعي مرستو په نسبت د 13.05 ملیونو ډالرو په شاوخوا لوړې شویدي. د 2012 کال د جون په 30 مجموعي لګول شوي پیسي د 2012 د مارچ د 21د مجموعي لګول شویو پیسو په نسبت د 52.52 ملیونو ډالرو په شاوخوا کې لوړې شویدي.[29]

3.9 شکل د منل شویو، موجودو او لګول شویو پیسو تر منځ یوه مجموعي مقایسه کوي، چې د CERP لپاره ورکړل شویدي.




**CERP د بسپنو اصطلاحات / ترمینالوژي**

OMB د CERP بودیجې د اختصاصو شویو په توګه راپور کړي.

تخصیص: د ژمنې لپاره د ټولو پیسو موجودیت د دفاع وزارت راپور ورکړ چې د CERP مرستې تخصیص شوې، منل شوي یا لګول شویدي.

تخصیص: د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې


ژمنه: د پیسو د ورکړې لپاره تعهد

لګښتونه: هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینې: SIGAR، OMB ته ځواب، نېټه: 4/19/2020؛ دفاع وزارت، SIGAR ته ځواب، نېټه: 4/19/2010؛

3.9 شکل

د CERP د مرستو مجموعي محاسبه (په ملیارډونو)





یادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوي. په معلوماتو کې ښايي بین الاداري لېږدونې شاملې وي. معلومات هماغسې چې د دفاع وزارت چمتو کړي وو وړاندې شول.

سرچینې: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځوابونه ،2012/16/7، 2011/23/12 ،P.L 112-74؛ 2011/15/4 ، P.L 112-10.

3.8 شکل

په مالي کال کې د CERP تخصیص (په میلیون)




یادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوي. په معلوماتو کې ښايي بین الاداري لېږدونې شاملې وي. معلوما ت هماغسې چې د دفاع وزارت چمتو کړي وو راپور شول.


سرچینې: د سیګار د معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب ،2012/16/7، 2011/23/12 ،P.L 112-74؛ 2011/15/4 ، P.L 112-10.

## د افغانستان د زیربنا تمویلول

د اکي سکیلټن دفاع ملي تجویز عمل د 2011 مالي کال لپاره د لوړ – لومړیتوب، لوی مقیاس زیربنای پروژو ته د ورکړې لپاره د افغانستان زیربنا پانګه یا تمویل (AIF) جوړه کړې، چي د متحده ایالاتو ملکي نظامي هڅه ملاتړوي. د AIF په پروژې د پیسو لګولو یا ژمنه کولو نه 30 ورځې مخکې ، د دفاع وزیر غوښتنه وکړه چي د وړاندیز شویو پروژو له جزییاتو دي کانګرس ته خبر ورکړای شي، چي پدې کې د پایښت لپاره پلان او دا چي څنګه په افغانستان کې دوی د شورش ضد ستراتیژی حمایه کوي هم شامل وي.[30]

د 2012 کال د تخصیص ګډي شورا د AIF لپاره 400 ملیونه ډالر ځانګړي کړل، چي ددې بسپنې لپاره مجموعي تخصیص 800 ملیونه ډالرو ته ورسید. د دفاع وزارت راپور ورکړ چي د 2012 کال د جون تر 30 پورې چي د منل شویو پیسو نه تقریبآ353،40 ملیون له جملې 41.28 ملیون لګول شویدي.[31] شکل3.10 د مالي کال په واسطه د AIF تخصیص ګوري.

د دفاع وزارت راپور ورکړ چي د 2012 د جون په 30 منل شوي متراکمي مرستي د 2012 د مارچ د 31 د متراکمو مرستو په نسبت د 82.20 ملیونه ډالرو په شاوخوا لوړې شویدي. د 2012 کال د جون په 30 متراکمو لګول شوي پیسي د 2012 د مارچ د 21 د مجموعي لګول شویو پیسو په نسبت د 13.18 ملیونه ډالرو په شاوخوا کې لوړې شویدي. [32] 3.11 شکل د منل شویو، موجودو او لګول شویو پیسو تر منځ یوه مجموعي مقایسه کوي، چي د AIF لپاره ورکړل شویدي.




**د AIF مرستو اصطلاحات**

د دفاع وزارت راپور ورکړ چي د AIF مرستي تخصیص شوي، منل شوي یا لګول شویدي.

تخصیص: د ژمنتیاو لپاره موجودي ټولي پیسي

ژمنه: د پیسو د ورکړې لپاره تعهد

لګښتونه: هغه پیسي چي لګېدلي دي


سرچینه: د سیګار 2010/13/4معلوماتي غوښتني ته د دفاع وزارت ځواب .

### د سیګار څارنه

پدې ربع کې په یوې بشپړې شوې څارنې کې ، سیګار د افغانستان د زیربناوو د پروګرام په تړاو د پروژو پرپایښت او د ادارو تر منځ همغږي باندي تمرکز کوي چي د AIF له خوا یي ملاتړ شویدی
د دیرو معلوماتو لپاره ددوهم سکشن 25 مخوګورئ

3.10 شکل

په مالي کال کې د AIF تخصیص (په ملیونونو)





یادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمني شوې. په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لېږدوني شاملې وي.

سرچینې: 3.11 شکل P.L 112-74، 2011/23/12 P.L ،112-10 2011/15/4

3.11 شکل

د AIF د مرستو مجموعي محاسبه (په میلیونونوډالر)




یادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمني شوې. په معلوماتو کې بنایي بین الاداري لېږدوني شاملې وي.


سرچینې: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب 2012/16/7، P.L 112-74، 2011/23/12؛ P.L 112-10 ، 2011/15/4.

## د سوداګریزو عملیاتو د ثبات او پایښت لپاره کاري ځواک

د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو لپاره کاري ځواک (TFBSO) په جون 2006 کې منځ ته راغلی او د څو کالو لپاره یې په عراق کې کار کړی دی. په 2010 کال کې TFBSO په افغانستان کې د بې کارۍ د کچې د کمولو، افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو د رامنځ ته کولو او همدا ډول د اقتصادي لاملونو د رامنځ ته شوي ناوړیخوالي سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات په موخه خپل فعالیت پیل کړ. د TFBSO پروژو کې خصوصي پانګونه، صنعتي پرمختګ، بانک داري او د مالي سیستم وده، کرهنیزه تنوع او بیا راپیدا کول، او د بریښنا پرمختګ شامل دي.[33]

د 2012مالي کال لپاره، TFBSO د 257.62 ملیونو ډالرو په اندازه بسپنه لاس ته راوړه چې کاري ځواک ته یې د مرستو مجموعي شمیره د571.11 ملیونو شاوخوا لوړه کړه.[34]د 2012 کال د جون تر 30 ددې شمیر د 429.09 ملیونه ډالرو په شاوخواکې منل شوې وې، چې له هغې جملې د 195.97 ملیونو په شاوخوا لګول شویدي.[35] 3.12 شکل په مالي کال کې د TFBSO پروژې لپاره منل شوي اندازه روښانه کوي.

د دفاع وزارت راپور ورکړ چې د 2012 د جون په 30 منل شوي متراکمي مرستي د 2012 د مارچ د 31 د متراکمو مرستو په نسبت د 69.40 ملیونو ډالرو په شاوخوا لوړې شویدي. د 2012 کال د جون په 30 متراکمي لګول شوي پیسې د 2012 د مارچ د 21د متراکمو لګول شویو پیسو په نسبت د 30.52 ملیونو ډالرو په شاوخوا کې لوړې شویدي.[36] 3.13 شکل د منل شویو، موجودو او لګول شویو پیسو تر منځ یوه مجموعي مقایسه کوي، چې د TFBSO پروژو لپاره ورکړل شویدي.




**د سوداګریزو عملیاتو د ثبات او پایښت لپاره کاري ځواک د مرستو اصطلاحات/ټرمینالوژي**

دفاع وزارت، د TFBSO بسپنې هماغسې چې ځانګړې شوي، منل شوې، لګول شوي وې راپور ورکړ.

تخصیص: د ژمنتیاو لپاره موجودې ټولې پیسې


منل شوي: د پیسو ورکولو تعهد

لګښتونه: هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچینه: د سیګار د 2010/13/4معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.

3.13 شکل

**د TFBSO بسپنې، مجموعي محاسبه** (په ملیونونو)





یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. په معلوماتو کې ښدایي بین الاداري لېږدونې شاملې وي.

سرچینې: د سیګار معلوماتي غوښتنوته دفاع وزارت ځواب ، 2012/2/7، 2011/23/12 ،P.L 112-74؛ ، P.L 112-10 2011/15/4.

3.12 شکل

**په مالي کال کې TFBSO ته منل شوي پیسې** (په ملیونونو)




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. په معلوماتو کې ښدایي بین الاداري لېږدونې شاملې وي.


سرچینې: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته دفاع وزارت ځوابونه، 2012/16/7، P.L 2011/23/12 ،112-74؛ 2011/15/4 ، P.L 112-10.

## د DOD د مخدره موادو د مخنيوي او مخدره موادو سره د مبارزې فعاليتونه

د دفاع وزارت د نشه يي توکو د مخنيوي اود نشه يي توکو ضد فعاليتونو وجهي صندوق DoD CN د نشه يي توکو له سوداګرۍ او ورسره تړلو فعاليتونو له لارې د افغانستان د ثبات له هڅو ملاتړ کوي. د دفاع وزارت DoD CN د تاریاکو پر وړاندې مبارزې مرستې چمتو کولو لپاره استعمالوي، د نشه يي قاچاقچيانو پروړاندې د نظامي عملياتو ملاتړ؛ د افغاني مخنيوي عملياتو خپرولو؛ او د افغان قانون پلي کونکو غړو ظرفيت جوړولو په واسطه په شمول د افغان سرحدي پوليسو د ځانګړي روزنو، تجهيزاتو، او اسانتياو سره.[37]

د (DoD CN) مرستې د کانګرس لخوا د ټولو نظامي فعاليتونو لپاره د يوې واحدې بودجه په چوکاټ کې تخصيص کيږي. د يوې لويې اجرايي انعطاف منني د رامنځ ته کولو په موخه، د بسپنو په پروګرام بيا کار وشو، او په روان اجرايي کال کې د نشه يي توکو ضد بسپنه له مرکزي حساب څخه پوځي خدمتونو او دفاعي ادارو حسابونو ته وليږدول شوه. د خدمتونو او اداري د انتقال شوو او منل شوو مرستو د تعقيب په موخه د حساب ورکوني داخلي سيستمونه لري. په پای کې د امريکا د دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DoD CN حسابونه د هر مالي کال د منل شوو، تخصيص شوو او لګول شوو مرستو لپاره يوازنی شکل دئ.[38]

د 2012 کال د جون په 30، دفاع وزارت راپور ورکړ چې د 2012 مالي کال د افغانستان بوديجې لپاره DoD CN ته 424.99 ميليونه ډالر ورکړل شول، چې له 2004 مالي کال را ديخوا يې




**د DOD CN بسپنه اواصطلاحات/ټرمينالوژي**
د دفاع وزارت د DoD CN بوديجې د اختصاص شوي، منل شوې، يا لګول شوې په توګه راپور کړي.

تخصيص: د ژمنتياو لپاره موجودې ټولې پيسې


منل شوي پيسي: د پيسو ورکولو ته تعهد

لګښتونه: هغه پيسې چې لګېدلې دي

سرچينه: د سيګار د2012/13/4 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.

3.14 شکل

د مالي کال په واسطه د DOD CN لپاره ځانګړې شوې بسپنې (په مليونونو)





يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدونې شاملې وي.

a. تازه معلومات په شکل کې د تخصيص شويو پيسو ټيټه کچه ښيي.

سرچينه: د سيګار د2012/26/6 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځواب.

3.15 شکل

د DOD CN مجموعي او مقايسوي بسپنه (په مليارډو)




يادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدونې شاملې وي.

سرچيني: د سيګار د2012/26/6 او2012/17/4 معلوماتي غوښتنې ته د دفاع وزارت ځوابونه.


مجموعي بودیجه 2.31 میلیارډ ډالرو ته ورسوله.[39] 3.14 شکل د مالي کال په بنسټ د DoD CN تخصیص شوې پیسې، او3.15 شکل د نشّه یي توکو ضد د منل شویو ، ځانګړي شویو او لګول شویو بسپنو یوه مجموعي مقایسه برابره کړېده.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه

د اقتصادي مرستو فنډ (ESF) پروګرام بېلابېلو هېوادونو ته د اقتصادي، سیاسي او امنیتي غوښتنو له مخې د اوږمهالو او لنډمهالو سفرونو د برابرولو په موخه د متحد ایالتونو له ګټو سره مرسته وکړه. د حکومت د شفافیت او حسابی لپاره د پرمختیایي چارو د اغېزمنی، لاسرسي او ناپیلي سیستم د جوړولو په موخه د ESF ترهګرۍ ضد مبارزې او د ملي اقتصادي د ودې د ملاتړ پروګرام[40]

د 2012 کال د جون په 30 د متحده ایالاتو نړیوالې پراختیایي اداري د د اقتصادي مرستو فنډ (ESF) لپاره د بسپنو مجموعي شمیره 14.95 ملیارډه ډالر وښودله. پدې میاشت کې شاوخوا د 11.71 ملیارډو پیسو ژمنه شوې چې له هغې جملي نږدې 9.50 ملیارډه لګول شوید ي.[41] 3.16 د اقتصادي مرستو فنډ (ESF) لپاره په مالي کال کې تخصیص ښیي.

د متحد ایالاتو د نوېوالې پراختیا اداري راپور ورکړ چې د 2012 د جون په 30 منل شوې متراکمې مرستې د 2012 د مارچ د 31 د متراکمې مرستو په نسبت د 240.70 ملیونو ډالرو په شاوخوا لوړې شویدي. د 2012 کال د جون په 30 متراکمې لګول شوې پیسې د 2012 د مارچ د




**د اقتصادي مرستو فنډ(ESF) اصطلاحات/ ترمینالوژي**

USAID د ESF بودیجې د اختصاص شوې، منل شوې، یا لګول شوې په توګه راپور کړي.

تخصیص: د ژمنو لپاره ټولې پیسې موجودې دي


منل شوې: د پیسو ورکولو ته ژمنه

لګښتونه: هغه پیسې چې لګېدلې دي

سرچېنې: SIGAR، OMB ته ځواب، نېټه:4/13/2010. د نړیوال پرمختګ لپاره د متحدو ایالتونو مرستې(SIGAR، USAID) ته ځواب، نېټه:4/13/2010.

3.17 شکل

د اقتصادي مرستو فنډ (ESF) مجموعي مقایسه (په ملیاردونو)





یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لېږدونې شاملې وي.

سرچېنې: د سیګار د2012/28/6 او 2012/3/4 معلوماتي غوښتنوته د USAID ځواب .

3.16 شکل


د اقتصادي مرستو فنډ(ESF) لپاره د مالي کال په اساس تخصیص (په ملیاردونو)




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لېږدونې شاملې وي.

سرچېنه: د سیګار د2012/28/6 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب .

21د متراكمو لګول شويو پيسو په نسبت د 683.75 مليونو ډالرو په شاوخوا کې لوړې شويدي.[42] 3.17 شکل د منل شويو، موجودو او لګول شويو پيسو تر منځ يوه مجموعي مقايسه کوي، چې د د اقتصادي مرستو فنډ(ESF) پروژو لپاره ورکړل شويدي.




**د نړيوالو مخدره موادو او د قانون د تنفيذ (INL) اصطلاحات/ترمينالوژي**

INL د INCLE او نورو INL د بوديجو راپور د تاکل شويو، منل شويو او مصرف شويو په توګه ورکړي.

تاکل شوي: د ژمني لپاره تولي پيسي په لاس کي دي

منل شوي: د پيسو د ورکولو لپاره ژمنتيا

پريکړون: هغه پيسي چې لګېدلي دي

سرچينه: دسيګار د2012/4/9معلوماتي غوښتني ته دبهرنيوچارووزارت ځواب.


## د نشه يي توکو د نړيوال کنټرول او قانون پياوړتيا

د نړيوالو مخدره موادو او د قانون د تنفيذ (INL) لپاره د متحده اياالاتو دفتر يو داسي حساب سمبالوي چي د قانون حاکميت پياوړی کړي او د مخدره موادو د توليد او قاچاق پر وړاندي مبارزه وکړي – د نړيوالو مخدره موادو د کنټرول او د قانون د تنفيذ (INCLE) حساب. د INCLE بودجې د INL د ګنو پروګرامو د پوليسو سره د مرستو، د مخدره توکو په وړاندی مبارزې ، د قانون حاکميت او عدليه څانګو سره د مرستو په ګډون ملاتړ کوي.[43]

د بهرنيو چارو وزارتد 2012 کال د جون په 30 راپور ورکړ چې د INCLE لپاره تولي مجموعي بسپني 3.56 مليارډو ته وختلي. 3.18شميره انځور د مالي کال په اساس د INCLE لپاره تخصيصات بيانوي. په دې شميره کې نږدې 3.02 مليارډه منل شوي وو چې د شاوخوا 2.23 مليارډ ډالرو پريکړون وشو.[44]

3.18 شکل

د مالي کال په بنسټ د INCLE لپاره تخصيص
(په مليونو ډالرو)





يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شاملې وي. INL 16.2 مليارډه ډالر چې د 2006 نه د -2009 2014 مالي کال پوري نه وو منل شوي بيا تخصيص کړل.

سرچينه: د سيګار د2012/13/7 معلوماتي غوښتني ته دبهرنيوچارو وزارت ځواب .

3.19 شکل

د INCLE د بسپنو مجموعي مقايسه (په مياردونو)




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمني شوي. په معلوماتو کې ښايي بين الاداري لېږدوني شاملې وي. Data reflect three revisions: INL 16.2 مليارډه ډالرچې د 2006 نه د 2009-2014 مالي کال پوري نه وو منل شوي بيا تخصيص کړل. INL په بيلابيلو تخصيصونو کې د ژمني د بيرته اخيستو او پريکړون د ماتولو په اړه څيړنه کوي.د سيګار تصحيحاتو پّ تيري ربع کې راپور شوې شميرې را ټيټې کړې.

سرچينه: د سيګار د2012/13/7 معلوماتي غوښتني ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب.

د بهرنیو چارو وزارتراپور ورکړ چې د 2012 د جون په 30 منل شوي متراکمي مرستي د 2012 د مارچ د 31 د متراکمو مرستو په نسبت د 45.12 مليونو ډالرو په شاوخوا لوړي شويدي. د 2012 کال د جون په 30 متراکمي لګول شوي پیسي د 2012 د مارچ د 21د متراکمو لګول شویو پیسو په نسبت د 87.49 مليونو ډالرو په شاوخوا کې لوړي شويدي.[45] 3.19 شکل د منل شويو، موجودو او لګول شويو پیسو تر منځ يوه مجموعي مقايسه کوي، چې د (INCLE) پروژو لپاره ورکړل شويدي.


## د افغانستان لپاره د بيارغوني نړيواله بسپنه

د امريکا د متحده ايالاتو د مرستو برسيره، نړيواله ټولنه د افغانستان د بيارغوني او هوسايني په برخه کې په پراخه کچه د پام وړ مرستي ترسره کړي دي. لکه څرنګه چه د افغانستان د بيارغوني لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي په تيرو راپورونه کې هم راغلي وو، د افغانستان سره د ترسره کيدونکي ډيرى نړيوالي مرستي د باوري فنډونو له لارې سمبال او اداره کيږي. د باوري پانګو له لياري چمتو شوي اعاني يوځاى شوي او وروسته د بيارغوني کړنو باندې لګول شوي. د باوري فنډ د ډلي څخه دوه لوى فنډونه د افغانستان د بيارغوني باوري فنډ (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم باوري فنډ (LOTFA) دي.[46]

3.20 شکل

د ARTF د 1391 لمريز کال لپاره د بسپنه ورکوونکو ونډه، 2012 د جون 20 (ميليون ډالر)

ټول لوزونه : 930 ميليون ډالر ټول تاديه شوي : 526ميليون ډالر




يادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. 1391 لمريز کال له 3/1/2012- 12/31/2012 چې لدې وروسته به مالي کال له جنوري تر ډيسيمبره وي.


سرچينه: نړيوال بانک، " : ARTF د مالي وضعيت په اړه د اداره کوونکو راپور د 2012 کال د جون 20" ، لومړی مخ

3.21 شکل

د ARTF ونډې چې د بسپنه ورکونکو له لوري ورکول شویدي.

له 1891-1381 لمریز کال (اوس د 2012 د جون شلمه)

ټول ورکړ شوي : 5.7میلیارډ ډالر





یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. له 1891-1381 لمریز کال =2002/21/3-2012/31/12، لدې وروسته به مالي کال له ډیسیمبره تر جنوري پورې وي. "نور" 18 بسپنه ورکونکي دي.
EC/EU=اروپايي کمیسیون/ اروپايي اتحاد.

سرچینه: نړیوال بانک، " ARTF: د مالي وضعیت په اړه د اداره کوونکو راپور د 2012 کال د جون 20" ، پنځم مخ.

3.22 شکل

له 2002نه د 2011 تر ډیسمبر (اوس) پورې LOTFA ته د بسپنه ورکوونکو ونډه.




یادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. EC/EU = اروپایی اتحادیه/ اروپایی ټولنه.

سرچینې: د ملګروملتونو پراختیایي اداره،" د LOTFA د شپږم پړاو کلنی پراختیایي راپور 2011". ،2012/23/2 ، د ملګروملتونو پراختیایي اداری ته د LOTFA د کلني او درى میاشتني راپور په اړه د سیګار څیړنه.

## د افغانستان د بیارغنیز باوري فنډ ته مشارکت

د افغانستان عملیاتي او پرمختګ بودیجو ته د نړیوالو مرستو خورا لوی سهم د ARTF له لیارې راځي. نړیوال بانک راپور ورکړ چې له 2002 کال څخه د 2012 د جون تر شلمې ، 33 بسپنه ورکوونکو د شاوخوا 6.10 ملیارډ ډالرو ژمنه کړې چې له هغې جملې 5.70 میلیونه ورکړل شویدي.[47] د نړیوال بانک په وینا بسپنه ورکوونکو د ARTF لپاره دافغانستا ن 1391 مالي کال لپاره چې د 2011 دمارچ له لومړی د 2012 د ډیسیمبر تر پایه پکښې راځي (له دې وروسته به یې د پیل نیټه د جنوري لومړی وي) شاوخوا 930.36 ملیونه ډالر ځانګړي کړيدي.[48] 3.20 شکل د 1391 کال د ARTF په برخه کې لس ستر نړیوال بسپنه ورکوونکي ښيي

د 2012 کال د جون په شلمه متحده ایالاتو د 1.74 ملیارډو شاوخوا مرسته وکړه.[49] متحد ایالات او بریتانیا د ARTF لپاره دوه ستر بسپنه ورکوونکي دي، دواړه په ګډه دبسپنې له مجموعي په 48.1 سلنه کې برخه اخلي. لکه چې په 3.21 شکلکې ښودل شوی دی.

ARTF ته ځانګړې ونډې په دوو بسپنه ورکونکو چینلونو ویشل شویدي—د متناوبو لګښتونو کړکۍ او دپانګه اچونې کړکۍ.[50] د 2012 کال د جون تر 20 د نړیوال بانک د وینا پر بنسټ د ARTF د بسپنو نږدې 2.50 ملیارډ ډالر دافغان حکومت له لارې د متناوبو لګښتونود کړکۍ او دپانګه اچونې کړکۍ له لارې لکه د ملکي کارکونکو معاشات.[51] د متناوبو لګښتونو کړکۍ د افغان حکومت له عملیاتي لګښتونو ملاتړ کوي.،ځکه لاهم د حکومت دد اخلي عوایدو کچه د دغو مکررو لګښتونو د برداشت توان نلري. د دې لپاره چه د ستنیدونکي لګښت RC فرصت وکړای شي په کافي اندازه مرستې ترلاسه کړي، د ARTF سره مرسته کونکي شاید په کلني ډول د" ترجیح" ورنکړي چه په کلني ډول د دې نوموړي پروګرام سره د خپلو مرستو تر نیمایی ډیره مرسته ترسره کړي.[52]

د پانګوني وینډو د پرمختیایي پروګرامونو بیې ورکوي. د 2012 کال د جون پر شلمه د نړیوال بانک د وینا پر بنسټ د پانګه اچونې د کړکۍ له لارې پلي کیدونکي پروژو ته 2.18 ملیارډ ډالر ژمنه وشوه، چې وار دمخه یې 1.61 ملیارډ ډالر لګول شویدي. نړیوال بانک د 19 فعالو پروژو راپور د 1.12 ملیارډ ډالرو ګډو ژمنه شویو ارزښتونو له ژمنې سره ورکړ، چې تر اوسه یې شاوخوا 611.66 ملیونه لګول شویدي.[53]

## د افغانستان لپاره د قانون پلیینې او باور فنډ ګډ مرستې

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام د LOTFA اداره په غاړه لري چې د افغان ملي پولیسو معاشات ورکړي او د داخلي وزارت ظرفیتونه ورغوي.[54] له 2002 کال را دیخوا بسپنه ورکوونکو LOTFA ته د نږدې 2.20 ملیارډ ډالرو ژمنه کړې، دا تر ټولو تازه اسناد په ګوته کوي.[55] د LOTFA شپږم حمایوي پړاو د 2011 د جنورې په لومړی پیل شوه، او د 2013د مارچ تر 31 به روانه وي. دپروګرام په لومړیو 12 میاشتو کې LOTFA نږدې 546.10 ملیونه ډالر د افغان حکومت حساب ته د پولیسو د معاشاتو د ورکړې په موخه ورولیږدول. نږدې 15.64 ملیونه یې د مرکزی زندانونو د ریاست د کارکوونکو تنخوا ته ځانګړې کړه. او نور12.13 میلیونی یې د ظرفیت د لوړولو ا و د LOTFA نورو لومړیتوبونو ته ځانګړي کړل.[56] د 2011 کال د ډیسمبر 31، بسپنه ورکونکو له LOTFA سره په شپږم پړاو کې تر 673.91 میلیونو د زیاتو ډالرو ژمنه کړیده. د یاد شمیر مرستو څخه د امریکا متحده ایالاتو تر 257.07 ډالرو زیات او جاپان 240 میلیون ډالره پر ځان منلي دي. د 2011 د ډیسمبرتر 31د هغو ګډه ژمنه د LOTFA د شپږم پړاو شاوخوا 74 سلنه جوړوي.[57] بسپنې له پیله راهیسې ملګرو ملتونو LOTFA ته شاوخوا د 812.74 میلیونو ډالرو مرسته برابره کړیده.[58] 3.22 شکل له 2002 کال راهیسې د LOTFA څلور ستر بسپنه ورکوونکي ښیي. دا د تازه اسنادو پر بنا وړاندې کیږي.

# امنيت

د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وجهي صندوق د ملاتړ لپاره د 2012 کال د جون تر 30 پوري د متحده ایالاتو کانګرس 52،1 ملیارډ ډالره ځانګړي کړيدي. ددغو بسپنو لویه برخه (50،6 ملیارډ) د افغان ملي امنيتي ځواکونو د وجهي صندوق لپاره ځانګړي شوي وه، او د افغانستان د ګډ امنيتي لیږد د اداري CSTC-A له لاري سمبال شوي وه. موخه پکښي د افغان ملي امنيتي ځواکونو پاینښت، روزنه، تجهیز، او جوړښت دی، چي دواړه افغان ملي پولیس او ملي اردو پکښي شامل دي. د افغان امنيتي ځواکونو د وجهي صندوق لپاره له ځانګړيو شويو 50،6 ملیارډ ډالرو څخه د 37،8 ملیارډو شاوخوا منل شويدي چي لدي جملي د 2012 کال د مارچ تر 31 پوري 33،5 ملیارډه لګول شويدي.[59]

په افغانستان کي دډمن امنيتي چاپيريال رامنځ ته کول په دې هیواد کي د امریکا د بیارغونيزو هڅو يوه حساسه برخه ده؛ د امنيت نشتوالی د ملي اقتصاد پراختیا او وګړو ته د خدماتو برابرولو کي د افغان حکومت پر وړاندي ستونزې رامنځ ته کوي. دغه برخه د دفاع وزارت، کورنيو چارو وزارت او د افغان ملي امنيتي ځواکونو ارزوني توضیح کوي ؛ د افغان ملي امنيتي ځواکونو د روزني، جوړښت، پاینښت، او تجهیز لپاره د متحده ایالاتو پر بسپنو کتنه کوي؛ او په افغانستان کي د ناقانونه نشه يي توکو د کښت او تجارت پر ضد د هڅو په اړه تازه معلومات چمتو کوي.

## ددي ربع کليدي پيښي

د 2012 کال د مي پر 20 او 21، نړيوالو مشرانو، افغان حکومت او د ناټو تر مشرتابه لاندي په نړيوالو سوله ساتو ځواکونو کي ونډه لرونکو هیوادونو په شیکاګو کي سره ِغونډه وکړه او د یو ډیموکراتیک، مستقل او باامنه افغانستان سره يي خپلي ژمني بیا تکرار کړې. ګډونوالو روښان کړه چي تر 2014 کال وروسته هم چي د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو ماموريت بشپړيږي ددوي د ملکونو ژمني به په خپل ځای وي، ددوی ګډون به د مساواتو او دوه اړخیزو ګټو په بنسټ ولاړ وي. د افغانستان او نړيوالو سوله ساتو ځواکونو د ګډونوالو هیوادونو ترمنځ ګني دوه اړخيزې موافقي ددي راپور تر خلاصيدو د بشپړیدلو په بیلابیلو پړاوونو کي وي.[60]

په ناسته کي د ناټو متحدينو او د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو ګډون کوونکو هیوادونو تر 2014 کال وروسته د افغانستان پرمختګ او مالي پاینښت ته خپلي ژمني بیا تکرار کړې. له نړيوالي ټولني سره په مشوره کي افغان حکومت هغه پلان طرح کړ چي له مخي به يي د افغان ملي امنيتي ځواکونو اوسنی شمیره (352000) راتلونکي حالت ته د کتو پر بنسټ یوي پاییدونکي کچي ته را ټيټه شي. اوسنی موډل د 228500 د یوداسي ځواک وړاندیز کوي چي کلنی لګښت يي 4،1 ملیارډ ډالره وي.[61]

د ناستي ګډونوالو روښانه کړه چي د افغان حکومت د عوایدو ا و اقتصاد له ودې سره به د افغان ملي امنيتي ځواکونو د پاینښت لپاره به په لګښتونو کي د افغان حکومت کلنی ونډه کال په کال لوړيږي.چي په 2014 کال کي به يي ونډه لږ تر لږه 500 میلیونه ډالر وي او تر 2024 کال وروسته به يي ټول مالي

مسولیت په غاړه وي. تمه کیږي چې د دغې پروسې په پرمختګ سره به د نړیوالو بسپنه ورکوونکو ونډه کمه شي.[62]

## د افغان امنیتي ځواک د وجهي صندوق لپاره د بسپنو 1 میلیارډ له سره تنظیم شول.

پدې ربع کې د دفاع وزارت د افغان امنیتي ځواک د وجهي صندوق لپاره د بسپنو 1 ملیارډ ډالر د دفاعي کارونو بنسټیزې بسپنې ته ولیږدول، تر څو د 3،4 ملیارډ ډالرو کسر چې د تیلو د بیو دلوړوالي له کبله رامنځ ته شوی تر پوښښ لاندې راولي. د اولسمشر د 2012 مالي کال د بودیجې په بنسټ دتیلو د هر بیرل لګښت 115،49 ډالره پلان شوی وو؛ د دفاع وزارت سره تړلې کمیټې وښودله چې په عمل کې دغه لګښت په هر بیرل کې 152 ډالره وو. د دفاع وزارت روښانه کړه چې بسپنې د [لیږد لپاره] تیارې دي ځکه چې غوښتنې په دوامداره توګه په بدلیدو وې لامل یې دا وو چې د افغانستان د امنیتي ځواکونو د تجهیز او روزنې د لګښت ماموریت پر مخ لاړاو د مخکنیو کلونو بسپنه د روانو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د لاسرسي وړ وي.[63]

## د امنیت د انتقال په برخه کې پرمختګ

د 2014 کال تر پایه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د مسولیت لیږد بشپړیږي— په شیکاګو کې د ناټو په ناسته کې بیا تکرار شوــــد دفاع وزارت د معلوماتو له مخې اوس هم مهال ویش هماغسې دی. د امنیتي مسولیت د لیږد درې پړاوونه پر مخ روان دي. لکه په 3.23 شکل کې چې ښودل شویدي. د لیږد بهیر د 2011 کال په جولای کې پیل شو چې ځیني ښارونه ، ولسوالی او ولایتونه (چې د افغانستان 25 سلنه وګړي پکښې اوسیږي) شامل وو. د 2011 په نوامبر کې یې دوهم پړاو پیل شو(چې د لیږ په سیمو کې یې د وګړو سلنه 50 ته لوړه کړه). ددې برسیره چې په ټولو سیمو کې انتقال بشپړ شوی ندی، د د فاع وزارت ترلاسه کړه چې په لیږد کې ټولو شاملو سیموپه حکومتداری، امنیت او پراختیا کې بریالیتوبونه لاس ته راوړي دي.[64] د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا تر انتقال لاندې سیمو کې د عامه نظم کوم دپام وړ خرابی ندی راغلی او په موسمي امنیت کې هم کوم د پام وړ بدلون ندی لیدل شوی.[65]

پدې ربع کې، ولسمشر کرزي هغه سیمې اعلان کړې چې د 2012 کال په جولای کې به د لیږ د بهیر دریم پړاو پکښې پیل شي، د لیږد دغه پړاو د ټولو ولایتونو مرکزونه رانغاړي (چې لدی سره به 57 سلنه افغان وګړي د لیږ تر بهیر لاندې راغلو سیمو کې ژوند کوي). د دفاع وزارت د لیږ د بهیر په دریم پړاو کې ځیني ننګوونکې سیمې په نښه کړیدي، چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو وړتیاوې به وازمویې په داسې حال کې چې د هغوی د ملاتړ لپاره لا هم په پوره شمیر سوله ساتي ځواکونه شتون لري.[66]

## د افغانستان د عامه تحفظ ځواک


لکه څنګه چې د سیګار د 2012 کال د اپریل په درې میاشتنۍ راپور کې هم په ګوته شوې وه، افغان حکومت د امنیتي مسولیت لیږد له خصوصي امنیتي کمپنیو افغان عامه محافظت ځواک ته پیل کړیدی چې د پراختیایي او بشري پروژو د امنیت لیږد یې په سر کې دی. د افغان عامه محافظت ځواک یوه دولتي پروژه ده چې د کورنیو چارو د وزارت تر جواز لاندې فعالیت کوي. د هغې ستراتیژي د پلي کولو په لومړي پړاو کې چې د ولسمشر کرزي د فرمان په اساس پکښې ټول خصوصي داخلي او بهرني امنیتي کمپنۍ منحل اعلان شوې، له کورنیو چارو وزارت سره ګڼې راجستر شوې امنیتي کمپنۍ لکه د ریسک منجمنټ کمپنۍ پدې قطار کې راځي. د ریسک منجمنټ کمپنۍ له افغان عامه محافظت ځواکونو او د هغو مراجعه کوونکو سره له امنیت سره تړلو مسلو کې د سلاکار ونډه لري، خو په خپله د امنیت د سمبالولو مسولیت نلري.

### د سیګار پلټنه

د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا د ادارې پر لګښتونو د سیګار پلټنو ښودلې ده چې افغان عامه محافظت ځواکونو ته له خصوصي امنیتي کمپنیو د مسولیت لیږد، د افغان محافظینو په ګمارلو کې لګښتونه لوړ کړیدي او د لیږد د اسانتیاوو د برابرولو لپاره د بهرنیو کارکونکو شمیر لوړ شویدی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د دوهمې برخې شلم مخ وګورئ .

3.23 شکل

هغه سيمي چي امينتي مسوليت يې افغانانو ته ليږدول کيږي




يادوني: په دغه پړاو کې ښارونه، ولسوالی او ولايتونه (يا د هغو ځيني برخې ) شاملي دي. لومړی پړاو په 2011/22/3 کې اعلان شو، دوهم پړاو په 2011/27/11 او دريم هغه په 2012/13/5 کې اعلان شوو.

سرچينه: ناټو، افغان مشرتابه ته د امنيتي چارو د مسوليت ليږد: "انتقال" 2012/16/5

د 2012 کال د جون تر 30، 6,131 APPF غړي درلودل—چي له هغې جملې 689 غړي به د APPF په اداري مرکز کې، د روزنو په مراکزو کې او روزنيزو واحدونو کې وي—د CSTC-A په وينا دوی 6,858 مجوز بستونه اشغال کړيدي. CSTC-A په لاندنيو برخو کې پرمختاوې په ګوته کوي:[67]

- 144 له APPF سره 144 قراردادونه لاسليک شويدي (چې د USAID لپاره 28 پروژې او د دولتي او تجارتي مشتريانو لپاره 116 پروژې پکښې شاملي دي.
- 19 کمپنيو ته د RMC په ډول جوازونه ورکړل شول.
- 13 کمپنی د RMC د جواز لپاره درخواستونه لري.
- 11 RMC ګاني به تر هغو له موقتو جوازونو سره کار کوي چې APPF د کاروانونو د امنيت د چمتو کولو وړتياوې لاس ته راوړي.
- د 2013 تر مارچ پورې به 36 امنيتي کمپنی د ISAF لپاره خدمتونه سمبالوي.

## د افغان ملي امنيتي پوځ ارزونه

د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د ګډې قومانداني په وینا پدې ربع کې په ساحه کې د افغان ملي اردو د واحدونو شمیر د راپورونو له مخې له 251 څخه 204 ته راښکته شوی دی.[68] د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو ګډه قوماندانی له هغو کنډکونو او غونډونو څخه معلومات لاس ته راوړي چې د متحده ایالاتو یا ائتلاف روزونکو ته سپارل شویدي.[69] د تصنیف په تر ټولو لوړه کته ګورۍ کې شل واحدونه "له سلا کارانو سره خپلواک" په ډله کې راغلل (د 2012 کال د اپریل په پرتله چې 15 وو)، او 118 واحدونه "له سلاکارانو سره اغیزمنه" ډله کې راغلل (له 122 سره په پرتله کې). د پرمختګ د یوې نښې په توګه، د راپور شویو واحدونو د کمښت برسیره، د هغو واحدونو شمیره چې" له سلاکارانو سره خپلواک " کتګورۍ کې راغلي دي په 201 قطعې کې (دوه زیاتي شوې)، په 205 قطعې کې (دوه زیاتي شوې)، په 207 قطعې کې (یوه زیاته شوې)، او او د امنیت او حمایې د غونډ په مرکزکې (یوه زیاته شوې).[70]

په ساحه کې د راپور شویو ملي پولیسو شمیره هم په دې دریو میاشتو کې له 408 څخه 366 ته راکمه شویده، حال دا چې په تر ټولو لوړو کته ګوریو کې د واحدونو شمیره په غونډیدلو کې لوړه شوي وه—65"له سلا کارانو سره خپلواک" کته ګورۍ کې راغلي وو (د 2012 له اپریل سره په پرتله چې 41 بنودل شوي وو.)، او 168هغه "له مشاورینو سره اغیزمن" کتګورۍ کښې راغلي وو (له 174 سره په پرتله).[71]

### د قوماندان د واحد د ارزونې د اسبابو تصنیف

د ملي اردو او ملي پولیسو د وړتیاوو په ارزولو کې ISAF د قوماندان د واحد د ارزونې د اسبابو تصنیف یا CUAT څخه کار اخلي، چې پنځه تصنیفه پکښې شامل دي:[72]

- له سلا کارانو سره خپلواک: دغه واحد د خپل ماموریت د پلان او اجرا وړتیاوې لري، په لاس لاندو کسانو کنټرول او قومانده ساتلای شي، د چټک غبرګون ځواکونواو صحي لیږدونو په تړاو همغږي کولای شي، له استخباراتي معلوماتو استفاده او په یوه لوی استخباراتي سیستم کې د عملیاتو وړتیا لري.
- د سلاکارانو په شتون کې اغیزمن:دا شمیر واحدونه په اغیزمنه توګه پلان جوړولو، همغږۍ، لارښوونې او د عملیاتو او حالاتو په اړه د راپور ورکولو چارې پرمخ وړای شي. ائتلافي ځواکونه د واحدونو غړو ته یواځې محدود، ځیني وخت لارښوونې چمتو کوي او کیدی شي د اړتیا په وخت کې پیاوړي کوونکي لارې چارې سمبالوي. ائتلافي ځواکونه یوازې په مناسب فرصت کې ملاتړ زیاتوي.
- له ملګرو سره اغیزمنه: دغه واحد د عملیاتو او موقعیتونو لپاره د ورځنیو څارنو، پلان جوړولو، همرنګه کولو، لارښوونو او راپور ورکولو غوښتنه کوي؛ همدا راز له نورو واحدونو سره همغږي کول او مفاهمه؛ او د اغیزمنې چمتووالي د راپورونو ورکول په غاړه لري. د افغان ملي امنیتي ځواکونو پیاوړي کوونکي دغه واحد ته ملاتړ چمتو کوي؛ حال داچې ائتلافي ځواکونه د ملاتړ د پراخولو لپاره پیاوړي کوونکې چمتو کولای شي.
- له ملګرو سره وده: دغه واحد د پلان جوړولو، هممهالتوب، لارښوونو، او د عملیاتو د حالت او راپور ورکولو په موخه د ملګرتیا او مرستو غوښتنه کوي؛ له نورو واحدونو سره د همغږۍ او مفاهمې، او د اغیزمنې تیارۍ د راپور ساتل هم پکښې راځي. یو شمیر توان ورکوونکي حاضر، اغیزمن او د ملاتړ لپاره چمتو وي. ائتلافي ځواکونه د پیاوړي کوونکو او د ملاتړ ډیره برخه چمتو کوي.
- تاسیس شوي: دغه واحد په تنظیمولو پیل کوي، خو په روښانه توګه په پلان جوړولو، هممهالتوب، لارښونو او د عملیاتو او حالتونو د راپور ورکولو وړتیا لري، حتی د یوه ملګري واحد دمرستو او شته والي په صورت کې هم. یادشوي واحدونه په ندرت سره د نورو واحدونو سره د همغږۍ او

**توان ورکوونکي:** ځانګړي واحدونه چې دجګړه ایزو واحدونو ملاتړ کوي لکه انجنیري، ملکي چارې، پوځي استخبارات، چورلکي، پوځي پولیس او استخبارات، د کشف او څار ځانګړني.

سرچینه: DoD، "په افغانستان کې د مولین د پر مختلونکو کمپونو کرځښت"، 4/22/2009 په 1/4/2012 کې لاس رسي ورته وشوه.

ارتباطاتو د ټینګولو چارې ترسره کولای شي. د واحدونو ډیری پیاوړي کوونکي یا موجود ندي او یا په روښانه توګه اغیزمن دي. دغه توان ورکونکي لږ او یا هم هیڅ ملاتړ نشي ورکولای. ائتلافي ځواکونه د ملاتړ ډیری برخه چمتو کوي.

## د افغان وزارت ارزوني

پدې ربع کې د افغان کورنیو چارو وزارت او دفاع وزارت په اړه ترسره شوې ارزونې بیا هم د پرمختګونو ښکارندوی کوي. د دغه وزارتونو د ظرفیتونو او وړتیاو د درجه بندی په موخه په افغانستان کې د ناټو روزنیز ماموریت (NTM-A) د ظرفیتونو د سترو اهدافو(CM) درجه بندی سیستم څخه ګټه اخلي. د ارزونې پدغه سیستم کې د کارکوونکو څانګې(لکه هغه دفترونو چه د معاون مرستیال او یا مرستیال وزیر) او څو وظیفه ایی کارې سیمې(لکه د عمومي کارکوونکو دفترونه) په اړه د 4 لومړنیو او 2 ثانوي درجه بندیو څخه ګټه اخیستل کیږي:[73]

- CM-1A: په خپلواکه توګه د عملیاتو د ترسره کولو توان لري
- CM1-B: د فعالیتونو د اجرا توان لري د ایتلافي قوې لخوا یوازې څار او نظارت ته اړتیا لري
- CM2-A: د ایتلافي قوې لخوا د ډیر لیږ مرستې په ترلاسه کولو سره د فعالیتونو د ترسره کولو توان لري
- CM2-B: کولای شي خپل ماموریت ترسره کړی خو د ایتلافي قوې محدودې مرستې ته اړتیا لري
- CM3-: د ایتلافي قوې لخوا د سترې مرستې پرته نشي کولای خپل ماموریت ترسره کړي
- CM-4: موجود دي خو نشي کولای خپل ماموریت ترسره کړي

د دفاع په وزارت کې د 47 کارکوونکو څانګو او د څو وظیفه ایی سیمو څخه د 42 په اړه د دې درې میاشتو په ترڅ کې ارزونه ترسره شوې ده. له دغې جملې 26 سلنه د CM-2A په ډله کې راغله (تیرې ربع ته ورته سلنه)، او 36 سلنه د CM-2B په ډله کې راغله (د تیرې ربع په پرتله 1 سلنه کموالی)، لکه چې د راتلونکې مخ په 3.24 شکل کې ښودل شوی دی. د کارکوونکو نه برخې او وظیفوې سیمې پیاوړې شوې.(درې د CM-1B په کته ګورۍ کښې راغلل— چې د CM-1B په تصنیف کې شامل شمیر یې شپږو ته لوړ کړ)، او 31 یې ثابتې وې. د کارکوونکو د برخې شپږ تر ټولو لوړ تصنیفونه او وظیفوې ساحې لاندنی برخې په ځان کې لرلې: [74]


- د دفاع وزیر دفتر
- د دفاع وزارت د مالیي مشر
- د دفاع وزارت د پارلماني، عامه چارو او پارلماني چارو مشر
- د افغان ملی اردو د جذب قومانداني
- د لاس ته راوړنونماینده ګی
- د مخابراتو د ملاتړ واحد

یواځې دوو برخو تر ټولو ټیټ تصنیف کې راغلل (CM-4): د جندرد ادغام او داخلي پالیسی لپاره د دفاع د مرستیال وزیر دفتر.[75]

د کورنیو چارو په وزارت کې ټولې 30 برخې وارزول شوې. له تیرې ربع راهیسي پنځو اصلاح موندلې وه، او هیڅ یوه هم پرشا تګ نه وو کړی. په پنځو اصلاح شویو کې د استخباراتو اداره وه (CM-2B) ، د نشه یې توکو ضد (CM-2B)، او مدنی خدمتونه ((CM-2B، د نویو سرتیرو د قوماندې مرکز(CM-2A) ، او د افغان یونیفورم پولیس (CM-2B).

شکل 3.24

د دفاع او کورنيو چارو د وزارت د ورتياوو په تصنيف کي مهم پړاوونه، درى مياشتنى تغير




يادونې: د پياوړتيا مهم پړاوونه. MoD= دفاع وزارت MoI = کورنيو چارو وزارت

سرچينې: CSTC-A، د سيګار د2012/2/7 او 2012/27/3 معلوماتي غوښتلو په ځواب کې،

## امنيتي چاپېريال

د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ته د 2012 کال د جون د 20 په راپور کې، د ملګرو ملتونو سرمنشي روښانه کړه چي په فبرورى، مارچ او اپريل مياشتو کې ، د 2011 کال د همدغو مياشتو په پرتله په امنيتي پېښو کې33 سلنه کموالى راغلى دى ، لکه چي د سيګار د 2011 کال د اکتوبر د ربع په راپور کي هم په ګوته شوي، ملګري ملتونه د دښمن د عملياتو برسيره د پېښو هغه ليکه هم په نظر کي نيسي چي تهديدونه، وژني، توقيفونه او د ساتنځايونو موندل پکښي راځي. د ملګرو ملتونو د سر منشي په وينا د امنيتي پيښو په شمير کي د کموالي سرا بيلابيل فکتورونه او لاملونه تړاو لري:[77]

- د هوا نامناسب حالت
- د افغان او نړيوالو ځواکونو برى
- د طالبانو په ځينو مشرانو زياتيدونکى سياسي فشار
- جنګياليو ته د سولي د خبرو اترو د راپورونو په تړاو نا څرګند شواهد او د نړيوال نظامي شتون کموالى.

## افغان ملي اردو

د 2012 کال د جون په دیرشمه، متحده ایالاتو 30،4 ملیارډ ډالر تخصیص کړل، 24،4 ملیارډه یې ومنل شول او د افغان امنیتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه 21،7 ملیارډه د افغان ملي اردو جوړښت، پایښت او روزنې باندې ولګول شول[78]

### د افغان ملي اردو توان

د 2012 کال د مې پر 20، د افغان ملي اردو د ځواک شمیره 191,592 وه— د CSTC-A په وینا پدې جمله کې 5,580 په افغان هوایې ځواک کې شامل دي. د راپور په بنسټ ملي اردو 29,277 افسران لري، 51,983 بریدمنان او 110,332 سرتیري لري. ددې برسیره سیـــګار په دې ربع کې په راپور کې ګډوډي لیدلې ده. ددي برسیره CSTC-A ته روښانه شوه چې ملکیان هم د عمومي ځواک د یوې برخې په توګه شمیرل شوي وو. په پایله کې، سیګار د افغان ملي اردو د سرتیرو شمیرنه کوي او د ملي اردو د تعداد د شمیرلو لپاره کارول شوي میتودولوژي څیړي.[79]

ډیری سرتیري د افغان ملي اردو په شپږو برخو کې ګمارل شویدي، د ځانګړیو عملیاتو ځواک، 111 مرکزي فرقه، او AAF چې د افغان ملي اردو اصلي جګړه ایز ځواک پکښې شامل دی، لکه څنګه چې د سیګار د 2012 د اپریل د ربع په راپور کې پدې اړه روښانتیا ورکړل شوې وه. CSTC-A روښانه کوي چې دغو ځواکونو ته د 2012 کال د مې تر20، پوري 132,974 سرتیري ګمارل شوي دي. که څه هم د ګمارل شویو سرتیرو شمیره په دنده کې د حاضرو سرتیرو له شمیرې سره سمون نه خوري، لکه څنګه چې د سیګار په مخکنیو راپورونو کې برسیره شوې وه. د دغو قواوو له جملې 11-4 سلنه له رخصت پرته غیرحاضر وو، (د ځانګړو عملیاتو ځواک پدې کې شامل ندی ځکه د دغو احصایو راپور نه ورکوي).[80]



**په مزار شریف** کې د جولای په پنځمه د شمال له سیمه ایز پوځې مرکز څخه د افغان ملي اردو سرتیري فارغ شول. په دې ربع کې د 576،5 میلیون ډالرو په لګښت 32 تعلیمي پروګرامونو ته بسپنه ورکـــــــوله. (انځور د کورې روس SPC/2C عامه مفاهمه)

## د افغان ملي اردو ثبات او پایداري

د 2012 کال د جون په 30، متحده ایالاتو شاوخوا 9،9 میلیارډ ډالر د افغانستان د ملي اردو د ثبات او پایداري په موخه تخصیص کړل، له هغې جملې1،8 میلیارډ ومنل شول او د افغان امنیتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه 7،4 میلیارډه ولګول شول.[81]

### د افغان ملي اردو معاشات

د 2012 کال د جون 30، د متحده ایالاتو حکومت د افغان امنیتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه 1،13 ملیارډ ډالر د افغان ملي اردو د معاشونو ورکړې ته ځانګړي کړل، د CSTC-A د راپور په بنسټ لدې شمیرې پدې ربع کې 138،6 میلیونه شامل دي. CSTC-A دغه بسپنې د مالیې وزارت ته چمتو کوي، چې له هغو د معاشاتود مصارفو د پوښښ لپاره د افغان حکومت د اصلي بودیجې د یوې برخې په توګه کار اخلي. CSTC-A اټکل کوي چې د معاش برسیره 100-98 سلنه د ملي اردو سرتیري په بیلابیلو لارو چارو اضافي پیسې لاس ته راوړي (لکه په جګړه کې د ګډون پر مهال یا په مخصوصو ساحاتو لکه د ځانګړیو ځواکو سره د برخې اخیستنې پر مهال په صحي خدماتو او یا د چاودیدونکو توکو د له منځه وړلو په عملیاتو کې د برخه اخیستلو پر مهال).[82]

افغان ملي اردو د پرسونل تشکیل د هغو د کلنې لګښت د معلوملو په موخه او په بیلابیلو رتبو کې د پرسونل د تعداد معلوملو په موخه کاروي. CSTC-A راپور ورکوي چې د ملي اردو د لګښت مامورین د مالیې وزارت له لوري دنده تر سره کوي، هغوی د افغانستان د مالي اداري د معلوماتي سیستم له لارې د ملي اردو د مالي افسرانو راپورونه برابروي. دغه سیستم د لګښتونو د معلوملو په موخه کارول کیږي ، چې په بنسټ به یې په بانکونو کې بسپنه چمتو کیږي او لدې لارې به شخصي حسابونو ته لیږدول کیږي. CSTC-A روښانه کوي چې تر 98 سلنې زیاته برخه سرتیرو ته معاشات د هغو بانکي حسابونو ته په الکترونیکي بڼه لیږدول کیږي.[83]

په دې ربع کې CSTC-A وویل چې د پیسو د ورکړې لپاره یو کمپیوټري شوي سیستم د فعالولو په لومړیو مرحلو کې دی ، چې له مخې به یې ملي اردو خپل معاشات او اضافه کاري ترلاسه کوي، خو ویل شویدي چې دغه سیستم له پوره فعاله کیدو لاهم څو میاشتې لرې دی. د دغه سیستم په بشپړیدو سره به NTM-A وتوانیږي چې د پیسو په اړه مفصلې پلټنې ترسره کړي، لدې سره به په سمه توګه جوته شي چې آیا د ملي اردو پرسونل ته په خپل وخت پیسې ورکول کیږي که نه.[84]

لکه څنګه چې د سیګار د 2012 کال د اپریل په درې میاشتنې راپور کې روښانه شویدي، د افغان ملي اردو د سرتیرو شمیر 195000 زرو ته په رسیدو دي—لدې جملې 8000 په افغان هوایي ځواک کې دي او 187000 د ملي اردو اړوند دي، د دوی معاشات، اضافه کاري او بخششې په کال کې نږدې 881،6 میلیون ډالر لګښت لري. CSTC-A روښانه کړه چې د متحده ایالاتو تخمیني ونډه به په دې شمیرې کې 547،1 میلیون ډالره وي.[85]


## د افغان ملي اردو سمبالښت او ترانسپورتشن

د 2012 کال د جون تر 30، متحده ایالاتو شاوخوا 11،0 ملیارډ ډالر تخصیص کړل او له هغې جملې یې د افغان ملي اردو د تجهیز او ټرانسپورټیشن په موخه د افغان امنیتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه 9،0 ملیارډ ډالر ومنل او ویې لګول.[86] د دغې بسپنې ډیری برخه د وسلو او ورسره تړلو تجهیزاتو د پیرودلو،د ګاډو د پیرودلو، د مخابراتي تجهیز، مهماتو ، له الوتکواو هوانوردۍ سره تړلو تجهیزاتو پیرودلو ته وکارول شول. [87] په دې کتګورۍ کې د متحده ایالاتو تر نیمې ډیرې بسپنې د ګاډو او له ترانسپورټ سره- تړلو تجهیزاتو ته ځانګړې وې، لکه چې په 3.25 شکل کې ښودل شویدي.

3.25 شکل

د افغان امنیتي ځواکونو د وجهي صندوق له لارې د ملي اردو تجهیز ته متراکمه بسپنه ، د اپریل له لومړۍ – د 2012 کال د جون تر 30 (په میلیون ډالرو)

ټول : 7,040.5 میلیون ډالر




یادونې: شمېرې په ګردې کولو اغېزمنې شوې. ""فلای" د الوتکو او هوایي چلند سره تړلې تجهیزات رانغاړي. "کمو" مخابراتي تجهیزات رانغاړي. "موو" د ګاډو او ورسره تړلو تجهیزاتو مسله رانغاړي. "شوټ"د وسلو او له وسلو سره د تړلو تجهیزاتو او مهماتو مسله رانغاړي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د2012/2/7 معلومات غوښتنو په ځواب کې،

### د سیګار پلټنې

په یوې رواني پلټنې کې، سیګارد CSTC-A د هغو هڅو ارزونه کوي چې غواړي د نفتي محصولاتو د اداري او ویش په برخه کې د ملي اردو وړتیاوو ته وده ورکړي، پدې کې به د ملي اردو د داخلي کنټرول وړتیاوې هم وارزول شي چې د نفتي محصولاتو په حساب کې مهم رول لري، ترڅو له درغلیو، ناوړه کارولو او ضایع کولو څخه مخنیوی وشي. د نورو معلوماتو لپاره د دوهمې برخې 34 مخ وګورئ .

متحده ايالاتو دملي اردو د تجهيزاتو د تدارک په برخه کې خپلې موخې پوره کړيدي، او د CSTC-A په وينا يې د دغو تجهيزاتو ډېره برخه بشپړه کړيده. د 2012 د جون تر 30، CSTC-A ، د وسلو او وسلو سره تړلو تجهيزاتو 107%، د ګاډو او ترانسپورټي تجهيزاتو 107%، او د مخابراتي تجهيزاتو 107% تدارکات کړيدي.[88]

لکه دسيګار د 2012 کال د اپريل په درې مياشتني راپور کې چې جوته شويده، د دفاع وزارت د 2013 مالي کال په بوديجه کې يواځې د 241،5 ميليونو ډالرو غوښتنه کړيده ، چې د افغان ملي اردو د تجهيز او ترانسپورټ لپاره به د افغان امنيتي ځواکونو د وجهي صندوق له لارې ورته ځانګړې شي. دا د 2012 مالي کال له وړانديز شوي شميرې 83 سلنه کموالي په ګوته کوي. په دې غوښتنه کې د وسلو او ګاډو شميرې شاملې ندي. په غوښتل شوي بسپنه کې به د افغان هوايي ځواکونو ملاتړ هم شامل وي، (169،8 ميليون ډالر)، د استخباراتي او مخابراتي تجهيزاتو د برابرولو په موخه (1،7 ميليونه ډالر)، او د هوايي ملاتړ لرونکي عملياتو لپاره (70 ميليونه ډالر) ځانګړې شويدي.[89]

## د افغان ملي اردو زيربنا

د 2012 د جون تر 30، متحده ايالاتو شاوخوا 6،4 مليارډ ډالره تخصيص کړل، پدې کې 5،1 مليارډه او د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندوق څخه هم 3،2 مليارډه ډالر د ملي اردو له زيربناوو سره د مرستې په موخه ولګول شول.[90] د 2012 د جون تر 30، د CSTC -A د وينا په بنسټ متحده ايالاتو 194 زيربنايي پروژې بشپړې کړيدي (د 2،26 مليارډ ډالرو په ارزښت)، 106 پروژې رواني دي (د 2،58 مليارډو په ارزښت)، او 80 پروژې په پلان کې دي (1،31 مليارډو په ارزښت)،[91] په دې ربع کې څلور نوي قراردادونه وشول. ترټولو لويه هغه په کابل کې د توقيف د آسانتياوو يو مرکز(د 68،9 ميليونه ډالرو په ارزښت )، او په کندهار کې د غونډ لپاره قرارګاه وه (د 81،7 ميليونو په ارزښت). پدې ربع کې د 88،9 ميليونو ډالرو په ارزښت پنځه پروژې پای ته ورسيدې.[92]

لکه څنګه چې د سيګار د 2012 د اپريل په درې مياشتني راپور کې راغلي، د 2012 مالي کال لپاره د دفاع وزارت څخه د افغان ملي اردو د زيربناوو لپاره د بوديجې غوښتنه د 2012 مالي کال تر هغې 85 سلنه کمه وه. د 2013 مالي کال لپاره غوښتنې د ساختماني پروژو لپاره ندي، بلکه په دې کې د نظامي پايګاوو او د ځواکونو د محافظتي سيستم عصري کول او لوړول شامل دي، همداراز د امريکايي ځواکونو د وتلو سره سم افغان ملي امنيتي ځواکونو ته د ائتلافي ځواکونو ته د آسانتياوو تسليمولو ته آماده ګې هم شامله ده.[93]

## د افغان ملي اردو او د دفاع وزارت روزنې او عمليات

د 2012 د جون تر 30، متحده ايالاتو شاوخوا 3،1 مليارډ ډالر ډالرتخصيص کړل، چې له هغې جملې د دفاع وزارت او ملي اردو د روزنو په موخه د افغان امنيتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه 2،1 مليارډ ډالر تر منلو وروسته ولګول شول.[94]

په دې ربع کې، متحده ايالاتو د 576،5 ميليونو ډالرو په لګښت د افغان ملي اردو او دفاع وزارت لپاره د روزنې 32 روانو پروګرامونو ته بسپنه برابره کړيده، د CSTC-A په وينا دغه بسپنه د افغان امنيتي ځواکونو د وجهي صندوق له لارې لګول کيږي. ددې بسپنې لويه برخه (62 سلنه) د انظباط په برخه کې د ملي اردو روزنوته ځانګړې شوې وه چې ځانګړي عمليات، استخبارات، لوجستيک، د چاودېدونکو آلو ګرندۍ له منځه وړل او د ګاډو مراقبت شامل وو.[95] په دغه کټګورۍ کې د بسپنو نږدې څلورمه برخه د دفاع وزارت د ودې په موخه کارول شويدي. لکه چې 3.26 شکل کې ښودل شويدي.


متحده ايالات د 248،2 ميليونو ډالرو په ارزښت يو درې کلن قرارداد ته بسپنه ورکوي (دوه کاله بنسټيز او يو کال انتخابي) چې ددفاع وزارت د ملاتړ په موخه به له ډاينا کورپ انټرنشنل سره لاسليک شي. په دې قرارداد کې به روزونکي، مشاورين ، د اداري مسايلو ماهرين او د CSTC-A او دفاع

### د سيګار پلټنې

سيګار د هغې پريکړې په اړه پلټنې پيل کړې چې له مخې يې په بادغيس کې د ملي اردو د يوې پايګاه قرارداد شويدی، دا کار د هغو تورونو په تړاو کيږي چې ويل شويدي د NTM-A/CSTC-A د USACE له خوا د قرارداد تر ورکولو مخکې په لا ارزانه انتخابونو باندې غور ندی کړی. د نورو معلوماتو لپاره د دوهم سکشن 34مخ وګورئ. .

3.26 شکل

د دفاع وزارت او افغان ملي اردو روزنو تهد متحده ايالاتو بسپنې،د اپريل له لومړۍ د 2012 د جون تر 30، (په ميليونو نو ډالر)




يادونې: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره ګډ= د روزنې پروګرامونه دواړو ملي اردو او ملي پوليسو ته.

سرچينه: CSTC-A، د سيګار د معلوماتي غوښتنو په ځواب کې، 2012/2/7

وزارت لپاره ملاتړ غږي شامل وي. ددې قرارداد موخه د CSTC-A په وینا دا ده چې له افغان ملي اردو او دفاع وزارت سره مرسته وشي چې د خپلوامنیتي اړتیاوو لپاره دې پوره مسولیت په غاړه واخلي.[96]

د CSTC-A پروګرام د دفاع وزارت د ادارو او د اداري او عملیاتي سیستم له ودې سره هممهاله پیښیږي. د CSTC-A پر بنسټ د CSTC-A پرسونل د دفاع وزارت د ودې په پروګرامونو کې برخمن دي لکه عنعنوي پوځي پرسونل او ځانګړی غږي چې د معینو موقعیتونو په وده کې ونډه لري. دغه پرسونل د قراردادي په ملاتړ تکیه کوي ترڅو بنسټیزې اداري او عملیاتي سیستم ته وده ورکړي لکه څنګه چې د دفاع وزارت د ملي اردو د اداري لپاره ترې غوښتنه کوي.[97]

د 2012 د جولای په 5، تر 1300 ډیر د افغان ملي اردو پرسونل په مزارشریف کې د شمال د سیمه ایز پوځي تعلیمي مرکز څخه له اساسي زده کړو فارغ شول. دغه فراغت په مرکز کې د یوه انتقال ښکارندویي وکړه، وروسته لدې چې NTM-A روزونکي او سلاکاران ځي او افغان مشران او روزونکي به د دغو کورسونو د تدریس او پیلولو مسولیت په غاړه واخلي.[98]



**د ښځینه تعلیمي** لوآ کاندیدو افسرانو د کابل په نظامي تعلیمي مرکز کې د مې په 28 د ځاني دفاع تخنیکونه زده کړل؛ په افغان ملي اردو کې 361 ښځې شتون لري؛ موخه داده چې داسې ځواک چمتو شي چې د 10 سلنې شاوخوا یې ښځینه وي. (انځور د NTM-A)

## د افغان ملي اردو د سواد کچه

په افغان ملی امنیتي ځواکونو کې د سواد ټیټه کچه تر اوسه هم یوه ننګونه ده. له 2010 کال راهیسې متحده ایالاتو د دریو قراردادونو بسپنه ورکړې چې هر یو به د پنځو کلونو په محدوده کې خدمات تر سره کوي—در هر کال په اګست کې به یو کلنه ټاکنه پلې کیدونکې وي—او مجموعي لګښت به یې 200 میلیونه ډالر وي. لکه په دې ربع کې چې د CSTC-A په وینا دریو قراردادیانو افغان ملي اردو ته 1496 روزنکي چمتو کړي وو.[99]

- OT Training Solutions (چه یوه امریکایی کمپنی ده) 544 روزونکي ورلندي کول
- Insight Group(چه یوه افغانی کمپنی ده) 312 روزنکي وراندي کول.
- د کاروان لوړو زده کړو انستیټوټ (چه یوه افغاني کمپنی ده) 640 روزنکي وراندي کوي.

د ملي اردو نوي عسکربه د اساسي روزنو په موده کې 64 ساعته د سواد د زده کړې او حساب درسونه ولري. ددې لپاره چې د ملي اردو د پرسونل د سواد کچه دریو ته لوړه شي چې "کارنده سواد" ورته ویل کیږي ، 248 اضافي درسي ساعتونو ته اړتیا لري، چې د تخصصي وظیفوي روزنو پر مهال یا په ساحه کې وربښول کیږي. د NTM-A په ویناد افغان ملي امنیتي 11000 پرسونل په ورکول شوې موده کې د سواد زده کړو په روزنو کې برخه اخیستې ده.[100]

د ملي اردو د سواد د رواني کچې ارزول سخت کار دی. د CSTC-A په وینا د افغان ملي امنیتي ځواکونو د سواد کچه په ټوله کې د 11 سلنې شاوخوا ده.[101] پداسې حال کې چې د کابل په نظامي روزنیز مرکز کې شاوخوا 13 سلنه نوي عسکر د روزنو تر پیل مخکې د سواد لومړني ټسټونو کې کامیاب شویدي، دا په هغه پرسونل کې چې د سواد روزنیز کورسونه یې تکمیل کړي د سواد د زده کړې دیوې لوړې کچې وړاندوینه کوي.[102]

NTM-A/CSTC-A له دفاع وزارت سره د سواد د زده کړو د پروګرامونو د پراخوالي په برخه کې کار کوي، همدارنګ هڅه کوي چې دا ډاډمنه کړې چې د سواد ارزښت د ځواک د مولټیپلایر (مضروب فیه) په شان دی، او د هغو شرایطو په تنظیم کار کوي چې له مخې به یې د سواد د زده کړې پروګرامونه افغان ملي اردو ته وسپارل شي. پدې ربع کې CSTC-A روښانه کړه چې د کارنده سواد د کچې د معلومولو لپاره د معیاري شویو ټسټونو کارول پیل شویدي. NTM-A/CSTC-A هغه اسناد لاس ته راوړي چې له مخې به یې د ملي اردو د سواد د کچې څرنګوالی چمتو شي، سیمه ایزې نیمګړتیاوې وپیژندل شي او هغه سیمې چې اصلاحاتو ته اړتیا لري په نښه شي. برسیره پر دی

CSTC-A په ډاګه کوي چې " د ټیسټ نومره ورکولو ته ځانګړني نلري، یا د وخت بشپړ اصلاح شوي ځانګړني نلري، چې د هغو له عملي کولو سره د پروګرام بریالیتوب ازمویل کیدی شي"[103]

## په افغان ملي اردو کې د ښځو ونډه

د2012 د جون تر 30، د افغان ملي اردو په پرسونل کې 361 غړي شامليې وې—223 تنه افسران، 104 بریدمنان او 7تنه سرتیري، او 27 تنه د CSTC-A په وینا افسرۍ ته د کاندیدانو په مکتب کې شاملې دي.ــــد CSTC-A په وینا موخه داده چې داسې یو ځواک برابر شي چې 10 سلنه یې ښځې وي (چې 19500 پرسونل راځي). لکه څنګه چې د سیګار د 2012 کال په درې میاشتني راپور کې راغلي دي، ډیرى ښځینه افسراني په صحي برخو کې کار کوي او ډیرى بریدمنانې په لوجستیک برخه کې دندې لري (50 سلنه) او (25 سلنه) یې په صحي برخو کې په دندو لګیا دي. CSTC-A روښانه کړه چې ملي اردو ته د ښځینه سرتیرو شاملول یوټیټ لومړیتوب دی او ددې پروسې ستونزې لږ تر لږه هیچا ته پر غاړه نشو اچولای. د ښځینه درخواست ورکونکو د ځیرلو، ازمویلو او شنلو لپاره په ملي اردو کې د جوړښت کوم مرکزي سیستم شتون نلري. ددې برسیره، په ملي اردو کې د ښځو پرمختګ ته کومه روښانه لار نشته.[104]

د CSTC-A په وینا ، NTM-A ملي اردو ته د ښځو له جلب او جذب او یو ځای کیدلو په ملاتړکې په دوو لومړیتوبونو تمرکز کوي: tد ملي اردو د بشر د حقوقو د اداري جوړیدل، قومي انډول او د جندر بشپړیدل (HREBGI)، او د ملي اردو د استخباراتو برخې ته د ښځو د شاملیدو ملاتړ. په دې ربع کې د (HREBGI) ادارې هغه ښځې شاملولې چې د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځی فارغې شوې وې، موخه دا وه چې د ملي اردو د حقوقي برخې له لوري اعلان شوې د پلټونکو په بستونو کې وګمارل شي.[105]

## افغان ملي پوليس

د 2012 دجون تر 30، متحده ایالاتو 17،0 ملیارډ ډالر تخصیص کړي وو،چې 13،1 ملیارډه یې ومنل شول او 11،6 ملیارډه یې د افغان امنیتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه د ملي اردو د جوړښت، روزني او پایښت په موخه ولګول شول.[106]


د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وینا د کورنیو چارو وزارت د 2012په اپریل کې د پولیسو ملي پلان په لاره واچول. دغه پلان به د لومړیتوبونو په جوړولو کار کوي لکه د ټولني پر بنسټ پولیسي فعالیت، د جرایمو د مخنیوي او کشف پیاوړتیا، د بشر د حقوقو محافظت، له ښځو او ماشومانو سره د تاوتریخوالي پر ضد مبارزه، او په ملي پولیسو کې د ښځو د ونډې لوړول. په همدې میاشت کې د کورنیو چارو وزارت د پولیسو د موکړ -اتیکه دارالانشا جوړه کړه، "تر څو په ټولنیز بنسټ د پولیسي فعالیتونو لومړیتوبونه همغږي کړي، له مدني ټولني سره اړیکې زیاتې کړي او دپولیسو د حساب ورکولو او مسولیت منلو کچه لوړه کړي.[107]

## د افغان ملي پوليسو توان

د ISAF د جون د 12 د پرسونل د حالت د راپور په بنسټ په دې ربع کې د ملي پولیسو ټولیز ځواک 146,641 وو. لدې جملې څخه 82424 افغان یونیفورم لرونکي پولیسو ته توظیف شوي دي، 22057 افغان سرحدي پولیسو ته توظیف شوي دي او 14586 د ملي عامه نظم پولیسو ته توظیف شوي دي.[108] دغه شمیرې د سیګار د 2012د اپریل تر درې میاشتني راپور ټیټې دي. سیګار په نویو شمیرو کتنه کوي ترڅو د دغه کمښت لاملونه معلوم کړي.

3.27 شکل

د افغان امنیتي ځواکونو د وجهي صندوق له لارې د ملي پولیسو تجهیز ته متراکمه بسپنه ، له 2002 – د 2012 کال د جون تر 30 (په میلیونونو ډالرو)




یادوني: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. "کمو" مخابراتي تجهیزات رانغاړي "موو" د ګاډو او ورسره تړلو تجهیزاتو مسله رانغاړي. "شوټ"د وسلو او له وسلو سره د تړلو تجهیزاتو او مهماتو مسله رانغاړي.

سرچینه: CSTC-A، د سیګار د معلوماتي غوښتنو په ځواب کې، 2012/2/7 .

## د افغان ملي پولیسو ثبات او پایداري

د 2012 د جون تر 30، متحد ایالاتو 5،8 ملیارډ ډالر تخصیص کړي وو چې 4،2 ملیارډ ډالر یې منل شوي او 4،0 ملیارډه د ملي پولیسو د پاینت په موخه د افغان امنیتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه ولګول شول.[109]

### د افغان ملي پولیسو معاشات

لکه څنګه چې د سیګار د 2012 د اپریل په درې میاشتني راپور کې راغلي هغه مهال متحده ایالاتو د افغان ملي پولیسو معاشونو ته 914،0 ملیارډ ډالر چمتو کړي وو.چې د ملګرو ملتونو د انکشافي پروګرام له خوا اداره کیدونکي د افغانستان لپاره د قانون او نظم د خیریه مرستو له خوا ولګول شول. د CSTC-A په وینا کله چې د ملي پولیسو ځواک 157,000 ته ورسیږي، نو هر کال به د هغو د معاشاتو ، اضافه کاري او د خوړو د لګښتونو په موخه 726.9 میلیون ډالرو ته اړتیا وي.[110]

- معاشات: 471،6 میلیون امریکایی ډالر
- نوښتونه: 117،8 میلیون امریکایی ډالر
- خواړه: 137،5 میلیون امریکایی ډالر

## د افغان ملي پولیسو سمبالښت او ترانسپورټشن

د 2012 د جون تر 30، متحده ایالاتو4،2 ملیارډ ډالره تخصیص کوي وو چې له هغې جملې د افغان امنیتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه دمنل شویو او لګول شویو پیسو اندازه 3،3 ملیارډ ډالره وه چې د ملي پولیسو تجهیز او ترانسپورټشن ته وکارول شول.[111] دد غو بسپنو ډیری برخه د وسلو او ورسره تړلو تجهیزاتو، ګاډو، مخابراتي تجهیزاتو او مهماتو پیرودلو ته کارول شوي وو.[112] په دغه کټګوری کې د متحد ایالاتو نږدې 86 سلنه بسپنه د ګاډو او ترانسپورټیشن سره د تړلو تجهیزاتو لپاره وه، لکه د 3.27 شکل کې چې ښودل شویدي.

## د افغان ملي پولیسو زیربنا

د 2012 د جون تر 30، متحده ایالاتو شاوخوا 4،0 ملیارډ ډالر تخصیص کړي وو، 2،9 ملیارډه منل شوي او 1،8 ملیارډه د افغان امنیتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه د ملي پولیسو د زیربناوو د رغولو په موخه ولګول شول.[113]

د 2012 کال د جون تر 30، متحده ایالاتو د ملي پولیسو د زیربناوو 422 پروژې بشپړې کړې. (د 1،29 ملیارډ ډالرو په ارزښت). 205 نورې پروژې رواني دي(د15،1 ملیارډ ډالرو په ارزښت)، او 164 هغه پلان شویدي (د 1،09 ملیارډ ډالرو په ارزښت). په دې ربع کې 19 نوې قراردادونه د 54،2 میلیونو ډالرو په ارزښت امضا شوي وو.[114]

## د افغان ملي پولیسو روزنه او عملیات

د 2012 د جون تر 30، متحده ایالاتو 3،0 ملیارډ ډالر تخصیص کړي وو چې لدې جملې2،6 ملیارډ ډالر د افغان امنیتي ځواکونو له وجهي صندوق څخه د ملي پولیسو او کورنیو چارو وزارت د روزنې او عملیاتو په موخه منل شوي او لګول شویدي[115]

متحده ایالاتو د 1،19 ملیارډ ډالرو په ارزښت له ډاینا کورپ انترنشیل سره یو درې کلن قرارداد ته بسپنه ورکوي (دوه کلونه به یې اساسي وې او دریم کال به یې انتخابي وې) موخه یې کبني د کورنیو چارو وزارت او ملي پولیسو ته د زده کړو او سلامشورو ورکول دي. دغه قرارداد به د 14 NTM-A روزنیزو سایټونو ته او همداراز به د NTM-A د پولیسو په 18 روزنیزو سایټونو کې روزونکو او

### د سیګار پلټنې

د ملي پولیسو لپاره د افغانستان د تخنیکي تجهیزاتو د پاینت د پروګرام په اړه په یوه روانه پلټنه کې، سیګار د قراردادیانو نظارت ، دقراردادونو لګښتونه، د سمبالولو او وېښو په برخه کې حساب ورکونه، او د ګاډو د پاینت لپاره افغان ملي پولیسو ته د مسولیت د لیږد په برخه کې کتنه کوي. د نورو معلوماتو لپاره د دوهمې برخې 33مخ وګورئ.

سلاکارنو ته حقوقي ملاتړ چمتو کوي، د CSTC-A په وينا د ډاينا کورپ له 3500 پرسونل څخه چې شاوخوا نيم افغانان دي ، ډيرى د حقوقي ملاتړ په موخه ګمارل شويدي.[116]

د ډيناکورپ قرارداد د پوليسو د روزني په برخه کې د پوليسو په روزنيز سايټ کې 139 روزونکي او سلاکاران چمتو کوي. د CSTC-A په وينا په دې قرارداد کې د IJC تر لارښوني لاندي د پوليسو عملياتي واحدونو ته 340 ښوونکي چمتو کيږي، برسيره پردې ګڼ سيمه ايز قراردادونه هغو روزنيزو سايټونو ته لوجستيک خدمتونه برابروي چي د ډيناکورپ د لويو قراردادونه له خوا خدمات نه ورته رسيږي.[117]

د 2012 د جون تر 18، د ملي پوليسو تر8,600 ډيرپرسونل له 15 روزنيزو مرکزونو فارغ شول؛ 810 تنه په اوسني حال کې شموليت پکښي لري. په دې ربع کې، د ډيناکورپ د قرارداد دملي پوليسو د روزني د برخي لګښتونه د ښوني او روزني په برخه کې 10،8 ميليونه ډالره وو، او دحقوقي ملاتړبرخي لګښت 19،7ميليونه ډالر شميرل شوی دی (چي د ژوند ورځني ملاتړ، روغتيا، رفاه، او ورسره تړلي نور مصارف هم راځي).[118]

### د افغان ملي پوليسو سواد

د سواد ټيټه کچه ملي پوليس هم د ملي اردو په څير اغيزمنوي. له 2010 کال راهيسي متحده ايالاتو د ملي اردو په څير د ملي پوليسو لپاره هم د دريو قراردادونو لپاره بسپنه ورکړيده. هر يو د خدماتو پنځه کلنه محدوده لري—او يو کلنی انتخابي برخي به پکښي وي چي د هر کال په اګست کې ترسره کيږي—او مجموعي لګښت يې د 200 ميليونه شاوخوا دی. د CSTC-A په وينا، دغو قراردادیانو ملي پوليسو ته د سواد زده کړي 1,729 روزونکي سمبالول:[119]

- OT ترينګ سلوشن (چه يوه امريکايي کمپنی ده) 470 روزونکي وړاندي کول
- Insight Group(چه يوه افغانی کمپنی ده) 302 روزنکي وړاندي کول.
- د کاروان لوړو زده کړو انستيټوټ (چه يوه افغاني کمپنی ده) 957 روزنکي وړاندي کوي.

د ملي اردو د نويو سرتيرو په څير، د ملي پوليسو نوي سرتيري د بنسټيزو روزنو په موده کې د سواد د زده کړي او حساب 64 ساعتونه درسونه لري، او 248 اضافي درسي ساعتونه به هم پدې موخه ورته برابر شي چې د هغو د سواد کچه 3 ته لوړه کړي چي "کارنده سواد"ورته ويل کيږي.[120] د CSTC-A په وينا د کارنده سواد لاس ته راوړلو په موخه ، د ملي پوليسو زده کوونکي ازمويل کيږي چي ايا د روزني بل پړاو ته پرمختګ لپاره وړتيا لري که نه. د 2012 د جولای تر 1، افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د برياليتوب کچه 93،3 سلنه وه؛ د ځواکونو له خوا په شمير کې کسر نه وو ليدل شوی.[121]

## په افغان ملي پوليسو کې د ښځو ونډه

د 2012 د جون تر 18، د CSTC-A په وينا د ملي پوليسو په پرسونل کې 1,399 ښځي شاملي وې—چي 206 افسراني، 609 بريدمناني، 584 سرتيري دي.د ملي پوليسو موخه داده چي د 2014 تر مارچه په پوليسو کې د ښځو شميره 5,000 ته لوړه کړي.لکه څنګه چي د سيګارد 2012 د اپريل په درى مياشتني راپور کي راغلي ، ملي پوليس په فعاله توګه ښځي د هغه کمپاين له لاری شاملوي چي د افغانستان لپاره د نظم او قانون خيريه مرستو له خوا په غاړه اخيستل شوی دی. متحده ايالاتو د جندر په برخه کې درى مشاورين وړاندې کړيدي، چي د کورنيو چارو وزارت د بشري حقوقو، جندر او د ماشوم د حقوقو په رياست کې به ګمارل کيږي. دغه سلاکاران به د ملي پوليسو له مشرانو سره کار کوي، تر څو د پوليسو په ليکو کي د ښځو د شته والي ګټي روښانه کړي، او د ملي پوليسو هغه سايټونه وګوري چي ښځي پکښي ګمارل شويدي، ترڅو دجندر په تړاو مسايل ورته په ګوته کړي.[122]

### د سيګار پلټنه

د افغان سرحدي پوليسو د پايګاوو له جوړولو د سيګار پلټنو موندلي ده چي د رغونيزو نيمګرتياوو له کبله په دريو پايګاوو کې د 19 ميليونو ډالرو په ارزښت پانګونه له خطر سره مخامخ شويده. د لا زياتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړی د 35مه پاڼه 2مه برخه وګورئ.

## افغان سیمه ایز پولیس

افغان سیمه ایز پولیس د کورنیو چارو وزارت د ټولنیز ځار له لومړیتوبونو څخه دی، چې په هغو سیمو کې چې د ISAF اوافغان ملي امنیتي ځواکونو شتون کم دی ټولنو ته دځان د محافظت په برخه کې ورتیا ورکوي.[123] د محلي پولیس سرتیري د سیمه ایزو شوراګانو له لوري نومول کیږي او د ملي امنیت اداره یې څیړي، هغوی د سیمه ایزو پولیسو د مشر تر امر لاندې کار کوي خو دتوقیفولو صلاحیت نلري. هغوی د افغان ملي اردو، ملي پولیسو او د متحده ایالاتو د ځانګړیو ځواکونو له خوا روزل شویدي.[124]

د د 2012 د جون تر 30، د CFSOCC-Aیا په افغانستان کې دګډو ځواکونو د ځانګړیو عملیاتو د قومندې برخې په وینا سیمه ایزو پولیسو15,252 غړي درلودل چې له تیرې ربع یې 2,592 لوړوالی موندلی دی. له دې ډلې 14,507 بشپړه روزنه لیدلې وه، ګمال شوي وو او په دنده حاضر وو. موخه داده چې تر 2014کال پورې په 99 ولسوالیو کې او په کابل کې د دسیمه ایزو پولیسو په مرکزي قومندې کې ددوی شمیر 30,000 ته ورسیږي.د 2011 له اکتوبر څخه د 2012 کال تر جون پورې متحد ایالاتو د سیمه ایزو پولیسو د ملاتړ په موخه 59،7 میلیونه ډالر ومنل:[125]

- د CFSOCC-A له لارې به د معاشاتو د ورکولو او عملیاتو په موخه 44،0 میلیونه ډالر ولګیږي.
- د CFSOCC-A له لارې به په تجهیزاتو 3،1 میلیون ډالر ولګیږي.
- د NTM-A/CSTC-A له لارې به 12،6 میلیونه ډالر د معاشاتو او د خوړو په برابرولو ولګیږي (په الکترونیکي ډول د کورنیو چارو وزارت ته چمتو شوې)

## د متحده ایالاتو ځواکونه

د متحده ایالاتو ځواکونه- افغانستان یا USFOR-A د 2012 د جون تر 30، 87,000 سرتیري په دې هیواد کې خدمت کوي. له دې جملې 67,000 د ISAF په چوکات کې ګمارل شویدي، او 2,200 د NTM-A/CSTC-A یا د افغان ملي امنیتي ځواکونو په تجهیز، روزنې او پایښت کې د ناټو او متحده ایالاتو ګډ ماموریت په چوکاټ کې کار کوي.[126]

## د ناچاودېدلو موادو لیرې کول

له 2006 کال رادیخوا، د امریکا بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د تروریزم ضد، د ماین پاکي او د هغو د تکثیر دمخنیوی او ورته پروګرامونو لپاره 206.5 میلیونه ډالر چمتو کریدي.دا خبره د دغه

3.1 جدول

**د معمولو وسلو د له منځه وړلو د پروګرام سیستم، د 2011 کال اپریل—د 2012 کال د جون تر30.**

| د نیټې رینج یا لړۍ | د منځه وړل شوي AT/AP | د منځه وړل شوي UXO | د منځه وړل شوي SAA | پاکې کړل شوې پارچې | د ماینونو څخه پاکې کړل شوې سیمې(متر مربع) | د ماینونو څخه اټکل شوې ناپاکه سیمه (متر مربع) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 6/30/2011–4/1 | 4,043 | 68,542 | 481,877 | 6,259,343 | 6,799,279 | 612,000,000 |
| 9/30/2011–7/1 | 2,071 | 120,616 | 627,656 | 6,258,408 | 7,735,897 | 602,000,000 |
| 12/31/2011–10/1 | 2,616 | 88,998 | 449,589 | 13,376,738 | 13,097,574 | 588,000,000 |
| 3/31/2012–1/1 | 2,113 | 62,043 | 467,071 | 3,364,885 | 14,604,361 | 585,000,000 |
| **ټول** | **10,843** | **340,199** | **2,026,193** | **29,259,374** | **42,237,111** | **585,000,000 (پاتې)** |

یادونې: AT/AP = د ټانک –ضد / د پرسونل –ضد مهمات. UXO = نا چاودونکي مهمات. SAA = د وړو وسلو مهمات.

سرچینه: DoS، PM/WRA د سیګار د معلوماتي غوښتنې په ځواب کې، 6/27/2012

وزارت د وسلو د ضبط او زیرمه کولو د پوځي-سیاسي چارو د اداري یا PM/WRA له خوا خپره شویده.[127]

د 2012 د جون تر 30، DoS په مستقیمه توګه پنځو افغاني غیر دولتي موسسو، پنځو نړیوالو غیر دولتي موسسو او یو امریکا یي کمپنی (ډینا کورپ) ته په مستقیمه توګه بسپنه ورکړه ترڅو پایداره تصفیوي عملیات تر سره کړي، او د متروکو او خطرناکو وسلو د زیانونو د مخنیوي په موخه دي په خوندي ځایونو کي ځای په ځای کړي او د کمولو هڅي دي ورته وشي. ډینا کورپ چي له 2006 کال راهیسي شاوخوا 47.7 میلیونه ډالر په دغه برخه کي لاس ته راوړي، برسیره پر یادو شویو کارونو د پنځوافغاني غیر دولتي موسسو د سلاورکولو او څار مسولیت هم ور له غاړي دی (دغه موسسو له 2006 کال راهیسي 96.4 میلیونه ډالر لاس ته راوړي دي. د یادي شوي مودي په ترڅ کي نړیوالو غیر دولتي موسسو د امریکا له بهرنیو چارو وزارت څخه 54.8 میلیونه ډالر لاس ته راوړی، عامه انستیټیوتونو (لکه ملګري ملتونه او د ناټو د پروګرام ادارو) 1.6 میلیون ډالره تر لاسه کړیدي. او یوه بریتانیایي پوهنتون ته د وسلو د ځای پر ځای کولو او ماین پاکي فعالیتونو له لاري 0.7 میلیون ډالره ورکړل شول. د PM/WRA په وینا، د تصفیه کولو، لیږد او کمولو برسیره، دغه اداري لاندني فعالیتونه ترسره کوي:[128]

- د توکو د زیرمو د مدیریت په برخه کي ملاتړ کول
- د ماینونو د کشف سپیانو د اخیستلو په برخه کي مرسته کول
- د روزنیزو پروګرامونو له لاري د افغانانو د ظرفیتونو لوړول
- د سروېګانو ترسره کول
- د ځمکنیو ماینونو او د جګړو پاتي شویو چاودیدونکو توکو د پیښنو نه ژوندي پاته کسانو ته د خدمتونو چمتو کول
- د ماینونو او چاودیدونکو توکو د خطرونو په اړه عامه پوهاوی

د 2011 د اپریل له 1، د 2012 د مارچ تر 31، هغو ملګرو پلي کونکو چي له DoS څخه بسپنه اخیستي، له ځمکنیو ماینونو څخه 42.2 میلیون متره مربع سیمه پاکه کړیده، د اخبره له PM/WRA د وروستیو لاس ته راغلو اسنادو په بنسټ کیږي. شاوخوا 585.0 میلیون متره مربع ماین لرونکي سیمه تراوسه هم پاکه شوي نده، لکه په 3.1 جدول کي چي ښودل شویدي. PM/WRA د "مین سیمه " د هغه سیمه په معني تعریف کړي چه د ماینونو څخه ډکه وي او د "چاودیدونکو توکو څخه ډکه سیمه " د هغه سیمه په معني تعریف کړي چه هم د ماین او هم د جنګ د نـــــا انفجار شوو توکو څخه ډکه وي.[129]

## دمخدره موادو پر ضد مبارزه

د 2012 د جون تر 30، متحده ایالاتو په افغانستان کي د نشه یي توکو پر ضد د مبارزي لومړیتوبونو ته6.0 ملیارډ ډالر تخصیص کړي وو، دغه هڅي له 2002 کال راهیسي پیل شویدي. ددغو بسپنو ډیری برخه د دوو سرچینو له لاري تخصیص شوي وه: د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د نشه یي توکو د نړیوال کنټرول او قانون د نفاذ اداره یا INCLE له حسابه 3.6 ملیارډ ډالر لګول شویدي، او د دفاع وزارت د نشه یي توکو ضد فعالیتونو او د نشي د ممانعت بسپنه2.3 ملیارډ ډالر وه.[130]

## د کوکنارو له مینځه وړل

د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو د اداري یا UNODC په وینا، افغانستان د نړي د اپینو نږدي 90 سلنه تولیدوي.[131] د UNODC د 2012 کال د اپینو د زیانونوارزونه چي په اپریل کي خپره شوه، د اپینو په کر کي د زیاتوالي وړاندوینه کوي. په نهو ولایتونو کي چي ډیری په ختیځ او لویدیځ کي دي،

د کښت د زیاتوالي تمه کیږي: غور، هرات، کاپیسا، بادغیس، فراه، کنړ. ننګرهار، ارزګان او بدخشان. پنځلس ولایتونه چې ډیری په مرکزي، شمالي او سویل ختیځو برخو کې دي له کوکنارو پاک حالت کې ساتل شوي دي.[132] غور په 2011 کال کې له کوکنارو پاک وو، خو د دغه حالت ساتل د له منځه وړلو په هڅو پوري تړلي دي. کندهار او هلمند تر اوسه هم د ډیری کښت سیمې دي، که څه هم په کندهار کې د کموالي تمه کیږي، چې په 2011 کال کې 27,213 هکتاره ځمکه کرل شوي وه، په هلمند کې د کوم لوی بدلون تمه نه کیږي، چیرته چې تیر کال 63,307 هکتاره ځمکه کرل شوي وه – نږدې د ټول هیواد نیمایي برخه – همدلته کرل شوي وه.[133]

د تولید د کچې وروستنی اټکل به د له منځه وړلو له هڅو سره تړلي وي؛ په ډیری ولایتونو کې له مې راهیسي د والیانو تر مشرۍ لاندې عملیات روان دي. لومړني اسناد ښیي چې تر 10,000 ډیره سیمه د کوکنارو له کښت څخه پاکه شویده، له وروستی ارزوني وروسته ، د 2011 کال له همدغه مهال څخه 165% زیاتوالی په ګوته کوي.[134]

د مې په وروستیو کې UNODC له نشه یي توکو سره د مبارزې وزارت سره له 2012- 2014 کال پورې د افغانستان په کچه خپل پروګرامونه روښانه کړل. د 117 میلیونو ډالرو په احتمالي لګښت، دغه پروګرام په پام کې لري چې د نشه یي توکو ضد هڅو او د جنایي قضا د پیاوړتیا له لارې په ثبات او پراختیا کې ونډه ولري. دغه پروګرام په ځان کې څلور نور فرعي پروګرامونه لري: څیړنه، پالیسي او وکالت؛ د قانون نفاذ؛ جنايي قضا؛ او روغتیا او معیشت . UNODC د ملي لومړیتوبونو په پروګرامونو کې د نشه یي توکو پرضد هڅې تر تمرکز او پلټنې لاند نیسي تر څو ډاډمنه کړي چې د نشه یي توکو سره تړلي قضایا نه یواځې د امنیت او کرهنې په برخه کې تر پاملرنې لاندې دي بلکه د روغتیا او ښوونې او روزنې په برخو کې هم پاملرنه ورته کیږي. د ماخذ په اصطلاحاتو هوکړه شویده او د همغږۍ او پلټنې دګډې شورا د راتلونکې ناستې په اجنډا کې به شامله وي.[135]

## د اپینو بیه

د UNODC په وینا د 2012 کال د سروې راپور جوته کړه چې د اپینو 71% بزګران"د اپینو د خرڅلاو جګه بیه "د اپینو کر ته تر ټولو لوی لامل بولي (له 2011 کال سره په پرتله چې 77% ځواب ورکوونکو اشاره ورته کړې وه. په 2011 کال کې اپین د بزګرانو لپاره هله ډیره په زړه پوري شوه چې تر کلونو پریوتي نرخ وروسته بیه په ګرندۍ توګه لوړه شوه. حال دا چې، د ناقانونه کښت لکه کوکنارو او قانوني کښتونو تر منځ د بیو توپیر تل ډیر زیات وو. UNODC وویل چې په 2011 کال کې د کر کیلي په سیمه کې د یو کیلو اپینو بیه 196.59 ډالره وه چې دغه بیه په 2012 کال کې 183.38 ډالرو ته راولویده—د 7% یو منځنی ټیټوالی. د وچو اپینو لپاره دغه شمیره په 2011کال کې 256.21 ډالره وه چې په 2012 کال کې 254.39 ډالرو ته را ټیټه شو—چې تر1%. لږ توپیر ښیي.[136]

له 2011نه تر 2012 د غلو دانو نرخ د هغو دبیلابیلو ډولونو کښې له 3% تر 19%لوړ شویدي، دا حالت په لوړیدو دی، حال داچې د اپینو په ځای غلو دانو ته د بزګرانو د تشویق لپاره ډیر لږ څه شویدي. د UNODC په وینا په 2012 کې د غلي د هر کیلو تر ټولو لوړه بیه 1.17 ډالره ښودل شوي وه، په دوهم کتار کې غنم وو چې 0.45 ډالره یې نرخ وو. وریسي جوار وو چې نرخ یې 0.34. ډالر ښودل شوی دی.[137]

د اپینو کښت په بیلابیلو سیمو کې په بیلابیلو وختونو کې سرته رسیږي. په منې کې د افغانستان په مرکزي، شرقي، جنوبي او غربي سیمو کې کرل کیږي، په شمالي او شمال شرقي سیمو کې د پسرلي په مهال زیاتوالی پکښې لیدل کیږي. په خړوبو سیمو کې، افغان بزګران معمولاً غله په کال کې دوه ځله کري، او د اپینو یا غنمو تر ریبلو وروسته جوار ، وریجې ، سبزیجات او پنبه کرل کیږي. UNODC جوته کړې چې ځیني بزګران د دوبي له لومړي درمن وروسته د چرسو کر کیلي ته ملا تړي.[138]

## د سيګار پلټنې

سيګار د نشه يي توکو پر ضد افغان عملياتو کې هوايي ملاتړ ازمويي، تر څو هغه د متحده ايالاتو له لوري د ځوابي ملاتړ په موخه د چمتو شويو مرستو پراخوالی ښکاره کړي. او د نشه يي توکو پر ضد هڅو لپاره د يوه پايېدونکي هوايي ملاتړ د پراختيا لپاره پايله ولري. د لا زياتو معلوماتو لپاره، د دوهمې برخې 32 مخ وګورئ.

## د نشه يي توکو پرضد د افغانستان هڅې

اداري فساد، نا امني،او ضعيف قضايي سيستم د نشه يي توکو پر ضد هڅې په دوامداره توګه ضعيفوي، د DoD په وينا د معافيت د کلتور پراخوالی ددی لامل شوی دی چې د نشه يي توکو قاچاق ډېر وغوړيږي. د افغانستان د نشه يي توکو پر ضد د مبارزي ځانګړي پوليس يا CNPA او افغان ځانګړی د نشه يي توکو سره د مبارزي ځواک په هغو سيمو کې چې د طالبانو شتون پراخ دی، د ISAF په ملاتړ تکيه کوي.په ځانګړي توګه په جنوب او جنوب لويديځ کې چيرته چې د باغيانو او نشه يي توکو د تجارت تر منځ پياوړې اړيکه موجوده ده ډېر ارزښت لري.[139]

د UNODC د وينا پربنسټ، طالبان د نشه يي توکو پر قاچاقچيانو او بزګرانو د مالياتو له لاری له 100 تر 400 ميليونه ډالر لاس ته راوړي. په هلمند کې له اپينو لاس ته راغلي ګټې د باغيانو لپاره د بسپنې تر ټولو لويه سرچينه ده.[140]

د دفاع وزارت د وينا پر بنسټ، افغان حکومت له ISAF سره ګډ کار ته دوام ورکوي تر څو د CNPA ځواک زيات کړي، او هغه تخصصي واحدونه ورغوي چې د مخدراتو د پلي کوونکي اداري له لوري ورښودل شويدي.[141]

د 2012 کال د جون تر 30 ، CNPA د 2622 غړو ځواک درلود. د CSTC-A په وينا دغه ځواکونه د متحده ايالاتو، کاناډا، بريتانيا، فرانسې، ناروې، UNODC ، او په افغانستان کې د اروپايي اتحاديې د پوليسو ماموريت له خوا تر روزنې او سلا مشورې لاندې نيول شويدي.[142]

پدې ربع کې د UNODC په وينا، د جاپان او روسيې حکومتونو هغه يوکلن روزنيز پروګرام پيل کړی چې له مخې به يې د افغان ملي پوليسو د نشه يي توکو ضد ورتياوی لوړې شي. د جاپان له خوا تمويل شوی او د UNODC له خوا همغږی شوی پروګرام، چې د 2012 کال په سپتمبر کې يې د پيليدو تمه کيږي، د افغان ملي پوليسو غړو ته به د روسيې د کورنيو چارو وزارت په يوه مرکز کې تخصصي زده کړې ورکړي.[143]

## د عملياتو مخ نيوی

په دې ربع کې د دفاع وزارت په وينا، افغان ملي امنيتي ځواکونو له ISAF سره په ګډه په 112 ممانعتي عملياتو کې برخه اخيستې ده. په دغه عملياتو کې ګډې ګزمې، کمربندي او د پلټنې فعاليتونه، ګرفتاری او د ځار عمليات شامل دي. د هغو په پايله کې 111 تنه ونيول شول، او په لاندې شمير قاچاق کيدونکي نشه يي توکي ضبط شول:[144]

- 15,727 kg چرس
- 15,727 kg ترياک
- 1,176 kg مورفين
- 207 kg هيروئين
- له نشه يي توکو سره تړلي 16060 ډوله تړلي کمياوي مواد

پداسي حال کې چې په افغانستان کې د نشه يي توکو دستونزو کچه خورا لويه ده. لکه څنګه چې د UNODC د 2011 کال د ډيسيمبر په مياشت کې د اپيومو په اړه په سروې کې ښودل شويده، په افغانستان کې د اپيومو توليد په 2011 کال کې 5،8 ميليون کيلو ګرامو ته ختلی دی ، دغه شميره په 2010 کال کې 3،6 ميليون کيلو ګرامه وه، او د اپيوم د کر سيمه له 123000 هکتارو چې په 2010 کال کې ښودل شوې وه په 2011 کال کې 131000 هکتارو ته لوړه شويده.[145]

# حکومتداري

د 2012 کال دجون تردیرشمې پورې متحده ایالاتو په افغانستان کې د حکومتولۍ او اقتصادي پرمختیا څخه د ملاتړ لپاره له 22.3 میلیارډ ډالرو څخه زیاته مرسته کړې ده.[146] د هیواد ځایي فساد، د رسمي قضایي څانګه لړ کارکونه، د دولتي چارواکو چمتو کول او ساتنو په برخه کې ستونزې، او د بشري حقونو پایداره سپکاوۍ هغه موارد دي چې د یو ثبات لرونکی او پرمخ تللي افغان دولت جوړولو په لاره کې د متحده ایالاتو هڅې پېچلي کړي دي.

## کلیدي حوادث

دراپور ورکولو پدې موده کې، افغانستان د دوه اړخیزاو څو اړخیزو هوکړه لیکونو په لړ کې ځینې تعهدات کړیدي. د نورونوښتونو په څنګ کې، دا تعهدات لټول شوي دي ترڅود افغانستان خپلواکي بیا تصدیق کړي، د بریالی لیږد لپاره اړین ګامونه ترسره کړي، او د نړیوالې ټولنې راتلونکې تعهدات او مرستې ټینګې کړي.

## د متحده ایالاتو افغان د ستراتیژیکې مرستې هوکړه لیک

د 2012 کال د مې په دوهمه افغانستان د متحده ایالاتو پایداره مرستو لپاره، د افغانانو په خپل راتلونکې ولکه راوستولپاره د لیږدپروسې پارامټرونه چمتوکول، او په هیوادکې د امریکایي بریدونو لپاره د محدودیت رامینځته کولو په موخه، د اوږدمهاله ستراتیژیک ملګرتیا یوتړون لاسلیک کړ.[147] د 2012 کال د جون په دریمه ملي شورا هوکړه لیک تصویب کړ.[148]

دواړه هیوادونو د حکومتولۍ د پرمختیا په ګډون یو شمیر تعهدات ترسره کړل چه د هغه ډلې څخه لاندې په ګوته کولای شوو:[149]

- افغان حکومت ومنله چې د اوږدمهاله ملګرتیا لپاره د ډیموکراسۍ او بشري حقونو ساتنه بنسټیزه ونډه لري.
- افغان حکومت لوز وکړ چې د خپلو ټاکنو بهیر پیاوړی او پرمختللی کړي.
- افغان دولت هوکړه وکړه چې د خپل اغیزمنتیا او ګټورتوب زیاتولو په لوري به د پام وړ ګامونه پورته کړي، او د یو خوځیدونکی او متحرکه مدني ټولنې څخه د ازاد و رسنیو په شمول ملاتړکوي.
- افغان دولت وویل چې په ټولنه کې د ښځو حقوق ا و پرمختللې ونډې څخه ملاتړ وکړي.
- متحده ایالاتو لوزوکړچې د افغانانو لومړیتوبونوپه پام کې نیولو سره د ظرفیت لوړولو، خود کفایي، او ګټورتوب په ډګر کې د افغان دولت څخه څپل ملاتړ جاري ساتي.

- متحده ایالاتو او افغانستان په ګډه پریکړه وکړه چې د دولت تر څنګ " موازي تشکیلات" به له مینځه وړي، لکه ولایتي بیارغوني ټیمونه(PRTs) او ولسوالیو څخه ملاتړکوونکي ټیمونه(DSTs).

## نورې ستراتیژیکې هوکړې

د 2012 کال د جون په اتمه، افغانستان چین سره یو تعاوني او ستراتژیک ملګرتیا رامینځته کړ، چې دواړه خواوې به خپلې هڅې پراخوي. د 2001 کال څخه وروسته چې بیارغونه پیل شوې ده، د چین ونډه په افغانستان کې د طبیعي زیرمو د پرمختیاپه برخه کې پانګه اچونه ده. دواړه ملتونه هوکړه وکړه چې په ځینې نورومسایلو کې هم یو بل سره مرسته وکړي لکه سرحدي امنیت، د ناروغیو کنټرول، د ناورین څخه مخنیوی، د مخدره توکو قاچاق، زده کړه، غیرقانوني مهاجرت، ډاراچونه او دوه اړخیزه سوداګري. دا راز چین لوز وکړ تر څوپه 2012 کال کې د افغان دولت سره 23.8 میلیونه ډالر مرسته وکړي.[150] په افغانستان کې د ملګروملتونو د مرستې هییت (UNAMA) په وینا ښایي دا خبرتیا په راتلونکې کې د چین ډیره ونډه اخیستنه څرګنده کړي. [151]

پدې ربع کې، افغانستان د استرالیا او جرمني هیوادونو سره هم د ستراتیژیک ملګرتیا تړون لاسلیک کړ. جرمني لوز کړې ده چې له 2014 کال څخه وروسته به د کلنۍ امنیتي مرستې لپاره 150 میلیون یورو چمتوکړي.استرلیا لوز وکړ چې 2015 کال څخه تر 2017 کاله پورې د پرمختیایي مرستې په بنه هرکال 100 میلیونه ډالرمرسته وکړي.همدارنګه [152] افغان حکومت اعلان کړې ده چې غواړي له ترکیې هیواد سره هم یو تړون لاسلیک کړي. [153]

## د ټوکیو کانفرانس

د 2012 کال د جولای په اتمه، افغانستان د متحده ایالاتو په شمول له یو شمیر نړیوالو ملاتړکونکوسره په ټوکیو کې وکتل او د پرمختیا، حکومتولی او امنیت اړوند په ځنیې اصولو موافقه وشوه. د حکوتولی په باب هوکړې د نورو نړیوالو کانفرانسونو سره ورته وې. افغان حکومت او نړیواله ټولنه به د پرمختیا او حکومتولی پنځه لویې ساحې چې د ټوکیو په کانفرانس کې موافقه شوې وه د ځینو معیارونو په کارولو سره تر څارنې لاندې نیسي. افغان حکومت به د معیارونو لپاره یو مهال ویـــــش چمتو کوي. ګډون کوونکو هوکړه وکړه چې تعقیبي ناستې به هردوه کاله وروسته د وزیرانو په کچه، او هرکال به دعالیرتبه چارواکو په کچه، او په ډیره لږه موده کې به د افغان ـ ملګروملتونو ترمشري لاندې د ګډې همغږۍ او څارنې کمیټې په ملاتړ ترسره کیږي.[154]

## **بیاپخلاینه او یوځای کیدنه**

د 2012 کال د جون تر دیرشمې پورې، د افغان دولت او جنګیالیو ګروپونو تر مینځ د بیا پخلاکیدنې په خبرواترو کې د پام وړ کوم پرمختګ ندی شوی. د بیاپخلاکیدنې خبرې اترې تفصیلات په منظم ډول ترتیب شویدي.[155] د ملګروملتونو عمومي منشي راپور ورکړ چې د حزب اسلامي په استازیتوب یو پنځه کسیزپلاوی د 2012 کال په اپریل کې د سولې عالي شورا او ولسمشر کرزي سره وکتل. دا جنګیالی ډله د 17 مادو په بنه یو پلان کې خپلې غوښتنې څرګندې کړې وې خو د مې په 12، د متحده ایالاتو سره د

ستراتیژیک ملګرتیا تړون لاسلیک کولو باندې د اعتراض په موخه بیرته وځنډوله. طالبانو هم دا هوکړه لیک وغندله، خو د یوخبرتیا په خپرولو یې ټول پوځي او سیاسي واکونه پرانیستې پریښې ؤ.[156]

## د سولې عالی شورای

د 2012 کال د اپریل په 14، ولسمشر کرزي صلاح الدین رباني د سولې عالي شورا د مشر په توګه د هغه خالي ځای ډکولو په موخه وګومارله چې د اورپکو لخوا دده پلار، د سولې عالي شورا پخوانی مشر او د افغانستان پخوانی ولسمشر برهان الدین رباني، د 2011 کال په سپټمبرکې ووژل شو.[157] د ملګروملتونو عمومي منشي په نښه کړه چې دا نوی ګومارنه به دسولې چارو ته نوی ځواک وبښي.[158]

د 2012 کال د می په 13مه، د سولې د شورا یو بل پخوانی مشر، مولوي ارسلا رحماني، ووژل شوو. دی د طالبانو پخوانی وزیرؤ چې د بیاپخلاینې بهیرسره یو ځای شوی ؤ ؛دده د وژنې پړه چا په غاړه نده اخیستې.[159]

**افغانستان دسولې اوبیا یوځای کیدلوپروګرام:** د سولې د پروګرام سره د ناباندو بیا یوځای کیدلو د پروګرام د مدیریت او پرمختګ لپاره د افغان حکومت بنسټیزپروګرامونه. دا به د طالبانوغړو او ددولت – ضد نورو خواوته موقع ورکړي تر څو جګړه پریږدي او د افغاني ټولنې تکړه او فعال غړي شي. دا پروګرام همدا رنګه د پرمختیايي فرصتونو په څنګ کې سولې ته هم وده ورکوي تر څو پروګرامونه نور هم په زړه پورې جوړ کړل شي. دا به د یو ګډ دارلانشا او نړیوال امنیتي مرستندوی ځواکونو (ایساف) په استازیتوب د ادارو ترمینځ یو بین- الاداري جوړښت لخوا پلي شي.


سرچینې: UNDP– افغان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام څخه د UNDP ملاتړ، 5/21/2011 ؛ایساف، "APRP." لاس ته راغلې ده 7/17/2012 .

## د افغان د سولې او د بیاثبات پروګرام

پدې ربع کې د بیایوځای کیدلو پروګرام لړسست شوی دی. د 2012 کال داپریل له لومړي څخه د جون تر 19 پورې، افغان د سولې او بیایوځای کیدلو پروګرام (APRP)، 583 کسان بیایوځای کړي چې پدې سره دپروګرام شمیر4.673 ته رسیږي لکه چې په 3.28 شکل کې ښودل شوې ده. وروستۍ ربع کې، APRP 919کسان بیایوځای کړي.[160]

3.28 شکل


د APRP تر مشري لاندې بیا یوځای شوي، 2012–2010




سرچینې: د سیګار معلوماتي غوښتنې ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب، 7/5/2012، 3/30/2012، 12/30/2011، 10/6/2011، 7/1/2011، 4/15/2011، او 1/12/2011

۳.۲۹ شکل

د ځايي يا سيمه ايزې قوماندې په اساس د سولې له پروګرام سره بيا يو ځای شوي کسان، 2011 ډيسمبر- 2012 جون




يادونه: د 2012 په مارچ کې د RC– شمال نتايج ځکه کم شوي وو چې مشترکه دارلانشا په سرپل کې نږدې 250 مخکې ثبت شوي کسان بې صلاحيته کړي ؤ.

سرچينې: د سيګار معلوماتي غو ښتنې ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب، 7/5/2012، 3/30/2012، او 12/30/2011

لکه په تيرودريو مياشتنيوکې، ددې بيايوځای شوو ډيری برخه د شمال او لويديځ څخه راغلي ول، لکه چې په 3.29 شکل کې ښودل شوي ده. په ځايي قومانده سهيل کې يوازې څلور جنګيالي د سولې له پروګرام سره بيايوځای شويدي. د 2012 کال د جون تر پنځمې پورې، د APRP ګډ رياست ادعا کړې ده چې د 1.138 نورو کانديدانو سره د بيايوځای کيدلو لپاره خبرې اترې رواني دي.[161]

## په محلي کچه د ملکي ژوند سره د يوځای کيدو پروسه پرمختګ

د بهرنيوچاروورازت په وينا(DoS)، ددې ربع په ترڅ کې په سيمه ييزه کچه د APRP په کارونو کې کافي پرمختګ شويده. پرمختللي روزنې، غوره پلان جوړونه، وده موندلې بهيرونه، او غوره رهبري په لاسته راوړنوکې ونډه درلودل. د راتلونکې لمريز مالي کال لپاره (1391) ولايتونه هم د APRP پلانونو په پلي کولو کې پر مختګ کوي. په هر صورت، د بهرنيوچارو وزارت ويلي چې د پروګرام په پلې کولو کې د هر ولايت د ولايتي ګډ دارالانشا ټيمونو(PJST's) وړتياوې د هغو ستونزو له امله چې په سهيل او ختيځ کې ادامه لري، توپير کوي. دې انديښنې ته درسيدګې لپاره، ګډ دارلانشا د PJSTs لپاره د ظرفيت لوړولو غونډو ته ادامه ورکوي.[162]

د 2012 کال د جون په 18، د دفاع وزارت(MoD)، د ملي امنيت رياست(NDS)، د داخلي وزارت (MoI)، د سيمه ييزو ارګانونو خپلواک رياست(IDLG)، او د APRPs ګډ دارلانشا يو ګډ

فرمان لاسلیک کړ چې له مخې به یې هر ولایت پخپله د بیایوځای کیدلو پلان پلي کوي. ګډه دارلانشا، د سولې عالي شورا، د افغانستان ملي امنیت شورا، او د اغیزمن شوی ولایت والي باید هر ولایتي پلان تصویب کړي. ددې فرمان څخه وړاندې، ولایتي پلان جوړونه متناقضه ؤ.[163]

## په سهل کې د سولې د پروګرام سره بیایوځای کیدنه

دا ربع په کندهارکې، د سولې ولایتي شورا (PPC) او PJSTد کړنو په اړه دمعلوماتو په نتیجه کې، ګډ دارلانشا ا و د سولې عالي شورا په ګډه پریکړه وکړه تر څو په راتلونکي ربع کې له ډیروبې ثباته ولسوالیو څخه کتنه وکړي لکه ژیړی، پنجوایي او میوند. د بهرنیوچارو وزارت ویلي چې دا کتنې د سیالوقبایلوترمینځ د سیاسي سمون لاسته راوړو لپاره مرسته کوي تر څو د طالبانو لپاره د ملاتړو په کچه کې کمي رامینځته شي. ګډ دارلانشا ژمنه وکړه چې د PJSTپرمختیایي منصبدارو لپاره به د ظرفیت لوړولو ورکشاپ چمتو کړي.[164]

د بهرنیو چاروزارت په وینا، دولایتونواوولسوالیو په کچه د APRP غړو لوړظرفیت او د APRP ملي رهبري لخوا د بیایوځای کیدلوځینې نا اغیزمنو غړو بدلولو له امله پدې ربع کې د بیایو ځای کیدلو پروګرام په هلمند کې پخ خوثابت ؤ.[165]

## په ختیځ کې د سولې او ملکي ژوند سره د یوځای کیدو پروګرام

په ننګرهارولایت کې له کومه ځایه چې ولایتي چارواکي د APRP څخه ملاتړ نه کوي، د شورشیانوپه بیا یوځای کولو کې ډیره لاسته راوړنه نده شوې. د ولایت والي ډیرځلې په څرګند ډول د بیایوځای کیدلو مخې ته دریدلي ده. که څه هم دراپور ورکولوپدې دور کې د بیایو ځای کیدلو له بهیرسره لږمخالفت ښودلي ده خو بیاهم د بهرنیو چاروزارت په وینا د APRP څخه یې دپام وړ ملاتړنده کړي. همدا دا په نښه کړې ده چې PPC په لږه کچه کارکوي اود امنیتي ستونزو له امله دولایت سرحدي ولسوالیو ته ندي تللي. په هرصورت، PJSTښه ځلیدلي او د تولنې رغولو پروژې یې په ګوته کړیده.[166]

په خوست کې، PJSTاو PPCپه پوره توګه رامینځته شویدي. پدې ربع کې، PJSTد معلوماتو تبادلې لپاره منظمې کتنې اود امنیتي ځواکونود سکورټ چمتوکولو له لارې یې د افغان امنیتي ځواکونو (ANSF) سره خپل همغږي ته وده ورکړې ده . داکارونه د PJST لپاره دا شونې کړه چې د یوله لاسه وتلې پیښې لپاره د تیرزایي بې ثباته ولسوالی څخه کتنه وکړي.[167]

پدې ربع کې، پکتیا د لومړي ځل لپاره د نهوجنګیالیود بیایوځای کیدلو مراسمو کوربه ؤ. پیښه په سیمه ییزتلویزیون کې خپره شوې وه. د بهرنیوچاروزارت په وینا، ددې ولایت بیایوځای کیدلو پروګرام کمزوری ؤاو داچې بیایوځای شوي کسانو تر اوسه د بیایوځای کیدنې رسمي شرایط لکه د ژوندبشپړ معلومات او د بیایوځای کیدنې کارډ اخیستل، نه ؤ ترسره کړي.[168]

پدې ربع کې دپکتیکا PPCاو PJST وده نه درلودې. د بهرنیو چارو وزارت په وینا د PPC مشرغیرحاضرؤ او د ګډ دارلانشا څخه د لګښت یا تمویلي پیسو د تر لاسه کولو په برخه کې ستونزې وې.[169]



**پخواني یاغیان چمتوالی** نیسي ترڅو د غور ولایت په مقام کې د سولې د پروګرام سره د یوځای کیدو په ویاړ د جوړې شوې غونډې په ترڅ کې خپلې وسلې د نوموړي ولایت ښاغلي ولي ته وسپارئ. د دفاع وزارت تصویر، (LTJG Joe پنتر )

## د بیا یوځای کیدنې لپاره د وړتیا پرمختګ

د بریالی بیایوځای کیدنې لپاره، د ځایي او ملي بیایوځای کیدنې پروګرامونو چلولو په موخه د APRP د وړتیاو پرمختګ اړین دی. په 2010 کال کې دپروګرام له پیل څخه وروسته، د ډیروستونزوسره مخ شویده، لکه د روپې په لګولو کې، په بې ثباته سیموکې دبیایو ځای کیدنې پرمخ بیول، د تعمیراتي ظرفیت پراختیا او د ځایي چارواکود ملاتړلاسته راوړل. افغان حکومت او نړیواله ټولنه د APRP دظرفیت لوړولو لپاره ډیرکارونه کړیدي تر څو د بیایوځای کیدلوپروګرام ته وده ورکړي او په ښه توګه اداره یې کړي.

### د بیایوځای کیدلو پروګرامونو مالي اداره

د بهرنیو چارووزارت د وینا په اساس APRP د 1391 لمریزکال (د 2012کال دمارچ له 21 څخه د2012کال د ډیسمبرتر31 پورې یواځې دیو ځل لپاره نه -میاشتې درلودونکې "کال " تر څو په افغان مالي کال کې له بدلون سره توافق وکړي )، 123.7 میلیونه ډالر بودجه لري.[170] ددې بودجې څخه 50 میلیونه ډالر د متحده ایالاتو لخواچمتوشوی ؤ.[171] ددې ربع په سرکې، د مالیې وزارت د مالي څارنې کمیټه د APRP'sکلنی بودجه، ددریو همکاروزارتونولپاره د ټولنې بیایوځای کولوپروګرامونوڅخه دملاتړلپاره کلنی پلان، او د MoD، NDS، MoIاو IDLGحجروي بودجې منظورې کړې. د بهرنیو چارووزارت په وینا ددې وزارتونو بودجو منظوري به د ټولنې بیایو ځای کولو پروژې ګړندي کړي.[172]

د ټولنې بیایو ځای کولو پروژې ښه چلونه دګډ دارلانشا په وینا داسې وي چې دوه زړي مخالفین د APRP سره یو ځای کیدلو ته اړایستل شي. د بهرنیو چارووزارت وایي چې ګډ دارلانشا ټولې کومې اندیښنې چې په لومړیو درې میاشتنیو کې د PJSTs بودجې تر اغیزې لاندې راوستې وې، له مخه لرې کړي دي. برسیره پردې، د ولایتونو په کچه د غیر قانوني لګښتونو بیلګې لږې شوي دي.[173]

د ګډ دارلانشا په وینا، د 2012کال د اپریل تردیرشمې پورې پروګرام یواځې د خپلې بودجې درې سلنه یا 3.2 میلیونه ډالر مصرف کړې ده.د 2012کال د جون تر دیرشمې دا څرګنده نه وه چې د لګښتونو ګامونه به ګړندي شي که څنګه. په هر صورت، د بهرنیو چارووزارت تمه لري چې لګښتونه په راتلونکي میاشتوکې د پام وړ زیاتوالی ومومي ځکه چې مخکې په افغان مالي کال کې ټول لګښتونه ا و عملي پلانونه منظورې شویدي. د تیر کال بودجې او پلانونه د ډیسمبرترمیاشتې د مالي کال تر درې ربعو پورې نه وې منظورې شوې.[174]

### د ټولـــــــــنې د ستـــــنونې پروګرامونه

ګډ دارلانشا بیایوځای کیدلوپروګرام ته د یومخالف د غوښتنې او د انتقالي مرستولاسته راوړلو تر مینځ واټن کم کړیده. د 2012کال دجون تر دیرشمې، په ډیر ولایتونو کې د لنډمهالې ملاتړ لپاره خوندي کورونه نیول شوي دي، او له 1.700 څخه بیایو ځای شوي کسانود بیایو ځای کیدلو مرستندویه بسپنې له لارې چمتو شوي پروژوکې په کار بوخت دي. د 2012کال تراپریل، د 47.000 څخه زیات د ټولنې غړي او بیایو ځای شوي کسانو د APRPپه مرستو له پروژو څخه ګټې اخیستې دي. په اپریل کې، د بیایوځای کیدنې بسپنه ورکوونکو د مینځني کچې او پخوانیو قوماندانانو سره د مرستې لپاره چې د لیږد لوړ لګښت لري، یو پکیج پروګرام منظور کړیدي.[175]

په سهيلي او ختيځه سيمو کې پاتې کيدونکی ناامني دې سيمو کې د بيا يوځای کيدلو پروګرامونه له ستونزو سره مخ کړيدي ؛په هرصورتکې د بهرنيو چاروزارت په وينا دليکي وزارتونو ته امرشوې تر څو په 1391 لمريز کال کې دې سيموته لومړيتوب ورکړي. [176]

**بيايوځای کيدلو څخه د افغان ملي امنيتي ځواکونو ملاتړ**

د 2012کال جون په 18 يو ګډ فرمان لاسليک شوی چې له مخې به يې، په کومو ولايتونوکې چې د بيايو ځای کيدلو پروګرامونه پلي کيږي، د ANSF مسؤليتونه هم زياتيږي تر څو د APRP سره همغږي وکړي او وده ورکړي. دا فرمان ANSF ته لارښونه کوي ترڅو د بيايوځای شويو، قومي مشرانو، ديني علماؤو او د PPC غړو د امنيت په چمتو کولو کې کاروکړي. دبهرنيوچاروزارت تمه لري چې د بيايوځای کيدلو څخه دغوره ملاتړلپاره ANSF ته فرمان ورکړ شي.[177]

د راپوررکولو پدې دور کې، افغان ملي پوځ(ANA) د APRP څخه ملاتړلپاره دوه نوي فرمانونه ورکړي دي. د لومړي فرمان په بنسټ د افغان ملي پوځ د ديني او کلتوري چارو څانګه به د APRP اړوند ANA پرسونل ته روزنه ورکړي. دويم فرمان د ANA قوماندانانو څخه غواړي ترڅو پخپلو پلانونو او عملياتونو کې APRP ته ځای ورکړي. نړيوال امنيتي مرستندوی ځواکونه(ISAF) د روزنيزوچارو له لارې ددې نوي فرمانونو څخه ملاتړکوي. د بهرنيوچاروزارت په وينا د هغو ولايتونو په پلان جوړولو دريمه برخه کې چې امنيتي چارو يې ANSF ته سپارل شوي دي، ګډ دارلانشا يو کليدي ونډه درلوده.[178]

## د بيايوځای کيدلوڅخه د متحده ايالاتو ملاتړ

متحده ايالاتو په کابل او ولاياتوکې د بيايو ځای کيدلو له روزنيزو چارو څخه ملاتړکوي. پدې ربع کې، ايساف خپلې معاينې ته ادامه وکړه تر څو ومومي چې د افغانستان بيايوځای کيدلو په بهيرکې دPJST ظرفيت لوړلو پروګرامونولپاره د متحده ايالاتو بسپنې عملي دي که څنګه.د متحده ايالاتو ايساف پرسونل د ګډ دارلانشا په مشري له روزنو سره په منظمه توګه مرسته کوي. په ولايتونوکې، د متحده ايالاتو ملکي او پوځي پرسونل د PJST ظرفيت لوړولو او د پروژې پلي کولو په برخو کې خپلو ملاتړو ته ادامه ورکوي. داراز پدې ربع کې، USAIDد APRP څخه دملاتړلپاره خپل پرسونل ته يو لارښود خپور کړ.[179]

## ملي او نيمه ملي حکومت داري

پدې ربع کې، د سولې لپاره بسپنه، يوه خپلواکه، غير-انتفاعي څيړنيزاو ښوونيزه اداره، د اتم ځل لپاره د ناکامو دولتونوکلنی لست خپورکړ، چې په 177 هيوادونو کې افغانستان د اخري طرف نه شپږم مقام درلود. دا لست 110 څخه زيات سياسي، ټولنيزاو اقتصادي شاخصونوپه پام کې نيولو سره چمتوکيږي. دسولې لپاره بسپنه پنځه لاملونه په ګوته کوي چې دافغانستان په بې ثباته کولو کې ونډه لري: د امنيت نشتون، د پياوړي سياسي خوځښتونو افراطي ګام، د مرکزي دولت واک نه درلودل، د لومړنيو خدماتوپه چمتوکولوکې د دولت پاتې راتلل، او په کليوالي سيمو کې کمزوری پرمختيا.[180]

## د ټاکنو چمـــــــــــتوالی

د متحده ایالاتو د ستراتیژي یوه مهمه موخه داده چي په راتلونکي کي د بریالیو ټاکنو ترسره کولو لپاره د افغان حکومت ورتیاؤ ته وده ورکړي. پدې ربع کې، DoSپه نښه کړه چي دافغانستان د ټاکنو اساسي اداره، د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) خپل ظرفیت ته وده ورکړې ده. متحده ایالاتو د دوه اساسي چینلونو له لارې د IEC پرمختیا څخه ملاتړکوي: د USAID او د ملګروملتونو پراختیایي پروګرام د سبا لپاره قانوني او ټاکنیزظرفیت ترنامه لاندې پروژې، II فاز؛ لخوا پروګرام شوې ملاتړ. په 2014 کال کې دیو بریالی ولسمشري ټاکنو ډاډینه کول، د بهرنیو چارووزات په وینا، افغان دولت په ټاکنیزسیستم کې ځینو بدلونونو ته اړتیالري :[181]

- ملي شورا ته اړینه ده چي د ټاکنو او IEC لپاره نوي قوانین تصویب کړي ترڅو په ټاکنیزو تاسیساتو کې خپلواکي پیاوړي شي.
- د شمیرني او فهرست جوړوني بهیرونه اړتیا لري ترڅوډیر د اعتباروړ، دقیق او چټک نتایج چمتوکړي .
- د رای ورکوونکي ثبت او پیژندلو لپاره یو لندمهاله د حل لاره اړینه ده ترڅود رای ورکولوورړاو خوندي ځایونه په نښه شي، درای ورکولو په مرکزکي پیژندني ترسره شي او په سیستم باندي اعتماد ته وده ورکړل شي.

پدې ربع کې، IEC د ټاکنو قانون یو مسوده د بیاکتني لپاره د عدلیې وزارت(MoJ) وړاندي کړې ده. د IECپه وینا، په مسوده کې د IEC's واک ته درغښت او طرزالعملي بدلونونه، د ټاکني اداري او ټاکني سیستم لپاره تخنیکي او عملیاتي جوړونه، او د ټاکنیزو شکایتونو لپاره د رسیدني یو قانوني او اغیزمنه لاره په پام کې نیول شوي دي. [182]

## د ټاکني پروژې څخه د USAID ملاتړ

د 2012 کال د جون له پیل څخه دجون تر 28، USAIDد ټاکني بهیر پروژې څخه د ملاتړ لپاره نږدې 71.1 میلیونه ډالرمرسته کړې ده. د USAIDپه وینا، د افغان حکومت ټاکنیزاو اداري ظرفیت لوړلو لپاره په لاره اچول شوې پروژه د 2012 کال تراپریل پورې په بشپړه یا نیمګړې توګه خپل 91% موخو ته لاسرسي موندلي ده. د پروژې غړي د 12.000 څخه زیات ټاکنیزوچاروکوته د شکایتونو ته رسیدنه، د رای اچوني او شمیرني تګلارې، اداره او مشرې، تدارکات او لوجیستیک، د شتمنیو اداره، اغیزمن اړیکه نیوني، کامپوټر وړتوبونه او د ټیلیفوني – مرکز عملیاتونو په اړه روزني ورکړې. برسیره پردې، د پروژې غړي 9.905 کسان چي 56% یې ښځې وې د رای ورکوونکي سپارنه او ښاري زده کړې اړوند روزني ورکړې. USAID وایي چي د STEP پروژه د IEC اوږد مهاله ظرفیت لوړ کړې ده ترڅو یو خپلواک او د اعتباروړ ټاکنه ترسره کړي. [183]

## ملي شورا

د2012 کال داپریل په 22، ولسي جرګې د مالي کال لپاره چي د مارچ په 21پیل شوی ؤ، د ملي بودجې څلورمه مسوده تصویب کړه. DoSویلي چي پدې مسودې کې ډیرډپام وړ ټکې داو چي د کابل بانک بیاشتمن کولو کې د حکومت ونډه له 80 میلیونه ډالرو څخه 65 میلیونه ډالرو ته ښکته شوې وه. د نورو

### د سیګار پلټنې

په 2009 کې، سیګار سپارښتنه وکړه چي د یو وړ او پایداره ټاکنیز سیستم په جوړولو کې د یوستراتیژیک پلان پرمخ بیولو لپاره متحده ایالاتو د افغان دولت چاړواکو سره مرسته وکړي. د تفصیلاتو لپاره، دسیګار09-6 پلټنه، " د افغان ټاکنیزظرفیت د پاینښت لپاره اړین ستراتیژي او زیرمې، " په www. sigar.mil ویب پاڼه کې وګورئ.

بدلونونوپه څنګ کې، د IDLG بودجه 31 میلیونه ډالرزیات شوې وه تر څو ولسوالانو ته د ګاډو بندو بست وکړي او د شورا بودجه 31.8 میلیونه ډالرزیات شوې وه.[184] پدې ربع کې د ولسي جرګې څخه تصویب شوي قوانین د ملګروملتونو عمومي- منشي په وینا د ملکي هوانوردی او د قضایي تاسیساتو سمول په پام کې نیولی ؤ. [185]

**د افغانستان سره د USAID پارلماني مرستي پروګرام**

د USAIDپه وینا، دافغانستان لپاره دپارلماني مرستي پروګرام (APAP) د ملي شورا څارنه، څېرونه او قانون جوړوني وړتیاو ته وده ورکړې ده. د 2012په می کې، د APAP په مرسته، ملي شورا یوه انترنیټي څارنه ترسره کړه. همدا رنګه پروګرام د شورا سره مرسته وکړه تر څو دخپلې بودجې اړوند څارنو ته وده ورکړي په ځانګړې توګه د تیرو کلونو لګښتونو لپاره. برسیره پردې، دا پروګرام شورا دې ته هڅولې ده تر څو کوم وزیرانو چې د 40% څخه لږه بودجه مصرف کړی وي، ترپوښتنې لاندې راولي.[186]

همدارنګه APAP د ولسي جرګې سره د ښځو حقوقوپورې اړوندو مسایلوکې مرسته کړې ده. د 2012 کال د جون په 17، د ښځود چارو کمیټه د APAP په مرسته د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي تر عنوان لاندې یو کانفرانس جوړکړی ؤ. کمیټې څېرنه وکړه چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په کچه کې زیاتوالی راغلي ده او حکومت په پرله پسې ډول د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي له مینځه وړلو قانون په پلې کولو کې پاتې راغلي ده. کمیټې هوکړه وکړه چې د 1392 لمریزکال دبودیجې له قانوني کیدلو څخه وړاندې به د یادشوی قانون دپلې کوونکي وزارتونو له کړنو څخه به پراخه کچه څارنه وکړي. څارنه به د ښځو او ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه د مخنیوی پروګرام لپاره ځانګړې شوی ځایونو باندې تمرکز کوي.[187]

## د PRT او DST ملاتړاو لیږد

متحده ایالاتو په عین موده کې چې د امریکایی پوځ څخه امنیتي چارې افغان امنیتي ځواکونو ته لیږدول کیږي، د ولایتونو څخه خپل ملکي وګړي هم راټولوي. د امنیتي چارو د لیږد سره په عین مهال کې، ځیني PRTs پلان شویدي تر څو په راتلونکي درې میاشتنیو کې وتړل شي. د 2012 دجون تر30، DoS پلان کړې ده تر څو د 2014 کال څخه وروسته په کابل کې د متحده ایالاتوسفارت او څلور سیمه ییز مرکزونه لکه هرات، مزارشریف، کندهاراو جلال اباد د خپل ملکي وګړو شتون وزغمي. د هرات قونسلګري د 2012په مارچ کې پرانستل شوې ؛ او پاتې نوربه د 2014 کال تر پایه پورې پرانستل شي.[188]

## د ولایت او د ولسوالی په کچه حکمت

په سهیل او ختیځ کې پر بې ثباته سیمو باندې دافغان حکومت ولکه د بدلون په حالت کې دی. په ثبات لرونکي سیمو کې دولت له ډیرواک څخه برخمن دی. په بې ثباته سیموکې دولت یاخو د مخالفو ډلو سره سیالي کوي یاهم هیڅ شتون نلري. پدې سیمو کې طالبانو کله هم، په خلکو باندې د ریښتوني واکمنې ښکارندوی کوي. دا برخه د بیلابیلو ولایتونو وضعیت په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.


## خوســــــــــت ولايت

د DoS په وينا، په خوست کې د مخالفو ډلو اغيزه دولسواليو په کچه توپير کوي. مخالفې ډلې په سهيلي سيمو لکه سپيرا، موسی خيل، قلندر، دوامنډه او شمالي سيمو لکه نادرشاه کوټ کې د پام وړ ځواک څخه برخمن دي، لکه چې په 3.30 شکل کې ښودل شوې ده. په ځينونوروسيموکې لکه باک، سباري او تيريزای ؛ مخالفې ډلې د واکمنی لپاره د دولت سره سيالي کوي، احتمالا مخالفين پدې سيموکې پټ چاروکي ګومارلي دي. د خوست په مرکز او شاوخوا سيمو کې مخالفين محدود کنټرول لري، که څه هم اورپکي لاکولی شي په ښارکي دننه خلک تهديد کړي.[189]

پدې ربع کې، د خوست PRT د ليرد بهير او ستراتيژيک ملګرتيا هوکړې څخه د ملاتړ لپاره کارکړی دی. همدارنګه PRT د ولايتي چارواکو په لګياکولو مرسته کړيده چې د 1391 لمريزکال پرمختيايي بودجې مصرف زياته کړي، تر څو ډاډه کړي چې ولايتي چارواکي د بودجې پوهه لري او دې ته يې وهڅوي چې د بودجې اړوند مسايل پر وزارتونو اغيزواچوي. د DoSپه وينا، د ولايت والي او نور کليدي چارواکي د خوست پرمختيايي پروژې په اړه چې د کابل څخه اداره کيږي، معلومات ترلاسه کړي او همدارنګه ددې پروژو په پلي کولو کې معتدلې ګټې لاسته راوړې دي. برسيره پردې، PRT دولايتي تسهيلاتي شرکت سره مرسته کړيده چې ولايت ته په بنيادي توګه د بريښناچمتوکولو لپاره د نغلو انتقالي ليکو څخه ګټه واخلي.[190]

3.30 شکل

ولايتي کنټرول : خوست




سرچينه: د سيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتني ته د بهرنيو چارو وزارت ځواب


## ننګـــــــرهار ولايت

د DoSپه وينا، د ننګرهار ډيری برخه ددولت په ولکه کې ده، که څه هم د ولايت په ځينې واړه، بيل شوي کلو او ليرې پراته سرحدي سيمو کې د طالبانو لخوا ګومارل شوي چاروکي هم تر سترګو کيږي. طالبان د لويديځو ولسواليو لکه حصارک، شيرزاد، او د خوګيانی ډيری برخه ولکه په لاس کې لري، لکه چې په 3.31 شکل کې ښودل شوې دي. همداراز د پاکستان سره په سهيلي او ختيځه پوله کې د طالبانو ګومارل شوی چارواکي په کاربوخت دي.[191]

پدې ربع کې د ننګرهار والي د نهو ولسواليو پوستونه له سره ټاکلي دي. د DoS په وينا، د ولسوالانو بدلونه د ننګرهار ولايت د سياست يو نه بدليدونکی برخه ګرځيدلې ده. دا بدلوني په ولايت کې د واليانولخوا د ځواک مرکزونوله جوړولو څخه مخنيوی کوي، همدارنګه حکومت بې ثباته کوي او د PRT's ناصح او سلاګرې دندې ته منفي تاوان اړوي. پردې سربيره، د اورپکو لخوا وژني حکومتولي لاهم پسې کمزوری کړې ده. د 2012 کال د مارچ او جون تر مينځ دري قاضيان ووژل شول، او مخالفې ډلې په نالمنو سيمو کې د ولسوالانو وژني ته ادامه ورکړې ده.[192]

3.31 شکل

ولايتي کنټرول : ننګرهار




سرچينه: د سيګار7/5/2012معلوماتي غوښتني ته دبهرنيو چارو وزارت ځواب.

## پکتيکـــــــــاولايت

د DoS په وينا، افغان حکومت په پکتيکاکې لږ ترلږه په ډيروولسواليو باندې يو څه ولکه لري. په هر صورت، اورپکو د ځايي خلکو تهديدولو ته ادامه ورکړې دي، او پاکستاني پولو ته نږدې د بلوچستان او وزيرستان سره سرحدي سيمو کې د دولت لږشتون لري، لکه چې په 3.32 شکل کې ښودل شوې ده. لږترلږه د ولايت په دې برخه کې دوو ولسواليو باندې مخالفې ډلې ولکه لري. اورپکي په پرله پسې توګه افغان چارواکو ته په ټول ولايت کې "شبنامې "خپروي، چې دوی ته اخطارورکول کيږي ترڅو په دولت کې دنده ترسره نکړي.[193]

د DoSپه وینا د افغان ځایي پولیسو هڅي په ختیځ او لویدیځ کي وضعه یو څه ښه کړېده، چي ځایي چاروا‌کو ته دا موقع ورکوي ترڅو په ازاده توګه سفروکړي او ددې سیمو له خلکو سره لیده کاته وکړي. که څه هم د امنیت ښه وضعیت د ښووني چاروا‌کو ته زمینه برابره کړېده چي ښوونځی بیا پرانیزي، په ځانګړې توګه کومه سیمه کي چي ځایي پولیس شتون لري، خو د ښووني چاروا‌کو ورستی سفرونه د مخالفینو له وژونکي بریدونو سره مخ کیږ ي. د 2012 اپریل څخه وړاندې، قاضیان یواځې د ولایت په مرکز شرنه کي ول. وروسته بیا، په توپیر سره، شپږ قاضیانو دوه نور ولسوالیو ته سفروکړ. په هرحال، دا ولسوالی مدافع وکیلان نلري او څارنوالان یې لږدي د عملي قضایي سیستم اساسي برخي چي یواځې د قاضیانو شتون بي ګټي کوي.[194]

Tپډې ربع کي، د پکتیکا PRT خپلې هڅي زیاتي کړي تر څو د قبایلو مشران او حکومت ترمینځ اړیکه ټینګه کړي. PRT په بریالی توګه د قضا رییس دې ته وهڅوله چي د ولایت له مرکز څخه د باندې سفروکړي او له قبایلي مشرانو سره وګوري. دا اړیکي د دوه نوي حقوقو (د مدني قانون ولایتي دفتر) ګومارل کیدولامل شو، چي د تاوتریخوالو د حل دودیزې لارې لپاره میکاینزمونه سره نښلوي. همدارنګه PRT عامه روغتیایي خدمتونو کي په لومړني توګه پراختیاراوستلو په مرسته د ځایي چاروا‌کو سره مرسته کړې ده تر څو زیاته پراخوالی ومومي. DoS په ښه کره چي د ولایت د کرهني رییس په بندیخانه کي دی. ځکه نو PRT او PRT هوډوکړ تر څود ولسوالیو دکرهني استازوسره کار وکړي.[195]

ولایتي کنټرول : پکتیکا




سرچینه: د سیګار 7/5/2012 معلوماتي غوښتني ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.


## پکــــــتیاولایت

د ټول پکتیا په څپاره کلو کي په زرمت، ځاځي، جاني خیل او احمد خیلو کي د طالبانو تر سیوري لاندې حکومت په اغیزمنه توګه شتون لري، لکه چي په 3.33 شکل کي ښودل شوې ده. په زرمت کي، د ټول ولسوالي په کچه دطالبانو محکمي په کاربوخت دي. ولایتي مشرتابه ډیرځلي نه خوښوي ترڅو د ایساف ځواکونو څخه پرته لیرې پراته سیمو ته سفروکړي.[196]

د DoS په وینا، د پکتیا PRT د منظمو کتنو په مرسته د ولایتي کلیدي چاروا‌کو سره ټینګې اړیکي لري. پډې ربع کي، PRT د ځایي چاروا‌کو سره په یو ګډ ولایتي ستراتیژي باندې کارکړې ده چي کلیدی رییسانو او چاروا‌کوته دا وړتیا وربښي چي د بهرنی مرستي څخه پرته خپل حکومتولي او پرمختیایي هڅي رواني وساتي.[197]

3.33 شکل

ولایتي کنټرول : پکتیا




سرچینه: د سیګار 7/5/2012 معلوماتي غوښتني ته د بهرنیو چارو وزارت ځواب.

## د هلمند ولایت

د DoD په وینا، افغان حکومت په عمومي توګه هلمند کي اغیزمن دی.[198] که څه هم د DoS په وینا، شمالي ولسوالی لکه نهر- سراج، موسی قلعه، او نوزاد په پرله پسي توګه د تاوتریخوالي بریدونوڅخه اغیزمن کیږي. د متحده ایالاتو- افغان پوځي عملیاتونه اثردرلودل. د بیلګي په توګه، د یونوی پوځي عملیات څخه وروسته، په کچکي کي د کلي مشرانو کلونو څخه وروسته د لومړي ځل لپاره بریالی شول تر څو دولسوالی مرکزته سفروکړي او له ولسوال سره وګوري.[199]

د وده موندلي ثبات یوه اندازه داده چې د ولسوالي چارواکي ډېرځلي د سړک له لارې سفرکوي. پدې ربع کې، دولتي چاروکوتوانیدل چې د ولایت دمرکز له لارې ان په شپه کې سفروکړي. د حکومتولی ظرفیت هم وده موندلي د ه. د DoD په وینا، د هلمند سیند په مرکز کې د یوې درې چاروکي په بودجه او د حکومتولی بریالی استازیتوب کې خپلواکي ښودلي ده. [200] نوداچې، IDLG د 2012 کال د مې په اتمه د نهرسراج ولسوالی ټولیزه شورا لپاره په بریالی توګه ټاکنېترسره کړې. د 4.000 څخه زیاتې رایې اچول شوې وې، چې د هلمند په یو د ډېرو ناامنو ولسوالیو کې د 90% خلکو ګډون ښیي. [201]

### د کندهار ولایت

د DoD په وینا کندهار دحکومتولی مناسبه کچه لري. کندهار ښار د حکومتولی دظرفیت پراخوالی لیدلي ده ؛قضایي څانګه په چټکه توګه پراخیږي، ډېرې محکمې ترسره کیږي، اوپراسنادو ولاړې ټګلارې وده مومي. د DoD په وینا، ځایي حکومت د اړتیاوپه پیژندنه او پرمختیایي بودجې کې بریالیتوب لري، خو د بودجې په لګولو کې لاهم ستونزې شته دي.[202] DoS وویل چې د کندهارولایت چاروکي کولی شي په ټول ولایت کې وګرځي اوډېر ځلي د ایساف پرځای د ANSF امنیتي پرسونل څخه کاراخلي. [203]

## د عامه اداري لپاره د متحده ایالاتو ظرفیت - لوړولو پروګرامونه

متحده ایالاتو د وزارتونو، ځایي او ولایتي چاروکو او مدني خدماتو د کارونو پرمختیالپاره د افغان حکومت ظرفیتونو ته د ځینې پروګرامونو په مرسته وده ورکوي. دا فرعي برخه ددې هڅو ځینې ترڅیړنې لاندې نیسي.

### د USAID نیمه – ملي حکومتولي پروګرام

د 2012 کال دجون تر28، USAID د نیمه- ملي حکومتولی پروګرام لپاره داقتصادي مرستوبودجې څخه نژدې 12 میلیونه ډالر مرسته کړې ده. USAID ویلي ده چې که څه هم دا پروګرامونه د ولایتي شورا دظرفیت لوړولو کې مرسته کړېده، خو بیاهم دا شوراوې د USAID مرستې څخه پرته نشي کولای خپلي اجزاوې لاسته راوړي یا وچلوي. افغان دولت همدارنګه اړتیالري ترڅو د ولایتي شورا قانون چمتو او تصویب کړي. پروګرام د شوراو سره مرسته کړیده چې په منظمه توګه عامه خیرونې ترسره کړي، دولایتي پرمختیا پلان چمتوکړي، څارنه ترسره کړي، اود حکومت حساب ورکوني ته وده ورکړي. په هر صورت، د امنیت نشتون، نیمګړې برابرشوي چوکاټونه، د زیرمو نشتون، او په لوړه کچه مرکزي شوی حکومتي جوړښت، دا ټول د پروګرام غړو له دې څخه لرې ساتلي چې یو بشپړ دنده ترسره کوونکی، خود- کفا شوراوې جوړې کړي. داسي انګیرل شوی ؤ چې پروګرام به د2012کال د جولای په 31 پای ته ورسیږي خو د خبرتیاپه مهال USAID پدې کارکوله چې د2013 دسیپتمبرتر30پورې وځنډوي.[204]

### دافغانستان ملکي خدماتو څخه د USAIDملاتړ

پدې ربع کې، USAIDویلي چې دده افغان ملکي خدماتو پروژه (ACSS) د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون په کارونوکې د پرمختګ لامل شوی ده. (IARCSC) د دې درې میاشتنۍ ترپایه پورې، ACSSد پنځو معمولو دندو په اړه یو معیاري کوریکولم چمتوکړې، او16.000 څخه

زيات ټولنيزو خدمت کوونکوته په ملي او نيمه – ملي کچه ددغو دندو په اړه روزنه ورکړي ده. د ACSS په مرسته، IARCSC ځيني ودې لاسته راوړي دي:[205]

- د 108.000 څخه زيات کسان د وړوالي- پربنسټ په دندي ګومارل شوې دي.
- د 88.000څخه زيات کسان د معاش او رتبې تر سيسټم لاندي استخدام شوي دي
- د 11.000 څخه زيات لومړني او 200 زيات پخوانيو خدمت کوونکو د کارونو ارزونه ترسره شو.
- په کابل کي د اتو وزارتونو، او دريو ولايتونو د تخنيکي ظرفيت ارزوني بشپړي شوي

د USAID په وينا، ددې لاسته راوړنو برسيره د پروګرام په وړاندې سترګواښونه شته دي. د امنيت نشتون په پرله پسي توګه د افغانانو په دندي ګومارل له خنډ سره مخ کوي. همداراز، د ښځو د خوځيدني په وړاندې محدوديتونه او د ښځو د زده کړې ټيټه کچه د وړو ښځو ګومارل له خنډ سره مخ کوي. [206]

د 2012 کال د مارچ تر 20، USAID د ACSS پروژو لپاره نږدې 237.1 ميليونه ډالر مرسته کړيده. د 2012 کال د مارچ په 20، پروژه يو افغانی- ښنتن په – بودجې پروګرام ته وسپارل شوچي د USAID بسپني کاروي. افغان حکومت د روانو مرستو لاسته راوړلو لپاره د 23 محکونوسره مخامخ کيدوته اړتيا لري.[207]

## مالي اداره او بوديجه ورکول

افغانستان د سم مالي ادارې په برخه کي محدود وړتيا لري. د 2012 کال دجون تر30، مالي راپورونه يواځې د ځينو مواردو لپاره چمتو شوې وې. خزاني د ماليې وزارت سره کارکوله ترڅو د ليکې رياستونواو PRTs ته راپور په معياري ډول ورکړي، او د افغان مالي ادارې معلوماتي سيسټم څخه زياته ګټه واخلي.[208]

افغانستان په پرله پسي توګه د خپل پراختيايي بودجې په لګولوکي ستونزې لري. په 1390 لمريزکال کي د خپل پراختيايي بودجې يواځې 53% مصرف کړې و، د عملياتي بودجې په پرتله چې 96% مصرف شوی ؤ.[209] لکه چې دسيګار په پخوانيو درې مياشتنيو راپورونوکي ويل شوي، د بودجې – په مصرف کي سختي د يو لړ ستونزو څخه پيل کيږي، چې درې ستري يې پدې ډول دي: [210]

- د پروژو د مديريت او پلي کولو لپاره د تخنيکي ظرفيت نشتون
- د تدارکاتو ګران او اوږد مهاله بهير
- د پرمختيايي پروژولپاره غيرواقعي او افراطي بودجي

خزانه د افغان بودجې چاروکو سره مرسته کوي تر څو د بودجې اغيزمني کاروني لپاره د حکومت ظرفيت ته وده ورکړي. ددې مرستي په لاندې ډول دي :[211]

- د بودجې رياست او بهرنيوبسپنه ورکوونکو سره کارکول ترڅو هغه پروژې چې په خارجي توګه د بسپنه ورکوونکو لخوا اداره کيږي، په ملي بودجه کي ځای ورکړي.
- د ماليې وزارت ظرفيت پياوړی کول ترڅو د پرمختيايي بو دجې فارموليشن او په کاراچونه اداره کړي او د پايښت اټکلونوته وده ورکړي.

- هغې کچې ته وده ورکول چې د ولایتونو کلنی بودجه د ولایتي چارواکو لومړیتوبونه جوته کړي.
- په لیکه وزارتونوکې د مالي مدیرانو د ظرفیت لوړولو لپاره پروګرامونوته وده ورکول
- هغو ستراتیژیو ته وده ورکول چې د عملیاتي دندو لپاره په بسپنه ورکوونکو لخوا بودجه ورکړشوې غړو باندې د بودجې ریاست ډاډ لر شي.
- د نغدو پیسو د صدور لپاره د سهامي پالیسي اړوند د بودجې د ریاست سره موافقه ترسره کول.

خزانه همدارنګه د خپلو وزارتونو داخلي پلټني ترسره کولو لپاره د حکومت سره مرسته کوي. خزانه د مالیې وزارت د داخلي پلټنې ریاست سره کارکوي ترڅویو اغیزمن داخلي جوړښت ترسره کړي او د پلټني یو معیاري بهیر رامینځته کړي. پدې ربع کې، د څلورو وزارتونو لپاره د ارزونې او عایداتو-پروسې پلټنې پای ته ورسیدلې. د نوروپنځو وزارتونولپاره تعقیبي پلټني او د وتنې کانفرانسونه بشپړې شوې.[212]

پدې ربع کې، د داخلي او عامه چارو وزارتونه په موقتي ډول خپل د ارزونې او عایداتو – بهیر پلټنې درولي دي. په هر صورت، وروسته له هغې چې خبرتیاخپره شوه چې د نه-قبلونې وړ راپورونه خپریږي، دوی ومنله چې په پلټنې باند ې کارپیل کړي او بلاخره پای ته یې رسولي دي.[213]

## قضایي سمون اود قانون حاکمیت

داغیزمن او ډاډه عدالت د وړاندې کولو په برخه کې د افغان حکومت وړتیاوې د افغانستان د یوه ولایت څخه تر بل پورې توپیر لري. کلیوالي او بې ثباته سیمې د یو عمومي کمزوری قضایي سیستم څخه ځوریږي چې ځایي ملکي او جنایي تاوتریخوالي په اړه د روغې کولو او فیصلې کولو وړتیا نلري. په رسمي قضایي سیستمونوکې چارواکې ځینې وختونه غیررسمي سیستمونو ته د دوسیې په لیږلو سره فیصلې ځنډوي. د اسیاموسسه په خپل وروستی سروې کې ومونده چې د افغانانولږاکثریت خپلې دوسیې دمحکمې په ځای محلي جرګه یا شورا ته وړاندې کوي، او ددې دودیزو چارواکو فیصلو ته ډیر درناوی لري. په هر صورت، دا چارواکې ښځو او لږکیوته هرکله درناوی نه کوي او ان کله هم د دوی په وړاندې له تاوتریخوالي څخه کاراخلي.[214] د مخدره توکودمخنیوي او قانون پلي کولولپاره د متحده ایالاتونړیواله اداره(INL)د رسمي اوغیررسمي قضایي سیستمونو ترمینځ د ټینګو اړیکو ولاړولو په موخه د سولې انستیټیوټ پروژې لپاره بسپنه چمتوکوي، ترڅو ټول افغانان نارینه اوښځې عدالت ته لاسرسي ولري. په ځانګړې توګه، د نوي پروګرام له لارې INL هڅه کوي ترڅو معلومه کړي چې څنګه ښځې د عدالت طبیعي منظرې لاربنوونه کوي، ترڅو په نتیجه کې یې لاسرسی وده ومومي. پروګرام د ښځو د حقوقو وده ورکولو لپاره د اسلامي اصولو څخه ګټه اخلي.[215]

د قاضیانو، وکیلانو او د محکمې چارواکو وړتیا او پوهه د هیواد په کچه سره توپیر کوي. د ټولو وکیلانو څخه توقع کیږي چه لږترلږه د لیسانس سند ولري. قاضیان باید یو سند او دوه کاله د سند څخه- وروسته روزنه ترلاسه کړې وي. په عملي بڼه کې، وکیلان او قاضیان هرکله دا معیارونه نــــشي پوره کولای. ځینې بیسواده دي ؛ډیر چارواکې پدې لانه پوهیږ ي یاملاتړ نکوي چې تورن د مدافع وکیل نیولو حق لري.[216]

**غیررسمي قضایي سیستم :** ځایي میکانیزمونه د هغو سړو لخوا کارول کیږي چې د تاوتریخوالو د هوارولو لپاره د دودیزو تجربو څخه کاراخلي، په شمول د پښتنو اداري قانو ن چې د

**جرګې، پښتونولي او شورا په نومونو یادیږي :** کوم اصطلاحات چې د پښتنو لخوا کارول کیږي (جرګه ) او نورې (شورا) د دودیزو ټولنو لپاره یا سلاکاري شوراو لپاره چې پریکړې کوي او عدالت پلي کوي. دا غیر رسمي جوړښتونه، د ټولنې له ګومارل شویو کسانو څخه چمتوشوی، ګډون کوونکي اواستازیتوب کوونکي غړي لري خود لویدیځ - بڼې ډیموکراسي سره سمون نلري.

سرچینه: CRS، "افغانستان: سیاستونه، ټاکنې، او حکومتولی کړنې،" 6/5/2012. 49 .2 pp.

فساد او د جنايي پېښو ملاتړ کوونکي شبکې پر قضايي سيستم منفي اغيزه کړېدي. دې مسايلو ته د افغان چارواکو د رسيدني په اړه تعهد او ورتيا د قانوني واک سره سم توپير کوي . د راپورونو په اساس ځيني څارنوالانو او قاضيانو د تورنو څخه د لکيدلو تورونو په اړه د بډو او رشوت د اخيستلو غوښتنې کړې دي.[217]

اورپکي، مجرمين، او نور قضايي چارواکي تر هدف لاندې نيولي دي. د وژنې تهديد له امله، INL د متحده ايالاتو مارشال سيستم د قضايي امنيت ځانګې څخه ملاتړ کوي، چې دلوړ- پوړ درلودونکي تاسيساتوکې د کليدي قضايي چارواکو امنيت په ساحه او سفرکې چمتو کوي. که څه هم د 2012 کال د جون تر 30 د نوي پوستونو لپاره کسان ندي توظيف ياروزل شوي، د ځانګې رسمي غړو شمير په نږدو کې زيات شوي تر څو په پروان او کندهارکې خپل کارونو ته پراختيا ورکړي. [218]

## ټاکل شوي بهير او د افغان واقعي اداره کولو سيستم

د افغان واقعي اداره کولو سيستم پلي کول (CMS) هغه ستونزې په نښه کوي چې تجربه کوونکي د قضايي سيستم ټاکل شوي- ريکارد په بهيرکې مخ کيږي. CMS يوډيټابيس دی چې جنايي پيښې د تحقيقاتو څخه تر سزا او چې محکمې غوښتنې تر څارنې لاندې نيسي. متحده ايالات د CMS په پلي کولو کې د افغانانو سره مرسته کوي. د 2011 کال مارچ څخه د 2012 ترمارچ پورې، CMS5.540 نوې جنايي پيښې په کابل کې ثبت کړيدی. يوه بياکتنه وموندله چې، په 20% پيښو کې د ټاکل شوي پروسې په بهير کې له تاوتريخوالي څخه کاراخيستل شوی ؤ، په شمول دهغه دوسيې چې په قانوني وخت کې محکمې ته وړاندې شوی نه ؤ او هغه مدعي عليه چې له فرمان څخه پرته په توقيف کې ساتل شوی ؤ. JSSP د پيښې- اړوند ستونزو ته درسيدنې لپاره کارکوي، او ناوخته شويودوسيو لپاره يو پلان چمتوکوي ترڅو د قضايي تاسيساتو پام ورته واړوي او په بيړه فيصله وکړي. د INL's عدالت ځانګې څخه د ملاتړ پروګرام (JSSP) د افغان چارواکو سره کارکوي ترڅو د دوسيو روڼوالي او اداري ته د وده ورکولو لپاره د CMS موندنو څخه کټه واخلي، چې پدې سره به د فساد څخه مخنيوی وشي. د 2012 په جون کې، JSSP په هرات ا و بلخ کې د CMS پراخولو ته پيل وکړ.[219]

## د لوی څارنوالي دفتر

د DoS په وينا، افغان لوی څارنوال د 2012 کال مې په اتمه، د لوی څارنوالي لپاره يو اوږدمهاله ستراتيژي تصويب کړه د دفتر لپاره يو ه لويه لاسته راوړنه. دا اسناد د 2012–2016 کلونه په برکې نيسي او د موخو په ښه توګه سرته رسونه اسانه کو ي. همدارنګه د لوی څارنوالي دوسيوپه معياري ډول منظم کولو لپاره يو نوښت پيل کړی ده. DoS په نښه کړه چې دا سيستم په لوی څارنوالي کې منل شوي بنې پربنسټ جوړيږي او همدا رنګه ددې پلي کول به د دوسيو کيفيت د هيواد په کچه لوړه کړي. [220]

## د ملي لومړيتوبونو پروګرام

پدې ربع کې افغان حکومت او نړيواله ټولنه د قانون او قضا اړوند ملي لومړيتوبونو پروګرام د يو شمير برخو په اړه بياکتنې ته ادامه ورکړه. افغان حکومت او نړيوال ملاترکوونکې يې د کابل نړيوال کانفرانس 2010 کې پدې موادو هوکړه کړې ؤ.پروګرام د حکومتولی، پرمختيااو امنيت اړوند کليدي مسايل په

### د سيګار پلټنې

د 2009 کال په پلټنه کې، سيګارومونده چې، د افغانستان قضايي امنيت سره د متحده ايالاتو مرسته په ډيروخنډونو کې ناهمغږی او پرته له ستراتيژ يک لاسرسی څخه وي.په کابل کې د متحده ايالاتو سفارت اوس د قانون حاکميت پورې اړوندو پروګرامونو لپاره يو همغږی کوونکی لري. د تفصيلاتو لپاره، د سيګار 3-10 پلټنه وګورئ، "د متحده ايالاتوقضايي امنيتي مرستې ته د ستراتيژيک نږدې کيدنې لپاره اړين ګامونه" په www. sigar.mil ويبپانه کې.

برخه کې لري. د قانون ا و عدالت بیاکتنې په اداري جوړښتونو او عدالت ته د لاسرسي درلودلو تمرکز کړي ؤ. د ملګرو ملتونو عمومي- منشي په وینا، یوناما او نړیواله ټولنه به کاروکړي ترڅو د پولیسو او قضایي څانګو په خاصه بیا لوی ځارنوالي تر مینځ د همغږي رامینځته کولو لپاره یوه ستراتیژي جوړه کړي.[221]

## د جنايي کړنلارو قانون

د 2012 کال جون تر دیرشمې پورې، ملي شورا د جنايي کړنلاروتازه قانون ندی تصویب کړی. د DoS په وینا په تیر ربع کې، د عدلیې وزارت(MoJ) تقنین ریاست د جنايي کړنلارو قانون یو اصلاح شوې مسوده د پارلماني چارو وزارت ته وړاندې کړ، کوم چې ملي شورا ته د وړاند ې کولو چارې په غاړه لري. قانون د 2009 کال څخه دیخوا د بیاکتنې لپاره په پام کې نیول شوی ؤ او بیلابیل قضایي مسایل لکه د توقیف کړنلارې، د پلټنې معیارونه، د ګواه خوندي ساتل، د مرستندویو تورنو او بدیلونو اداره کول په توقیف کې، په دواړو حالاتو کې د محکمې څخه د مخه او د محکومیت څخه وروسته.[222]

**تقنین:** د عدلیې وزارت په چوکاټ کې د قانوني مسودې جوړولو څانګه ده چې دنده لري تر څو د قوانینو مسوده په ځیر سره وګوري. د عدلیې وزارت په وینا، د ټولو قوانیونو مسود ې باید د تقنین له لورې په پوره توګه وڅیړل شي تر څو د اساسي قانون سره جوړښت، اسلامي قانون او د نړیوالو هوکړه لیکونو سره چې افغانستان ورته ژمن دی، چیک کړي.

سرچینه: د عدلیې وزارت، "د قانوني مسودو ریاست، " د انټرنېټ په لیکه لاسته راغلی 7/17/2012.

## د متحده ایالاتو د قانون حاکمیت پروګرام جوړونه

په افغانستان کې د یو پیاوړې قضایي څانګې پرمختیا د متحده ایالاتو د بیارغونیزو هڅو یو لویه برخه جوړوي. د 2006کال څخه د 2012 کال جولای تراتمې، متحده ایالاتو د قانون حاکمیت او د مخدره توکو – ضد پروګرامونو لپاره شاوخوا 1.8 میلیارډه ډالرمرسته کړیده. د INL's اصلي قضایي پروګرام JSSP دی. دا پروګرام چې په 2004 کې پیل شوی ؤ، د2012کال جولای تراتمې د 14.000 څخه زیاتو پلټونکو، ځارنوالانو، مدافعو وکیلانواو قاضیانو ته روزنه ورکړې ده.[223]

### د متحده ایالاتو لخوا د عدلي سکتور د ملاتړ پروګرام

پدې ربع کې، JSSP د 1.400 څخه زیاتو مدافعو وکیلانو، ځارنوالانو، قاضیانو او د مدني ټولنې غړو ته روزنې ورکړي دي. د روزنې موضوعات پدې ډول ؤ، جنډر قضاوت، د محتاجو او حساسو موکلینو لپاره د مدافع نماینده درلودل، تدارکات، اداره او بشري حقوق. همدارنګه JSSP د عدلیې وزارت سره یو ځای د بشري حقوقو قراردادونو مسوده جوړول او پرمختیا په اړه دیو ورکشاپ کوربه ؤ. برسیره پردې، JSSP د شتمنیو او اجازه لیکونو ثبت په اړه د عدلیې وزارت سره تخنیکي مرسته کړېده. د 2012 کال جون تر30، د JSSP وکیلانو متحده ایالاتو، افغان اودریم هیواد ملیت درلودونکي 149 کسان ؤ.[224]

### د USAID د قانون د تحکیـــــم د نقش پروګرام

ددې ربع تر پایه پورې، د USAID's لخوا دقانون حاکمیت باثباته کولو پروګرام د قضایي او قانوني ډلو لپاره لاندې ظرفیت ـلوړولو ملاتړې چمتوکړې دي :[225]

- 353 قاضیانو ته روزنه ورکړ شوې ده ؛موخه 300 ؤ.
- د ملت له 1.607 څخه 1.292(80%) قاضیانو د دودیزقضایي پړاو پروګرام بشپړ کړي.
- 52 محصلین د محکمې د څیړنې وړ کارونوکې ګډون درلود ؛موخه 45 کسان ؤ.
- د پروګرام عامه خبروني کمپاین له لورې 27% افغانانو ته رسیدنه شوې ده ؛موخه 27% ؤ.

سره له دې چې دا لاسته راوړنې شوې دي، خو USAID په نښه کړه چې په ختيځ کې د پروګرام پلي کولو غيررسمي برخو په وړاند ي لاهم امنيت يو ه لانجه ده. په شمال کې، امنيتي بنسټ ويجاړشوی، چې د پروګرام وړتيا د پيښو ترسره کولو لپاره کمزوری کوي او د افغانانو وړتيا پروګرام ته دحاضرېدلو لپاره کموي. برسيره پردې، د 2012په مې کې، د کندهار والي د پروګرام غيررسمي برخې غوښتنه د ځايي شبکو ناستې لپاره ونه منله.[226]

د 2012کال جون تر28، USAID د پروګرام له رسمي برخې سره 32 ميليونه ډالرو څخه زيات او د پروګرام له غيررسمي برخې سره 11 ميليونه ډالروڅخه زياته مرسته کړېده. دا اداره تر اوسه د غيررسمي برخې دوامداره مرستې قرارداد نه ده منظوره کړې.[227]

USAIDپه نښه کړه چې د قضايي سکتور د ورقو پربنياد د پيښو اداري سيستم د هيواد له 551 محکمو او ديوانونو څخه (د ستر ې محکمې فرعي محکمې ) په 485 هغو کې منسجم شويدي (88%) او په ټولو محکمو کې د دوسيو څارنو لپاره يو اغيزمنه وسيله شوې ده.[228]

**د افغان قضايي پراو پروګرام له نوي فارغ شوي محصلينو سره مرسته کوي ترڅو د يو قاضي په توګه کاروکړي. دا پروګرام چې په 1968 کال کې د ستر ې محکمې لخوا پيل شوی ؤ، د فرانسې قضايي سيستم په بنه پرمختللی قضايي روزنه ورکوي. په 2010 کې، دا پروګرام فارغينوته د لا زياتې روزنې او عملي وړتياوې په برخه کولو لپاره له يو کال څخه دوو کلونو ته زيات شو.**

سرچينه: USAID/افغانستان، "دښځونيونې مرکزونو پراو، " 8/22/2011.

## د فساد پرضد مبارزه

فساد يو له ډېرو درېدونکو او خورامهمو ستونزو څخه دی چې افغانستان ورسره مخ دی. پدې ربع کې، د فساد او چل کولو په اړه د څارنې او تحقيقاتو ډېر په لار اچول شوي هڅې له ډېرو ورته ستونزو سره مخ شويدي چې په ټول هيوادکې د بيارغونې بهير له خنډ سره مخ کړېده. دا پداسې حال کې ده چه افغان حکومت د فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې يو څه پرمختګ ښودلی ده، لکه د لوړې -کچې او اوږد – مهاله فسادونو پروړاندې درېدل، د فساد –ضد غوښتنوسر ه ډېره همغږې ښودل، او د فسادپه وړاندې د افغان ملي امنيتي ځواک لخوا ډېر تعرضي ګامونه پورته کول.

### د ځانګړوپيښو کميټه

د DoD په وينا، پدې ربع کې، د افغان – نړيوال ځانګړو پيښو کميټه د داود خان ملي پوځي روغتو ن په فساد دوسيې کې لاس لرونکي کسانو په څارنه او تحقيق کې پڅ خو په دوامداره توګه پرمختګ درلود. د 2012 کال جون تر30، دا د پنځو دوسيو په بياکتنه کې بوخت ؤ، چې درې دوسيې بيا د دفاع وزارت د حقوقو رياست ته د رسمي پلټنو لپاره واستول شو. دا دوسيې په لوړپوړوپوځي چارواکوتمرکزکوي او د کابل په تسهيلاتو کې غلاشوي تيل او د درمل بې قانونيو ته په سرکې پاملرنه کوي. د DoD په وينا، متحده ايالاتو د افغانستان سره خپل کارته دوام ورکوي ترڅو د تورن جنرال يفتلي اود جنايي شبکې نورو ښکيلو کسانو په تحقيق، څارنوالي او محکومولو کې پرمختګ وکړي.[229] DoSپه نښه کړه چې افغان د څارنې او فساد –ضد عالي ادا ره د يفتلي شبکې پورې اړوندې دوسيې AGO ته استولې دي.[230] DoD وويل چې دوسيې به له غوښتل شوې وخت څخه زيات ونيسي، خو تر اوسه پورې يفتلي او نور لږ ترلږه د روغتو ن له مشرې پلاوې څخه ګوښه شوې دي.

د يفتلي پلټنه په ځانګړې توګه له مجاهدينو سره دده- دوره او د ځواک ماتونکوسره دده اړيکه چې پردولت يې زورکړې ترڅو پلټنې پای ته ورسوي، د پاملرنې وړ دي.[231] د DoS په وينا، د SCC's له ونډه اخيستلو څخه پرته دا مشکوکه بريښيده چې افغان دولت په يواځې ددې دوسيې ډېرې برخې بشپړ کړی وای.[232]

**د ځانګړو پيښو کميټه (SCC) د 2012په جنوري کې وروسته د هغه چې AGO د ډيرو مخکنيودوسيو په سمه څارنه کې پاتې راغی د افغان او نړيوال ګډ ميکانيزم په بڼه جوړ شوی ترڅو په مهمو عامه فساد پورې اړوندو پيښو کې د AGO هڅو ته لارښونه وکړي. د نړيوالوسلاورکوونکو (د متحده ايالاتو پرسونل په شمول) ونډه داده چې ترڅو د AGO سره مرسته وکړي چې کومې دوسيې ته بايد ځانګړې پاملرنه وکړي او که چيرې شواهد وي د څارنې څخه د ملاترلپاره د تحقيق او څارنوالي په برخه کې زيرمې وکاروي. برسيره پردې، نړيوال سلاکاران د AGO سره مرسته کوي ترڅو خپلې پلټنې او تعقيبي ستراتيژۍ ډيزاين کړي. همدارنګه دنړيوالې ټولنې له ونډه اخيستلو څخه موخه داده چې AGO مرسته وکړي ترڅو د هغو معلوماتو څخه چې نړيوالې ټولنې سره دي، ګټه واخلي.**

سرچينه: د سيګار 7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځواب.

پدې ربع کې، SCC د کاپيسا ولايت پخوانی والي په اړه هم خپلې پلټنې پيل کړې. په هر حال، DoSپه نښه کړه چې ددې دوسيې لپاره کافي شواهد نشته دي، داځکه چې د څارنې لپاره د پيښې دوه اصلي عيني ګواهان وژل شويدي.[233]

## د څار او ارزونې کميټه

د DoS په وينا، د افغان – نړيوال ګډ د څار او ارزونې کميټه (MEC)، چې د افغان دولت لپاره د فساد- ضد محکونه پرمخ بيايي، د حساب ورکولو او روڼتيا په اړه له 50 څخه زيات محکونه چمتو کړيدي. د ملګروملتونو عمومی منشي په وينا، د 2012 کال می 13 پورې، حکومت 40% سپارښتنه شوي بدلونونه پلي کړي دي، او په 40% نورو کې مهم پرمختګ کړی دی، د عمومي منشي په وينا پدې برخو کې د برياليتو ب عمده لامل يو پياوړی سياسي عزم پورې اړه لري.[234]

DoS وويل چې د محکونو شمير له حده زيات بولي ا و د MEC د اغيزې کمزورتيا يې ارزوي. نړيواله ټولنه له MEC څخه هيله کړېده تر څو محکونو سره يو کړي ترهغه چې د پلي کولو وړ شميرې ته ورسيږي. DoS په جګه وويل چې MEC دا پرمختګ په ناسمو شرايط کې کړيده، او همدارنګه په نښه کړه چې دده کار د افغان دولت او نړيوالې ټولنې لخوا ځانګړې پاملرنې لاسته راوړې. دا په ډاګه کړه چې دولت د MEC's له ډيرو محکونو سره هوکړه کړيده. د پام وړ استثنا AGO او HOO ؤ ؛ HOO همدارنګه د MEC's په کارونوکې خپلې مداخلې ادامه ورکړې ده که څه هم لږونکې اغيزه لري. د کانونو او ماليې وزارتونو د ګمرک رياستونه په ځانګړې توګه بدلونونه پلي کوي تر څود MEC محکونو ته برابرشي. که څه هم ولسمشر کرزي د 2012 په فبرورې کې د MEC پراختيا محدود کولو لپار هڅه کړېده، افغان حکومت پدې ربع کې MEC د خپلې دندې ترسره کولو څخه ندی منع کړی. USAID پلان کوي څو دMEC لپاره تخنيکي مرسته او احتمالا په لږه کچه بسپنه چمتو کړي.[235]

## افغان لوی څارنوالي دفتر

پدې ربع کې، AGO فساد څخه مخنيوی کې يو څه پرمختګ کړی ده، خو بياهم ځينې لانجې پاتې دي. د SCC سره يو ځای د AGO په نسبي ډول ګټور کار برسيره، د AGO's فساد –ضد څانګه په دوه لاندې دوسيو کې ګټې کړيدي : د پښتنې بانک يو رسمي کارکوونکی د اختلاس په تور تورن او محکوم شو، او يو مشهور سوداګر د دوکې او جعلي اسنادو جوړولو په تور محکوم شو. DoS په نښه کړه چې په اجرايي څانګه کې د لوړو کچو چارواکو اعتراضاتو برسيره دا دوسيې پرمخ بيوول شوې. په هرصورت د DoS په وينا، AGO د هغوغوښتنو په وړاندې چې دمتحده ايالاتو –په مرسته د لويو جرمونو عملي ځواک (MCTF)، لخوا راجع کيږي سترګې پټوي.[236]

## د کنټرول او پلټنې دفتر يا CAO

د پلټنې قانو ن مسوده چې د خپلواکه څارنې ترسره کولو لپاره د افغان کنټرول او پلټنې دفتر وړتياوې زياتولې، پدې ربع کې يوه څنډه کې پاتې شو. د 2012 کال په می کې، ولسي جرګې په قانو ن کې

کليدي شرطونه بيرته وساتل کوم چې په تير ربع کې د کابينې لخوا کمزوری شوی ؤ. پدې ربع کې ولسي جرګې د رخصتۍ لپاره وځنډول شو، ځکه نو تمه نه کيږي چې د 2012 کال سپټمبر څخه وړاند ې تصويب شي. حتی له هغې څخه وروسته، DoS وويل چې تمه نلري ولسمشرکرزي د ساتل شويو شرطونو سره، مسوده لاسليک کړي. ولسي جرګې ته د رايو دوه پر دريمه برخه اړينه ده ترڅو د ولسمشرپه رايې برياليي شي.[237]

## د ګمرکي عايداتو د راټولو په برخه کې فساد

د 2012کال د جون تر 30، ولسمشرکرزي د ولسمشري اجرايي کميسيون جوړونه چې ټاکل شوی ؤ د ګمرکونو په ټولولو کې د فساد پراخې کچې ربينه ومومي، تصويب نکړ. ستونزه مهمې اغيزې لري : د 2011 مارچ څخه د 2012ترمارچ پورې، ګمرکي عايداتو د افغان دولت عايداتو 48% جوړوله.[238] خو لکه څنګه چې سيګار په تيرربع کې راپوروکړ، په هيواد کې دننه د ګمرکاتو ډيپوګانو د مشرانو په اټکل ځينې ډيپوګانو د فساد له امله د پولې تر 70% عايدات ورکوي.

## د فساد سره د مبارزې هڅو په برخه کې د امريکا او نړيوالې ټولنې مرستې

د امريکا متحده ايالاتو او نړيوالې ټولنې د حکومتې فساد سره د مبارزې په موخه زيات شمير پروګرامونه او کميـــــــټې رامنځ ته کړې دي. دا هڅې د لوړ - پوړو چارواکو د کافي کچې مقامت سره مخ شويدي، که څه هم پدې ربع کې د حکومت په کارونو کې ځينې پرمختګونه ترسترګو کيږي.

### د شفافيت عملياتي ځواک

DoD سيګارته وويل چې يوځای شوی ګډ بين لاداري عملياتي ځواک(CJIATF) شفافيت د داخلې او دفاع وزارتونو سره مرسته کړيده ترڅو د فساد –ضد هڅو کې مهم پرمختګ وکړي. دواړه وزارتونه د فساد-ضد داخلي ګروپونه جوړکړيدي. د دفاع وزارت لوړپوړو چارواکو 54 ځايونه د شفافيت اصلاحاتو لپاره په وزارت کې دننه په نښه کړي چې د 2012 جون تر30پورې په 49 هغوکې پرمختګ کړېده. سياسي واک د داخلې وزارت په چارواکو کې وده موندلې ده لکه چې په تير پسرلی کې د افغانستان په لويديځه سيمه کې 70 کسان د پوليس چارواکو څخه د فساد اوناوړه جريمه کولو په تور له کاره ګوښه کړای شول. د داخلې وزارت همدارنګه د CJIATF- شفافيت او ايساف دې غوښتنې ته ځواب ويلې ده چې د فسا د له امله د کارڅخه لرې شوي کسانو "بيا ګومارنه " ودروي ؛په 2011 کال کې ددامې بياتوظيفولو 19 ټکان ورکوونکي پيښې وې، خو د 2012 په لومړی نيمايي کې يو اځې يوه پيښه شوې ده.برسيره پردې د DoD په وينا، دداخلي وزارت پدې ربع کې د شفافيت څلور نور سيمه ييز کميسيونونه پرانيستي دي، چې د سيمه ييز فساد په مخنيوی کې به مرسته وکړي.[239]

دDoD په وينا CJIATF- شفافيت د هغو افغاني ادارو سره چې د فساد – ضد هڅې لري لکه SCC، MCTF، او HOO، خپله ملګرتيا ژوره کړيده. همدارنګه CJIATF- شفافيت د ليرد په بهير کې دفساد او تنظيم شوې جرمونوڅخه په مخنيوی کې بريالی ونډه درلود پداسې حال کې چې د ليرد بهير

په لومړیو ځیرنو کې دې ټکي ته پام نه ؤ شوی. دهغو ولایتونودریمي برخي لپاره چې امنیتي مسؤلیتونه افغاني لوري ته لیږدول کیږي، ایساف، او افغان امنیتي مشران د MoD، MoI، او NDS څخه دفساد ــضد کمیټي جوړوي. کمیټي په کاندیدو ولایتونو او ولسوالیو کې فساد ارزوي، د ځانګړو ولایتونو او ولسوالیو لپاره د فساد ــضد عملي معیارونه په نښه کوي، او په کومو ځایونو کې چې فساد کوونکي دبریالی لیږد په وړاندې کړکیچ ولاړکړي، تحریم ترسره کوي. د DoD په وینا، ددې کمیټو هڅي مرسته کړیده ترڅوداډینه ترلاسوراشي چې امنیتي او حکومتي تاسیسات د لیږد په سیموکې د جنایي ورانکاریو سره لږ مخ کیږي .[240]

### د مالي سیسټم روڼتیا څخه د متحده ایالاتو ملاتړ

د متحده ایالاتو اداري ا و عملي ځواکونه په شمول د CJIATF-شفافیت، د افغان جنایي شبکو او نړیوال مالي سیسټم اړیکو کتني ته وده ورکړېده او د نړیوال مالي سیسټم لپاره یې منظورکوونکي کاندیدان نومولي دي. DoD په نښه کړه چې د افغانستان لپاره غیرقانونی کارونونښت به د جنایي شبکو په وړاندې هدفمند مالي تحریمونه او دنړیوال قانون ــپلي کولو ګامونه پراخ او ګړندي کړي. دا نوښت به د متحده ایالاتو په ــاساس یو بین لاداري جوړښت رامینځته کړي تر څو د افغان جنایي شبکې ملي او نړیوالو غړو په وړاند ې هد فمند مالي تحریمونه او د نړیوال قانون- پلي کولو ګامونو لخوا چمتوشوي دوسیو اداره او وده ورکړي. د ا نوښت پدې ربع کې، د رایان کراکرچې وروسته سفیرشو، جنرال جیمز ماتیس د متحده ایالاتو مرکزي قوماندې څخه، او د دفاع وزیر لیون پنیټا لخوا لاسلیک شو.[241]

خزانه د مالي جرمونو پلټني تخنیکونو په اړه په خاصه بیا دپیسو مینځنه، رشوت، دوکه، او د متحده ایالاتو جعلي پیسي جوړولو په برخه کې MoI او NDS ته سلامشوري ورکوي.خزانه د هغو چارواکو پټولو لپاره چې د پلانونو، چمتوکولو او پلي کولو پټ کارونه ترسره کوي، یو کورس په لاره واچوله. پدې ربع کې، خزانه د عامه فساد، دمالیي څخه تیښته، د ګمرکونو چلبازي، اختطاف او منظم جنایي کارونو په اړه MCTF's ته سلامشوري ورکړي. برسیره پردې، خزانه د یو غیر ــدولتي مؤسسي(NGO) څخه د دولت یو ښکاره چارواکي ځانګړي حساب ته د ډیروزیاتو مشکوکو پیسو لیږنې په پلټنه کې د MCTF سره کار کړې ده.[242]

### د فساد ــضد چارواکو (4A) سره د USAID's مرسته

د فساد ـــ ضد چارواکي سره د USAID مرستي(4A) پروګرام موخه لري ترڅو د یو ښه کارکوونکي HOO په جوړولو او پیاوړی مدني ټولني درلودلوسره د فساد کچه ټیټه کړي. د 2012 کال د جون تر28، USAIDد پروګرام سره 6 میلیونه ډالرمرسته کړې ده، چې 5 میلیونه یې لګول شوي دي.[243]

لکه څنګه چې د سیګار په مخکینیو درې میاشتنی راپورونو کې په نښه شوې، HOOد دولتي چارواکو دشتمنیو-تصدیق پروسې په پلي کولو کې لږ بریالی ؤ. د USAID په وینا، په پرله پسې توګه پرچارواکو بهانه لټوي او د کومو کسانوڅخه چې تصدیق یې ترسره کیږي، په زوره رشوت اخیستل کیږي. ددې هڅوسره د مقابلې لپاره، 4A د یو څرګندوني هوکړې مسوده چمتوکړېده د هغو چارواکو ساتني لپاره چې خبرتیاته غاړه بردي، هغو کسانوته چې د تصدیق پالیسي په اړه معمولي پوښتني لري د ځوابونولړی برابره کوي، او د عامو خلکو لپاره د شتمني معلوماتو خپروي. HOO دا اسناد منلي ده.[244]

### د سیګار پلټني

د 2009په یوه پلټنه کې، سیګارموندنه چې HOO په عملیاتي ظرفیت کې د پام وړخلا، د پلي کولو ناوړې غړي، او د خپلواکي نشتون څخه ځوریږي. د تفصیلاتو لپاره، وګورئ سیګار پلټنه 10-2"د افغانستان د څارعالي اداره د پام وړ پیاوړي چاراوکي، خپلواکي، او د ډونورملاتړ ته ارتیالري ترڅو د فساد په ـضد یوه اغیزمنه اداره جوړه شي، " په www.sigar.mil ویبپاڼه کې.

4A د HOO سره کارکوي ترڅو د شتمنیو پلټني په اړه دوزارتونو او HOOترمینځ تفاهمي یادښتونو (MOUs) ته وده ورکړي، خو د نهو خپل مینځي تفاهم مسودو څخه یواځي دوه یي د دواړو خواو لخوا لاسلیک شوي دي. 4A د HOO سره خپل کار ته ادامه ورکوي ترڅو د وزارتونو او دولتي ادارو سره MOUs چمتوکړي چې د تصدیق کولو کار لپاره خورا ډیرمهم دي.[245]

د وزارتونو ترمینځ بښي پروسې هم د روڼتیا او حساب ورکوني په وده کې مهم رول لري. 4A پروګرام په نښه کړي چې د څلورو وزارتونو سوداګریز- بهیر له سره ډیزاین شي. د سټراتیژۍ او پلان جوړولو ریاست او د وقایي ریاست د 4A لخوا چمتوشوی معیاري پروسه منلي دي. د USAID په وینا د بهیر بدلوني پلي کول پخ خو په ثابت ډول روان دی، همدارنګه وایي چې وزارتي، عملیاتي، او لوجیستیکي مسایل پاتي دي چې ښایي ورته رسیدنه وشي.[246]

داراز 4A پروګرام د ورکشاپونو ترسره کولو او بیاکتل شوي د شتمني – ثبت کولو اسناد په چاپولو، د HOO له ثبت کولو او تصدیق ریاست سره مرسته کړیده. پدې ربع کې، HOOد وزارتونو او ادارو لپاره په کابل او جلال اباد کې د تصدیق کولو ورکشاپونه چمتوکړی ؤ؛چې د جون تر 28 د دولت په 53 جوړښتونوکي ورکشاپونه په لاره اچول شوي ؤ. برسیره پردې، 4A پروګرام پدې ربع کې د HOO سره کارکړي ترڅوخپل دوه ډیټابیس سره یو ځای کړي، د شکایتونوپورې- اړوندو مسایلو دظرفیتي روزنه وکړی، او د HOO له ویبپاڼي څخه د شکایتونو انټرنیټي ثبت کول تاسیس کړی ده.[247]

د USAID-په ملاتړ د فساد ـضد هڅو په وړاندي لاهم ځیني ننګوني شته. چې په دوام لرونکي توګه سیاسي واک نشتون او یو ناوړ او بې کفایته کارکوونکي درلودونکی حقوقي ریاست پکې شاملي دي. د سارو وزارتونولکه AGO او عدلیي وزارت ناسمه ملاتړ د فساد-ضد هڅي پرته له نتیجي څخه پریښي دي. د ربع په پای کي، USAIDپه پام کې درلوده چې د پروګرام دویم اختیاري کال ته بسپنه برابرکړي، په دې شرط چې ډیر تمرکزیي په مدني ـټولني بوختیاوې او د MEC پرتوختیاو وي.[248]

## بشری حقوق

د بشري حقوقو په ساتنه کې دافغان دولت ثبت په پرله پسې توګه ناثابت دی. سره لدې چې پرمختګونه شویدي، ښځې، ماشومان، قومي لږکی، بندیان او داسې نور کسان د بیلابیلو اکټ کوونکو لخوا ډیرې ناوړه کاروني زغمي. د 2012 جون تر30، د افغانستان د بشري حقوقو په خپلواک کمیسیون (AIHRC)کې د توظیفولو دري چوکی تشې پاتي شوې وې. د 2011په ډیسمبرکې، ولسمشرکرزي پریکړه وکړه چې د دري کمشنرانو پای ته رسیدلي مودې به نوې نکړي.[249]

### د جینډر یا جنسیت مساوات

یوناما پدې ربع کې د ښځوحقوقو په اړه ډیرې اندیښني وښودلې. د ښځو په وړاند ې تاوتریخوالی ځینو خاصو سیمو پورې محدود شوی، اوښځې د خپل اقتصادي، ټولنیز او دودیز حقوقو لاسته راوړلو په لارکي دننګونوسره مخ کیږي. د ملګروملتونو عمومي منشي په وینا قضایي چارواکي په پرله پسې توګه د کورڅخه تښتیدنې سره د زناکاري جرم په توګه مخ کیږي(ډیرځلې د ناوړه چلن یا ناوړه استعمال له امله تیښتې )، سره له دې چې په جنایي قانون کې ددې" تیري" لپاره کومه سزا نده ټاکل شوې.[250] د 2012 کال په اپریل کې، لوی څارنوال ټول څارنوالي ادارو ته یو فرمان خپورکړ چې پکې د څارنوالانو څخه غوښتې ؤ ترڅو د تښتیدنې لپاره "ناحقه" دوسیې چمتونکړي.[251]




**افغان ځوانانو د** جون په 23 د کنړ ولایت په یو سرحدي کلی کې د دوديز- توپیرونو په اړه د ځوانانو لخوا په یوه شورا کې دنورو هیوادونو په اړه معلومات تر لاسه کوي. (RC ختیځ تصویر)

د 2012 په جولای کې، یو ویډیو خپور شوچې په پروان کې یو سړی په عامه توګه یوه ښځه اعدام کوله او خلکوورته اواوزونه کول. افغان دولت او متحده ایالاتو سمدلاسه وژنه وغندله، چې د راپور مطابق د طالبانو لخوا برسره شوی ؤ. افغان دولت ولایتي پولیس چارواکو ته فرمان ورکړ ترڅو په وژنه کې لاس لرونکي ټول کسان بندي کړي.[252]

## بشري قاچاق

بشري قاچاق د یو لوی ستونزې په توګه ادامه لري. پدې ربع کې، DoSد کسانو قاچاق په اړه خپل د2012 راپورخپورکړ، چې پکې افغانستان دسرو، ښځو، او ماشومانو چې د جبري کاریا جنسي قاچاق لپاره وړل کیدل د ټرانزیټ، سرچینه او د تلو ځای ښودل شوی ؤ. د دریږ پرله پسې کلونو لپاره راپور افغانستان د DoS په دویمه درجه واچ لست کې ځای په ځای کړی ؤ، چې په چمتوشوی راپور کې وروستی درجه ګڼل کیږي.[253]

د DoS راپور مطابق، افغانستان د بشري قاچاق له مینځه وړلو لپاره د معیارونولږترلږه کچه هم نه پوره کوي، او معیارونو ته درسیدلو لپاره د 2011 جون 2012- جون پوري کوم پرمختګ ندی کړي. که څه هم افغان دولت په 2008 کال کې د قاچاق – ضد قانون تصویب کړ، خو د قاچاق وړونکو د څارنې او تورن کولولپاره یې دا قانون ندی کارولی. دولت حتی د قاچاق وړلو په نتیجه کې د تیریو له قربانیانو سره هم زیاتی کوي. DoS وویل چې یواځې د افغانستان ثبت په پام کې نیولو سره، افغانستان دریمي درجې ته ښکته کیږي، چې په راپورکي وروستی درجه ده. په هر حال، DoS افغان دولت ته استثنا مني ځکه چې یو لیکلی قانون یې درلود چې که چیرې پلي شوې وای د قاچاق څخه د مخنیوی په بهیر کې به ډیرپرمختګ شوی ؤ.[254]


د DoS راپور ویلي چې د قاچاق وړلو څخه ماشومان ډیراغیزمن کیږي او شمیریې هم مخ په زیاتیدو دی. افغان ماشومان په افغانستان، پاکستان، ایران او سعودي عربستان کې په زوره کارکولو، ځایي خدمت کولو، سوداګریزجنسي ګټې اخیستنې، ګدایي کول او د مخدره توکو نړیوال قاچاق وړلو ته اړایستل کیږي. ځیني کورنی په پوهې سره خپل ماشومان په زور فحشا کارونولپاره خرڅوي لکه بچه بازي، چې شتمن سړي د ټولنیز او جنسي سات تیری لپاره د ځوانانو ګروپونه کاروي. کومې کورنی چې د کوکنارو کرهنه کوي ځیني وختونه خپل ماشومان په ځانګړي توګه نجوني خرڅوي ترڅو دمخدره توکو قاچاق وړونکو قرضي برابرې کړي.[255]

د جبري فحشاو دکارلپاره قاچاق وړلو کچه په افغانستان کې دننه او بهر لوړ دی، چې څو هیوادونه تر اغیزې لاندې نیسي.لکه چې په 3.34 شکل کې ښودل شوې ده. په پاکستان، ایران او انډیا کې افغاني نجوني او ښځې په زوره فحشا او ځايي خدمتونو ته اړایستل کیږي. په افغانستان کې د راپورونو په وینا د فیلیپین، قیرغیزستان، پاکستان، سري لانکا، ایران، تاجکستان او چین ښځې او نجوني په زوره فحشا ته اړایستل کیږي. کارګر ګومارونکي اداري د ځینو هیوادونو څخه پردي کارکوونکوته د ډیرو- پیسو ورکولو ژمنه ورکوي. قاچاق وړونکي کلیوالي افغان خلک، افغانو ښارونوته یا انډیا او پاکستان ته هڅوي، چې هلته بیا په زوره کار کولویا فحشا ته اړایستل کیږي.[256]

ځیني وختونه افغان دولت د قاچاق سره مرستندویه او تورنه ونډه ترسره کړې ده. DoS په نښه کړه چې قاچاق وړونکي د خپل دندې سرته رسولو لپاره حکومتي چارواکوته رشوت ورکوي. د افغان ملي امنیتي ځواک غړي ځیني وختونه هلکانو څخه ناوړه جنسي کار اخیستي دي. د حکومت په – مرسته

3.34 شکل

افغانستان ته دننه يا بهر قاچاق کـــــول




يادونه: افغانانو همدارنګه خليجي هيوادونو او د سهيلي اسيا نامعلوموسيمو ته قاچاق کړل شوي دي.

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، " 2012کال کې د انسانانو د قاچاق په اړه راپور " . 6/19/2012، 62 مخ.

چليدونکي مرستونونوکي د ژوند شرايط ډير نازک دي، او کوم چارواکي چې مرستون اداره کوي ياخو يتيمانو څخه يې جنسي ناوړه ګټه اخيستي ده يا هم په زوره فحشاته يې اړ ايستلي ده.[257]

## د توقيف مرکزونو عمليات

پدې ربع کې، AIHRC راپور ورکړ چې د NDS توقيف مرکزونو کې د ژوندشرايط وده کړې دي. د شپږ توقيف مرکزونو څخه چې AIHRC پدې ربع کې ارزولي ؤ، يواځې په کندهارکې يو مرکز وده نه وه کړې. د AIHRC په وينا، توقيف شووسره ښه چلن کيده او بهرنيو څارونکوته له دوی سره د ليدو موقع برابره وه.[258]په اصلي راپورکې چې د 2012 کال په مارچ کې خپور شوی ؤ، AIHRC او پرانستي ټولني مؤسسه د NDS په تسهيلاتوکې د ناوړه کارونه او ځپلو پراخي بيلګې په ګوته کړې وې. [259]

## مهاجرين

د DoSپه وينا د 2012 کال ترمی پورې، 1.7 ميليون ثبت شوي مهاجرين په پاکستان کې او نژدې يو ميليون ثبت شوي په ايران کې ميشت ؤ. که څه هم په هرهيواد کې د ثبت نه شويو مهاجرينو کره شميره نده ښکاره خو بياهم پاکستاني چارواکي وايي چې له 400.000 څخه تر يو ميليونه پورې مهاجرين په

سرحدي سيموکي ميشت دي، او ايراني چارواکي اټکل کوي چې يو ميليون ثبت نه شوي افغان مهاجرين په پولوکي ميشت دي.[260]

دواړه هيوادونه د 1979 څخه ديخوا د افغان مهاجرينو سخي کوربه ول.په هرصورت، وروستيو مياشتو کې، پاکستاني او ايراني حکومتونه د مهاجرينو شميرو سره زياتيدونکي ناامیدئ ښکاره کړي او په دې هڅه کې دي چې د ثبت نه شويو مهاجرينو ويستلو لپاره د پخوا څخه يو ټينګ ستراتيژي چمتوکړي.[261] د پاکستان د ثبت - کيدلو- سند کارډونه داسي جوړ شوي چې د 2012 کال د ډيسمبرپه 31 پای ته رسيږي ؛د جون تر 30 پورې ياد دولت د کارډونو بياورکولو لپاره کوم هوډ ندی ښکاره کړی. د تحريمونو اوکمزوری اقتصاد له امله، د ايران دولت د مهاجرينوسره د مرستي لپاره خپلې بسپنې له مينځه وړې دي، که څه هم روغتيايي او ښوونيزخدمات چمتوکوي. [262]

د DoS په وينا د افغانستان، ايران او پاکستان استازي د 2012 کال د مي دويمه او دريمه نيټه په جينيوا کې سره وکتل، او نړيوالې ټولنې ته يو درې کلن ستراتيژي وړاندې کړ چې په سيمه کې دافغان مهاجرينو او بيرته ستنيدونکو ستونزو لپاره د حل يو رنج چمتوکړي.[263] د کتنې ګډونوالو د بيرته ستنيدونکو مهاجرينو لپاره د اوږد- مهاله او خوځنده ټولنه رامينځته کولو په موخه د پناګاه، بنسټيزخدمات او اقتصادي موقع برابرول اړين وباله.[264]

د جينيوا کانفرانس پريکړه وکړه چې که چيرې بيرته ستنيدونکي د افغانستان په خوځنده او ژونديو ټولنو کې منسجم شي په هيواد کې به ميشت پاته شي. دا ټولنې به په خپل وارسره، نور مهاجرين بيرته ستنيدلو ته وهڅوي. بريالی هڅې بايد ترسره شي ترڅو افغانان د کار موندلو لپاره دهيواد څخه بهر لاړنه شي او پدې سره پرافغانانو باندې د شته فشارکچه ټيټه شي. د مهاجرينو لپاره دملګروملتونو عالي کمشنري (UNHCR) په نښه کړه چې د کوربه هيوادونوسره مرسته د حکومتونو او بشري مؤسسو همغږی بوختيا او د نړيوالې ټولنې پايداره او د پام وړ ملاتړ ته اړتيالري.[265]

بيرته ستنيدونکي د کلونو يا لسيزو ليرې ژوند کولو څخه وروسته د افغانو ټولنو سره منسجم کيدل او د ثابت ملاتړ په موندلو کې ستونزې لري. د DoS– هييت لخوا په يو تازه ارزونه کې وموندل شو چې له ستنيدلو څخه وروسته د اوو څخه تر نه کلونه غواړي ترڅو د ځايي ميشتو افغانانو په څير معياري ژوند ومومي. د مهاجرينو نړيواله مرسته ګټوره وه، خو دا مرستې لاهم اړتياو څخه لرې دي، په خاصه بيا د خواړه او معيشت په برخه کې. DoS د لسو انجيوګانو پروګرامونوسره چې د افغان بيرته ستنيدونکو ته ساتنه، بنسټيزخدمات او اقتصادي موقع چمتوکوي، مرسته کوي. برسيره پردې، متحده ايالات د UNHCR او نړيوال سره صليب کميټې لپاره بسپنه چمتوکوي.[266]

د DoS په وينا، د افغان حکومت ټولې ځانګې اړتيالري ترڅو د مهاجرينو او IDPs څخه د ساتنې او مرستې لپاره خپل وړتيا ته وده ورکړي. افغان دولت او د مهاجرينو چارو وزارت (MoRR) د مهاجرينو او IDP د مرستې اداره کول اود بيرته ستنيدونکو د يو ځای کيدلو اړتياو سره ستونزې درلودې، که څه هم د 2012 کال د جنوري څخه تر جون پورې وړتياوې يې وده موندلې دي.پدې ربع کې، د مهاجرينو چارو وزارت د ليکې وزارتونوسره درې تفاهم ليکونه لاسليک کړ چې له مخې به يې د مهاجرينو او بيرته ستنيدونکو سره د ملي لومړيتوبونو پروګرامونو په ترڅ کې مرستې وشي.[267]

## د رسنیـــــــــو ازادي

پدې ربع کې، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د رسنیو قانون یوه مسوده وړاندیزکړه چې د 2009 کال د رسنیو قانون کې د بدلون راوستلو سره به د دولت کنټرول پر رسنیو باندې پراخ شي. د بشري حقونو د څارونکو په وینا، دا کنټرول به د خبروازادي تجربه سړه کړي. دا به د اطلاعاتو اوکلتوروزیر د رسنیو سترې شورا مشر وټاکي چې پراخ ځواک به لري او د رسنیو کنټرول لپاره قوانین چمتو او پلي کوي، او د رسنیو څارني اداري په بودجې او جوړښت کې به خپلې اغیزې پریږدي. همدا رنګه دا قانون به د عمومي رسنیو کمیسیون واک کمزوری کړي، او ددې په مشرتابه کې د ژورنالستانو ګډون به د سمې څارني په لاره اچول ستونزمنه کړي.[268] وړاندیزشوی قانون به د پردیو پروګرامونو خپرول ایسارکړي. همدارنګه د یوناما په وینا، دا به د رسنیو څارني لپاره یو ځانګړې څارنوال او محکمه چمتو کړي او د امنیت، دین او اخلاق تاوتریخوالي لپاره ملکي سزا وټاکي.[269]

نی، د خپلواکه رسنیو یوه افغاني اداره چې USAID ورسره مرسته کوي، د 2012 کال جون په 27، د رسنیو اتحادیې، ژورنالیستي اتحادیې او رسنیو استازي په ګډون یو ملي کنفرانس جوړکړی ؤ ترڅو درسنیوقانون بیاکتنې تر څیړنې لاندې ونیسي. ددې سلاکاریو پر بنسټ، نی د اطلاعاتو اوکلتور وزارت ته ځیني سپارښتنې کړیدي تر څو د خپل قانون په بیاکتنه کې ورته پاملرنه وکړي.[270]

د افغانستان د رسنیوپه وړاندې تاوتریخوالی د رسنیود ازادي مخه نیسي. پدې ربع کې، د ژورنالستانو دخوندیتوب کمیټې لخواکلنی سروې خپور شوې لست کې افغانستان د اخرلخوا نه اووم مقام درلود. کمیټه د ژورنالستانو د وژنې ترل شوې دوسیې د هیواد نفوس په فیصدي شمیري.[271]

# اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا

د 2012 د جون تر 30، د متحده ايالاتو حکومت په افغانستان کې د اقتصادي ودې او له حکمتدارۍ څخه د ملاتړ په موخه 22.3 مليارډ ډالر چمتو کړي وو. (د B پايڅور وګورئ). له 2014 کال وروسته چې د امريکايي ځواکونو وتل پلان شوي دي او ورسره د ټرلو نړيوالو بسپنه ورکوونکو د مرستو کمښت تمه کيږي، د افغانستان د اقتصادي ودې او پاينښت په تړاو اندېښنې په خپل ځای دي.

په دې ربع کې ، د بريالي ليږد په موخه د افغانستان چمتو کولو ته هڅې رواني دي، تر څو خپل ملي امنيت په بشپړ کنټرول کې ونيسي او د بدلون په راتلونکې لسيزه کې د اقتصادي رکود کچه راټيټه کړي. د سيمه ايزو او نړيوالو ګډونوالو په لوړه کچه ګڼې ناستې وشوې، چې په مي کې د شيکاګو د ناټو ناسته او په جولای کې په ټوکيو کې د بسپنه ورکونکو هيوادونو کنفرانس يادولای شو.

> "مونږ پوهيږو چې د افغانستان امنيت يوازې د جنګ په نه شتون کې نشي اندازه کيدای؛د سولې کچې ته بايد په دې حساب وشي چې آيا خلګ روزګار او اقتصادي فرصتونه لري که نه ... "
>
> ــــ د بهرنيو چارو وزيره هيلري رودام کلنټن

سرچينه: DoS، د افغانستان په اړه په جاپان کې د بهرنيو چارو وزيرې هيلرې رودام کلنټن منځګړتوب،7/8/2012

## کليدي حوادث

په ټوکيو کې د جولای په اتمه افغان حکومت له خپلو نړيوالو ملګرو سره وکتل،په هغه کې د افغانستان د بيړنيو مالي اړتياوو د بشپړولو په موخه له افغانستان سره د 2015 کال تر پايه د 16 ملياډ ډالرو ژمنه وشوه، چې د موجودو داخلي عوايدو په واسطه نشي پوره کيدی. برخه والو پر دې تاکيد وکړ چې د اوږدمهاله، پايداره اقتصادي ودې لپاره ښه حکومتداري بنسټيزه ونډه لري.

د پيسو نړيوال صندوق د افغانستان د اقتصادي کړنو په اړه خپله لومړنی کتنه بشپړه کړه چې ترتيب يې د پيسو د پراخو اسانتياوو يا ECF په غاړه وو او په تير نومبرکې لاس ته راغی. پدې کې څرګنده شويده چې د سخت اوننګونګې چاپيريال سره سره، افغانستان ځينې اقتصادي ودې که څه هم کمې دي موندلې دي.چې دا د پيسو نړيوال صندوق د سمون ځانګړنو ته د لاسرسي لپاره يو پرمختګ بللی شو.

د افغانستان په مالي سکتورکې د پانګوونکو او مستهليکنو اعتماد زياتولو ته د يوې هڅې په توګه، د لوی څارنوال د دفترله لوري يوه ځانګړې محکمه جوړه شوه چې د کابل بانک په وړاندې تورن اقتصادي مجرمين ترعدلي تعقيب لاندې ونيسي. په ټيټه کچه د پيسو او شتو د ژغورل کيدو راپورنو ورکړل شويدي. د دغه راپور د چاپ له مهال سره سم، جنايي ادعاګانې او نور تورونه محکمې ته وړاندې شول چې د دغې شوکې د دوو اصلي طراحانو په وړاندې تورونه هم پکښې شامل وو.

## د بسپنه ورکوونکو د مرستو د کمښت اقتصادي اغيزې

سيګار په دوامداره توګه هغه ننګونې په ګوته کړيدې چې په افغان اقتصاد د متحده ايالاتو او ائتلاف غړو اقتصادي اغيزې ارزوي. دغه ستونزې د معلوماتو نيمګړتياوې او د معياري پروسو نه شتون هم په ځان کې لري تر څو خارجي بوديجې ته د مرسته ورکوونکو بسپنو څرګ معلوم کړي (د افغان حکومت تر

کنټرول بهر). دغو ننګونو هله زور واخيست چې د ائتلافي ځواکونو او متحده ايالاتو د حضور د پای ته رسيدو د اغيزو اندازه کولو ته هڅې پيل شوې او په خپلو پښو د دريدلو په اړه د افغانستان وړتياو ته وړاندوينې وشوې. د افغانستان اقتصاد په درنه توګه په خارجي مرستو ولاړ دی. نړيوال بانک خبرداری ورکوي چې د بهرنيو مرستو ګرندی او ناڅاپي راالويدنه به د حکومت مشروعيت او ثبات تر پوښتنې لاندې راولي او د واک په وړاندې به يې ننګونې پياوړې کړي. دا به همداراز اقتصاد ته له دې کبله زيان ورسوي چې ناقانونه فعاليتونه او اداري فساد به ورسره ډېر شي.[272]

## اقتصادي ارزونه

په دې ربع کې، د نړيوالو او ستراتيژيکو مطالعاتو د مرکز يا CSIS له لوري په يوه خپاره شوي لنډ راپور کې د اقتصادي معلوماتو د ټولو رسمي سرچينو کره توب تر پوښتنې لاندې راغلی، ځکه چې هغوی په بشپړه توګه هغه اقتصادي نامعلومتاوې تر غور لاندې نه نيسي چې له امنيت، سولې او د هيواد په کچه د ليږد له بهير سره تړلي دي. دغه راپور جوته کوي چې دواړه GDP اود وګړو معلومات چې په لويه کچه او په ټينګه د سرچينو له خوا کارول کيږي، لاهم ناسم دي. د هغو ډيری د افغانستان د مرکزي احصايې د ادارې د شميرو په بنسټ ولاړې دي چې کره توب يې په ټوله کې د حکومت له ظرفيت او د لاس رسي له مسايلو اغيزمن دی، دا خبره په ځانګړې توګه د افغانستان په لرې پرتو سيمو کې ډېره د پام وړ ده. د CSIS راپور برسيره پر دې هغه نيمګرتياوې مونډلي دي چې په احصاييوي بنسټ د طالبانو کنټرول څرګندوي ، چې په لويه کچه د اټکل لګولو او پرتله کولو په موخه کاريږي. د GDP شميرې د ناقانونه فعاليتونو اقتصادي ونډه او د کورنيو په کچه د عوايدوغير رسمي فعاليتونه نه رانغاړي چې د راپور په وينا د پام وړ دي. ددې برسيره چې په تيره لسيزه کې محسوسې اقتصادي ودې رامنځ ته شويدي، راپور په ګوته کريده چې دا په جګړه او د مرستو په لګولو ولاړه وه، چې د ثابتې اقتصادي ودې دقيق غبرګون په ناسمه توګه ښيي.[273]

د اعتماد وړ معلوماتو د راټولو په اړه سختيو ته په اشارې ، نړيوال بانک په مې کې د افغانستان د ليږد په اړه د 2011 کال په ورستيو کې پيژندنه وړاندې کړيده اود هغو د څومره والي او تحليل بنسټونه يې روښانه کړيدي. په اقتصادي وده، بنسټيزه روغتيا او زده کړه کې د لاس ته راوړنو برسيره، بانک ګوتڅنډنه کوي چې افغانستان تر اوسه هم د نړۍ يو تر ټولو خوار هيواد دی.[274] تر 33 % ډيری افغانان اوس هم د فقر تر ليکې لاندې ژوند کوي (1.25 ډالره په ورځ کې)، تر 50 % ډيری له فقر سره د لاس او ګريوان کيدو له شديد خطر سره مخ دي او يا ورته زيان منونکي دي، او75 % له سواده بې برخې دي.[275]

د اقتصادي ودې ډيری برخه د بسپنه ورکونکو په مرستو ولاړه ده.چې په 2011 مالي کال کې 15.7 مليارډ ډالرو ته رسيږي—تقريباً د افغانستان له GDP سره په انډول کې.
د مرستو قاطع اکثريت— 88 % (13.8 مليارډه)—د بهرنيو سرچينو له لارې لګيدلي ده. نړيوال بانک اټکل کړيدی چې له بهرنيو سرچينو لګيدلي مرستې د افغانستان اقتصاد يواځې 10–25 سلنه اغيزمنوي.(ډيری يې له افغانستان څخه بهر مصرفيږي).پداسې حال کې چې د بوديجې له لارې د مرستو 70–95 سلنه اغيز لري.[276]

سره لدې چې د GDP د ريښتونې ودې په اړه پراخ بدلونونه، چې کله کله به د کلونو په اوږدو کې په زراعتي سيمو کې د تغييراتو له کبله رامنځ ته کيدل، له 2004 مالي کال راديخوا، د GDP ريښتونې کلنی وده د 9% شاوخوا اټکل شويده. په GDP کې د خدمتونو سکتور ډيری برخه لري، چې

د بسپنه ورکوونکو مرستو د مصرف له تنې لاس ته راځي. د دغه سکتور دننه، مخابراتو، ترانسپورت، ساختماني برخي، او حکومتي خدمتونو پياوړې وده موندلي ده. کرهنه چي د افغانستان په کليوالو سيمو کي د کار تر ټولو لويه سرچينه ده د GDP په وده کي دوهمه ستره ونډه لوبوي. د خصوصي پانګوني او کانونو ونډه محدوده ښودل شويده.[277]

نړيوال بانک وړاندوينه کوي چي د ليږد بهير به په افغان اقتصاد پراخه اغيزه ولري. اقتصادي وده به احتمالآ سوکه شي، د کارګرانو لپاره به مارکيټ سوړ کړي او په پايله کي به د بې روزګارۍ او فقر کچه لوړه کړي. بانک په ګوته کړيده چي په تيرو څلورو کلونو کي په عوايدو کي 20 % لوړوالی راغلی، چي په 2011 مالي کال کي يې د GDP 11 % لوړه کړه. بانک تاييدوي چي په کال کي د GDP 0.5 % د عوايدو وده ، په يوه پراخه زماني موده کي اغيزمنه ده.[278]

ددغه عوايدو فرعي شاخي د بانک په وينا د افغانستان لپاره لګيدونکي ژمني دي،چي د بانک په وينا به په لسو کلونو کي د GDP شاوخوا 43 % ته ورسيږي. د دغه لوړيدلو زياته برخه به د امنيتي مصارفو له کبله وي—د پاينت او عملياتو لپاره (O&M)، او د اردو او پوليسو د معاشاتو لپاره ورڅخه کار اخيستل کيږي. حکومت بايد همداراز د بسپنه ورکوونکو هيوادونو له لوري د جوړو شوو زيربناوو د پاينت او عملياتو لګښتونه تر پوښښ لاندي راولي، تر څنګ يې بايد حکومتي معاشات ورکړي. د عوايدو او مصارفو تر منځ رامنځ ته کيدونکی مالي درز ددې له امله چي دولت يې نشي تمويلولای پايښت تر ګواښ لاندي راولي. بانک لکه نورو څارونکو دې پايلې ته رسيږي چي افغانستان به دپام وړ مرستو ته اړتيا ولري ترڅو هغه راتلونکی چي تمه ترې کيږي ومومي.[279]

## د متحده ايالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتيژي

د افغانستان لپاره د متحده ايالاتو يوه اوږدمهاله پراختيايي ستراتيژي د "د وريښمونو لار ده" . دغه ليدلوری له ګاونډيو ملکونو سره د پراخي سيمه ايزي اقتصادي بشپړتيا غوښتنه کوي لکه د اجناسو آزاد ليږد را ليږد، خدمات، پانګه، او خلګ. د DoS په وينا د وريښمو د نوې لارې لومړيتوب يو جوړيدونکی بنسټ دی چي د متحده ايالاتو د مرستو په اړه په پراخو تصميمونو کي کارول کيږي.چي په کابل کي د متحده ايالاتو د سفارت او د افغانستان زيربناوو ته دبين الاداري پروګرام له خوا جوړ شويدی. د افغانستان د زيربناوو د پروګرام په اړه د سيګار څيړنو ښودلي ده چي د بريښنا د سکتور په برخه کي ماستر پلان وجود نلري. (دوهمه برخه وګورئ).[280]

## اقتصادي ښودونکي


افغانستان په وچه کي راګير اقتصاد لري چي په لوړه کچه د سوداګرۍ، ترانزيت، امنيت، او ثبات لپاره د سيمي له هيوادونو سره همغږيتوب ته کلکه اړتيا لري. له 2002 کال راهيسي د افغانستان اقتصاد د پام وړ پرمختګ کړی دی. د GDP د سلنو په بنسټ يې وده له ګاونډيو ملکونو څخه لوړه ده او يا ورسره په انډول کي ده، خو تر اوسه هم د سړي سر GDP پر شا ده ، لکه په 3.35 شکل کي چي ښودل شويدي.

### د عايداتو راغونډول

د USAID لخوا د افغانستان د ګمرکي اداراتو په اړه چمتو شويو احصايو کي ښودل شويده چي افغان حکومت د عوايدو د راغونډولو په تړاو د خپلو وړتياوو لوړولو ته دوام ورکوي.[281] په دې ربع کي د

3.35 شکل

د اقتصادي شاخصونو سیمه ایزه پرتله (2011 اټکل)




یادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوې. 2011 د 2011 کال معلومات په امریکایي ډالرو دي. PPP= د پیرودلو د پیاوړتیا انډول، د سړي سر پرتلې لپاره مقیاس. GDP د PPP د تبادلې په بیو کې په یو هیواد کې د تولیدیدونکو خدمتونو او شیانو د ارزښت پرتله له هغو بیو سره ده چې په متحده ایالاتو کې رواج دي. په دې کې به ټولو شیانو او خدمتونو ته په ډالرو بیې ټاکل کیږي، حتې که په متحده ایالاتوکې معادل هم ونلري (د بیلګې په توګه اوکس کارت).

سرچینه: CIA، نړیوال فکټ بوک، په 7/5/2012 کې لاس رسی ورته شوی.

متحده ایالاتو د مالیې وزارت د تخنیکي مرستو اداره یا OTA په هغو هڅو کې ونډه واخیسته چې په ترڅ کې به یې افغانستان له مالیې پرته عوایدو د تولید او حصولولو په برخه کې وده مومي. دا هغه وړتیاوې دي چې د بهرنیو بسپنه ورکونکو د مرستو له رالویدو سره به ترینګلي پراوونه په مخ کې لري. OTA د ترانسپورت او ملکي هوانوردي له وزارت سره په بیلابیلو برخو مرسته کړیده:[282]

- OTA د ترانسپورت او ملکي هوانوردي له وزارت سره په هغه وړاندیز شوي درخواست کتنه کوي چې له مخې به یې د عوایدو اداري ته یو نوی سیستم رامنځ ته شي. دغه سیستم به یوې دریمې ډلې ته اجازه ورکړي چې معلومات لاس ته راوړي، صورت حساب لاس ته راوړي، فیسونه جمع کړي، او په مستقیمه توګه مرکزي بانک ته عواید وسپاري. په انټریټې بنسټ ولاړ د عوایدو د اداري دغه اوتومات سیستم به شفافیت پیاوړی کړي او کارونکي ته به په انلاین توګه خپلو حسابونو ته دلاسرسي زمینه برابره کړي. همداراز به د فیسونو په حصول او عوایدو ټولولو کې فساد ته فرصتونه را کم کړي. او څارنه به آسانه کړي.
- OTA د هغو 17 درخواستونو په اړه بیا کتنې ته مرسته وکړه چې د افغانستان په څلورو هوایي ډګرونو کې د خصوصي سکتور له لوري پکښې علاقه ښودل شوي وه چې د هوایي میدانونو په ځمکنی اداره کې ونډه ورکړل شي.(د الوتکو خدمتونه، د میدان د برېښنا تامین، پاکول، د کثافاتو ټولول) ګټونکی داوطلب به برسیره پردې د پاینټ په تړاو فعالیتونه او د ټکټونو د خدمتونو

مسولیت په غاړه لري. ګټونکی به لومړنی پانګونه په وسایلو، کارکوونکو او اداري سیستم کوي، او
ورڅخه وبه غوښتل شي چي له دولت سره د عوایدو شریکولو د پروګرام په برخه کې ونډه واخلي.

- OTA مرسته وکړه چي د هوانوردی د امنیتي فیس پروګرام د 2012 په اګست کي پلی کړي—له مخي به يي نړيوالو الوتنو ته 25 ډالره او کورنيو هغو ته په هره الوتنه کي 10 ډالره فیس وضع شي، دا مسله د سیګار د 2012 د اپریل په دری میاشتني راپورکي هم راغلي ده. د افیس به د هوايي ترانسپورت د نړيوالي اتحاديي له لوري ټولیږي، نه د هوايي ليکو له خوا، او په مستقيمه توګه به د ماليي وزارت او د ترانسپورت او ملکی هوانوردي وزارت ته ليږدول کيږي. OTA په ګوته کړه چي دا به دهغو هوايي شرکتونو مخه ونيسي چي تراوسه يي حصول کړي امنيتي فيسونه ندي تسليم کړي، او د امنيتي فيسونو د عوايدو له لاس ته راوړلو به يي رامنع کړي.

## د ګمرکاتو د عوایدو څرک معلومول

افغانستان د ګمرکي معلوماتو اتومات سیستم یا ASYCUDA په ځانګریو ګمرکي سیمو کي کاروي.
په افغانستان کي کاریدونکی ورژن ، وظیفه ، د ټکس عواید، هغه مرکز چي ټکس حصول شوی دی او ددې روښانول چي له واديدونکي یا صادریدونکي توکی دی پکښي شامل دي. د ASYCUDA له لوري ټول شوی ټکس، چي د افغانستان بانک (مرکزي بانک) ته تاديه کيږي، لاندنی برخي لري:[283]

- د ګمرکاتو دندې
- د سوداګریزو رسیدونو مالیي (د لايسنس لرونکو لپاره د اجناسو د بيو 2 % او نورو ته 3 %)
- ثابت ټکسونه (د اجناسو د بيي 2 % ).
- د افغانستان د سرې میاشتي ټولنه (ګمرکي محصول بيه 2%)

د 2012 د جون تر 28 ، ASYCUDA په پنځو ګمرکي محلاتو کي کارول کيده، تر څو نورو ګمرکي موقعيتونو او اتو داخلي تصفيوي ډيپوګانو ته د اجناسو د ليږد اجازه ورکړي، ترڅو اجناس د ګمرکي تصفيي لپاره وروړل شي، لکه په لاندني مخ کي چي په 3.36 شکل کي ښودل شويده.

**د ASYCUDA سافټ وير د نړی تر 80 زیات هیوادونه کاروي او د ګمرکي معلوماتو یو هراړخیز او بشپړ معلوماتي سیستم په توګه منل شوی دی. کمپیوټری کول د ګمرکاتو اداره د ګمرکي تصفیي د ګړندیتوب او د پروسیجرونو د آسانولو له لاري پیاوړی کوي، او هیوادونو ته د سوداګری زمینه برابروي.**

سرچينه: UNCTAD،" ASYCUDA څه شی دی "په 7/9/2012 لاس رسی ورته وشو.


## ځمکني اصلاحات

پدې ربع کي USAID د ځمکني اصلاحاتو د تقويي مسله بياهم تعقيب کړه، او له قانوني پلوه پيژندل شوي او د اجرا وړ ملکيتو حق د کار د پيداکولو او د خصوصي سکتور پانګونو ته يوه بنستيزه لازمه بلل کيږي. دغو حقوقو ته د رسيدو لپاره په مرسته کي، USAID په افغانستان کي د ځمکني اصلاحاتو یا LARA پروژه د 2011 په مارچ کي پيل کړه، هغه مهال USAID د جلال آباد له ښاروالی سره د پلي کولو هغه سند لاسليک کړ چي له مخي به يي د ملکيتونو د راجستر اود قانوني اسنادو سيستم ډيزاين شي.[284]

د 2012 د جون تر 28 ، د LARA کارکونکو غړو په ستري محکمي او جلال آباد ښاروالی کي د ظرفيت جوړولو په موخه هڅي پيل کړي، پدغو ادارو کي USAID د ملکيتونو د راجستر په موخه د معلوماتي ټکنالوژی د يو سيستم قرارداد تصويب کړ. د LARA کارکونکو همداراز د افغانستان د ځمکو په اداره کي (چي د کرهني، اوبولګولو او غذايي موادو د وزارت يوه برخه ده) د ظرفيت جوړولو په موخه کار پيل کړ،دوی به هلته د معلوماتي ټکنالوژي يو نوی سيستم په کار وګماري چي له مخي به يي د ځمکو د اجارې پروسي يو سيستم ته لاره جوړه کړي. د حکومت له اجاره شويو ځمکو عايدات لاس ته نه راتلل او د LARA کارکونکو غړو به د اقتصادي ودي او خصوصي پانګونو حسابونو څرک چي د پروګرام له پايلو رامنځ ته شوی وو نه معلوماوه.[285]

3.36 شکل

د ګمرکاتو د جمع کولو ټکي چې پکښې ASYCUDA کاریږي




سرچینه: د سیکار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.

د عامه پوهاوي د پراختیا په موخه، په ځانګړي توګه د ښځو لپاره د ملکیت له حقوقو د اتباعو د استفادې په تړاو ، LARA کارکوونکو په افغانستان کې د ښځو د میراث او ملکیت د حقوقو په اړه دوه کانفرانسونه په لاره واچول. لومړنی کانفرانس د مارچ په اتمه په کابل کې دایر شو او ددغو حقوقو د محافظت په اړه د افغانستان اساسي قانون او مدني نظامنامه توضیح شوه.[286] دوهم کنفرانس د ښځو د میراث او ملکیت د حقوقو په اړه په جلال آباد کې دایره شوه.[287] برسیره پردې ، د ښځو د ملکیت د حقوقو کاري ځواک د USAID په ملاتړ په2011 کال کې رامنځ ته شو، چې په منظمه توګه له غیر دولتي ادارو او دولتي بنسټونو سره په دې کار کوي چې ښځې دهغو د ملکیت له حقوقو خبرې کړي. LARA پروګرام له خپلو افغانو دولتي ملګرو سره لس روزنیز پروګرامونه په لار اچولي دي.[288] د USAID په وینا به د 2012 په اګست کې د عامه پوهاوي په تړاو کمپاین پیل شي.[289]

تر دې مهاله LARA د ځمکو د اداري د قانون په تړاو د وړاندیز شویو اصلاحاتو په سلسله کې څلور سیمه ایز مشاورتي ورکشاپونه بشپړکړیدي، او USAID وړاندوینه کوي چې تر راتلونکو دریو میاشتو به دوه اضافي ورکشاپونه هم بشپړ کړي. LARA همداراز د معلوماتي ټکنالوژۍ او اداري په برخه کې سیمه ایزو حکومتي کارکونکو او ورسره ترلو د خصوصي سکتور بنسټونو ته روزني سمبال کړیدي. بالاخره LARA له سیمه ایزو ټولنو سره په دې کار وکړ چې د هغو په سیمو کې دغیر پلاني میشتځایونو زیربناوې وپیژني او په هغو کې د بنسټیزو خدمتونو لومړیتوبونه جوت کړي.[290]

## بانک داري او مالي مدیریت

په دې ربع کې، افغانستان د بانکدارۍ او مالي مدیریت په برخه کې خپلې هڅې رواني ساتلي دا یې د پیسو د نړیوال صندوق سره د بسپنه ورکوونکو د مرستو تر ترون لاندې شرایطو کې بشپړې کړیدي. د حساب ورکولو، شفافیت، په مالي مدیریت او بانکدارۍ کې د مثمریت لوړولو د پیاوړتیا مسله د توکیو د

ناستې په درشل کې د نړيوالو بسپنه ورکوونکو د ډاډ لاس ته راوړلو په موخه يو جدي ګام بلل کيده. له دغو هڅو سره د متحده ايالاتو مرستې په ظرفيت جوړولو او روزنو متمرکزې دې چې د بانکدارۍ او قرضه ورکولو په وړو بنسټونو کې تر لاس لاندې دي.

## د IMF د کريډيټ اسانتيا تړون

د 2012 د جون تر 29، د پيسو نړيوال صندوق اعلان وکړ چې دوی په افغانستان کې خپله لومړنی هغه کتنه بشپړه کړيده چې د ECF يا د پيسو د پراخو آسانتياوو د پلي کولو په تړاو يې کړې وه، او د 2011 د نومبر په 14 تصويب شوه. افغانستان ته د 129 مليون ډالرو درې کلن قرض د پيسو د نړيوال صندوق پر شرايطو ولاړ هغه مالي مرسته ده چې هغو هيوادونو ته ورکول کيږي چې د پيسو د تاديې ستونزې يې اوړدې شويدي. IMF د 2011 په نومبرکې د 18.2 مليون ډالرو لومړنی لګښت خپور کړ،افغانستان په بانکدارۍ او مالي مديريت سکتور کې پراختيا ته لا زيات لګښتونه غواړي تر څو د جوړښت بدلون پکښې وليدل شي. IMF په خپله کتنه کې روښانه کړيده چې افغانستان د ملي اقتصاد او اقتصادي خودکفايي په لور ګامونه اوچت کړيدي، او د ګڼو جوړښتي معياراتو پر لور يې مثمره پراختيا موندلې ده:[291]

- د قانون مسوده چې په 2014 کې به پر ارزښت برسيره ټکس پلي کړي
- د اقتصادي جناياتو سره د مبارزې ستراتيژي
- د مرکزي بانک د کاپيټلايز کولو لپاره بواصلاح شوی چوکاټ
- د کابل بانک د 2010 کال د رسوايي په تړاو د پيسو او شتو لا ډير ژغورل
- په دې رسوايي کې په اقتصادي جرايمو تورن حساب ورکولو ته د را ايستلو په برخه کې پرمختګ

IMF د دې باوجود د بدلونونو پلي کيدل ضعيف بولي او د سمون دغه ټکنی بهير له محدودو تخنيکي ظرفيتونو سره په تړاو کې بولي. د توکيو د کنفرانس په درشل کې زيات کاري فشار، د حکومت د مالکيت ضعف او د مسلمو ګټو سره د مخالفت مسله يې نور عوامل بللی شو. د ماليې وزارت له دغې ارزونې سره په هممهاله توګه، زياته کړه چې لاندني موانع به لاهم د IMF راتلونکي معياراتو ته د رسيدو په لار کې ننګوني وي، لکه د يوه نوي او اصلاح شوي بانکي قانون پراختيا او پلي کول، د هغو بانکونو لپاره چې د بنسټيزو غوښتنو تر ټولو لږه برخه يې هم نده بشپړه کړې د ستراتيژی طرح او پلي کول، د مالي نظارت د اداري له سره سمبالول، او د اقتصادي جرايمو د مخنيوي او مجازاتو په موخه د ګامونو پورته کول.[292]

د جون په 29 ، د IMF شورا د کارکوونکو هغه سپارښتني ومنلې چې له مخې به يې د 18.2 مليونو دوهم لګښت خپور شي. تر څنګ يې په يوه اجرايي مقياس کې د ناکامه نظارت په تړاو بخښنه ورکړله شي او دنورو اجرايي مقياسونو سمون پکښې شامل دی. حال دا چې ، IMF خبرداری ورکوي چې د افغان حکومت دوامداره ژمنتيا بنسټيز رول لري، کله د بوديجې د تطبيق ډيپاوړتيا په موخه چې دولت کومې اړتياوې لري، يا د حکومتدارۍ ترينګلې مسلې او د حساب ورکولو پراختيا چې ورته مهمه ده.[293]

## د افغانستان بانک بياځلي پانګونه

په 2010 کال کې ديوالي کيدو ته په نږدې حالت کې بانک د نږدې يو مليارد ډالرو غلا شوې بسپنې قضيه روښانه کړه. د لوی څارنوال د د دفتر په وينا په اپريل کې د جون د پورونو د ورکړې ضرب

العجل تر اعلان وروسته، چې د اولسمشر کرزي له لوري وشو، د 108 مليونو ډالرو په ارزښت شته بيا لاس ته راغلل چې په دې کې 26 مليونه نقدې پيسي هم شاملې وې. په دې کې په پامير هوايې شرکت، باختر ټلويزيون، ګاز ګروپ کې د ونډو پلورل ، د کابل په استقلال ښارګوټې کې د 147 اپارتمانونو او په دوبۍ کې د 19 اپارتمانونو پلورل شامل دي، همداراز د 150 کانټنرې خونو د خرڅولو مسله يادولای شو. د ځمکې يوه نا معلومه اندازه هم د دولت ملکيت ته ور وليږدول شوه. د لوی څارنوال دفتر د دغو شتو د پلور بيو په اړه معلومات ندي چمتو کړي——دا جزييات له دې کبله مهم دي چې IMF د غير نقدي شتو د راګرځيدو مسله تر هغي په نظرکې نه نيسي چې حساب يې تصفيه شوی نه وي.[294]

افغان حکومت په راپور کې ځينې شميرې روښانه کړې چې د IMF له شميرو سره سمون نه خوري. د 2012 د جون تر 4 ، دولت په ټوليزو لاس ته راوړنوکې د 128 مليونو ډالرو ادعا وکړه (دا د 935 مليونو ډالرو غلا شوې سرمايې يوه برخه ده). په دغو 128 مليونو کې 54 مليونه د 2011 په نومبر کې له ECF سره د تړون تر لاسليک وروسته لاس ته راغلې دي، نور 30 مليونه د کرزي تر هغه اعلان وروسته لاس ته راغلې چې د پورونه د تاديې د ضرب العجل په اړه يې کړې وې. حال دا چې د کابل بانک په اړه په عدلي څارنو کې چې د متحده ايالاتو د کرول اسوشيت موسسې له لورې تر سره شوي وه هيڅ داسي څوک چې خپل پوريې په بشپړه توګه ورکړی وي ونه پيژندل شو.[295]

## نوي پرمختګونـــــــه: ځانګړې محکمه

د DoS په وينا د 2012 د اپريل په 18 د سترې محکمې له لوري يوه ځانګړې محکمه جوړه شوه، تر څو په بانک کې د اقتصادي جرايمو څيړنه او تعقيب وکړي. که څه هم د اولسمشر کرزي په رسمي ويبپاڼه کې روښانه شوې وه چې د ځانګړې څارنوالۍ دفتر به جوړيږي ، خو د اولسمشر د اپريل د څلورمې په فرمان کې چې د ځانګړي محکمې د جوړيدو خبره پکښې شوې وه د ځانګري څارنوالي د ادارې په اړه څه نه وو ويل شوي.[296] د جون د دوهمې په ناسته کې اولسمشر کرزي او دولتي مسولينو پريکړه وکړه چې په رسمي توګه به د کابل بانک د پورونو د راګرځيدو قضيه ځانګري محکمې ته راجع کړای شي.[297]

په دې ربع کې د لوی څارنوال دفتر په ځانګړي محکمه کې تورونه او جنايي اتهامات ولګول. د خزانې د وزارت په وينا، په دغو تورونو کې د کابل بانک د مخکني ريس شيرخان فرنود، اجرايوي ريس خليل الله فيروزي او ګڼو نورو پخوانيو کارکونکو نومونه راغلي دي، برسيره پر دې د افغانستان بانک ځينې پخواني او اوسني مسولين هم پکښې شامل دي.[298] د افغانستان د ماليې وزارت روښانه کړه چې لوی څارنوالي تورونه لګولي دي، او په خپل وار د کرول اسوشيت له لوري په لاره اچول شوي د عدلي څار راپور چې د بانک د ديوالي کيدو د مسوليت په اړه يې څرک ګکولی دی، د نورو اسنادو ترڅنګ محکمې ته وړاندې کړای شويدي خزانې وزارت ته د وړاندې شويو معلوماتو په بنسټ، دغه تورونه د عدلي څار له موندنو سره په يوه ليکه کې نه راځي.[299]

د جون په نهمه، په ماليې وزارت کې له دولت سره تړلو ونډه والو په دې اړه ناسته درلوده چې د شتو د بيا راګرځيدو سره موجودې قانوني قضيې وڅيړي. هغو پر دې هوکړه وکړه چې د کابل بانک اخيستونکي به مدني قضيې د مالي منازغاتو د حل کميسون يا FDRC ته راجع کړي، او د جنايې برخو د موندلو په صورت کي به د لوی څارنوالي له خواځانګړې محکمې ته وليږدول شي. له FDRC سره مخالفتونه به محکمې ته وړاندې کړای شي.[300]

د خزاني وزارت په وينا، افغان حکومت منلې ده چې د پورونو يوه ډله ايزه قضيه لوی څارنوالۍ ته د يوې جنايي قضيي په توګه ليږدول شويده، دا کار وروسته له هغه وشو چې FDRC پدې ونه توانيد

چي دغه قضيه په مدني بڼه حل کړي. د خزاني وزارت پدې اند دی چي په دې ربع کې FDRC ته دوه نورې مدني قضيې راجع شويدي، او د کابل بانک لاس ته راوړونکې په پام کې لرې چي په راتلونکې ربع کې FDRC ته دوه نورې مدني قضيې راجع کړي.[301] د 2012 د جون تر 7، د DoS شميرې ښيي چي عدلي تعقيب ته په ټوله کې 21 قضيې راجع شويدي.[302] په دې ربع کې هيڅ کوم نوی تحقيق يا د روانو تحقيقاتو په اړه نوې جريبات لاس ته ندي راغلي.

د مي په 23، د افغانستان د ملي شورا ولسي جرګې يوه عمومي غونډه جوړه کړه چي پکښې د مالي وزارت، دافغانستان بانک، او د کابل بانک د څارنې کميټې برخه درلوده او د پورونو د راګرځيدو وضعيت يې تر ځيړنو لاندې ونيو. برسيره پر دې چي د هغو پورونو د څومره والي په اړه چي تر اوسه ندي راګرځيدلي بحث وشو، د ولسي جرګې استازو په دې تاکيد وکړ چي په اقتصادي جرايمو اخته کسان دې وپيژندل شي.[303] د افغانستان خبري ادارو د 22 کسانو هغه لست خپور کړ چي د پور اخيستونکو نومونه پکښې راغلي دي او له يو مليون ډالرو تر 279 مليون ډالرو پور پکښې څرګند شويدی—مجموعي اندازه يې 779.4 مليون ډالره ښودل شويده. پدې لست کې د هغو کسانو، کمپنيو، حساب لرونکو ډلو نومونه چي د کابل بانک د موسس، مشر او اجرايي ريس نومونه هم پکښې راغلي دي، شامل دي . همدارنګ د اولسمشر کرزي د ورور او د اولسمشر د لومړي معاون ورور نومونه هم پکښې راغلي دي.[304]

## تازه خبر: خصوصي پانګه اچونکو ته د نوي کابل بانک پلورل

نوی کابل بانک يوه موقتي يا " د پول بانک" دی چي له کابل بانک څخه شته، پيسي او پورونه ور پاته دي. نوي پورونه نشي غځولای. په تيره ربع کې سيګار راپور ورکړ چي د مالي وزارت په پام کې لري چي د 2012 د جون تر 30 نوی کابل بانک پر خصوصي پانګه والو وپلوري او که چيری پيرودونکی نشي موندل کيدی نو د 2013 تر مارچ پوري دي تصفيه شي. د IMF په وينا دغه ضرب العجل له مخکني پړاو تير شوی. په دې ربع کې يو سلاکار د خصوصي کولو پلان پر پراختيا کار پيل کړ، تمه کيږي چي په اګست کې به بشپړه شي. که دغه مهال ويش په ځای پاته شي،د IMF په وينا به نوی کابل بانک د سپتمبر تر30 خرڅلاو ته وړاندي شي، د نه خر ځيدو په صورت کې به د 2013 تر پايه تصفيه شي.[305]

## احتياطي او نور څارونکي

د کابل بانک رسوايی ددې سبب شوه چي بسپنه ورکوونکي هيوادونه د کابل بانک او عزيزي بانک لپاره عدلي څارونکي وګماري، همدارنګ نړيوال بانک لسو تجارتي بانکونو ته چي نومونه يې ندي اخيستل شوي د احتياطي څارونکو په ټاکنو کې مرسته کړيده. په دې څارنو کې متحده ايالات شامل نه وو، او د افغانستان بانک د خزاني وزارت ته راپور ندی ورکړی؛ حال دا چي د خزاني وزارت د ټوليزو موندنو په تړاو د IMF ، نړيوال بانک، او د متحده ايالاتو له متحدينو څخه معلومات لاس ته راوړي دي.[306] A د DoS په وينا بسپنه ورکوونکو ته د جون په 12 د نړيوال بانک په مالي ملاتړ د پنځو څارونکو د موندنو په اړه لنډ نړضيحات وکړل شول. او د پانو پنځو د جولای په لومړۍ تر سره شوه.[307] د خزاني وزارت څرګنده کړيده چي دوی تمه نلري چي پايلې دې ټولو ته علني شي.خو ددې تر څنګ تمه کوي چي د عمومي موندنو يوه توضيح دې د IMF د وييباني په هغه برخه کې خپره شي چي د افغانستان د پروګرام کتني ته ځانګړې شويده.[308]

## د متحده ایالاتود مرستو پروګرامونه

په دې ربع کې ، USAID 1.2 ملیونه ډالر چمتو کړیدي چې د افغانستان د بانکدارۍ او مالي مدیریت انسټیټوټ یا AIBF ته یې په 2012 او 2013کال کې د عملیاتي لګښتونو په موخه ورکړي، دا مرستې د افغانستان پراختیا پروګرام ته د بسپنو د مالي مدیریت لاس رسي له لاري لګول کیږي. AIBF چې د افغانستان بانک سره د یو عامه خصوصي ملګرې په توګه کار کوي، د افغانستان د بانکدارانو اتحادیه، او د افغانستا ن د وړو پورونود پانګونې د ملاتړآسانتیاوو د بانکدارۍ او وړو پورونو په برخه کې د ظرفیت جوړولو پروګرامونه ، او همداراز اوږدمهاله او لنډمهاله روزنې په لاره اچولي دي.او پلان لري چې د ولایاتو په کچه هم مالي مدیریت سکتور ته کار وکړي. [309] له دغو مرستو په استفادې AIBF دا موخه لري چې ګڼ کارونه سرته ورسوي:[310]

- د مالي بنسټونو تشویق تر څو د کارونو د پرمخ بیولو او ګمارلو په اړه تصمیمونه د اهلیت په بنسټ ولاړ وي
- د دولتي کارکوونکو لپاره د مسلکي پلټنو چمتو کول
- د اسلامي بانکدارۍ، سوداګریزې بانکدارۍ، او وړو پورونو د ورکړو په اړه د ځانګړو تخصصي سندونو درلودونکي روزنیزو پروګرامونو پراختیا
- د علمي درجو او مسلکي ډیپلومونو درلودنوکو پروګرامونو ته پراختیا ورکول ، چې له لوړو نړیوالو پوهنتونونواو اکاډمیکو مرکزونو سره په تړاو کې به تر سره شي
- د ورکشاپونو او سیمینارونو له لیاري مسلکي ودې ته د زمینې برابرول
- د مسلکي سمفوزیمونو، کنفرانسونو او ناستو پیاوړتیا
- د AIBF د فاکولتي او اداري د ظرفیت پیاوړتیا
- په AIBF کې دیوې کتابخانې او تحقیقي امکاناتو د مرکز تاسیسول چې انترنیټي آسانتیاوې به هم ولري

په دې ربع کې OTA مرسته وکړه چې هغه بانکي غوښتنه نهایي کړي چې د دفاع او کورنیو چارو وزارت لپاره وړاندیز شوی وو، په هغه کښې له ناټو د مالي مرستوغوښتنه شوې وه تر څو د وزارت د معاشونو د معاملو لګښتونه راکم کړي. OTA وایي چې دغو هڅو له ناټو سره مرسته کړیده چې د OTA له نورو پلټونکو لومړیتوبونو کلیدي هڅو سره مرسته وکړي، لکه بانکي تړونونو او د مبایل له لارې د پیسو سیستم پروګرامونه.[311]

همداراز OTA له افغانستان سره د مشخصو ECF معیارونو لاس ته راوړنو کې مرسته کوي او د اقتصادي جرایمو په مخنیوي کې د مرستې له لارې غواړي د نړیوالو بسپنه ورکونکو اعتماد اوچت کړي. پدې ربع کې، OTA له هغو پلټونکو د ظرفیت لوړولو سره مرسته وکړه چې د لویو جرمونو په کاري ځواک یا MCTF کې دنده ترسره کوي. او د MCTF استخباراتي واحد کې دننه د مالي تحلیلولونو د پراختیا لپاره کار کوي. OTA داسې اونیزې روزنې او پلټنې چمتو کوي چې د ناقانونه پیسو، رشوت، تقلب او د امریکایي اسعارو جعلي نوټونوپه اړه موضوعات لري.[312]

د DoS په وینا افغان حکومت له متحده ایالاتو د افغانستان بانک لپاره د تخنیکي امکاناتو مرسته غوښتې ده تر څو د مالي مدیریت سکتور ثبات ومومي. دا غوښتنه تر کتنې لاندې ده.[313]

## د USAID پراختیایي لومړیتوبونه

د USAID په وینا، د دوی د 2012 او 2013مالي کلونو بودیجه د متحده ایالاتو ستراتیژي ته غبرګون ورکوي—چې دا په اقتصادي ودې یو پیاوړی تاکید دی او د ډیموکراسي له لومړیتوبونو، حکومتداری، روغتیا او زده کړې ښکاره ملاتړ دی. ددغې اداری د 2013 مالي کال بودیجه کې د 2012 مالي کال په پرتله 28 ملیونه اضافي پیسي غوښتل شویدي ، ویل شوي دي دا به د ټاکنو په برخه کې په تیاریو کې ولګول شي، چې د ولسمشري لپاره په 2014 کال کې وړاندوینه ورته کیږي.[314]

### د موبایل پیسي

د 2011 په مي کې USAID له څلورو سترو مخابراتي کمپنیو سره چې د موبایل له لارې د پیسو خدمتونه وړاندي کوي، په افغانستان کې د مبایل دپیسو خدمتونو اداري یا AMMOA لخوا مرسته وکړه . لومړني غړي یې افغان بیسیم، اتصالات، MTN، او روشن وو. [315] په اپریل کي AMMOA او USAID په ملي کچه د پوهنتونونو د زده کوونکو تر منځ داسي یوه سیالی په لاره واچوله چې د پیسو په اړه ابتکاري درخواستونه پکښې شامل وو او د جولای په نهمه یې اته ګټونکي اعلان کړل (له 5,000 زیاتو ګډونوالو له ډلي څخه). ګټونکو زده کوونکو یوه نقدي جایزه تر لاسه کړه او پوهنتونونه به یې پنځه ډیسکټاپ کمپیوټرونه له انټرنیټي آسانتیاوو سره د کتابتونونو لپاره تر لاسه کوي. د AMMOA غړي به د موبایل له لاري د پیسو دوه نوي وړاندیزونه ولري چې د ګټلو په بنسټ به ولاړ وي.[316]

### د زیربناوو بدلون

په افغانستان کې د USAID له لاري نړدې ټولي تمویلیدونکي پروژې، د بنسټیزو پروژو په ګډون، د SOAGs یا دوه اړخیزو ستراتیژیکو موخو د د اهدا تړون له لاري اداره کیږي چې د متحد ایالاتو او



**د USACE یو** تن افسر افغان همغاړو ته د انجینیرانو د قطعي د ملکیت عملیاتو او پایښت د مسولیت د لیږد په مناسبت په سمبولیکه توګه کلی ورکړي. (د USACE انځور د جو میرک له خوا)

افغان حکومت ترمنځ شوې او د USAID له لوري يې پيژندنه کيږي. ددې لپاره چې مرسته وشي چې پروژې خپلو غوښتل شويو موخو ته رسيدل ډاډمن کړي، SOAGs هغه شرايط په برکې لري چې د ترون موخې، اهداف او تمه شوې پايلې ټاکي، همداراز د هغو فعاليتونو ځرګندوني کوي چې بايد تر لاس لاندې وي او د دواړه اړخونو مسوليتونه او اصول په ګوته کوي. هغوی برسيره پردې له پايښت، د پايلو تنظيم، شفافيت، همکاري او حساب ورکولو سره تړلې فقرې په ځان کې لري. په پای کې، هغوې هغه شرايط لري چې اسناد (راپورونه او معلومات، د ترون کتابونه، او سوانح)، نظارت (څارنې او پلټنې)، او بشپړتيا يې يوه برخه ده.[317]

د USAID په وينا، د بنسټيزو پروژو په پای کې ، د پروژې د تطبيق سند چې د متحده اياالاتو او افغان مسولينو له لوري لاسليک شوی دی، هغه سټنډرد دی چې افغات حکومت ته ورکول کيږي او د پروژې له بشپړيدو يې خبروي، د پايلو لنډيز ورکوي، او د پروژې مالکيت او مسوليت په رسمي توګه ورليږدوي. د تطبيق سند دا روښانه کوي چې افغان حکومت د آسانتياوو او وسايلو پوره مسوليت او محافظت په غاړه اخلي، همداراز امنيت او د پايښت په موخه مناسب خدمتونه، او د شونتيا په صورت کې د هغو لګښتونه ورکوي.[318]

که چيرته افغان حکومت د USAID په بسپنه له بنسټيزو پروژو موافقه شوې ګټه نه پورته کوي، USAID د SOAG له لارې د مناسبو قانوني سرچينو د موندلو هڅه کوي. USAID ټاکنه کولای شي، او له خپل واک څخه ګټه پورته کولای شي چې دا مسله له سياسي يا نورو مواردو حل او په نښه کړي.[319]

## کرهنه

کرهنه په افغان اقتصاد کې د پام وړ رول لوبـــــــوي. د افغانستان يواځې 12% ځمکه د کر وړتيا لري او تر 6% لږه برخه يې کرل کيږي، تر دې مهاله 80% افغانان په مستقيمه يا غيرمستقيمه توګه له کرهنيزو لارو د ژوند اړتياوې پوره کوي. [320]

## وچکالۍ او درمندونه

د وچکالۍ په وخت د خبرداری سيستم شبکې يا FEWS Net وړاندوينه کړې چې د 2012 کال د غله جاتو ملي محصول به تر منځنۍ کچې لوړ وي—او د غنمواو وړو سيمه ايز واردات—چې د افغانانو د خوړو تر 70% زياته برخه جوړوي—به نيمې ته را ټيټ شي.[321] حال دا چې په شمال ختيځ کې په لوړو پرتو سيمو او مرکزي غرنيو ځمکو، او د پسرلنيو سيلاب لړونکو سيمو—کې به دغه اټکل سم نه وي او د محصولات کچه به د خوړو له پلوه خونديتوب له ګواښ سره مخامخ کړي. FEWS Net په ګوته کړيده چې سږکال ډيری سيندونه او ذخيرې د اوبولګولو لپاره تر تمې زياتې اوبه لري او په خړوبو شوو ځمکو کې، ددوهم کر لپاره شونتيا برابروي، په ځانګړې توګه د وريځو او کتان په برخه کې. د وچ فصل د پيليدو چې د جون په سر کې يې وخت دی او تر اګست به دوام وکړي، FEWS Net خبرداری ورکړی چې د افغانستان ختيځې سيمې (په سر کې کنړ، ننګرهار، پکتيا، لغمان ولايتونه) به د کلني هندي موسون له کبله له سيلابونو سره مخ شي.[322]

## د غذاي توکو قيمت

د خوړو بيې د ټيټيدو په حال کې دي خو تر اوسه هم تر هغې منځنۍ کچې لوړې دي چې د 2008 کال د ورستې سختې وچکالي تر پيل مخکې يې درلودې . نړيوال خوراکي سازمان راپور ورکړ چې د غنمو

بيه په مي کې راولويده، دا بهير د 2012 د جنورۍ له مياشتې پيل شوی وو. په مهمو ښارونو کې د غنمو بيه د اپريل په پرتله 4.1% را لويدلې وه او د تير کال په پرتله 6.9% راټيټه شوې وه. د غنمو د وړو بيه هم په مي کښې راښکته شوه، چې د اپريل په پرتله 2.5% ټيټوالی ښيي.[323]

دغه کچه د 2007 کال له جنوري تر اوکتوبره د غلو د بيو تر کچې لوړه پاته شوې، د 2008 کال تر وچکالۍ او په پايله کې د غنمو په وارداتو کې د محدوديتونو په نتيجه کښې د خوراکي موادو بيې وختلې.[324] د غنمو بيه 20.6% او د وړو بيه 33% تر بحران له مخکې کچې څخه لوړه شوه.[325]

## اړين خدمتونه

عامه خدماتو کې د افغان حکومت د پياوړتياوو وده به د اوږدمهاله ثبات په پايښت کې مرسته وکړي او اوږدمهاله اقتصادي وده به رامنځ ته کړي. په دې ربع کې، د امريکا متحده ايالاتو بيا هم په اقتصادي ډګر کې د هغه هڅو څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړ چې د امنيتي چارو د مسوليت د ليږد د بهير لپاره اړين او اغيزمن دي. دغه برخه د افغان حکومت د ظرفيتونو او خدمتونو د انکشاف په برخه کې د امريکا هڅو ته ځانګړې شوې ده.

## انرژي

د انرژۍ سکتور افغان حکومت او نړيوالې ټولنې ته د دې هيواد دبنسټيزو زيربناوو په برخه کې يو لومړيتوب دی. په دې ربع کې، DoS، USAID، DoD د اضافي بريښنا د توليد، د بريښنا د ليږد ظرفيت لوړوالي، اود بريښنا د توضيع لپاره د پايو سمبالولو په برخه کې له بيلابيلو پروژو څخه خپل ملاتړ روان ساتلی دی.[326]

### د انرژۍ د سکتور پراختيا

پدی ربع کی، د متراکم طبيعي ګاز يا CNG چه د شبرغان په ولايت کې موقعيت لري د کانونو وزارت ته تسليم کـــړل شوو. په مي کې به تجارتی معاملې پيل کړي. د سټيشن د جوړولو مرسته د DoD د ثبات او تجارت لپاره د عملياتو ځانګړي کاري ډلې TFBSO له خوا شوې وه؟ لدې چې CNG تر پټرولو 50 سلنه وريا ده، برسيره پر هغې پاکه ده، TFBSO څرګنده کړيده چې د CNG سټيشن دې د تيلو وارداتو ته کمی ورکړی او د انرژي امينت دې په لوړه کچه چمتو کړي.[327]

برسيره پر دې USAID له رواني بوديجې د 90 مليون ډالرو د تطبيق هغه سند لاسليک کړ چې له کانونو وزارت سره د ګاز د سکتور د پياوړتيا په موخه شويدي، همداراز د بريښنا يوې داسې کارخانې ته چې MW 200 ظرفيت به لري د شبرغان له سيمو ګاز چمتو کوي او لدې سره به د انرژي امنيت تامين شي، موخه يکښې داده چې په وارداتي انرژۍ د افغانستان تکيه راکمه کړي. د جون تر 28، USAID د 90 مليون ډالرو له جملې د 30 مليونو ژمنه کړيده.[328]

USAID د انرژۍ په برخه کې درې رواني پروژې لري:[329]

- د شبرغان د ګازو پراختيايي پروګرام: موخه يکښې داده چې د ګاز په برخه کې د افغان حکومت ظرفيت لوړ کړای شي او تخنيکی مرستو ته د ځانګړي بوديجې له لارې وشي. اټکل شوی ټوليز لګښت: 35 مليون ډالره.
- د تره خيل د برق د کارخانې عمليات او محافظت: موخه داده چې د افغانستان بريښنا شرکت –چې د بريښنا د خدمتونو ملي شرکت دی –ظرفيت لوړ کړای شي ترڅو د تره خيل د بريښنا د کارخانې عمليات او محافظت په ولکه کې ونيسي. اټکل شوی ټوليز لګښت: 30.5 مليون ډالره.



**افغان بريښناي ځواک** د بريښنا د لينونو د تبديلولو او په مصونه توګه د برقي قطبونو د ځای پر ځای کولو په تړاو د متحده اياالتو د فوځ د انجنيرانو قطعې سرتيرو لخوا د کارپه محال روزنه تر لاسه کړه. د افغانستان د زيربناوو د پروګرام په اړه د سيګار څارنې د زيربناوو د عصري کولوپه موخه د متحده اياالتو هڅو ته کتنه کړيده، چې د بريښنا توليد، ليږد او ويش هم پکښې شامل دي. (د USACE انځور د کارلا مارشا ل لخوا)

- د کندهار – هلمند د بريښنا پروژه: موخه داده چې په کندهار او هلمند کی د برق درسولو سيستم پياوړی شي. اټکل شوی ټوليز لګښت: 266 مليون ډالر.

منظمه مفاهمه او همغږی ددې لپاره اړينه ده چې د افغانستان د انرژۍ د زيربناوو په تړاو د امريکا د متحده اياالتو او نورو بسپنه ورکونکو له مرستو مثمره او اغيزمنه استفاده وشي. د USAID په وينا، د امريکا د متحده اياالتو له خوا په بسپنه شويو پروژو کې د متحده اياالتو د اردو او ملکي مشرتابه تر منځ ګډ بحثونه شويدي. د متحده اياالتو پلې کوونکې اداري لکه په افغانستان کې د متحده اياالتو ځواکونه، د امريکا د اردو د انجينيرانو قطعه، USAID، DoS د زيربناوو د رغونو له کاري ډلو سره په منظمه توګه همغږي لري او د افغانستان د زيربناوو د پروګرام ناستې جوړوي.[330]

پدې ربع کې، USAID په هغو دوو سيمه ايزو کنفرانسو کې ګډون وکړ چې د اسيايي پرمختيايي بانک له لوری په لاره اچول شوي وو—په استانبول او په مانيلا کې—ترڅو د انرژۍ په برخه کې د يوه منطقوي ستراتيژيک پلان وده وڅيړي. USAID په منظمه توګه له نړيوالو ملګرو سره لکه نړيوال بانک، اسيايي پراختيايي بانک، د انرژۍ بين الوزارتي کميسيون سره ناستې کوي ، همداراز په نورو ګڼو دوه اړخيزو او څو اړخيزو ناستو او کنفرانسونو کې ونډه اخلي.[331]

## عامـــــهمنفعتــــــونه

د بريښنا د ليږد د خپرولو او نښلولو پروګرام يا PTEC دمتحده اياالتو په مرسته ولاړ پروګرام دی چې د ماليې ، اوبو او بريښنا له وزارت او د فغانستان بريښنا شرکت سره د مرستې په موخه را منځ ته شويده

### د سيګار پلټنې

د افغانستان د زيربناوو د پروګرام په تړاو يوې څيړنې کې ، سيګار د پروژو ټاکنه، پايلې، او قانوني بشپړتيا ارزولې ده. د نورو معلوماتو لپاره، د 2 سکشن 25 مخ وګورئ.

چي د افغانستان د انرژۍ د تولید، لیږد او توضیع عصري کولو ته کار کوي. د PTEC د بوې برخي په توګه USAID پدې کار کوي چي د افغانستان برېښنا شرکت تجارتي کړي او د عوایدو ټولولو ته یي سمون ورکړي.

د USAID په وینا د کابل د برېښنا خدمتونو د سمون 27 میاشتنی پروژې یا KESIP د کابل – DABS د عوایدو ټولول 59 سلنه لوړه کړه، او تخنیکي او سوداګریز زیانونه یې 12 سلنه را کمه کړه. USAID ویلي دي چي KESIP یو پایدونکی موډل رامنځ ته کړ چي په نورو ولایتونو کي د DABS د توضیح مرکزونو ته غځول کیدی شي.[332]

د 2012 تر مي، USAID د PTEC له لاری د تجارتي کولو د 140 ملیونو ډالرو د پروژې له جملي د 53.0 ژمنه او تخصیص کړی او د PTEC له لاری یي د کابل- DABS لپاره 49.1 لګولي دي. له 2010 راهیسي USAID د کندهار له DABS سره دعوایدو د ټولولو د سمون ، د عملیاتو د ضایعاتو د کمولو ، او د ظرفیت د لوړولو او محافظت په برخه کي کار کوي. د 2012 تر مي USAID د 7 ملیون ډالرو ژمنه وکړه او 6.9 ملیونه یي تخصیص کړل چي له هغي جملي یي د افغانستان د زیربناوو د بیارغولو د پروګرام له لاري 5.8 ملیون ډالره ولګول.[333]

**د افغانستان د زیربناوو د بیارغوني د پروګرام له لارې، د چټک غبرګون کاري ځواک و ګمارل شو تر څو د هغو زیربیایي پروژو اړتیاوې په نښه کړي چي لنډ مهالي دي او یا محدود امکانات لري، یا چټک غبرګون ته اړتیا لري. دا پروګرام په پام کي لري چي دهغو محدودو ناڅاپه، بیابیا پیښیدونکو تخنیکی اړتیاوې چي ملاتړ ته ضرورت لري ژر تر ژره حل برابر شي تر څو ورسره تړلي غټ فعالیتونه له ځنډ سره مخ نشي.**

سرچینه: USAID، " د افغانستان د زیربناوو او بیارغوني پروګرام یا IRP – د چټک غبرګون عمومي خدمتونه"، د لاس رسي نیټه 7/11/2012.

## د طبیعي سرچینو داوطلبي

لکه چي د سیګار په تیر دری میاشتني راپور کي راغلي دي، د مارچ په سر کي د کانو وزارت د په شیږو بلاکونو (د سیږلو منل شوي سایټونه) کي د هایدروکاربنونو سیږل، پراختیا او تولید داوطلبی ته وړاندي کړل چي د افغان-تاجک سین په غربي سیمو کي پراته دي. پدغو هڅو کي د کانونو له وزارت سره TFBSO کړیده. د TFBSO پدغو شپږو بلاکونو کي شاوخوا له 700–900 بیلر اټکل شوي دي. د دې ربع له پای سره ،د 2012 د جون په 30 ، د پام وړ دلچسپي ښکاره شوه.[334] د کانونو وزارت د شلو علاقمندو کمپنیو له جملي اته وړ وړاندیز کونکي اعلان کړل: په متحده ایالاتو کي میشته اکسون موبایل، دوبی میشته دراګون آیل، کویټ انرژي، د هند ONGC وندیش، د برازیل پیترا انرژیا، پاکستان پترولیم، د ټایلنډ PTT، او د ترکیې [335] .TPAO

د کانونو وزارت په وینا 60 جیولوژیک جوړښتونه چي نفت او ګاز لري مکناتیسي او ګراویټی سرو په اساس پیژندل شویدي. پدې ربع کي ، له هغو، 25 د معلومات ټولولو زلزله ایزې دوه بعدي لارو چارو په واسطه نقشه په نښه شوي. معلومات به د داوطلبی دیوی برخي په توګه د وړاندیز کوونکو په ولکه کي ورکړل شي.[336] وړاندیزونه به د 2012 د اکتوبر تر میاشتي د لاسرسي وړ وي، وروسته لدي چي د کانونو وزارت په ډیسیمبرکي هغه تر لاسه کړي او تحلیل پري وکړي، TFBSO به د داوطلبی ارزښت د پیسو له پلوه اعلان کړي. TFBSO تمه لري چي د اګست په میاشت کي د دریمي اټکل به د کاربو هیدریتونو د څومره والي په تړاو لاس ته راوړي، خو دپیسو ارزښت به یي اټکل نشي.[337]

پدې ربع کي TFBSO د کانونو وزارت ته د تیر پول په جهیل کي چي د افغانستان په ختیځ کي پروت دي هغو مشورو ته دوام ورکړ چي هایدروکاربنونه دي داوطلبی ته وړاندي شي. تمه کیږي د داوطلبی رسمي اعلان به د 2012 په اګست کي وشي،که څه هم تر اوسه مهال ویش ندی تایید شوی.[338]

## د TAPI د بیو ټرون

د مي په 23 هند، پاکستان، او ترکمنستان د ګازو د بیو ټرون لاسلیک کړ، او افغانستان او ترکمنستان د ګاز په برخه کي د همغږی په اړه د اوږدمهاله پوهاوی یاددښت لاسلیک کړ. دا د

ترکمنستان- افغانستان- پاکستان-هند TAPI يوه برخه ده.[339] د TAPI د پروژې د خبرو اترو مخه له شلو کلونو راهيسې د ځينو د ځينو موانعو له امله ډب ده. دا پروژه داسې طرح شويده چې د ترکمنستان ګاز دې د افغانستان او پاکستان له لارې هند ته وليږدول شي. ددغې پروژې بشپړه پلې کيدنه به افغانستان ته ترانزيتي عوايد ور په برخه کړي، د انرژۍ امنيت به پياوړی کړي،او د وريښمو دنوی لارې د يوه موډل بنه به ونيسي چې امريکا يې ملاتړ کوي.[340] پر پايپ لاين د عملياتو لپاره تر اوسه هم يوه سوداګريز چوکاټ او تخنيکی مرستو ته اړتيا ده، د نړيوال مالي مديريت په وينا شاوخوا 7.6 مليارډ ډالر لګښت غواړي.[341]

## ښووونه او روزنه (معارف)

د طالبانو په واکمنۍ کې تر يو مليون لږ ماشومان مکتب ته تلل. حال دا چې له 2002 راهيسې اته مليونه زده کوونکي او تر 63,000 ډير محصلين مکتبونو ته شامل شويدي او 614 ښونځي جوړ شويدي.[342] د 2012 تر مې USAID د معارف په سکتور کې د شپږو پروژو اداره چې ټوليز ارزښت يې 195.3 مليونه کيږي اداره کوي.[343] له 2009 تر 2012 مالي کال USAID د اقتصادي ملاتړ د بسپنې له لارې دمعارف پروګرام ته 416 مليونه ډالر ځانګړي کړيدي. لکه په 416 شکلکې چې راغلي دي. دغې اداري د 2013 مالي کال لپاره کانګرس ته د 95 مليونو ډالرو بوديجې توجيه وړاندې کړيده.[344] USAID هيله لري چې د معارف په برخه کې پانګونه به افغانستان د خصوصي سکتور ودې ته لا ډير مساعد کړي.[345]

### د معارف اهداف او صنعتي اړتياوې په يوه ليکه کې راوستل

ترډې مهاله د پانګونو او لاس ته راوړنو باوجود، USAID ويلي چې نه دلوړو زده کړو د نصاب کيفيت او نه د فارغينو کيفيت د هغو سکتورونو وړتياوې چې د افغانستان ودې ته مهمې دي پوره کولای شي. فارغين د کار موندلو لپاره ډيرې سختې تيروي او د خصوصي سکتورکمپنۍ دا غوره بولي چې تکړه کارکوونکي له هند، ترکيې، او نورو هيوادونو راولي.[346]

د USAID په وينا د عامو لوړو زده کړو موسسو کيفيت په ټوله کې ټيټ دی ــ د ښوونځيو نصاب زوړ دی – او د ښوونکو زده کړې عموماً محدودې او نيمګړې دي.(يواځې 35 سلنه ښوونکي د فراغت اسناد لري)، او لابراتواري آسانتياوې نيمګړې دي. برسيره پردې، لوړو زده کړو ته د داوطلبينو شميره د هغو د جذب تر ظرفيت ډيره لوړه ده.[347]


د USAID په وينا د عامه سکتور تخنيکي ښونځي او د مسلکي زده کړو او روزنو چمتو کوونکي له پامه غورځيدلي دي. هغو د زده کوونکو لپاره د مشخصو ټګلارو او موخو د نه لرلو له کبله داسې کسان نشي روزلای چې د تجارت او صنعت غوښتنو ته ځواب وويلای شي. هغوی مشخصو ټګلارو او موخو يواځې محدودې زده کړې ورکوي. او ډيری هغه شيان چې ښوول کيږي زاړه او پخواني مهارتونه دي. ددوی په پرتله د خصوصي سکتورتخنيکي ښونځي پر سوداګريزو برخو ډيرټاکيد کوي او داسې کورسونه چې تقاضا ورته کيږي وړاندې کوي. ددې توپير له څرګنديدو سره، د دولت د ملي لومړيتوبونو پروګرام 1 دغه اړتيا چې په عامه سکتور کې بايد تخنيکي او مسلکي زده کړې د مارکيت له غوښتنو سره اړخ ولګوي و پيژندله.[348]

حال دا چې ، د کار د مارکيت د اړتياوو په اړه معلومات لا تر اوسه د لاسرسي وړ ندي. USAID جوته کړه چې د څو کلونو راهيسې د کار نړيوال سازمان د کار د ملي مارکيت سروې لپاره د بسپنه

3.37 شکل

زده کړو ته د متحده ايالتو ځانګړي شوې بسپنې

(په مليون ډالرو)




a. د 2013 مالي کال د کانګرس لخوا د بوديجې توجيه.

سرچينې: د سيکار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب ؛ USAID "ګډون، وده، ټينګار" 3/29/2012 ، 7/5/2012 لاسرسی.

ورکوونکو د ملاتړ غوښتنه کړيده. تيرکال، د بريتانيا د نړيوالي پراختيا ديپارتمنت هوکړه وکړه چې د 5 مليونو په ارزښت څيرني ته بسپنه ورکړي چې د افغانستان له CSO سره په همکاري به ترسره شي. خو بیاهم ، مطالعه د ناڅرګندې مودې لپاره لدې کبله وځنډول شوه چې CSO تر اندازې زياته خيره شويده.[349]

د افغانستان د کاري ځواک د پراختيا يا AWDP د دوه کلن پروګرام په اړه تمرکز ته د مرستې په موخه، چې د 2012 کال په اپريل کې پيل شوی دی، USAID د کار د مارکيټ اود ورو او منځنيو تشبثاتو په اړه سروې په لاره واچوله چې په هغو ښيرو ښارونو کې چې AWDP ته وړانديز شوي وو په نظر کې وو. ورته نوري سرويګانې به هم د پروګرام تر پايه په لاره واچول شي—تر دوو کلونو زياته موده کې ځلور داسې پروګرامونه چې -- د شپږو مياشتو په وقفه کې به تر سره شي، موخه داده چې پرمختګ وارزوي.[350] AWDP داسې پروګرامونو ته لاسرسی برابروي چې د کار د مارکيت د غوښتنو سره سم مسلکي تعليمات او روزني په لار واچوي. د تجارت د اداري روزنيز پروګرامونه، د تجارتي پراختيا ملاتړ، مالي اعتبار، او د کارموندلو خدمات وړاندې کوي.[351] تر دې ربع په افغانستان کې د ماستري لس پروګرامونه روان دي. دوو ته پکښې د USAID په ملاتړ پراختيا ورکړل شوه: د دوهمې ژبې په توګه د انګريزي زده کره ، عامه پاليسي او اداره. نوری برخې دري، پښتو، ساينس، مذهبي زده کړې (شرعيات)، معارف، رغونيزه انجينري، هايدرولوژي، او د تجارت اداره. تر دې ربع د PhD پروګرامونه نه وو پيل شوي.[352]

### تازه خبر: د USAID د لوړو زده کړو پروژه

پدې ربع کې، د معارف د پروګرام ماستران (چې د USAID د لوړو زده کړو د پروژې يوه برخه ده) د 22 زده کوونکو دريمه ډله فارغه کړه، چې د فارغينو ټوليزه شميره يې 65 ته لوړه کړه.دد 22 زده کونکو دوه ډلې همدا اوس د زده کړو په حال کې دي. ددغو لومړنيو دريو ډلو ټول فارغين د ښوونې او روزنې د پوهنځی غړي دي چې د زده کړو له پای ته رسولو سره سم خپل پوهنتون ته را ستانه شويدي. USAIDوويل چې لږ تر لږه 17 فارغينو په خپلو پوهنتونو کې صلاحيت لرونکې مقامونه لاس ته راوړي دي.[353]

## روغتيا

افغانستان له نړيوالې ټولنې سره په ګډه پر دې کار کوي چې بنسټيزو اقتصادي او ټولنيزو شاخصونو ته وده ورکړي. د افغانستان د مرکزي احصايې ياCSO او UNICEF په وينا د راپور چې پدې ربع کې خپور شودا جوته شوه چې له 20–24 کلونو ښځو 24 سلنه په اتلس کلنی کښې ماشوم زيږوي. شاوخوا 80 سلنه افغان ميرمنې د زيږون کنترول هيڅ ډول نه کاروي، په دې راپور کې د مور د زده کړې له کچې او زيږون له ټيټ عمر سره پياوړی تړاو موندل شوی دی. د تغذې له پلوه، پايلو ښوولې ده چې تر پنځو کلونو د ټيټ عمر يو په دريمه برخه ماشومان له منځنی تر شديدې کچې لږ وزن لري. د نيمې شاوخوا له ښيرې ودې په منځنی کچه بې برخې دي، او د يو پنځمې شاوخوا له منځنی تر شديدې کچې ډنګر دي.[354]

د کمزوزې احصايوې راپوروونو او څرک معلوموملو برسيره، فکر کيږي چې په افغانستان کې د HIV پيښې ټيټې دي، خو دا هيواد د دغه مرض د خپراوی له لوړ خطرسره مخ دی. د نشه اي توکو وريدي استعمال د هيواد په کچه خپور شوی دی؛ په ښځو کې په ټوله کې او په بدلمنو ښځو کې په ځانګړې توګه

د HIV په اړه پوهاوی ډير کم دی، همداراز له هيواده بهر د کډوالو لوړه شميره د خطر يو بل لامل دی. د CSO/UNICEF راپور مونډلي ده چي له 49-15 کلنو ښځو يواځي 26 سلني د AIDS په اړه اوريدلي دي، خو يواځي 2 سلنه د HIV د مخنيوي او خپراوي په اړه مناسب معلومات لري. مقامات هيله لري چي د HIV په اړه د ښځو پوهاوی او خبرتيا د دغه تهديد د حل لاری کلی ده.[355] CSO او UNICEF د نارينه و سروې ونکړه، او نه د HIV په اړه دهغوی د خبرتيا او پوهاوی کچه او په مخنيوي او خپراوې کي د هغو رول مونډلی دی.

### د معافيت کچه

CSO په خپل راپور کي د افغان حکومت هغه اندېښني بيا تکرار کړې چي د واکسين له ناکافي پوښښ څخه يې کړيدي. يواځي 25 سلنه ماشومان تر يوکلنی مخکي د واکسين چانس لاس ته راوړي. يواځي 18 سلنه له 12–23 مياشتو ماشومان واکسينونه په بشپړه توګه لاس ته راوړلای شي، او يواځي 31 ماشومان د واکسين کارتونه لري. په هغو واکسينونو کي څوځله اخيستل يې اړين دي، تر ټولو لوړ پوښښ په لومړي ځل کي ليدل کيږي. له 2010 تر 2011 کال پوري، 66 سلني ماشومان تر يو کلني مخکي د پوليو واکسين ترلاسه کوي. او تر دريم ځل واکسين 42 سلنه کموالی پکښي راځي.[356]

### د پوليو له منځه وړل

د 2012 کال په شپږو لومړيو مياشتو کي ، د پوليو د لسو پيښو راپور ورکړل شو، دا راپور د نړيوال روغتيايي سازمان د احصايو پر بنسټ خپور شوی دی.[357] د عامي روغتيا د وزير په وينا افغانستا د هغو دريو هيوادونو په ډله کښي دی چي تر اوسه هم پوليو پکښي تر خپريږي، لامل يې دا ښودل شوی چي په نا امنه سيمو کښي کمپاين په مناسبه توګه نه تر سره کيږي او يا په ځينو سيمو کښي روغتيايي چاپيريال شتون نلري. وزيرپر ميندو او پلرونو ټينګار وکړ چي تر پنځو کلونو واړه ماشومانو ته د پوليو واکسين وکړي او دعامه پوهاوي په را منځ ته کولو کي يې د ميډيا مرسته وغوښته.[358] وزارت پر دې کار کوي چي په سويلي ولايتونو کښي د پوليو د منځه وړلو لپاره د واکسين دايمي ډلي جوړې کړي؛ د جولای په 7 د پوليو او شري واکسين کمپاينونه په 15 ولايتونو کښي په لار واچول شول. او د کندهار او هلمند په ځينو برخو کښي د جولای له 14 تر 19پوري په پلان کښي دي.[359]

## سوداګري يا راکړه ورکړه

پدې ربع کي، USAID د افغانستان د ګمرک له اداري او د افغانستان له سرحدي پوليسو سره يوځای کار وکړ تر څو له ازبکستان سره په ګډه پوله د حيرتان بندر کښي سوداګری ته وده ورکړي او له ناقانونه فعاليتونو څخه مخنيوی وکړي. ددې ګډ کار له لاري چي د سرحدي پوليسو موډل نوميږي، USAID دغه افغان اداري په منل شويو نړيوالو لارو چارو روزي، او د قاچاق، نشه اي توکو، اداري فساد او تصفيوی عملياتو په برخه واضح مسوليتونه او قوانين ورته جوړوي. ددغو روانو اکتشافي عملياتو تر چتر لاندي، د ګمرک فعاليتونه 24 ساعتونو ته ورسيدل، دا په خپل وار قانوني تجارت او اقتصادي پياوړتيا ته لار هواروي. دا پروګرام د IMF د غوښتنو مطابق کار کوي، او د بري په صورت کښي به دغه پروګرام دوو نورو بنادرو ته و غځول شي—يو به يې له تاجکستان سره په سرحد د شيرخان بندر وي او دوهم به له ايران سره د اسلام قلا بندر وي.[360]

د جون په 18 د سوداګری نړيوالي اداري يا WTO دغي اداري ته د افغانستان وختي لاسرسي څخه ملاتړ وکړ. افغانستان د 2004 په نومبر کښي د دغي اداري غړيتوب ته غوښتنه وړاندې کړه چي موخه

يې د 2014 تر پايه د غړيتوب د حق تر لاسه کول وو. د افغانستان د غړيتوب حقوق پدغه هيواد کښې د اصلاحاتو د په پلې کولو، د WTO د قوانينو پيروي، او له بيلابيلو انفرادي غړو سره پر ځانګړو هوکړه مباحثه او په ټوله کښې له WTO سره يو ځای کار ته ورداننګل شامل دي.[361] USAID پدغه هڅه کښې د لاسرسي د آسانه کولو او تجارت له لاري مرسته کوي.[362]

## سيمه ايزه همکاري

لکه مخکې چې روښانه شوه، د متحده ايالاتو د بيارغونې د ستراتيژئ يوه کليدي موخه داده چې د وريښمو د نوې لارې د لومړيتوب له لارې د پراخې سيمه ايزې اقتصادي بشپړتيا تقويه ده. ددغه لومړيتوب پرمخ بيولو ته د متحده ايالاتو يوه لاره دا ده چې له افغان حکومت او سيمه ايزو او نړيوالو ملګرو سره په هغو کنفرانسونو کښې ګډون وکړي چې د پاليسي د سمون غوښتنو او زيربناوو پيژندنه او لومړيتوب ورکول پکښې شامل دي.[363]

پدې ربع کښې افغانستان په يو لړ سيمه ايزو ناستو کښې پدې موخه ګډون وکړ چې اقتصادي همکاري او سوداګريزې اړيکې پياوړې کړي. لکه "آسيا د زړه " د وزيرانو په کچه کنفرانس،[364] په بجنګ کښې د شانګهای د همکاريو د سازمان ناسته، چې افغانستان ته پکښې د ناظر موقف ډالۍ شو،[365] په افغانستان کښې د دهلي د پانګونو کنفرانس، چې په افغانستان کښې يې بهرنيو پانګونو ته د فرصتونو موقع ښکاره کړه،[366] په يوې کښې د ترکيې د بهرنيو چارو وزير ژمنه وکړه چې په افغانستان کښې موجود د بيارغونې ولايتي ټيمونه منحل کړي او امکانات او زيربناوې يې افغان حکومت ته تسليم کړي.[367]

برسيره پردې، افغانستان او جرمني يوې دوه اړخيزې موافقې ته سره ورسيدل چې د دوامداری اقتصادي ودې، پوهنې، روغتيا، انرژي، اوبو، او ملکي هوانوردی په برخو کښې همکاري پکښې شامله وه.[368] افغانستان او استراليا يو هراړخيزه اوږدمهاله ګډ تړون لاسليک کړ چې، په اوږدمهاله اقتصادي پراختيا تاکيد کوي، د حکومت له ظرفيتونو ملاتړ، او د افغانستان له طبيعي سرچينواو کرهنيز سکتور څخه ملاتړ شامل دي.[369] افغانستان او قزاقستان ګن تړونونه لاسليک کړل لکه د پانګونې د همکاريو پراختيا چې په لاندينو برخو کښې د راتلونکي لپاره مرستي شاملې دي.لکه د ريل د پټلی ترانسپورت، کانونه، کرهنه، مخابرات او د انرژي سکتورونه.[370] افغانستان او چين د ګډو ستراتيژيکو همکاريو تړون لاسليک کړ، چې د 2012 کال په اوږدو کښې افغانستان سره د 23.8 مليون ډالرو مرسته او د دوه اړخيزو سوداګرۍ لپاره لپاره د ژمنو بيا تازه کول شامل وو، پانګونه او اقتصادي همکاري هم د هغو يوه برخه وه.[371]

**د آســـيا زړه:** د وزيرانو په کچه يو کنفرانس په تجارت، پوهنه او پراختيا کښې د سيمه ايزې همکارۍ د تقويې په موخه داير شو. ګډونوال هيوادونه افغانستان،آذربايجان، هند،چين، ايران، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، روس، سعودي عرب، ترکيه، تاجکستان، ترکمنستان، امارات متحده عرب او ازبکستان وو. متحده ايالات يو ملاتړ هيواد دی.

سرچينه: د افغانستان سفارت " د آسيا د زړه د وزيرانو د کنفرانس اعلاميه "6/14/2012 د لاسرسي نيټه 6/25/2012.

## نورې ناستې

پدې ربع کښې نورو ناستو هم د افغانستا په راتلونکي اقتصادي ودې مباحثه وکړه. د (G-8) مشران د مې په 18–19 د کيمپ ډيوډ په مريلينډ کښې سره کيناستل او دافغانستان د اقتصادي ليږد په شمول يې ځيني لويې نړيوالې اقتصادي، امنيتي، او سياسي ننګونې راوسپړلې.[372] د G-8 هيوادونو ژمنه وکړه چې د افغانستان له هغو هڅو به ملاتړ وکړي چې دکونيو عوايدو دلوړولو، حکومت د ظرفيت د لوړولو، د لګښتونو سمه اداره کې يې لري ترڅو په نړيوالو بسپنو تکيه راکمه کړي او د افغانستان خصوصي سکتور ته وده ورکړي.[373]

په شيکاګو کښې د ناټو په ناسته کښې چې د مې په 20–21 جوړه شوې وه، برخه والو د افغانستان د حکومتدارۍ، اقتصادي،امنيتي، او ټولنيزې ودې سره خپله ژمنه بيا تکرار کړه. هغو د افغانستان د ثبات لپاره دسيمه ايزې همکارۍ په اړتيا تاکيد وکړ[374]

د جولای په اتمه د ټوکيو په کنفرانس کښې، بسپنه ورکوونکو د افغانستان د اوږدمهاله اقتصادي ودې او مالي خودکفايي په تړاو خپلې موخې له سره تکرار کړې. بسپنه ورکوونکو ژمنه وکړه چې د بهرنيو مرستو 80 سلنه د افغانستان له ملي لومړيتوبونو سره برابر پر اقتصادي ګټو، د عوايدو توليد، کارموندلو او بشري ودې باندې لګيږي. لږ تر لږه د پراختيايي مرستو 50 سلنه به د بوديجې له لارې وي. نړيوالې ټولنه ژمنه کړيده چې د 2015 کال څخه به له افغانستان سره 16مليارد ډالر مرسته وکړي او تر 2017 کال پورې به يې ملاتړ روان وي.[375]

## ترانسپورټيشن

په ټوله کښې د افغانستان د ترانسپورټي زيربناوو ستونزه لدې کبله چې مارکيت ته په ټولو صنعتونو کښې لاسرسی محدودوي تر اوسه هم سوداګری او اقتصادي ودې ته خنډ دی.[376] دغه نيمګړتياوې په ځانګړې توګه د خدماتو او کرهنې سکتور کښې ستونزې راولاړوي چې دا مهال د GDP لويه برخه جوړوي، خو د DoS په وينا به په راتلونکو کلونو کښې د کانونو په صنعت کښې هم ننګونې را منځ ته کړي.[377] د بيلګې په توګه د کانونو سکتور د ريلوې پټليو او سړکونو ته اړتيا لري چې له ګاونډيو هيوادونو سره ونښلول شي.[378] نيمګړې ترانسپورټي شبکې برسيره پردې د کار موندلو پر فرصتونو او بيو اغيز ښندي، همدارازکورني او نړيوالي پراختيايي مرستې او دکارموندلو فرصتونه او د بشري مرسته رسول ته خنډ پيښوي. پدې ربع کښې، متحده ايالاتو د افغانستان ترانسپورټي سکتور د پياوړتيا لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ، په دې لړ کښې يې د ترانسپورټي قوانينو پراختيا، اداري ستراتيژۍ، د وزارت ظرفيت، او له نړيوالو معيارونو سره انډول په برخه کښې کارکړی.[379]

### د ريل پټلی

متحده ايالات او نړيوال ملګرې له افغانستان سره د ريل پټلې پراختيا ته مرسته کړيده او موخه دا ده چې يو دوامدار او ګټور سيستم رامنځ ته کړي. پدغو هڅو کښې مرکزي پاملرنه د ريل پټلی اداره جوړول او د مصونيت عملياتو او رغونيزو معيارونو تنظيم او ځای پر ځای کول دي. افغانستان د ريل پټلی په برخه کښې هيڅ ريښتوني وده نلري، همدارازعملياتي تجربه، خپل ظرفيت نلري همدارازتر اوسه دې هوکړې ته ندی رسيدلی چې کوم دولتي وزارتونه دې پرې نظارت وکړي. په دې بنسټ ، د متحده ايالاتو د ترانسپورټ وزارت يا DoT د ريل د پټلی د ملي اداري جوړول د يو لومړيتوب په توګه پيژني.[380]

د 2011 له سپټمبر راهيسې، د DoT د ريل پټلی سلاکار د کانونو په وزارت کښې دی، له وزير سره د ريل پټلی د کارپوه په توګه کار کوي. په تيره ربع کښې د ريل پټلی د نوې ادارې چوکاټ د کانونو او ترانسپورټ، ملايي، عامه ګټو او ملکي هوانوردۍ وزارتونو او د ولسمشر ستر اقتصادي سلاکار ته وړاندې شو. د ادارې د جوړولو تصويب د وزيرانو د شورا پرغاړه دی. DoT خبرداری ورکوي چې که دغه مسله ژر تر ژره تصويب نشي، د اروپايي اتحاديې او آسيايي پراختيايي بانک بسپنې چې د ريل پټلی اداري پراختيا ته ځانګړې شويدي په خطر کې دي.[381]

د کابينې تر تصويب پورې په کابل کښې د متحده ايالاتو اود DoT د ريل پټلی فدرالي اداري مسولينو او نورو امريکايي ادارو د نړيوالو ملګرو سره يو ځای په دې کار کوي چې د چارواکو د غوښتنو پراختيا څخه ملاتړ وکړي—چې د پراختيايي ستراتيژۍ څخه نيولې د کارکوونکو د بنسټيزو وړتياوو

پورې به شاملې وي. پدې ربع کښې، په کابل کښې د متحده ایالاتو سفارت د ریل پټلی د پراختیا هغو ستندردونو ټیټه ضروري کچه او د مصونیت غوښتنې چمتو او خپرې کړې. دوی همدارا ز د افغان حکومت کارکوونکي د اصلاحي قانون جوړوني، پیاوړتیا او عملیاتي څارنې په برخه کښې وروزل او پلټنه یې وکړه.[382]

**د ریل لیکه**

د جون تر 27، افغانستان له حیرتانه تر مزارشریف پورې د ریل لیکې کار بشپړ کړ. لکه د سیګار د 2012 د جنورۍ په درې میاشتنې راپور کښې چې هم راغلي وو، د ازبکستان ملي ریل لیکو د 75 کیلو مترو په اوږدوالي په هغه ریل لیکې کار پیل کړ چې د حیرتان له لیږدیز ترمینل څخه چې د ازبکستان په سرحد کښې پروت دی تر مزارشریف پورې بشپړکړ.[383] لګښت یې 170 ملیونه ډالړ وو.[384]

افغان حکومت، بهرنې صنعتي ملګري، او د بسپنه ورکوونکو نړیواله کمیټه پرهغو دریو وړاندیزونو کتنه کوي چې د نورو ریل لیکو د دهلیز جوړول په پلان کښې لري:[385]

- ختیځ – لویدیځ دهلیز. د 1,094 کیلومترو په اوږدو دغه لیکه به د هرات څخه تر شیرخان بندر پورې و غځیږي او د ایران او تورغونډۍ او له شبرغان څخه اندخوی او آقینه په لور به یې هم خانښونه غځول کیږي، چې له ترکمنستان سره به سوداګریزه لار پرانیزي. ADB اټکل کوي چې دغه دهلیز به 7 ملیارډ ډالره لګښت وغواړي، سره لدې چې د هرات - ایران خاښ ندی پکښې حساب شوی. ADB ژمنه کړې چې له شبرغانه تر اندخوي پورې لګښت یې په غاړه اخلیو ، خو د DoT په وینا تر اوسه مهال ویش ورته سمبال شوی ندی. ADB یوه مطالعه په لار اچولې ده چې له هرات څخه تر شبرغان پورې برخه او ورسره تړلې د هرات – تورغونډۍ او شبرغان- اقینه برخې هم شاملې دي. موخه داده چې عملي کیدو ته یې شرایط و څیړي.
- شمال – سویل دهلیز. د 500 کیلومترو په اوږدوالي دغه لیکه به له کندزه تر کابله وغزیږي او له بامیان څخه به تیریږي، چې لدې سره به د حاجي ګک د اوسپنو کان ته لاسرسی هوار کړي. یوه خاښه به له کابله عینک ته وغځیږي او دعینکو د مسو کان ته به لاسرسی هوار کړي او دوهمه به تورخم ته وغځیږي او پاکستانې ریل پټلی له سیستم سره به ونښلول شي. د DoT په وینا ADB اټکل کوي چې د جلال آباد تورخم ریل لیکې لګښت به 196 ملیونه ډالر وي. د حاجي ګک د کان د داوطلبی د ګټلو د یوې برخې په توګه د هند د ستیل چارواکو ژمنه کړې چې ددغه دهلیز رغولو ته به 1 ملیارډ ډالر ورکړي. د عینک د مس د کان د داوطلبی د ګټلو د یوې برخې په توګه د چین د میتالورجیکل ګروپ کمپنی یا MCC څخه غوښتنه شویده چې تر 2013 کال پورې د کابل مزارشریف د ریل لیکې په اړه د چمتوالي مطالعې پیل کړي.دوی به همداشان یوه مطالعه چې ټول دهلیز به پکښې شامل وي په لار واچوي. MCC تر اوسه د ریل لیکې د لګښتونو بسپنې ته ژمنه نده څرګنده کړې.
- جنوبي دهلیز. د 1,200 کیلومترو په اوږدو دغه لیکه به له هراته کابل او کندهار ته او له کندهاره چمن ته وغځیږي، چې له پاکستانی ریل لیکې سیستم سره به ونښلول شي. د DoT په وینا ADB اټکل کوي چې د کندهار- چمن څانګه به 204 ملیون ډالر لګښت ولري.

**د اوبو لیکې**

د سیګار د 2012 د جنورۍ په درس میاشتنې راپور کښې په ګوته شویدي چې اوزبکستان سرحد ته نږدې د لیږد ترمینل لا له مخکې اعظمي ظرفیت ته رسیدلی دی او په میاشت کې 4,000 ټنه مال

ورځخه تيريږي. نړيوال بانک اټکل وکړ چې د تګ راتګ کچه به احتمالاً له شيرو تر لسو ځلو لوړه شي ځکه له مرکزي آسيا واردات زيات شويدي.[386] د غوښتنو د پوره کولو د مرستې لپاره، DoT د ترمينل د عملياتو ارزونه وکړه او يې موندله چې د ظرفيت لوړولو ته د وسايلو ، کارکوونکو او اغيزمنتيا په برخه کې اړتيا ليدل کيږي:[387]

- اغيزمنتيا: له ازبکستان څخه راتلونکي اورګاډي بيلابيل مالونه ليږدو ي چې د آزادی له پله تيريږي ا و د حيرتان د ګمرک انګړ ته درومي. د ګمرکي تصفيې وروسته اورګاډی د حيرتان د انګر ويشل شوي سيمي ته چېرته چې د تيلو، غنمو، لرګو او اوسپنو اورګاډي سره جلا کيږي، ورځي. دغه حالت د عملياتو لرۍ پځوي. DoT سپارښتنه کوي چې ازبکستان دي داسي اورګاډي چې د مالونو لپاره ځانګړي وي په کار واچوي چې لدې سره به د افغانستان ګمرکي تصفيه لا آسانه او اغيزمنه کړي.
- وسايل: په حيرتان کې يواځې يو خوځيدونکی ماشين دی (چې اورګاډي د منظمو خوځيدلو لپاره باروي او تشوی). DoT سپارښتنه کوي چې د بدلونکو ماشينونو ا و اسبابو شمير دې زيات شي تر څو د وړتياوو ځواب ووايي.
- کارکوونکي: افغانستان کله هم د ريل پټلی نده درلودلې او په دې برخه کښې محدود تخنيکي ظرفيت لري. DoT سپارښتنه کوي چې د ريل ليکي د روزنو پروګرام ته دي پراختيا ورکړل شي، چې د ريل ليکي د شرايطو په اړه د کار په ساحه او ټولګيو کښې زده کړې ورکړل شي. دا به د معياراتو عملي کولو اويوشانتوب ته لار هواره کړي.

DoT د ګڼو ريل ليکو د اړو ارزونه وکړه، (د مالونو د اداري سيمي چې واټونه، زيني، وسايل او ودانی ولري). دغې مفصلې ارزونې چې د خپل ډول لومړنی ده دوهمه او دريمه اړه تر پوښښ لاندې راوسته (لومړنۍ اړه يواځې بيرۍ لري لدې کبله ونه ارزول شوه)، همداراز يې د نياب آباد4 او د مزار 5 اړه وارزوله. DoT وموندله چې ګڼې لويې او وړې پراختياوې په سايټونو کښې رامنځ ته شويدي، او د وسايلو ،زينو، ترافيکي ګڼې ګونې اصلاح، د واټونو رغونه، ناکافي امنيت، بريښنايي نيمګرتياوې، او د سټنج وړوکي ساحه سمون ته اړتيا ليدل کيږي. په ځيرل شويو سيمو کښې د درجو او ترکيبونو نيمګرتياوې وليدل شوې.[388]

## تجارتي هوای چلند

پدې ربع کښې، متحده ايالاتو د افغانستان له هڅو څخه د مرستو او ملاتړ لرۍ روانه ساتلې ده چې پکښې افغانستان هڅه کوي چې د د هوايي چلند ظرفيت له نړيوالو سنتدردو سره برابر کړي. DoT د افغانستان د هوايي چلند د امنيت رياست پراختيا په موخه مرسته وکړه همداراز يې د الوتنو د مصونيت د څارنې اداري سره د ظرفيت لوړولو په برخه کې مرستو ته دوام ورکړ. همداراز يې د هوايي چلند د مقرراتو د تنظيم نوي کول او د يو اداره اې جوړښت طرح چې د ملکي هوايي چلند اداري يا CAA سره په پيوستون کښې وي کار وکړ. د CAA بنسټيزه موخه داده چې د نړيوالې ټولنې معيارات په بشپړه توګه لاس ته راوړي، او د هوايي چلند څارنې ته تنظيمات برابر کړي. CAA به د ملکي هوايي چلند د قانون ديوې برخې په توګه جوړ شي، چې د کابينې له خوا په دې ربع کښې تصويب شو، د ولسي جرګې له خوا تير شو او د مشرانو جرګې له ځينو بدلونوسره تاييد کړه.[389] دواړه نسخې بايد مخکې لدې چې د ريس جمهور له خوا توشيح شي ، ملي شورا بايد هوکړې ته پرې ورسيږي.[390]

پدې ربع کې، DoT د USAID لخوا بسپنه شوی درې کلن پروګرام اعلان کړچې 10.6 ملیونه ډالر ارزښت به لري. موخه دا ده چې 70–75 د هوایي ترافیک کنترولران، 16 تکنیشنان، او 6–8 اضافي د الوتنې د مصونیت پلټونکو ته روزنه ورکړه چې موضوع یې د هوایي ترافیک د کنترول بنسټونه او د الوتنې مصونیت دی، او د سیمه ایزهوایي چلند اکاډمی کښې به دایره شي. دا پروګرام به د ملکي هوایي چلند د نړیوال سازمان غوښتنو سره موافق وي، او د فدرال هوایي چلند اداري کارکوونکي به پلټنه ورته سمباله کړي.[391]

## د معدنونو د رایستلو پروګرام

USAID د 2012 مالي کال عملیاتي پلان لپاره 15 ملیونه ډالر لري.تر څو د د افغانستان د پاینت لپاره په کانونو د پانګوني او پراختیا یا MIDAS پرګرام له لارې د بهرنیو صنعتي کمپنیو ملاتړ جلب کړي. پدې ربع کښې لګښتونه ندي شوي.[392]

پدې ربع کې، د USAID د انجینیرانو د کیفیت د تامین او لوجستیکي ملاتړ پروګرام د کانونو له وزارت سره مرسته وکړه چې د عینک د کلتوري سرچینو د بیا ژوندي کولو پروګرام ، د عینک د مسو کان، د حاجیګک د اوسپنې داوطلبی سره تړلي تخنیکي مسایل په نښه کړي. USAID برسیره پر دې د کانونو د وزارت او جیولوژیکي سروې د اداري اته کارکونکي د معلوماتو د ټولولو، دیجیتل کولو، اونقشه جوړولو په برخه کښې وروزل تر څو د منرالي سرچینو او شتولپاره ډاټابیز جوړ کړي.[393]

په خپل وار، TFBSO د 2012 ملي کال په دریو لومړنیو ربعو کښې شاوخوا 15.45 ملیون ډالرځانګړې کړل چې په لاندنیو برخو به لګیږي: 1.37 ملیونه د داوطلبۍ او ریښتني معلوماتو کوټې لپاره، 5 ملیون ډالر د TFBSO—متحده ایالاتو د جیولوژیکي سروې بین الاداره اې تړون ته چې په ماموریت کښې شامل کارکونکي وآزمویې او تحلیل یې کړي. 29,950 به په خاص کنړ کښې د یو کلې د ثبات په عملیاتو کښې ولګیږي 9.05 ملیونه به د تخنیکي، قانوني، او سوداګریز ملاتړ لپاره د کانونو وزارت ته ورکړل شي تر څو موجودې داوطلبې په کار واچوي او د راتلونکو داوطلبیو لپاره آماده شي.[394]

MIDAS پروګرام د خصوصي سکتور له پراختیا څخه د حکومت د لاندنیو موخو د پر مخ بیولو له لارې ملاتړ کوي:

- د اقتصادي فعالیتونو پرمختګ
- د حکومت د عوایدو د تولید د کچې لوړول
- د وظیفو زیاتوالی
- د ښځو د شمولیت له لارې توپیر راوستل

سرچینه: DoS، د سیګار د معلوماتي غوښتنې په ځواب کښې، 7/5/2012.

## د امریکا مرســـــــتې

د 2012 د مې په 22 ، د کانونو وزارت او د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداري په کابل کښې د یوې سوداګریزې غونډې تنظیم او کوربه توب په غاړه درلود چې افغان سوداګرې او د کانونو د شرکتونو سره وو. تر45 ډیرو افغان سوداګریزو ډلو برخه واخیسته. همداشان پدې ربع کښې، د TFBSO مرستیال عمومي مشر د افغانستان د راتلونکي رغونیز صنعت په اړه د بحث په موخه په یوه کنفرانس کښې ګډون وکړ. پدې غونډه کښې افغان حکومتي چارواکي، د امریکا د حکومت استازي، د ISAF مسولین، او افغان او نړیوالو سوداګرو برخه اخیستې وه. دیرې ګډونوالو د انرژۍ او کانونو په سکتورکښې د خپلو تجارتونو لپاره د سالم رقابت آسانتیا غوښتله.[395]

## د خصوصي سکتور پانګونه

پدې ربع کښې، TFBSO د کانونو له وزارت سره مرسته وکړه چې د څلوروغټو داوطلبیو لپاره د 16 کمپنیو له استازوته د ساحاتو د لیدنو کتنو آسانتیاوې برابرې کړي—زرکشان، د مسولرونکو تیرو زیرمې؛ بدخشان، د سروزرو-طلا رګ؛ بلخاب، د مسو زیرمې ؛ او شیدا د مسو زیرمې. دغه کمپنیو د

**TFBSO د کانونو له وزارت سره مرسته وکړه چې ددغو سايتو لپاره د راسپړلو بستې داوطلبی ته وړاندې کړي. دغه داوطلبي به د 2011 د ډيسيمبر تر 6 به د لندن د کانو او وزارت کنفرانس کښې وړانديز شي، لکه د سيګارد 2012 کال د جنوري په دری مياشتني راپور کښې چې روښانه شويده.**

سرچينه: د سيګار د 1/2/2012 معلوماتي غوښتنه ته د TFBSO ځواب.

ماليي او کانونو وزيرانو ته وړانديزونه ورکړل او له سيمه ايزو مسولينو او د افغانستان د جيولوژيکي سروې او د کانونو وزارت له مسولينو سره يې وکتل.[396]

د 2012 د جون تر 1 ، 16 کمپنيو د وړانديزونو فيسونه د تضمين په توګه ورکړل. رسمي وړانديزکوونکي به په راتلونکي ربع کښې د ځلورو منرالي تضمينونو پيسې ورکړي. د دغو زيرمو توليز ارزښت ندی څرګند خو TFBSO اټکل کوي چې افغان حکومت به ددغو دريو کانونو له هر يوه څخه د 6 مليارډو په ارزښت ګټه لاس ته راوړي. په نږدې راتلونکي کښې ، حکومت د معاشاتو د ټکس عوايد لاس ته راوړي، دا به د راسپړلو په مرحله کښې د سرويرانو، انجينيرانو، او جيولوژستانو په کار اچول هم توضيح کړي. په عين وخت کښې، TFBSO د راتلونکو ځلورو منرالي داوطلبيو په پلان کار کوي—شمالي عينک (مس)، خانشين(نادر ځمکني عناصر)، دودکش (صنعتي منرالونه)، او دوسر(مس). د ارزوني او ازميښت په موخه به کارونه ددغه دوبې تر پايه پيل شي.[397]

## مخابرات

د انرژۍ په څير، مخابرات هم د افغانستان حکومت او نړيوالو بسپنه ورکوونکو له خوا د يوه بنسټيز زيربنايي لومړيتوب په توګه پيژندل شويده. پدې ربع، DoS، USAID، DoDاونورو ملګرو له بيلابيلو پروژو په ګنو برخو کښې خپل ملاتړ ته دوام ورکړ لکه د ګرځنده مخابراتو او نوري فايبر زيربناوې، او د رغونيزو اعلانونو برجونه.[398]

برسيره پردې پدې ربع کښې، د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ په مې کښې د هغه هييت مشري په چې د معلوماتي ټولني په نړيواله ناسته يا WSIS په 2012 کال کښې په ژينوا کښې ترسره شو. دغه کلنی ناسته د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ په نښه کولو ته يو چوکاټ دی، چې په اوږدمهاله وده کښې مخ په زياتيدونکی رول لري. د WSIS موخه داده چې يوه پرانيستي، هراړخيزه او په خلکومتمرکزه معلوماتي ټولنه را منځ ته کړي.[399] د افغانستان په اړه په يوه هيوادني ورکشاپ کښې، د افغانستان ICT ملي اتحاديي لاندنی لاس ته راوړني مهمې وګڼلې:[400]

- ځلور ستري مخابراتي کمپنۍ او ګڼي خصوصي IT کمپنۍ
- د انټرنيټي خدمتونو تر 100 زيات چمتو کوونکي
- د انټرنټ شاوخوا دوه مليونن کاروونکي
- ICT د تعـــــليمي کورسونو او درجو پرمخــــــتګ
- ګڼي هيوادنی او نړيوالي اتحاديي او سازمانونه د افغانستان د ICT سکتور وړاندې کوي

نور مهم ټکي:[401]

- 70% توليزه تليفونونه او مبايلونه
- انټرنيټي بيي د نوري فايبر په واسطه شاوخوا 60 ډالره مياشتنی لګښت لري، چې د سټلايټ هغه هره مياشت 3,000 ډالره لګښت لري
- ICT سکتور تر 100,000 زيات کارونه رامنځ ته کړيدي

متحده ايالاتو ته د جون په 11–12 د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژي وزير په خپل سفر کښې له ګنو سازمانونو، د متحده ايالاتو حکومتي چارواکو، او صنعتي استازو سره پردې خبرې وکړي چې د مخابراتو په سکتور کښې وده او پراختيا وڅيړي. هغه له امريکايي چارواکو سره د افغانستان

دسايبرسکيورټي ستراتيژۍ توضيح کړه او له صنعتي استازو سره يې په افغانستان کښې په ټکنالوژيکي زيربناوو او د سټلايټ صنعت د پانګوني په فرصتونو خبرې اترې وکړې.[402]

د 2012 د جون تر 20، وزير د هيواد د 3G انټرنيټ دوهم ټرون د مخابراتي سمبالوونکي شرکت MTN افغانستان سره د 25 مليون ډالرو په ارزښت لاسليک کړ. MTN افغانستان تمه لري چې د هغوی 3G خدمتونه به د جولای تر نيمايي عملي شي.[403] وزارت وويل چې اتصالاتو کمپنی ته د 3G لومړنی قرارداد (هغه هم د25 مليون ډالرو په ارزښت وو) شويدی.[404] د جون په 12 روشن مخابراتي شرکت اعلان وکړ چې دوی تر شپږو مليونو ډير فعال ګډونوال لري. روشن وويل دوی له 2003 کال راهيسي تر 550 مليون ډالرو ډيرې پيسي د شبکي په زيربناوو لګولي دي، چې په ټوليزو دولتي عوايدو کښې 5 سلنه جوړوي. 1,300 کارکوونکي لري او په غير مستقيمه توګه 30,000 نورو ته کارموکه برابروي.[405]

لکه په تيرې ربع کښې چې روښانه شوه له ويسټرن يونين سره په ګډه د موبايل له لارې د پيسو ليږد په نړيواله کچه د موبايل تيلفونونو د ام پيسه خدمتونو له لارې برابراې کړيدي. چې د پيسو ليږد، دپيسود صورت حساب تاديه، او د فوري پيرودنو لپاره زمينه برابروي. د مبايل له لارې د پيسو د نړيوال ليږد خدمات په رسمي بڼه د مي په 21 پيل شول.[406]



**په کتنه**
د ایساف پرسونل د لوګر په ولایت کې هوایي عملیات ترسره کوي. کرهنیزې سیمې ددې ښکارندوی کوي چې کرهڼه د افغانستان په اقتصاد کې مرکزي ونډه لري. (د امریکا د پوځ انځور)

# 4 دنورو ادارو نظارت



# د نورو ادارو نظارت

د سیګار ملاتړلپاره چمتو شوي قوانین له ده څخه غوښتنه کوي ترڅو د بیارغونیزوپراګرمونو په ادارو کې د ستونزو په اړه د دفاع او بهرنیوچارو وزارتونه په بشپړه توګه خبروساتي او هم د سیګار د څارنوالي فعالیتونو او د متحده ایالاتو بیارغونیزو هڅو اړوند مخکې له دې چې د هرمالي ربع پای ته رسیدو څخه یو میاشت تیرشي، کانګرس ته یې راپور چمتو کړي. په هرو درو میاشتو کښی سیګار د نورو اجنسیو څخه د بشپړ شوو او روانو څارنیزو فعالیتو په اړه د معلوماتو غوښتنه کوی. دا برخه لاندې نوې کونې لري.

سپړنې لکه څنګه چې سپارل شوي، ښودل کیږي، پرته له ځانګرو بدلونو سره چې د پاتې راپور سره د برابروالي په موخه ترسره شوي دي : د بشپړو نومونو پرځای لنډیزونه لیکل شوې دي؛په لویو تورومعیاري کښل،د نښې په مرسته د کلماتونښلول، ټکی اینښودنه، غوره املا؛ د لمړی- کس په ځای د بیارغونې دریم - کس نوم وړل شوی دی.

دا اجنسیانې په افغانستان کښی د څارنې فعالیتونه تر سره کوی او پایلې د سیګار سره شریکوی:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoD OIG)
- د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر (DoS OIG)
- د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره (USAAA)
- د نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر (USAID OIG)

## د نظارت بشپړ شوي فعالیتونه

4.1جدول بیا رغونې پورې اړوند د نظارت 18 پروژو لست وړاندې کوي چې برخه اخیستونکو ادارو په دې ځلوریزه کې بشپړې کړې.

4.1 جدول

**د 2012 کال دجون دیرشمې پورې،د متحده ایالاتو نورو ادارو نوې بشپړشوې څارنې**

| اداره | د راپور شمیره | د خپریدلو نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D-2012-104 | 6/18/2012 | د افغان ملي امنیتي ځواکونو د زیربناو خوندي ساتلو وړتیاو پرمختګ لپاره د دفاع وزارت اړتیا لري ترڅود مسلکي روزنو هڅو ته وده وکړي |
| DoD OIG | D-2012-103 | 6/18/2012 | اړینه ده چې په شپې کې دلیدنې لپاره کوم وسایل د افغان ملي امنیتي ځواکونو ته چمتو شویدي، په اړه یې حساب ورکونې ته وده ورکړ شي |
| DoD OIG | D-2012-094 | 5/30/2012 | د افغان ملي پولیس د قرار داد غوښتنې په څرګنده توګه په ښه شوي نه ؤ خو د د قرارداد اداره وده موندلې وه |
| DoD OIG | D-2012-093 | 5/30/2012 | د پوځ سره مرستې قرارداد ته وده ورکول او دهغووړو وسلو اداره کول چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونود بسپنې په کارولو سره لاسته راغلي دي |
| DoD OIG | D-2012-092 | 5/25/2012 | د افغان ملي اردو د اړتیاو د بشپړولو په موخه د وسلو انفرادي غوښتنو په برخه کې پرمختګ |
| DoD OIG | D-2012-089 | 5/17/2012 | د قرار داد څخه ښه څارنه د پروان ولایت په یو توقیف ځای کې د نمګړتیاو څخه مخنیوی کړې ده |
| DoD OIG | D-2012-083 | 5/7/2012 | د افغان ملي پوځ د درمل ویشلو وړتیاو ته وده ورکولو لپاره اضافي لاربښوونې او روزنې اړینې دي |
| DoD OIG | D-2012-074 | 4/11/2012 | د USCENTCOMیوې غوښتنې په اړه پلټنه: د پوښتونکي پالیسي سره د تطابق وړ ندي |

4.1 جدول (ادامه لري )

**د 2012 کال د جون تر دیرشمي،د متحده ایالاتو نورو ادارو څارني لپاره نوي پای ته رسیدلي کارونه**

| اداره | د راپور شمیره | د خپریدلو نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| GAO | GAO-12-619 | 6/28/2012 | د دفاع اداره: د سون توکو د اړتیاو ښه اداره کولو په موخه ګامونه اخیستل شویدي خو د میکانیزم شریکولو اړوند اضافي معلوماتو ته اړتیا شته |
| GAO | GAO-12-607C | 5/18/2012 | افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي چارو مسؤلیت په لیږد کې د متحده ایالاتو-ناټو د ګډو هڅو موقتي پایلې |
| GAO | GAO-12-133 | 5/15/2012 | پوځ د وسایلو بیاایښودلو په اړه ګامونه پورته کړي دي خود وسایلو او راتلونکي لګښتونو په اړه لابشپړ راپور ته اړتیا شته |
| GAO | GAO-12-534 | 5/9/2012 | د بهرنۍ پولیسومرسته : د بین الاداري همغږۍ لاپیاوړې کولو په موخه قوانین پیژندل شوي او د معلوماتو بدلول پرمختیا موندلې ده |
| GAO | GAO-12-438SU | 4/26/2012 | د افغانستان امنیت: د افغان ملي امنیتي ځواکونوڅخه د ملاتړ لپاره اټکل شوي لګښتونه د پایښت اړوند اندیښني پارولې دي |
| GAO | GAO-12-442 | 4/23/2012 | د دفاع بیومټري : د مشرتابه لپاره اضافي روزنه او د معلوماتو په وخت لیږد په افغانستان کې د بیومټری کاروني له ودې سره مرسته کوي |
| GAO | GAO-12-471SU | 4/20/2012 | افغان امنیت : د بیومټریک معلوماتو ګډولو نوي لارې د متحده ایالاتو هڅې پیاوړي کوي تر څو د متحده ایالاتو پرسونل د افغان امنیتي ځواکونو له برید څخه خوندي وساتي |
| GAO | GAO-12-396C | 4/5/2012 | هوښیاري، څارنه، او لومړنۍ سروې : د وړتیاو ټولولو اداره کولو لپاره د DOD لارښوونه، اسباب او روزني ته اړتیا لیدل کیږي |
| USAID OIG | F-306-12-004-P | 6/29/2012 | د USAID / دافغانستان هڅوونکي، پلټنه کارکوي ترڅو د شمال، لویدیځ او ختیځ پروګرام لپاره یو اقتصادي بدیل ومومي |
| USAID OIG | F-306-12-003-P | 6/25/2012 | د جلا ساتني غیر اختیاري اجازې څخه د USAID/افغانستان دادارې داخلي کنټرول په اړه پلټنه |

سرچینې: د سیګار6/21/2012معلوماتي غوښتني ته د DoD OIG ځواب؛ دسیګار6/22/2012معلوماتي غوښتني ته د DoS OIG ځواب ؛ د سیګار6/25/2012معلوماتي غوښتني ته د GAO ځواب ؛ د سیګار6/19/2012معلوماتي غوښتني ته د USAID OIG ځواب.

## د امریکا د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

پدې ربع کې DoD OIGد افغانستان بیارغوني په برخه کې اته راپورونه خپاره کړي دي.

### د افغان عامه نظم ځواک لخوا د زیربناو څخه دڅارني وړتیاو ودې لپاره DoD اړتیا لري ترڅو د مسلکي روزني هڅو ته ود ه ورکړي

(دراپورشمیره. D-2012-104،د 2012د جون په 18خپور شوېده )

د مسلکي روزني لپاره کومې هڅې چې د عملیاتونو او څارني ترنوم لاندې قراردادونو له لارې پیل شوې وې، د افغان عامه نظم ځواک د زیربناوڅخه د څارني وړتیا و ته یې اغیزمنه وده نده ورکړې. په ځانګړې توګه، د امریکایي پوځ د انجینرانوقطعي (USACE)او د امنیت لیږد ګډ ه قومانده- افغانستان (CSTC-A) لخوا د ANSF له 18 مرکزونو څخه په 9 کې د قرارداد مطابق د قرارداد کوونکي څخه پلې کونکي ته مسلکي روزنه نه وه چمتو شوې. دا ځکه رامینځته شوه چې د CSTC-A پورې تړلې د زیربناو روزني سلاکارې دلې چاروا کي تر اوسه پورې د لیږد ستراتیژۍ پرمخ بیوله او په اضافي مرکزونو کې د روزني پلې کولو شونتیا ارزوله.

برسیره پردې،د USACE چارواکي په قراردادونو کې معیارونو ته د پام وړ ځای نه ؤ ورکړې او یاهم د کیفیت ډاډیني لپاره کافي ګامونه نه ؤ پورته کړي ځکه چې چارواکو د روزني مسلکي برخه د عملیاتونو او څارني خدماتو په اندول له پامه غورځولې ؤ.

په پای کې، CSTC-A به د 2014 له پای ته رسیدلو سره سم د افغان عامه نظم ځواک ته د لیږد چارو د تسهیلاتو په کاراچونه او څارنه کې د روزلو څخه د پاتې راتلو له ګواښ سره به مخ شي. برسیره

پردې، كه چيرې ANSF د خپل زيربناو په ساتنه كې پاتې راشي د تسهيلاتو په څانګه كې د متحده ايالاتو نژدې 10.3 ميليارډه ډالر پلان شوې پانګه اچونه به له زيان سره مخ شي.

## د افغان عامه نظم ځواک لپاره چې د شپې ليدلو كوم اسباب چمتو شويدي په اړه يې حساب وركوني ته وده وركولو ته اړتيا ليدل كيږي

(راپورشميره. D-2012-103، د 2012 دجون په 18خپورشوى)

د دفاعي امنيت همغږى اداري(DSCA) چارواكي، د شمالي اټلانتيک ټرون اداري د روزني ميشن –افغانستان /د امنيت ليږد ګډه قومانده – افغانستان (NTM-A/CSTC-A ) چارواكي، د ANSF چارواكي، او د DoD قرارداد كوونكي د شپې ليدني اسباب او اضافي تيو پونه چې د ANSF لپاره چمتو شوي وو،په اړه يې كومه حساب وركونه ندي ترسره كړي. په ځانګړې توګه، DoD IG وموندل شو

- د كښتې څخه لاسته راغلو اسنادو د سرووركولو په بهيركې وموندل شو چې، 342 NVD سريال شميرې د امنيتي همغږې معلومات دروازې(SCIP) لخوا نادركه شوي ؤ او 88 NVD سريال شميرې د اعتمادوړ لوجيستيک ډيټا بيس ځارني لپاره د عملياتي تصديق لخوا نادركه شوي ؤ.
- 113 NVD سريال شميرې د SCIP څخه او 40 NVD سريال شميرې د SCIP له څښتن او د څـــښتن له پرتلي څخه نادركه شوي دي
- د فيزيكي موجودي په بهير كې 75 NVDs له شمير څخه پاتې شوي دي
- د قرارداد په ډيټابيس كې د 397 څخه زيات توپيرونه موندل شوي
- د مسؤل –اسنادو سرووركولو په موده كې د ځلوروبرخو د شتمني په كتابونو كې 518 توپيرونه وموندل شو

ددې لامل دا ؤ چې د DSCA چارواكو پدې اړه بشپړه ځارنه نه ؤ كړې چې د متحده ايالاتو دپوځ تفاهمي – بريښنايي قومانده(CECOM) او د NTM-A/CSTC-A چارواكو د قرارداد تګلاره به په سمه توګه پلي كړې وي كه څنګه. برسيره پردې، د NTM-A/CSTC-A چارواكي په هميشنى توګه د NVDs رسيد له كښتې څخه راغلي اسنادو سره سرنه وركوله، او د NVD حساب وركولو لپاره SCIP نه كاروله، بشپړ فيزيكي موجودي نه وه تر سره كړې، او د دفاع وزارت قرارداديانو او ANSF چارواكو څخه په سمه توګه ځارنه نه ون كړې. نورداچې، CECOM چارواكي د دفاع وزارت له قراردادیانو څخه په سمه توګه ځارنه نه وه كړې. په پايله كې، NVDs او اضافي تيوپونه د غلا او وركيدو له ګواښ سره مخ شو،چارواكو د NVDs اړتياو ټاكلو لپاره پرمعلوماتو اعتبارنه درلودل، همدارنګه چارواكو نه شو كولی تر څو د وروستي-كاروني څخه په سمه توګه ځارنه ترسره كړي.

## د افغان ملي پوليس د قرارداد شرايط څرګند نه ؤ خو د قرارداد اداره ښه سمبال شوې وه

(د راپورشميره. D-2012-094،د 2012كال د مى په 30خپور شوى)

د پوځ قراردادكوونكي چارواكي د پوځي قراردادا د قوماندې په -ابرډين ازميښت ځاى كې د فيډرال او دفاع وزارت له لاربنووني سره سم د افغان ملي پوليس قرارداد په پوره توګه سپارنه او اداره نه وه ترسره كړې. د قرارداد له اخيستلو څخه وروسته د CSTC-A پرسونل د كار په لايحه او قرارداد كوونكي كې د اندازې او لګښت له نظره د پروګرام اداري دفتر څخه دوه چنده زيات توپير راوستي ؤ.

CSTC-A، د امنیت نړیوال مرستندوی ځواکونو ګډه قومانده او پوځي قرارداد کوونکي چارواکي د قرارداد شرایط په ځرګنده توګه نه ؤ ټاکلي، او همدارنګه د سرچینې – ټاکلو په بهیر کې دا نه وه موندلې چې قرارداد کونکی د وړاندیز څخه د کلي پروګرام د دفترونو موقعیتونه لري کړي ؤ. ددې په نتیجه کې،د افغان ملي پولیس قرارداد لګښت په لومړی ځلورمیاشتو کې 145.3 میلیونه ډالرزیات شو پداسې حال کې چې ددې بیاکتنې تر مودې پورې یې په قرارداد کې یاد شوې کاروکوونکې نه ؤ ګومارلې.

د دفاعي قرارداد تنظیم کولو اداره –افغانستان د قراردادمدیریت یو مامور په ناسمه توګه یو لومړی قرارداد کوونکي ته اجازه ورکړی ؤ تر څو داسې یو فرعي قرارداد کونکي ته د بریښنا –ستېشن جوړولوکارو سپارې چې د ده له کارې سیمې څخه بهرؤ. ددې په نتیجه کې، پوځ نه شو کولی تر څو د قرارداد سیالې له لارې د لګښت کمولو کار ترسره کړي. د پوځي قرارداد کونکی قوماندهـ –راک ټاپو د تدارکاتو قراردادونو یو مامور د افغان ملي پولیس قرارداد د ادارې ښه سمبالولو په موخه ډیرپرمختګونه کړیدي.

## د افغانستان امنیتي ځواکونو بسپنې په واسطه د لاسته راغلو وړو وسلو لپاره د پوځي قرارداد سپارلو او ادارې ته وده ورکول

(دراپورشمیره. D-2012-093،د2012کال دمی په 30خپورشوی )

پوځي قرارداد کوونکي چارواکي د 19 قرارداد اداره او سپارنه د قوانینو په پام کې نیولو سره نه ؤ تر سره کړي، او همدارنګه د 13 قراردادونو لپاره د کیفیت ځانګړې شرایط نه درلودل ځکه چې د تدارکاتو ګړندې کولو په وخت کې د قرارداد ټولې تګلارې په پام کې نه نیول. په ځانګړې توګه، د پوځي قرارداد کونکی قوماندې قرارداد کونکي چارواکي لاندې کارونه نه ؤ ترسره کړي :

- د 6 کړنو لپاره په سمه توګه سیالې یا د اسانه- سرچینې قرارداد مناسب او عادلانه سپارنه
- د 13 کړنو لپاره د بهرنیو قراردادکونکو وړتیاوې په نښه کول
- په 2 کړنو کې د قرارداد کوونکي نه ترسره کولو ته په کافي توګه رسیدنه
- په 13 کړنوکې د وسلو او سم شمیر تصدیق لپاره د تسلیمیدو څخه وړاندې د سترګې معاینې څخه پرته د کوم بل لارې څخه ګټه اخیستنه

په نتیجه کې،د پوځ قرارداد کونکي قوماندې قراردادکوونکي مرکزونه د شپږو قراردادونو لپاره له اندازې زیاد پیسې ورکړې، او پردې –جوړ کړې وړې وسلې د لږ کیفیت خاوندانې وې یاهم ناوخته رسیدلې او یاهم له سره نه دې رسیدلې. علاوتآ، د پوځ قراردادکونکی قوماندې قرارداد کوونکي چارواکي د 25 قراردادونو د اړتیاو په اړه او هم د 10 قراردادونو لپاره د سوداګریزې پوښتنې اسناد نه ؤ چمتوکړي. دا ځکه رامینځته شوه چې قرارداد کوونکي چارواکي د قرارداد په دوسیه کې د وړو وسلو سوداګرې څخه ملاترلپاره د غوښتنلیک او قبلونې اسناد نه ؤ چمتوکړي. نو په نتیجه کې،د پوځ قرارداد کوونکي قوماندې قرارداد کوونکي چارواکي ښایي ناسم شی یا هم په ناسمه شمیره مواد چمتوکړی وي، او یاهم ښایي د لاسته راوړلو داسې تګلارې په کاروي چې د وړو وسلو څخه د دولت معاینه او څارنه اغیزمنه کوي.

### د افغان ملي پوځ لپاره د انفرادي وسایلو شرایطو ته وده ورکولو اړینه لیدل کیږي

(دراپورشمیره. 092-2012-D،د 2012د مى په 25خپورشوی)
NTM-A/CSTC-A چاړواکو دافغان ملي پوځ(ANA) د15 ډوله انفرادي وسایلو لپاره د پایښت شرایط نه ؤ په ګوته کړي. په خاصه بیا، چاړواکو د ملاتړ ور بیاپانګه اچوني او د ځارني لپاره شرایط نه ؤ پرمخ بیولي. دا ځکه رامینځته شوه چې د NTM-A/CSTC-A چاړواکو

- د بیاپانګه اچوني کچې ټاکنو لپاره په روایتي شواهد،تجربي او مسلکي اټکلونو باندې ډاډ کړی ؤ
- پدې نه ؤ توانیدلي چې د بیاپانګه اچوني لپاره اسباب په نښه کړي یاهم کومه پروسه چې په 2007مالي کال کې د شرایطو وده ورکولو لپاره کارول شوي ؤ په 2011مالي کال کې وکاروي
- د ساتنې لپاره د قرارداد کوونکي څخه ټول اړین معلوماتو نه ؤ غوښتي
- د پایښت شرایط په چمتوکولو کې د ژوند دوري اداره کولو قوماندې څخه د نظرلاندې مواد ماهرانه کاروني په اړه غوښتنه نه وه کړې

نو په نتیجه کې، NTM-A/CSTC-A ډاډینه نه درلوده چې 2.613 انفرادي وسایل چې 5.6 میلیونه ډالر لګښت درلوده، او په 2012 مالي کال کې دبیاپانګه اچوني لپاره پلان شوي ؤ، ایا په ریښتیاهم د نه ترمیم کید لو وړدي یا ځینې برخې یې ورکې شوي که څنګه. برسیره پردې، NTM-A/ CSTC-A ډاډینه نه درلوده چې کوم وسایل چې د 2012 مالي کال څخه وړاندې افغان ملي پوځ لپاره چمتو شوي ؤ د 29.569 ویجاړ شوي یا ورک شوي هغو لپاره یې چې لګښت یې49 میلیون ډالره دی، ښایي نوري پرزې وموندل شي.همدارنګه، NTM-A/CSTC-A معلومات نه درلوده چې د افغان ملي پوځ انفرادي-وسایلو د پایښت شرایطو په اړه خپلې پریکړې له وړاندې څخه ووایي.

### د قرارداد څخه په ښه توګه څارنه ښایي د پروان ولایت، افغانستان په توقیف ځای کې د نمګړتیاو څخه مخنیوی کړې وای

(دراپورشمیره. 089-2012-D،د 2012د مى په 17خپورشوی)
د USACE افغانستان د شمالي ولسوالیو-انجینرانو چاړواکو په 2009 کال کې یو توقیف ځای د لویو نمګړتیاو په شتون کې د قرارداد کوونکي څخه تسلیم شوی ؤ. په خاصه بیا،قرارداد کوونکي په سترو زیربناو کې داسې مواد کارولي ؤ چې دقرارداد له ځانګړتیا و سره سمون نه درلود. دا ځکه رامینځته شو چې، د USACE افغانستان د شمالي -ولسوالیو انجینرانو چاړواکو د توقیف ځای د رغوني له بهیر څخه په سمه توګه څارنه نه وه ترسره کړې، او د تسلیمیدو پرمهال یې د قرارداد کونکي تضمین د ځارني په اړه یې خپل داخلي پالیسي سره سر نه وه ورکړې. نو په پایله کې د زیربناو لوی سیستمونه بیاپیښیدونکي نیمګړتیاوې درلودې چې له بدلولو یا رغولو څخه پرته بله چاره نه درلود ه. دا نمګړتیاوې د DoD پرسونل او توقیف شوو کسانو لپاره د خوندي توب او امنیت خطر زیاته کړې.

د بین الاداري عملیاتي ځواک- 435 ګډ قوماندان، وویل چې د ناولو اوبو تشولو او د اور اخیستني-ضد سیسټم ترڅو چې د پولیس چاړواکو 43 غونډ قوماندان د 2011په اپریل کې په دندې وګومارل شو کومه ستونزه نه درلود.په هرصورت، دننوتلو دروازې د ویجاړیدو په حال کې دي او په نژدې راتلونکې کې به نوي جوړې شي، د بندیانو –خوا دروازې د متحده ایالاتو څخه رسیدلي دي ؛ او د بدلولو حکم دې ته ځنډول شوې ده چې د کاراچوني او ساتني قرارداد کوونکي د بریښنا سیسټم د متحده ایالاتو د بریښنا- له قانون سره سم چمتوکړي.

### د افغان ملي پوځ د درمل ویشلو ودې لپاره اضافي روزنې او لاربښونې ته اړتیا شته

(د راپورشمیره. D-2012-083، د2012 د می په 7خپورشوی)

که څه هم د 2011کال له فبروري څخه د افغان ملي پوځ د درمل ویشلو بهیرترډېره حده وده موندلې ده، خو بیاهم د تدارکاتو، سپارنه او د موجودي لست –کنټرول په طبي تسهیلاتو او ډیپو ګانو کې لاډېره پرمختیا ته اړتیا لري. په ځانګړې توګه، د افغان لوجیستیک قوماندې چارواکي د ډیپو ګانو او ملي پوځي روغتون لپاره درمل په بشپړه توګه تسلیم کول،حساب ورکونه او چمتوکول تر سره کړي دي. په هرصورت، په شپږو ډیپوګانو او طبي تسهیلاتو کې چې بیاکتنه شوې دي :

- په څلورو هغوکې د فارمسي توکو لپاره یا خو د محاسبې کنټرول له سره نه ؤ او که ؤ ساتل شوی نه ؤ.
- هیڅ یو یې د دفاع وزارت فارمونه په پوره یا سمه توګه نه ؤ کارولي.

ددې لامل دا ؤ چې د ویشلو نوې بهیر لا دېلي کیدو په لومړي پړاو کې ؤ. په خاصه توګه، ANA چارواکو د CSTC-A په همغږۍ سره د ANAټول پرسونل ته په اغیزمنه توګه روزنه یا مفاهمه نه وه ترسره کړې. سره له دې، افغان طبي قوماندې چارواکو د CSTC-A په همغږۍ سره، داسي تګلارې نه ؤ خپل کړي چې د طبي تسهیلاتو کارکوونکوته د لوجیستیک د کاروني اړوند لاربښونه وکړي اوهم د فارمسي توکوپه اړه کره راپور ټول او وړاندې کړي.

برسیره پردې، د 11 پیرودونکو څخه چې د افغان لاسته راوړلو، ټکنالوژۍ او لوجیستیک چاراواکو لخوا غوره شوي ؤ تر څو د 4.7 میلیونه ډالر په ارزښت فارمسي توکي او طبي مواد چمتو کړي، هیڅ یو یې فارمسي توکي د قرارداد له شرایطو سره سم نه ؤ اخیستی. دا ځکه پیښه شوه چې چارواکو د سرچینې ټاکلو په موده کې د پیرودونکو اسناد په سمه توګه نه ؤ ارزولي.

نوپه نتیجه کې، ANAد فارمسي توکو غوښتنو بشپړ کولو په موخه په کاریدونکي معلومات ډاډ نه شي کولی، همدارنګه د کمزورۍ اداري، غلا او د متحده ایالاتو په بسپنه لاسته راغلي فارمسي توکي د ضایع کیدو له ګواښ سره مخ دي. علاوتآ، CSTC-Aددې ګواښ سره مخ دی چې د ANA بشپړکنټرول لپاره به د ویشلوبهیرته بدلون ورنکړای شي.

په لومړنی پلټنه کې د ښودل شوي اندیښني په غبرګون د CSTC-A او ANA چاراواکو ځینې اصلاحي ګامونه پورته کړي لکه د لاسته راوړلو په کنټرول کې ښه بدلون راوستل،د روزنې چمتو کول، او د لاربښود خپرول.

### د USCENTCOM د یوې مراجعي پلټنه : د پوښتلو پالیسي سره نه - سمیدونکی

(د راپور شمیره. D-2012-074، د 2012د اپریل په 11خپور شوی )

ددې راپور پایلې تصنیف شوي دي.

## د متحده ایالاتو دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر ــ د مینځنی ختیځ سیمه ییزدفتر

پدې ربع کې DoS OIG د افغانستان د بیارغوني په اړه هیڅ راپور نه دي خپور کړی.

## د حکومت د حساب ورکولو وزارت

ددې ربع په موده کې، GAOد افغانستان بیارغونې په اړه اته راپورونه خپاره کړي دي.

### د دفاع اداره : د سون توکو اړتیاو ښه اداره کولو په موخه ځینې ګامونه پورته شوي دي خو د اضافي معلوماتو شریکولو لپاره میکانیزمونو ته اړتیا شته دی.

(دراپورشمیره. GAO-12-619،د 2012دجون په 28خپورشوی)

د DoD په وینا، افغانستان ته ورته هیوادونو کې د متحده ایالاتو پوځ په اوبلنو سون موادو پورې تړلې اړتیاوې ددې لامل ګرځي چې د لوجیستیک سترې پیټې ورپه غاړه شي او ځواکونه د مخالفینو د برید له ګواښ سره مخ کوي، او همدارنګه ددې کړکیچنې سرچینې وړلو لپاره د نورو سیمو عملیاتي ځواکونومرستې ته اړتیا پیښیږي. په 2011 کال کې، DoD په ټوله نړۍ کې د عملیاتونو لپاره شاوخوا پنځه میلیارډ ګیلن تیل لګښت درلوده چې ټولیز ارزښت یې نژدې 17.3 میلیارډ ډالرو ته رسیده.

د GAO ځخه پوښتل شوی ؤترڅو(1) په افغانستان کې د DoD لخواد تیلو اړتیاو په شمول د هغه ځایونه چې له وړاندې ګومارل شوېدي، لپاره په پام کې نیول شوې اداره، وارزوي، (2) دا په نښه کړي چې DoD په افغانستان کې د تیلو موثریت راتلونکي اړتیاو لپاره کوم ډول پلانونه په لاس کې لري،او هم ددې نوښتونو په هڅو کې د همغږۍ او ګډ کارکولو لپاره څه په پام کې لري، او (3) همدارنګه هغې هڅې وارزوي چې د تیلو د اړتیاو پوره کولو لپاره کارول شوی دي، اوپه افغانستان کې ددې هڅو د څارنې لپاره یو بنسټیز معیار چمتوکړي.

GAO دا وموندله چې DoD د خپل د تیلو ټولیز اړتیا اداره کولو لپاره د رسیدنې په موخه ځینې ګامونه پورته کړي دي، خو په افغانستان او دې ته ورته هیوادونو کې د وړاندې ځخه ګومارل شوي ځایونو په شمول د تیلو اړتیاو ادارې لپاره لاهم ضرورت لري چې یو ښه لارښود ته ود ه ورکړي.
برسیره پردې، د DoD څو ادارې پدې کاربوخت دي چې د افغانستان په شمول نورو هیوادونو کې د وړاندې ځخه ګومارل شوي ځایونوکې د تیلو اړتیا کمولو په موخه ځینې نوښتونه ترسره کړي،همدا رنګه دا ډیپارټمنټ پدې کارکړې ده چې د تیلو اړتیا کمونکي هڅو ترمینځ همغږي او ګډ کار کولو موقع برابره کړي. په هرصورت، دا ډیپارټمنټ لاهم پدې کارکوي ترڅود ټول DoD په کچه د تیلو ا ړتیاو ادارې لپاره چې کومې هڅې شوي دي یاهم دڅیړنې په ترڅ کې دي د ټولو لپاره څارنه او هم د لاسرسۍ یو سیستماټیک تګلارې ته وده ورکړي.

په پای کې، DoD په افغانستان کې د تیلو اړتیاو اداره کولو ځینې نوښتونو په تللو پیل کړی دی، خو تر اوسه لا پدې بوخت دی چې له وړاندې ځخه ګومارل شوي ځایونوکې د تیلو روان مصرف د اندازه کولو لپاره یو جامع ارزونه ترسره کړي. GAO سپارښتنه کوي ترڅو DoD د تیلو اړتیاو اداره کولو هغو نوښتونو لپاره چې په ساحه کې یاهم د څیړنې په بهیر کې دي، یو سیستماټیک رسیدنه چمتو او پلې کړي ترڅو د تیلو اړتیا اداره کولو نوښتونه په نښه او له کارونو ځخه یې څارنه وکړي.

**افغان ځواکونو ته د امنيتي چارو مسؤليت لېږد په بهير کې د متحده ايالاتو ــ ناټو د ګډو هڅو موقتي پايلي**

(د راپورشميره. GAO-12-607C،د2012د مى په 18خپورشوى)

دا راپور تصنيف شوى او د هغوكسانو لپاره ايسارشوى ده چې د امنيتي تصفيې وړه کچه لري او هم ددې پوهي ته اړتياو لري.

**پوځ دښه ځاى پرځاى کولو پروسې لپاره ګامونه پورته کړي دي، خو د اسبابو او راتلونکي لګښتونو په اړه بشپړراپورته اړتيا شته دى**

(دراپورشميره. GAO-12-133،د2012 دمى په 15خپورشوى )

د2007 څخه تر2012کاله پورې په سهيل لويديځ اسياکې د سيندونو څخه پورې غاړې احتمالي بريدونو لپاره د پوځ سره شاوخوا 42 ميليارډه ډالرمرسته شوې ترڅو د اسبابو بيالګولو پورې مصرف کړې پدې کې د 21 ميليارډ ډالرو څخه زيات لګښت هم شامل دى چې د ډيپو ساتلو په موخه چمتوشوي ؤ. د بيالګولو بهيرددې لپاره پيل شو چې د جګړې له امله د اسبابو او وسايلو نمګړتياوې د ترميم، بيارغول،لوړول او د بدلولو لپاره سامان چمتوکولو له لارې، بشپړې کړې.

په 2007 کال کې، GAO راپور ورکړچې د پوځ بيالګولو ستراتيژي د هغو وسايلو نمګړتياوې نه ؤ په نښه کړي چې د تياتر لپاره ځانګړي شوى ول. GAO ددې راپور لپاره، (1) د هغو ګامونوارزونه ترسره کړه چې د 2007 څخه راهيسې د پوځ لخوا د بيالګولوستراتيژي پرمختياپاره پورته شوي ؤ، او (2) دا په نښه کړه چې کانګرس لپاره د پوځ بيالګولو راپورکې د لګښت او ترسره کولو اړخونه څومره څرګنده شويدي.

په 2007 کې د GAO له بياکتني څخه وروسته، پوځ د وسايلو نمګړتياو په نښه کولو کې پرمختګ لپاره ځيني ګامونه پورته کړې ده. په 2008 کې، پوځ د ډيپوګانو ساتلو لپاره خپل ستراتيژيک پلان خپورکړ، او دايې په نښه کړه چې په جګړې کې ښکيلو ځانګو کې د ډکوونکې موادو نمګړتياوې هغه ننګونه ده چې د ډيپو ساتلو پروژه ورسره مخ دى، او دا يې هم وويل چې ددې نمګړتيا له مينځه وړلو لپاره اړينه ده چې په پروګرام او پاليسي کې توپير راوستل شي. برسيره پردې، GAOوموندله چې کانګرس ته د پوځ لخوا وړاندې شوې مياشتنى راپور کې د راتلونکې بيالګولو متوقع لګښت او د وسايلو لپاره پلان شو ى او پلان نه درلودونکى بيالګوني ندي په نښه شوي. GAO راپور ورکړې ده چې د بنسټيز حساب ورکولو او د راتلونکې متوقع لګښت موندلو لپاره ادارو او پريکړه نيوونکو ته اړينه ده چې د پروګرام اجرا کيدلو بهير په ځيرسره ترنظرلاندې ونيسي.

دې انديښنوته د رسيدنې لپاره، GAO سپارښتنه کوې تر څو پوځ کانګرس لپاره دبيالګولو خپل مياشتنى راپور بياوګوري او د بيلابيلو ګاډو لپاره په راتلونکې کې د بيالګولو احتمالي تاوان او د وسايلو د بيالګولو وضعيت په اړه معلومات پکې شامله کړي. DoD هوکړه ونه کړه او ويې ويل چې پوځ به د بيالګولو راپور د مياشت په ځاى هرکال وړاندې کړي. لکه څنګه چې DoD ونه منله چې دبيلابيلو ګاډو په اړه د بيالګولو راپور چمتوکړي، نو GAO کانګرس ته داسې مواد چمتوکړي چې پوځ ته فرمان وکړي ترڅو دامعلومات وړاندې کړي.

**د بهرنۍ پوليس مرسته : پيژندل شوي وندې اود معلوماتو پرمختللى ګډول د بين الاداري همغږۍ ته به وده ورکړي**

(دراپورشميره. GAO-12-534،د2012دمى په 9خپورشوى)

د 2011 په می کې، GAOراپوروکړچې د 2009 مالي کال په ترڅ کې متحده ایالاتو په 107هیوادونوکې د بهرنیو پولیسو مرستې لپاره شاوخوا 3.5 میلیارډه ډالر چمتوکړی ؤ. GAO ومنله چې پدې راپورکې به دا وڅارې چې د متحده ایالاتو ادارو ترکومه بریده د بهرنیو پولیسوسره خپل فعالیتونه ارزولې او همغږي کړیدي. دا راپور (1) د 2009 او 2011 مالي کلونو ترمینځ د بهرنیو پولیسوسره د مرستې لپاره د متحده ایالاتو ادارو لخوا چمتوشوي بسپنې په اړه د GAO تجزیه نوی کوي، (2) دا به وڅارې چې DoD، DoS او د مخدره توکو او قانون پلې کولو لپاره د متحده ایالاتو نړیواله اداره د هغو هیوادونو په اړه چې لوی پروګرامونه ترکارلاندې لري، ترکومه بریده د خپل کارونو ارزونه یا څارنه ترسره کوي، او (3) هغه میکانیزمونه ارزوي چې د بهرنی پولیس مرستې د فعالیتونو همغږي کولو لپاره د متحده ایالاتو ادارو لخوا کارول کیږي.

GAO وموندله چې متحده ایالاتو د 2009 څخه تر2011 مالي کلونو پورې د بهرنی پولیس سره دمرستې لپاره 13.9 میلیارډه ډالر چمتوکړي ؤ. د متحده ایالاتو ادارو له لوري چمتو شوي بسپنې د 2009 او 2011 مالي کلونو ترمینځ زیات او لږې شوې دي.د 2009 او 2011 مالي کلونو ترمینځ، متحده ایالاتو د بهرنی پولیس سره خپل د مرستې ډیری برخه د افغانستان، عراق پاکستان، کولومبیا،میکسیکو،او فلسطیني سیمو ته ځانګړی کړی ؤ. په 2009مالي کال کې بهرنی پولیس سره دمتحده ایالاتو 97% مرستې او په 2010او2011 کلونو کې د مرستې 98% د DoD او DoS په بسپنو چمتوشوې وې. DoD او INL دا منلي دي چې د بهرنیو پولیسو سره د مرستې چارو په ارزونه او څارنه کې ددوی په وړاندې محدودیتونه شته او دې ته د رسیدنې په موخه یې ځینې ګامونه پورته کړي دي.

همدارنګه GAO موندلې ده چې د متحده ایالاتو ادارې د بهرنی پولیس سره په مرستوکې همغږي رامینځته کولو لپاره د پراخو بهرنیو مرستو د فعالیتونو په لړکې له بیلابیلو میکانیزمونو څخه کاراخیستې لکه د ملي امنیتي شورۍ(NSC) - ترمشري لاندې د بین الاداري کمیټې پالیسې چې له سیندونو څخه پورې غاړه کې د بیلابیل کارکوونکو ډلو ترمینځ په لوړه کچه همغږي رامینځته کوي ؛په هر صورت ځینې ساحې لاهم شته چې کارکولو ته اړتیالري. GAO سپارښتنه کوي چې (1) د ادارو دونډې او مسؤلیتونو په ټاکلو کې NSC خپلې هڅې بشپړی کړي، او (2) د داخلې ا و دفاع وزارتو نه دمتحده ایالاتو بیلابیلوادارو ترمینځ د معلوماتو او اسنادو ښه ګډولو لپاره میکانیزمونه چمتوکړي.

**د افغانستان امنیت: د افغان ملي امنیتي ځواکونولپاره اټکل شوي لګښتونه د پایښت په اړه اندیښنې راولاړوي.**

(دراپورشمیره. GAO-12-438SU،د 2012د اپریل په 26 خپورشوی )

دا راپورحساس دی خو تصنیف شوی نده او دهغو کسانو لپاره ایسارشوی ده چې د منځپانګې پوهې ته یې اړتیا لري.

**دفاعي بیومټري : د مشرتابه لپاره اضافي روزنه او د معلوماتو په وخت لیږد په افغانستان کې د بیومتری کارونې له ودې سره مرسته کوي.**

(دراپورشمیره. GAO-12-442،د2012 داپریل په 23 خپورشوی)

د بیومټریک معلوماتو غونډول لکه د ګوتې نښه او د سترګو نښه، دمتحده ایالاتو سره مرسته کوي ترڅو د اورپکو په وړاندې جګړې کې د دښمن پیژندلو لپاره ترې ګټه واخلي او د ځای په ځای شوي بم چاودنو مسؤل کسان په نښه کړي. GAO څخه غوښتل شوی ؤ چې د لاندې مسایلو حدود وټاکي

(1) د بیومټریک په اړه د DoD لخوا روزنې د سرتیرو سره د بیومټرۍ په ټاکنه کې ترکومه بریده مرسته کوي، (2) دا چې DoD ترکومه بریده د بیومټریک معلومات په اغیزمنه توګه غونډول او لیږد ترسره کوي، او(3) دبیومټریک زده کړو د ټولولو او خپرولو لپاره DoD کومه پروسه پرمخ بیولې ده که څنګه. GAO وموندله چې DoD د 2004 کال څخه راهیسې د بیومټریک کارولو په اړه زرهاو پرسونل ته روزنه ورکړې ده، خو د مشرانو لپاره چې کومه روزنه چمتوشوې وه دا پکې نه وه ښودل شوې چې د بیومټریک ټولولو اسباب څنګه په اغیزمنه توګه وکاروي او اداره یې کړي. همدارنګه، د انتقال په بهیرکې ډیر لاملونه په افغانستان کې دبیومټریک کارونې په وړاندې خنډ جوړوله. ددوی څخه یو هم د انتقال په ترڅ کې د بیومټریک معلوماتو رسولو په بهیر کې د دقت او بشپړولو ناڅرګند مسؤلیت ؤ. چې په نتیجه کې، DoD نه شوای کولی چې معلومات له لاسته راوړلو څخه وروسته په بیړه اصلاح کړي. په پای کې، GAO وموندله چې په افغانستان کې دبیومټریک په اړه چې د متحده ایالاتو پوځ له تجربو څخه کوم درسونه زده شوي دي، د پوځي خدماتو او متحده ایالاتو ځانګړي عملیاتونو قوماندې له طرفه ټولیږي او کارول کیږي. پوځي اداري د راتلونکي عملیاتونو پاینټ، وده، او په لاره اچولو کې د زده شوي درسونو پرارزښت ټینګار کوي، خو د DoD څخه کومه غوښتنه نده شوې ترڅو د بیومټریک په اړه درسونه د ټول وزارت په کچه پراخه کړي.

GAO سپارښتنه کوي چې DOD د بیومټریک ټولولو لپاره د ګومارنې په اړه د مشرۍ روزنه پراخه کړي، د رسیدلي بیومټریک معلوماتو کره توب او بشپړتیا په ډاډینه کې مرسته وکړي، د معلومات رسولو موده د کمولو ګرانتوب او شونتیا په نښه کړي، او د اړوندو پالیسیو او تګلارو څخه د خبرولولپاره چې د DoD ټولو کارکونکو ته د بیومټریک کوم درسونه ورکړ شوې دي، ګټې یې وارزوي.

**افغان امنیت : د بیومټریک معلوماتو ګډولو نوې لارې د متحده ایالاتو هڅې پیاوړې کوي تر څو د متحده ایالاتو پرسونل د افغان امنیتي ځواکونو له برید څخه خوندي وساتي.**

(دراپورشمیره. GAO-12-471SU،د 2012د اپریل په 20 خپورشوی)

دا راپورحساس دی خو تصنیف شوی نده او دهغو کسانو لپاره ایسارشوی ده چې د منځپانګې پوهې ته یې اړتیا لري.

**هوښیاري، څارنه، او لومړنی سروې :**
**د معلومات ټولو وړتیاواداره کولو لپاره اړتیا لیدل کیږي چې د DoD لارښونه،اسباب او روزنې ته وده ورکړشي.**

(دراپورشمیره. GAO-12-396C،د2012 داپریل په پنځمه خپورشوی)

دا راپور تصنیف شوی او د هغوکسانو لپاره ایسارشوې ده چې د امنیتي تصفیې وړه کچه لري او هم ددې پوهې ته اړتیاو لري.

## د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره

د متحده ایالاتو د پوځ د پلټنې اداره پدې ربع کې د افغانستان بیارغونې اړوند کومه پلټنه ندی بشپړه کړی

## د نړیوالې پرمختیا لپاره متحده ایالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر

پدې ربع کې USAID OIG په افغانستان کې د بیارغوني په اړه 2 راپورونه خپاره کړل.

### د USAID/افغانستان د شمال،ختیځ، او لویدیځ لپاره د اقتصادي بدیل بیاموندلو (IDEA-NEW) پروګرام پلټنه

(دراپورشمیره. F-306-12-004-P،د 2012 د جون په 29خپورشوی)

USAID/ OIG دا پلټنه په لاره اچولې ده ترڅو وموميي چې ایا USAID/افغانستان د جلا ساتني غیرارادي اجازي څخه د ناوړه ګټه اخیستنې څخه مخنیوی لپاره مناسب داخلي کنټرول لري که څنګه. په وروستی راپور کې لاندې مسایل شامل دی :

- د پروژې ستراتیژیک تمرکز او کارمند نیول ثابته بنه نه درلوده. که څه هم ایدیا – نوی پروژه ددې لپاره په لاره اچول شوې وه چې افغانان د تریاکو له کرهنې څخه واړوي او روا، دسوداګري له اړخه شونی بدیلو سرچینو ته یې وهڅوي، USAID/افغانستان په واروار راپورونو کې د قرارداد کوونکي څخه غوښتنه کړې ده ترڅو خپل پروګرام د روا اقتصاد په لګښت کې ځای په ځای کړي. برسیره پردې، د پروژې کلیدي پرسونل په څوواری بدل شوي دي. د پروژې څارنه باید پیاوړی شي. نه هم USAID/افغانستان او نه هم پلي کونکی ملګری یې ددې پروژې څخه څارنه کړې دي.
- کوم پلانونه چې د پایښت لپاره اړیني دي. د ایدیا – نوی پروژې پایښت تر پوښتنې لاندې دی. د ښځو ګډون کچه زیاته شي. که څه هم دګډې مرستې هوکړه د جنډر انسجام او انډول په ټولو کړنو کې دیرمهم بللي ده، خو بیاهم د ښځو ګډون په پروژه کې ټیټ موندل شوی. د کار- لپاره – پیسي پروژې په اړه لازیاتو لارښوونو ته اړتیا شته. که څه هم د زیربنا پروژې د ایدیا- نوی پورې تړلې د کار- لپاره – پیسي فعالیتونو په مرکز کې ځای درلودې، مشن ددې کړنو لپاره معیاري پالیسی او تګلارې نه لري.

راپور د دغه مسالو په نښه کوونکي 18 وړاندیزونه لري.

### د جلا ساتنې غیر اختیاري اجازې څخه د USAID/افغانستان داداري داخلي کنټرول په اړه پلټنه

(دراپورشمیره. F-306-12-003-P،د2012 دجون په 25 خپورشوی )

USAID/ OIG دا پلټنه په لاره اچولې ده ترڅو وموميي چې ایا USAID/افغانستان د جلا ساتني غیرارادي اجازې (ISMA) څخه د ناوړه ګټه اخیستنې څخه مخنیوی لپاره مناسب داخلي کنټرول لري که څنګه. پایلي راپور د لاندې مسالو درلودونکی دی:

- دا میشن د غوښتنلیکونو په منلو کې د داخلي کنټرول څخه بې برخې ؤ. که څه هم دا میشن مسؤلیت درلوده چې د متحده ایالاتو او دریم -هیواد د ملي شخصي – خدماتو قرارداد کونکو لپاره د ISMA غوښتنلیکونو د بیلابیلو پړاونو او منلو ته داخلي کنټرول چمتوکړي، خو ددې ډول کنټرول په رامینځته کولو کې پاتې راغلی ده.
- کارکوونکي دخپل ژوندملګروته د ISMA ګټولاسته راوړلو لپاره ددوې په ځای لاسلیکونه کړیدي، که څه هم داغوښتل شوی ؤچې د ژوند ملګري لاسلیک یې لاسته راوړل شي. دا د متحده ایالاتو -اجیر کاروکوونکي دي کوم چې غوښتنلیکونه یې په USAID/واشنګټن کې منل شوې وې.
- د رخصتی په معاشاتو کنټرول د قناعت وړ نه ؤ. USAID/افغانستان د ISMA ناوړوپیسو ورکولو څخه مخنیوی لپاره داخلي کنټرول چمتوکړی دی، خو دا کنټرولونه هرکله په کارندي راغلي.

- کورته ــ په رخصتۍ تګ لپاره کوم کنټرول نه ؤ تاکل شوی. دکورنیو هغو غړوته چي په ISMA کي يي له سره کارکوله کورته په ــ رخصتۍ تګ اجازه نه وه ورکړشوی،خو دامیشن لړترلږه د کورنیو دوو غړوته په ناوړه توګه د کورته ــ تګ اجازه او معاشات ورکړی ؤ او په څنګ کي يي د ISMA ګټې هم لاسته راوړلي.

راپور د دغه مسالو په نښه کوونکي 10 وړاندیزونه لري.

## د نظارت یا څار روان فعالیتونه

د 2012 کال دجون تر دیرشمي پوري،ګډون کوونکي اداري د افغانستان بیارغوني اړوند د 29 پلټنو له روانو چارو څخه خبرورکړي دي. دغه څارنیز فعالیتونه په ٤.٢ جدول کي په لاندي ډول يادولای شو:

## د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر

4.2 جدول

**د 2012 دجون تردیرشمي پوري د متحده ایالاتو د نوروادارو کارونو څخه روانی څارني**

| اداره | د پروژې نمبر | د پیل نیټه | د پروژې سرلیک |
|---|---|---|---|
| DoD OIG | D2012-D000AT-0170.000 | 5/11/2012 | د C-27A/G222 لپاره داضافي پرزو موجودیت |
| DoD OIG | D2012-D000AS-0137.000 | 3/9/2012 | د افغان ملي پولیس د ښووني/روزني او لوژیستکي ملاتړ قرارداد لپاره د طرزالعملــــونو او پروسو څخه څار او نظارت |
| DoD OIG | D2012-D000AT-0129.000 | 3/8/2012 | د افغان ملي امنيتي پوځ سره د ملاتړ په موخه د ډاترون راډیوګانو قراردادونه |
| DoD OIG | D2012-D000JB-0126.000 | 3/8/2012 | د هوايي ځواکونو د انجينري مرکز اودچاپيريال قرارداد اداره او په افغانستان کي دپوځي رغونيزو پروژو دقرارداد مديت او د هغه څخه څارنه |
| DoD OIG | D2012-D00SPO-0090.000 | 2/28/2012 | د افغان ملي اردو په ليکو کي د مشرتابه د روزني په موخه د امريکا او ايتلاف هڅي |
| DoD OIG | D2012-DT0TAD-0002.000 | 2/14/2012 | په افغانستان کي په غوره شوو تاسيساتو کي د اور وژني د معياراتو سره د تطابق په موخه د نظامي ودانيزو چارو څخه د تخنيکي اروزني ترسره کول |
| DoD OIG | D2012-DT0TAD-0001.000 | 2/14/2012 | په افغانستان کي په غوره شوو تاسيساتو کي د برقي معياراتو سره د تطابق په موخه د نظامي ودانيزو چارو څخه د تخنيکي اروزني ترسره کول |
| DoD OIG | D2012-D000JB-0093.000 | 1/11/2012 | د دفاع وزارت د سلاکارانو د پروګرام له طريقه د بنسټيــــــــزو ظرفيتونو ارتقا |
| DoD OIG | D2012-D00SPO-0085.000 | 1/6/2012 | د افغان ملي امنيتي پوځونو د قومندي او کنټرول سيستم د پراختيا په برخه کي د امريکا متحده ايالاتو هڅي |
| DoD OIG | D2012-D000JB-0071.000 | 12/16/2011 | د قرارداد مديريت او په افغانستان کي د نظامي رغونيزو پروژو څخه څار او نظارت |
| DoD OIG | D2012-D000AS-0075.000 | 12/7/2011 | د Mi-17 الوتکي او د سرپټي ځای د اصلاح په موخه ماموريتي ځواک |
| DoD OIG | D2012-D000AS-0031.000 | 11/17/2011 | د امريکا د ترانسپورتشن قومنداني لپاره د افغانستان د چورلکو د ترانسپورت قراردادونه |
| DoD OIG | D2011-D00SPO-0234.000 | 5/20/2011 | د افغان هوايي ځواک د روزني، تجهيز او د ځای پرځای کولو په برخه کي د امريکا او د ايتلاف د هڅو ارزونه |
| DoD OIG | D2011-D000FD-0121.000 | 3/30/2011 | د بين الحکومتي نظم او مقرراتو لپاره فيس او اضافي قيمت اخيستل چه افغان ملي امنيتي ځواک د فنډ څخه تمويل کيږي. |
| DoS OIG-MERO | 12AUD30 | 12/2011 | په افغانستان کي د مخدره توکو او قانون پلي کولو نړيوالي اداري د تصحيح سيسټم څخه ملاتړی پروګرام پلټنه |
| GAO | 351747 | 6/11/2012 | افغان عامه ساتونکي ځواک ته د DoD لخوا دليږد پروسه |
| GAO | 351742 | 5/11/2012 | د DoDځواکونولپاره د امنيتي ځواکونو سره دمرستي رول |
| GAO | 351743 | 5/11/2012 | په افغانستان کي سلاکاره ټيمونه |
| GAO | 121049 | 3/29/2012 | په افغانستان او عراق کي د قرارداد کولو په اړه د ګډ راپور ارزونه او جاج اخيستل |
| GAO | 121042 | 2/2/2012 | د جګړي په وخت کي د قرارداد کولو د کميسيون سپارښتني |

4.2 جدول (ادامه لري )

| اداره | د پروژې نمبر | د پيل نېټه | د پروژې سرليک |
|---|---|---|---|
| GAO | 320889 | 2/2/2012 | افغانستان ته اغيزمنې مرستې |
| GAO | 351708 | 2/1/2012 | د افغانستان د امنيتي چارو د مسولیتونو د لېږد سره د مرستې په موخه د امريکا ورتیاوې |
| GAO | 351688 | 11/19/2011 | په افغانستان کې د ځواکونو کمولو لپاره د DoD تیاری |
| GAO | 320856 | 9/26/2011 | په افغانستان کې امنيي چارو لیږد |
| GAO | 120976 | 3/31/2011 | د کرکيچ څخه په ډک هيواد کې د دولتي قرارداد کول |
| USAID OIG | FF101112 | 5/1/2012 | د USAIDپلټنه /په افغانستان کې دکندهار دبريښنا نوښت |
| USAID OIG | FF100312 | 5/1/2012 | والیانو ته د USAID/افغانستان لخوا د کړنې په- اساس د بسپنې پلټنه |
| USAID OIG | FF101812 | 12/1/2011 | د USAID/افغانستان د څارنې او ارزونې سيستم بياکتنه |
| USAID OIG | FF101712 | 10/25/2011 | د USAID/افغانستان لخوا په ټاکل شوو پروژو کې دقوماندان بیړنی غبرگون پروگرام بسپنې کارولو ته بياکتنه |

سرچيني: دسیگار6/21/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoD OIG ځواب؛ دسیگار6/22/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoS OIG ځواب؛ دسیگار6/25/2012معلوماتي غوښتني ته د GAO ځواب؛ د سیگار6/21/2012 معلوماتي غوښتني ته د USAAA ځواب؛ دسیگار6/19/2012 معلوماتي غوښتني ته د USAID OIG ځواب.

د دفاع وزارت د خپل OCO په پلي کولو کې د ډېرو ننگونو سره مخ دی. DoD OIGددې ننگونو اولوروخطرونو پربنسټ لومړيتوبونه په نښه کړي دي. په 2012مالي کال کې، DoD OIGد OCO او ورپورې تړلي سرچينو څخه چې په افغانستان کې دعملياتونو څخه ملاتړکوي، خپل څارنې ته ادامه ورکوي. DoD OIG په افغانستان کې دافغانستان امنيتي ځواکونوبسپنې اداره او اجراکول، پوځي رغونه،د پرسونل خونديتوب،او د ايتلافي ځواکونو په مرسته د قراردادونو اداره او څارنې ته ځانگړې پاملرنه کوي.

لکه څنگه چې په افغانستان کې میلیاردونه ډالردلگښت په حال کې دی،يوسترلومړيتوب به داوي چې د کومو پروژو څخه چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو ANSF د روزنې،د اسبابو چمتوکول او پايښت لپاره ورکول کيږي د لاسته راوړلو او قرارداد کولو له بهيرڅخه څارنه وشي. DoD OIG په پام کې لري ترڅود هغوقراردادونو اداره او څارنې په اړه خپله څارنه په لاره واچوي چې ANSFته اسباب چمتوکولو لپاره لاسليک کيږي لکه،څرخي الوتکي، عادي الوتکي،مهمات،راډيوگانې، او په شپې کې دليدني اسباب. DoD OIG همدارنگه د هغوقراردادونوپه اړه به خپل بياکتني ته دوام ورکړي چې د افغان ملي پوليس ANP دروزنې لپاره ددفاع وزارت له طرفه لاسليک کيږي.

پداسي حال کې نظامی رغونې په افغانستان کې نوي سيمې د رغونې او يا هم د بيارغونې په مرحله کې دي، د تسهيلاتو او طعام خونې بيارغول، روغتيايي کلينکونه، د قرارگاو توسعه، پوليسو پوستې د رغولو به برخه کې به DoD OIG د قراردادنو د اداري او د نظامي ودانيزو پروژو په اړه جدي څار ترسره کړي. DoD OIG همدارنگه دشتمنيوحساب ورکونې ته به ادامه ورکوي لکه،دقراردادکوونکي له خوا- برابرشوي، ددولت- شتمني او دپوځ لپاره لوړ- ضرورت توکي؛ د وزارت په هغو هڅوبه تمرکزلري چې دافغان دفاع وزارت بنيادي ظرفيت پياوړی کولو په موخه ترسره کوي؛اودمالي اداري کنټرول ته به ادامه ورکړي.

د DoD OIG- په مشرئ دسهيل لويديځ اسيا گډپلان جوړولوډله دفيدرال او DoD OCO- پورې اړوندوڅارنو ترمينځ ټکرونه له مينځه وړي او همغږئ ته وده ورکوي. DoD OIG دسيگار،دعمومي پلټونکو ملگرې او ددفاع وزارت دڅارنې ټولني له غړوسره به خپل کارته ادامه ورکړي ترڅو په

2013مالي کال کې دټول IGتولني لپاره چې په افغانستان کې په کاربوخت دي دپلټني يو ستراتيژيک پلان چمتوکړي. د سيګار په مشرۍ دغه هڅې کانګرس او نورو ونډه لرونکو ته د بيارغوني د هڅو په اړه د لا زيات اغيزمن ځار په اړه معلومات وړاندي کوی.

## د پلټني لپاره د مرستيال عمومي مفتيش دفتر

روان عمليات چې خپلواکي پوري- اړوندځارنه زغمي درغونيزو هڅوپه پام کې نيولو سره دپرسونل خونديتوب ته رسيدنه کوي؛ همدارنګه د متحده ايالاتو پرسونل لپاره دخواک ساتني پروګرام؛دشتمنی حساب ورکونه؛دپيسوناوړه ورکوني؛د رغوني په شمول دقرارداد اداره اوترتيب؛د افغان پوليسو دروزني لپاره دقراردادڅارنه؛په افغانستان کې دلوجيستيک ويشل؛روغتياپالنه؛ او افغان امنيتي ځواکونو ته دورکړشوي بسپنولپاره دلاسته راوړلو پلان چمتوکول او کنترول هغه ټکي دي چې په روان عمليات کې به ورته پام اړول کيږي.

### د C-27A/G222 لپاره د اضافي برخو شتون

(د پروژې شميره. D2012-D000AT-0170.000،د 2012 د مې په 11 پيل شوی )

DoD OIG داپه ګوته کوي چې اياد C-27A/G222 اضافي پرزوچمتوکول به دلګښت او لاسته راتلوله نظره شونی وي چې دافغان هوايي ځواکونوالوتکي لپاره په دوامداره توګه وپيرودل شي.

### د افغان ملي پوليس د ښووني/روزني او لوژيستکي ملاتړ قرارداد لپاره د طرزالعملـــــونو او پروسو څخه څار او نظارت

(د پروژې شميره D2012-D000AS-0137.000 چه د 2012 کال دمارچ په 9مه پيل شوې)

DoD OIG دافغان ملي پوليس لارښوني/روزني او لوجيستيک ملاتړ قرارداد په اړه دپلټنوله لړۍ څخه دويمه پلټنه په لاره اچولې ده. د پلټنو د دغه لړۍ اصل هدف دا دي ترڅو معلومه کړل شي چه د امريکا د فاع وزارت مسولين د ماموريت د شرايطو د پوره کولو په موخه د قرارداد کولو د مناسب پروسس څخه ګټه اخلي او د فدرال او امريکا د دفاع وزارت د پاليسيو په رڼا او هغوی سره د قرارداد چارو او فعاليتونو څخه څارنه او نظارت ترسره کوي او که نه.

ددې پلټني په ترڅ کې به DoD OIG په ګوته کړي چې ايا پوځ، NTM-A/CSTC-A،او DCMA دقرارداد لپاره دڅارني سمې پروسې اوتګلارې درلودې که څنګه. برسيره پردې، DoD OIGبه دا په نښه کړي چې ايا پوځ، NTM-A/CSTC-A، او DCMA دقراردادکونکي نظارت په سمه توګه ترسره کړې وه که څنګه. ددې لړۍ لومړۍ پلټنه داوه "دافغان ملي پوليس دلارښوني/روزني اولوجيستيک ملاتړ قرارداد،"دپروژې شميره D2011-D000 .AS-0271.000

### ډاټرون راډيو قرارداد لاسليک کوي ترڅو د افغان ملي امنيتي ځواکونو څخه ملاتړ وکړي.

(د پروژې شميره D2012-D000AT-0129.000 چه د 2012 کال د مارچ په 8مه پيل شوي ده)

DoD OIG غواړي چه معلومه کړي چه د امريکا اردو د مخابراتو- الکترونيکس قومندانی د ډاترون راديوګانو د قرارداد د عقد په وخت کې اغيزمنې پاليسي او طرزالعملونه په پام کې نيول دي او که نه، د مناسب قيمت په اړه يې اړينې هڅې او خبرې اترې ترسره کړې، په وخت سره د توکو ارايه يې تصديق کړې، او د اړين کيفيت د کنترول د معلومولو لپاره يې لازم تدابير ترسره کړي دي او که نه.

### د هوايي ځواکونو د انجينرۍ مرکز اودچاپيريال قرارداد اداره او په افغانستان کې دپوځي رغونيزوپروژو دقرارداد اداره اوڅارنه

(د پروژې شميره D2012-D000JB-0126.000 چه د 2012 کال د مارچ په 8مه پيل شوي ده)

DoD OIG غواړي چه معلومه کړي چه د انجينری لپاره د هوايي ځواک مرکز او چاپيريال مسولين په افغانستان کې د بيارغونې د پروژو څخه په اړين او اغيزمن ډول څارنه ترسره کوي. دا په افغانستان کې د قراردادونو د مديريت او نظامي رغونيزو پروژو څخه د نظارت په اړه د ترسره کيدونکو پلټنـــــــــو د لړۍ دويمه پلټنه ده. لومړۍ پروژه چه شميره يې D2012-D000JB-0071.000 ده په افغانستان کې د امريکايي اردو د انجينرانو د قطعه د نظامي رغونيزو پروژو په اړه د ترسره کيدونکې څارنې او نظارت په اړه ده.

### په افغان ملي پوځ کې دمشرانووده ورکولو لپاره دمتحده ايالاتو او ايتلافي ملګرو هڅې

(دپروژې شميره. D2012-D00SPO-0090.000،د 2012 کال دفبرورۍ په 28 پيل شوی)

DoD OIG د افغان ملي پوځ منصب لرونکو او غير- کميسيوني منصب لرونکوپه روزنه کې دايتلاف مشرد پروګرامونو ګټه اواغيزمنتيا ارزوي.

### دافغانستان په ټاکلوتسهيلاتوکي د اورلګيدنی له مينځه وړلو له نړيوالومعيارونوسره دبرابرراتلوله نظره دپوځي ودانيوتخنيکي ارزونه

(د پروژې شميره D2012-DT0TAD-0001.000 چه د 2012 کال د فبرورى په 14مه پيل شوي ده)

DoD OIG په نښه کوي چي اياپه کومو پوځي ودانيو کې چې په افغانستان کې دمتحده ايالاتو- لخوانيول شوي دي داور- مړکولو سيستم چي دپوځي رغوني لخوا جوړې شوي دمتحده ايالاتو دمرکزي قوماندي دتسهيلاتومعيارونه اود اورلګيدني څخه دخوندی کيدلوملي ټولني له معيارونو سره برابردي که څنګه. DoD OIG دضرورت په وخت کې به په کندهار هوايي ميدان،بګرام هوايي ميدان اوکيمپ اګرز،اونوروځايونوکي د متحده ايالاتو- لخوانيول شوي تسهيلات وارزوي. دا ارزونه به د DoD OIG داصلاحي سپارښتنووضعيت په اړه راپورورکړي کوم چي دپخوانی اور- مړکولو ارزوني په نتيجه کې وړاندې شوې وې.

**په افغانستان کې په غوره شوو تاسیساتو کې د برقي معیاراتو سره د تطابق په موخه د نظامي ودانیزو چارو څخه د تخنیکي ارزوني ترسره کول**

(د پروژې شمیره D2012-D000JB-0093.000 چه د 2012 کال د فبروری په 14مه پیل شوې ده)
DoD OIG داپه نښه کوي چې ایا دپوځي رغوني لخوا جوړشوی برقي سیستم په کومو تسهیلاتو کې چې د متحده ایالاتو – لخواپه افغانستان کې نیول شوي دي دمتحده ایالاتو مرکزي قوماندې دتسهیلاتو معیارونه او دبرېښناملي قانون له معیارونو سره سم دي که څنګه. DoD OIG به دضرورت په وخت کې دمتحده ایالاتو لخوانیول شوي تسهیلات په کندهار هوايي میدان،بګرام هوايي میدان،کیمپ ایګر،اونوروځایونوکې وارزوي. DoD OIG به همدارنګه د DoD OIG- اصلاحي سپارښتنووضعیت وارزوي کوم چې دبرېښنايي سیستم په پخوانیو ارزونو کې وړاندې شوې وې.

**د دفاع وزارت دسلاکارانوپروګرام له لارې دبنیادي ظرفیت ارتقا**

(د پروژې شمیره D2012-D00SPO-0085.000 چه د 2012 کال د جنوری په 11مه پیل شوې ده)
DoD OIG غواړي چه معلومه کړي چه د دفاع وزارت د سلاکارانو پروګرام خپل ټاکل شوي اهداف او موخې ترلاسه کوي. په ځانګړې توګه، DoD OIGدا ارزوي چې دپروګرام موخې،اهداف،اوسرچینې داسې مؤثراوګټوربرابرشوې دي چې دپروګرام ټاکلوپایلو لپاره کافي وي.

**دافغان ملي امنیتي ځواکونودقوماندې اوکنټرول سیستم پرمختیالپاره دمتحده ایالاتو هڅې**

(د پروژې شمیره D2012-D000JB-0071.000 چه د 2012 کال د جنوری په 6مه پیل شوې ده)
DoD OIGدا په نښه کوي چې ایا DoD به د ANSF دقوماندې اوکنټرول سیستم پرمختیا دچمتوشوې نیټوترپایه بشپړکړي که څنګه. په خاصه توګه، DoD OIG به وارزوي چې ایا دمتحده ایالاتوحکومت او ایتلافي ملګروستراتیژي،لاربښونه،پلانونه، اوسرچینې به د ANSFدقوماندې اوکنټرول سیستم پرمختیااو اوعملیاتي پلې کولو لپاره کافي وي که څنګه.

**په افغانستان کې دپوځي رغوني پروژو دقرارداد اداره اوڅارنه**

(د پروژې شمیره D2012-D000JB-0071.000 د 2011 کال د دسمبر په 16مه پیل شوې)
DoD OIG غواړي چه معلومه کړي چه DoD په افغانستان کې د نظامي رغونیزو پروژو څخه مؤثر او غیزمن څار ترسره کوي او که نه. په ځانګړې توګه، DoD OIGبه معلومه کړي چې ایا ددفاع وزارت DoD د قرارداد کوونکي له رغوني څخه په سمه توګه څارنه کوي او دکیفیت – تضمین کولوپه اړه خپل څارونکي مسولیتونه پرمخ بیایي که څنګه.

ددې لپاره چې په موقع قومانده او متمرکزراپورچمتوشي، دا پروژه په دووبیلابیلو پروژو ویشل شوې ده. اصلي پروژه به د USACEقراردادونواداره او په افغانستان کې د پوځي رغونیزې پروژو څارنې ته متمرکزه شي. دویمه پروژه، D2012-D000JB-0126.000،به دهوایي ځواکونو مرکزدمحیطي ښه والی قراردادونواداره او په افغانستان کې د پوځي رغونیزې پروژو څارنې ته متمرکزه شي.

**د Mi-17 الوتکي او د سرپټي ځای د اصلاح په موخه ماموریتي ځواک**

(د پروژې شمیره D2012-D000AS-0075.000 چه د 2011 کال د دسمبر په 7مه پیل شوې)
DoD OIG غواړي چه معلومه کړي چه د DoD مسولینو د Mi-17 الوتکې د اصلاح یا تعدیل په برخه کې کاري احکام په اړین ډول ورکړي او د هغه یې په سمه توګه اداره کړي او د DoD د مقرراتو

او پالیسو په رڼا کې ترسره کیږي. قرارداد کوونکو مسولینو کاري احکام د نامعین تسلیمی، نامعین کیفیت قرارداد نمبر W58RGZ-09-D-0130. له مخې ورکړي دي.

### په افغانستان کې دځرخیدونکي وزرټرانسپورت دمتحده ایالاتو ټرانسپورټیشن قوماندې لپاره

(د پروژې شمیره D2012-D000AS-0031.000 چه د 2011 کال د نومبر په 17مه پیل شوې)

DoD OIG پلان لري په افغانستان کې دځرخیدونکي- وزر ټرانسپورت قراراداونو په اړه یوه پلټنه په لاره واچوي،ترڅو معلومه کړي چې دټرانسپورټیشن قوماندې چاروکي کله چې په یو احتمالي چاپیریال کې دترسره کیدونکي خدمتونو لپاره قرارداد کوي آیا د فدرالي زده کړې قوانین او د دفاع وزارت له لاربښوونو سره سم دقرارداد اداره او پلي کول ترسره کوي که څنګه. د پلان شوي لړې په لوموړي تحقیق کې به DoD OIG معلومه کړي چه ایا د قرارداد کوونکي مسولین د توکو، مراسلاتو او افغانستان ته د مسافرینو د ترانسپورټت په چار اړین کنترول لري او که څنګه.

### د افغان هوايي ځواکونودزده کړې،وسایل اوساحي لپاره دمتحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو دپلانونو ارزونه

(دپروژې شمیره. D2011-D00SPO-0234.000، د 2011 د مې په شلمه پیل شوې ده )

DoD OIG معلوموي چې آیادمتحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو موخې،اهداف،پلانونه،او لاربښوونې دیو وړ او پایداره افغان هوايي ځواک دروزنې،وسایل،او ساحې لپاره چمتوشوي،خپورشوي،عملیاتي اودډاډ وړدي که څنګه.

### د بین الحکومتي فرمانونو لپاره فیسونه او اضافي لګښتونه چې دافغانستان امنیتي ځواکونو ته تخصیص شوې بسپنې څخه ورکول کیږي

(د پروژې شمیره D2011-D000FD-0121.000، چه د 2011 کال د مارچه په 30 مه په لاره اچول شوې ده)

DoD OIG به د هغه فیس او اضافي مالیاتو اندازه معلومه کړي چه د امریکا دفاع وزارت اجزاوې یی د افغانستان د ملي امنیتي وجهیي صندوق د تخصیصاتو څخه د تمویل کیدونکو بین الحکومتي انتقالاتو باندی لګول کیږی. DoD OIG به دا هم ارزیابي کړي چې ایا د دغه لګښتونو ملاتړ لپاره د لګښت معلومات شتون لري.

## د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفترــ د مینځنی ختیځ سیمه بیز دفتر

DoS OIG پدې ربع کې د افغانستان بیارغوني پورې اړوند کوم نوی پروژه ندی پیل کړی.

### په افغانستان کې د مخدره توکو او قانون پلي کولو نړیوالي ادارې د تصحیح سیستم څخه ملاتړی پروګرام پلټنه

(د پروژې شمیره 12AUD30، چه د 2011 کال په دسمبر کط پیل شوې)

د پلټنې موخه داده چې دیوخوندي،امن،او خواخوږی بندي کولو سیستم په جوړولو کې چې د نړیوالو معیارونو او افغاني کلتورله شرایطوسره موافق وي، د INL دسیستم سمونکی ملاتړپروګرام (CSSP)

اغیزمنتیا وارزوي. په ځانګړې توګه به OIG معلومه کړي چه INL د لاندې CSSP برخو له لارې
ټاکل شوي موخې او پایداره نتایج ترلاسه کوي او که نه: روزنه او لارښونه، ظرفیت اوچتول، د مخدره
توکو پر وړاندې د مبارزې قضایی مرکز او د امنیتی قضایی واحد مغلق عملیات او ثبات: د پل چرخي
مدیریتی او حفظ او مراقبت ډله؛ د مرکزي زندان ریاست د مشراکت او بیایوځای کیدنې ډلې؛ د کندهار د
توسعه او ملاتړ ډلـــــــــــه

## د حکومت د حساب ورکولو وزارت

### افغان عامه نظم ځواکونو ته د DoD لخوا د لیږد پروسه

(د پروژې شمیره. 351747،د 2012 د جون په 11پیل شوې ده )
افغان عامه نظم ځواک(APPF) د 2012 په مارچ کې د امنیتي مسولیت پرې په منلو پیل وکړ. اساسي
پوښتني: (1) افغان عامه نظم ځواک ته دامنیتي چارولیږد په اړه ترکومه بریده دلګښتونو اټکل ترسره
کړیده او دلګښت کمولو لپاره کوم کارونه په پام کې نیول شوي دي؟ (2) آیا پدې اړه چې افغان عامه
نظم ځواک او دخطراداره کولو شرکتونه د موافقي سره سم خدمتونه وړاندې کوي که څنګه، ترکومه
بریده DoD د څارنې او اداره کولو میکانیزمونه موندلي اوپلي کړي دي؟ (3) دامنیتي چارو لیږد
دخصوصي امنیتي قراردادکوونکو څخه افغان عامه نظم ځواک ته په افغانستان کې د DoD پرعملیاتونو
کومې اغیز(ې)درلودلي،او کوم کارونه، که چیرې وي، د منفي اغیزو کمولو لپاره DoD ترسره کړي
دي؟ (4) ترکومه بریده DoDخصوصي امنیتي قراردادکوونکو څخه افغان عامه نظم ځواک ته دساکن
امنیت لیږد په اړه پلان کړې ده،همدارنګه داساسي –امنیت لپاره DoD ترکومه بریده احتمالي پلانونه
چمتوکړیدي؟

### د دفاع وزارت ځواکونو لپاره د امنیتي ځواک سره دمرستې ونډې

(د پروژې شمیره. 351742،د 2012 دمی په 11پیل شوې ده )
DoD پلان لري ترڅو د امنیتي-ځواکونو کارونو سره دمرستې لپاره په ځانګړي-عملیاتو ځواکونو ډاډ
وکړي،دا په داسې حال کې چې په عامه-مقصد ځواکونوکې ددې وړتیاو بنیادي کولو لپاره کارکوي.
موخې دادي چې وموندل شي ترکومه بریده 1) DoD) دعامه-مقصد او ځانګړي –عملیاتونو ځواکونو
مسولیتونه او ونډې په ډاګه کړي دي؛(2) هغه حالات او وضعیتونه یې په نښه کړي وي چې دامنیتي
–ځواکونو سره دمرستې لپاره کوم یو له یادشویو ځواکونو څخه واستول شي؛او(3) د دواړو ځواکونو
وړتیاوته وده ورکولو لپاره شرایط او اړینې سرچینې په نښه کړي،برابرکړي او لومړیتوبونه یې ټاکلي
دي.

### په افغانستان کې د سلاکارۍ ډلې

(د پروژې شمیره. 351743،د 2012 د می په 11پیل شوې ده )
په افغانستان کې دامنیتي –ځواکونو سره دسلاکارۍ ډلو کارونې په اړوند، GAOپدې تکل دی ترڅو
هغه حدودمعلومه کړي چې (1) DoD د سلاکارۍ ډلو لپاره ونډې،میشنونه،اودقوماندې اړیکې ټاکلي
او په پام کې نیولي دي؛(2) سمندري ځواکونه اوپوځ پرسونل،وسایل او دروزنې اسباب ټاکلي دي؛(3)

DoD پلان لري ترڅو روان پیاوړي شوي غونډ/کنډک جنګیالي ډلي دسلاکارى ماموریتونولپاره برابرکړي؛او(4) سمندري ځواکونه او پوځ پدې توانیدلي چې سلاکارۍ ډلوته د پرسونل او وسایلو غوښتني پوره کړي،په شمول دکومي اغیزې په راپوروركړشوي چمتووالي کې.

**په عراق او افغانستان کې د قرارداد کولو په اړه د ګډ راپور ارزونه**

(د پروژې شمیره. 121049،د 2012 د مارچ په 29پیل شوې ده )

په 2011 مالي کال کې د دفاع ملي اجازه ورکولو فرمان،835برخه، په څواب کې به GAO لاندې کارترسره کړي (1) په عراق او افغانستان کې د ګډکلنى راپور دېرمختګ لپاره به د DoD، DoS،او USAID لخوا کارول شوي معلومات او دمعلوماتو سرچیني وارزوي؛(2) پدې به بیاکتنه ترسره کړي چې DoD، DoS،او USAID په افغانستان او عراق کې دقرارداد اداره او څارنه او همغږى کولو لپاره څنګه د معلوماتو او سرچینو څخه ګټه اخلي؛ او(3) دا به وارزوي چې وزارتونه او ادارې په افغانستان او عراق کې دقراردادونو او اړوندوکسانوقانوني تعقیب لپاره چې پدې هیوادونو کې په کاربوخت دي یو ګډ ډیټابیس چمتو او پیاوړى کولو لپاره کوم پلان لري که څنګه.

**د جګړې په وخت کې د قرارداد کولو د کمیسیون سپارښتني**

(د پروژې شمیره. 121042،د 2012 دفبروري په دویمه پیل شوې ده )

مهمه پوښتنه : په عراق او افغانستان کې د جګړې مودې قرارداد کمیسیون د وروستى اوځانګړې-راپورسپارښتنو ته درسیدني په موخه DoD، DoS،او USAID کوم کارونه پلان یاترسره کړي دي ؟

**افغانستان ته اغیزمنې مرستې**

(د پروژې شمیره. 320889،د 2012د فبروري په دویمه پیل شوې ده )

مهمـــــــې پوښتني: (1) تر کومه حده په افغانستان کې د امریکایی ادارو لخوا پرمخ وړل کیدونکې انکشافي پروژې د عین هدف لپاره کار کوي؟ (2) دغه پروژو د تطبیق او پلان جوړوني د همغږي په موخه امریکایی ادارې د کومو میکانیزمونو څخه ګټه اخلي؟ (3) تر کومه حده په دغه پروژو کې دوه ګوني حالت موجود دي؟

**د افغانستان د امنیتي چارو مسولیتونو د لیږد په برخه کې د امریکا وړتیاوې**

(دپروژې شمیره. 351708،د 2012دفبروري په 1 پیل شوی)

مهمـــــــې پوښتني: (1) افغان ملي امنیتي پوځ ته د امنیتي چارو د مسولیتونو د لیږد پرسه څه شی ده؟ (2) ترکومه حده د امریکا دفاع وزارت هغه وړتیاوې او ظرفیتونه په ګوته کړي دي چه د امنیتي چارو د مسولیتونو د لیږد لپاره اړیني دي؟ (3) کوم فکتورونه،که چیرې وي، ددې وړتیاو په چمتوکولوکې به د DoDوسه تراغیزې لاندې راولي ؟

**په افغانستان کې د پوځ کمولو لپاره د DoD تیارى**

(د پروژې شمیره. 351688،د2011د نومبرپه19 پیل شوې ده )

مهمــــــــي پوښتني: DoDترکومه بریده (1) په افغانستان کي دخپلو ځواکونو اوموادو کمولو لپاره چمتووالی لري او (2) پداسي حال کي چي په افغانستان کي دځواک کمولو ته ځان چمتوکوي ترکومه بریده له عراق څخه لاسته راغلي درسونه پلي شوي دي؟

**په افغانستان کي امنيي چارو ليږد**

(د پروژي شميره. 320856،د2011دسپتمبرپه26پيل شوي ده)

مهمــــــــي پوښتني: (1) افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) ته د امنيتي مسؤليتونو چارو دليږد لپاره چمتوشوی چوکاټ کلي عناصر کوم دي؟ (2)افغان ملي امنيتی پوځ ته د امنيتي چارو د مسوليتونو د ليږد په برخه کي کوم پرمختګونه شوي دي؟

**د کرکيچ څخه په ډک هيواد کي د دولتي قرارداد کول**

(د پروژي شميره. 120976،د2011دمارچ په 31پيل شوي ده )

مهمــــــــي پوښتني: (1) د افغانستان اوعراق لپاره د ملاتړلاسته راوړلو په موخه پر DoDباندې د DoS دبهروسي ماهيت او حدود کوم دي ؟ (2) په دې اتکا کي کوم فکتورونو شامل دي؟ (3) کوم تدابير په پام کي نيول شوي ترڅو معلومه کړي دغه اتکا دوام مومي؟

## د متحده ايالاتو د پوځ د پلټني اداره

پدې ربع کي، USAAAدبيارغونيزو نوښتونو په اړه رواني پلټني نلري.

## د نړيوالې پرمختيا لپاره متحده ايالاتو اداره د عمومي پلټونکی دفتر

**په کندهار کي د USAID/افغانستان لخوا دبريښنا نوښت پلټنه**

(د پروژي شميره. FF10112،د2012 دمی په لومړی کي پيل شوی )

آيا دافغانستان جنوبي سهيلي بريښنا سيستم څخه دکندهار دبريښنا نوښت د بريښنايي اړتياپه بشپړکولو او دبريښناپه ويشلو کي،په خاصه توګه دکندهاربښارلپاره، دمتحده ايالاتو د اورپکو ضدستراتيژي په پياوړی کولو کي خپلي موخي لاسته راوړلی شي؟

**واليانو ته د USAID/افغانستان لخوا د کړني پهـ اساس د بسپني پلټنه**

(دپروژي شميره. FF100312،د2012 دمی په لومړی کي پيل شوي ده )

هدف: آيا دواليانو لپاره دکړني –پربنسټ بسپني چمتوکول داسي ډيزاين او پلي شوي ده چي ظرفيتونه لوړبوزي او په پايله کي به واليان اوددوی ټيم پدې وتوانيږي (1) عملياتي اوډټولني له حده زيات اړتياوي بشپړي کړي، (2) د هيوادوالو سره اړيکی زياتي کړي،او(3) د اداري عمومي ظرفيت ته وده ورکړي؟

يادونه: USAID OIG پريکړه کړي ده ترڅودا پلټنه،او پلانونه دجولای په مياشت کي له سره وګوري ترڅو يو يادښت راپورخپورکړي چي ددوی ابتدايي کار ساحي په اړه په نښه شوي مسايل په ګوته کوي.

### د USAID/افغانستان دارزوني او څارني سیستم بیاکتنه

(د پروژې شمیره FF101812 چه د 2011 کال د دسمبر په لومړی پیل شوي ده)

هدف: ددې په نبته کولو لپاره چې آیا USAID/افغانستان دټاکل شوي پروګرامونواغیزمن اداره کولولپاره دڅارني اوارزوني یو سیستم لري که څنګه.

### د USAID/افغانستان لخوا دټاکل شووپروژولپاره د قوماندان بیړنی غبرګون پروګرام دکاروني بیاکتنه

(د پروژې شمیره FF101712 د 2011 کال د اکتوبر په 25مه پیل شوې)

هدف: ترڅومعلومه کړي چې د متحده ایالاتو ځواکونو—افغانستان لخوا دټاکلو پروژولپاره USAID ته دقوماندان بیړنی غبرګون پروګرام(CERP) ورکړشوي بسپني په پام کې نیول شوومو څو لپاره کارول کیږي،د معمول قوانینواو اصولوسره جوړیدونکي دي،اوآیاکوم لګښتونه چې د CERP-په مرسته پروژو ته ورکړشوي منطقي،روا او دتخصیص وړدي که څنګه.

## د متحده ایالاتو دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر(DCIS)

DCIS په افغانستان اوسهیل لویدیځ آسیاکي د چل او فساد مهمو پیښو په اړه خپلي پلټني رواني ساتي. اوس مهال،د افغانستان په دریو ځایونوکې د DCISشپږ.غړي ګومارل شویدي ترڅود قرارداد فساد له نړیوال عملیاتي ځواک سره کاروکړي: کابل،بګرام او کندهار هوایي میدانونه. DCIS په 2010کې له عملیاتي ځواک سره خپل یوبل ځانګړی غړی وګومارله. DCISاو سیګارد اوونورو اداروسره ملګري کوي ترڅو دچل اوفساد هغې پلټني په لاره واچوي چې DoDاو افغانستان بیارغونیزپروګرامونه یې تراغیزلاندې راوستي دي. د دغه ځانګړې خپرو شویو وړاندې نمایندګانو برسیره، د DCIS 110 اروپایي او امریکایي نمایندګان دا مهال په سویل غربي اسیا کې فساد او درغلی پورې اړوند تحقیقات پر مخ وړي.

د 2012 کال دجون تردیرشمي پورې DCIS دافغانستان په اړه 118 پرانیستي OCOپلټني لري. ددې پرانستوپلټنو څخه، 26 پلټني له سیګار سره ګډ دي.

د 2012 کال دجون تر دیرشمي پورې، DCIS دافغانستان په اړه 130پلټني ترلي دي.



**د سيګاررسمي ټاپه**

د سيګار رسمي ټاپه د متحده ايالاتو او افغانستان ترمنځ د هڅو د ارتباط استازيتوب کوي ځو د بيا رغونې احتساب او نظارت وکړي. د ټاپې د مرکزپه پورته خواکې چې کومه جمله ده په دري ليکل شوې او د "سيګار"مانا ورکوي. د ټاپې په منځ کې د پورتنۍ غاړې په برابر فقره په دري کې ده او د "سيګار" مانا لري. د مهر د مرکز په لاندنۍ اړخ کې چه کومه اصطلاح ده هغه په پښتو ژبه ده او ورته معنې لري.

# ضميمې
# او پايليکونه

# ضمیمه A

## دقانوني غوښتنو لپاره دراپور متقابله-سرچینه

دا ضمیمه د دې راپور پاڼې د سیګار د جوړونکي قانون لاندې د شرایطو سره حواله ورکوي، د ملي دفاع د اختیاراتو قانون د مالي کال 2008 لپاره، پی ایل شمیره 181-110 § 1229 (چوکاټونه 1 .A)

A.1 جدول

| د پي ایل لمبر 181-110, § 1229 لاندې د دې راپور د سیګار د درې میاشتني راپورونو اوغوښتنو معاینه | | | |
|---|---|---|---|
| **د راپور برخه** | **د سیګار عمل** | **د سیګار توانمنوونکي ژبه** | **د عامه قانون برخه** |
| مقصد | | | |
| بشپړ راپور | روان درې میاشتنی راپورونه | د دا ډول پروګرامونو او عملیاتو د اداري پوري اړوندو ستونزو او نیمګړتیاو په اړه د امریکا د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو ته په خپلواک او هدمند ډول د پوره معلوماتو ورکول او په بشپړ ډول د هغوی باخبره ساتل او د اصلاحي فعالیتونو د اړتیا او پرمختګ په اړه هغوی ته معلومات ورکول. | برخه 1229(a)(3) |
| نظارت کول | | | |
| بشپړ راپور | د بهرنیو چارو وزیر او د دفاع وزیر ته راپور ورکوي | عمومي پلټونکی باید نېغ په نېغه د بهرنیو چارو وزیر او یا د دفاع وزیر ته راپور ورکړي او یا د هغوی د عمومي نظارت لاندې وي. | برخه 1229(e)(1) |
| مسوولیتونه | | | |
| بشپړ راپور | کتنه اختصاص شوي\ موجودي بودیجي<br><br>د هغو پروګرامونو، عملیاتو، قراردادونو کتنه چې اختصاص شوي\ موجودي بودیجي کاروي. | د افغانستان د بیارغوني څخه څارنه – دا د عمومي مفتش دنده ده چه تحقیقات ترسره، د هغوی څخه څارنه، او د ځانګړو شوو او یا هم په افغانستان کې د بیارغوني لپاره د ورکړل شوو مرستو د اصلاح، سمبالښت او لګولو په اړه تحقیقات او پلټني همغږې کړي او همدا ډول د هغو پروګرامونو، عملیاتو او قراردادونو څخه چه د (A) څخه بیا تر لاندې (G) فرعي برخو په ګډون مرستو لخوا تمویل کیږي تحقیقات ترسره کړی. | برخه 1229(f)(1) |
| د سیګار نظارت بودیجي | د اختصاص شویو\موجود بودیجو د مسوولیتونو او لګښتونو کتنه | د داسي بودیجو د مسوولیت او لګښت د حساب کتاب نظارت | برخه 1229(f)(1)(A) |
| د سیګار نظارت | د بیا رغوني د هغو فعالیتونو کتنه چې د اختصاصونو او خیراتونو لخوا تمویل شوي وي. | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسي بودیجو لخوا تمویل شوي وي | برخه 1229(f)(1)(B) |
| یادونه 1 | د هغو قرادادونو کتنه چې اختصاص شوي او موجودي بودیجي کاروي | د هغو قراردادونو نظارت او کتنه چې د داسي بودیجو لخوا تمویل شوي وي | برخه 1229(f)(1)(C) |
| ضمیمه ب | د اختصاص شویو\موجود بودیجو د داخلي او خارجي لیږد کتنه | د ریاستونو، ادارو، او د متحده ایالاتو د سازمانونو، او شخصي او نادولتي سازمانونو ترمنځ د داسي بودیجو او ورسره تړلي معلوماتو د لیږدل نظارت او کتنه | برخه 1229(f)(1)(D) |
| د سیګار نظارت ضمیمه ج ضمیمه د | د پلټني تاریخچې سمبالول | د داسي بودیجو په کارولو د تاریخچو سمبالتیا د دې لپاره چې په راتلونکي کې د داسي بودیجي[و] پلټني او معاینې اساني کړي | برخه 1229(f)(1)(E) |
| پلټني | نظارت او کتنه څرنګه چې تشریح شوي | د افغانستان ترون او د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژی په تطبیقولو کې د افغانستان د دولت او نورو مرستندویه هیوادونو سره د متحده ایالاتو د ارتباط د اغېزمنتیا نظارت او کتنه | برخه 1229(f)(1)(F) |

جدول A.1 (دوام لري)

| د پي ايل لمبر 181-110, § 1229 لاندې د دې راپور د سيګار د درې مياشتني راپورونو اوغوښتنو معاينه | | | |
|---|---|---|---|
| **د راپور برخه** | **د سيګار عمل** | **د سيګار توانمنوونکې ژبه** | **د عامه قانون برخه** |
| تحقيقات | د تحقيقاتو ترسره کول او راپور کول څرنګه چې تشريح شوي دي | د اضافي پيسو د ورکړې څېرنه لکه د دوه ځلي پيسو ورکول يا دوه ځله بل او هر ډول احتمالي غيرقانوني يا ناسم عمل چې د فدرال مامورينو، قرارداديانو، يا اړوندو کسانو لخوا شوي وی، او د عدليې ورات ته د دې ډول راپورونو ورکول، کله چې ضرورت وي، چې دا ډاډ ترلاسه شي چې نورې څېړنې، قانوني تعقيب، د اضافي پيسو بيرته ترلاسه کول، او نور جبرانوونکي کارونه ترسره شي. | برخه 1229(G)(1)(f) |
| بشپړ راپور | د سيسټمونو، پروسيجرونو، او کنټرولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | د څار او نظارت سره اړوندې نورې دندې – عمومي مفتش بايد د (1) څېرکي مطابق د دندو د مربوطه اخراج لپاره دا ډول سيستمونه، تګ لارې او کنټرول رامنځ کړي هغه ته دوام او د هغه څخه څارنه وکړي. | برخه 1229(2)(f) |
| بشپړ راپور | هغه وظيفي چې د عمومي پلټونکي په قانون کې مشخص شوې دي | د 1978قانون په اساس د عمومي مفتش دندې او مسوليتونه – برعلاوه. . عمومي پلټونکی بايد د عمومي پلټونکي د 1978 د قانون لاندې د عمومي پلټونکيو وظيفې او مسووليتونه هم ولري. | برخه 1229(3)(f) |
| د نورو ادارو نظارت | د DoS، DoD او USAID عمومي مفتشينو سره د چارو همغږي کول | د هڅو همغږي – عمومي مفتش بايد د لاندې مسولينو سره چارې همغږي او دهغوی همکاری ترلاسه کړي: (A) د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، (ب) د بهرنيو چارو وزارت عمومي پلټونکی، او (ج) د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده ايالاتو د ادارې عمومي پلټونکی. | برخه 1229(4)(f) |
| مرکزي ملاتړ او نورې سرچينې | | | |
| بشپړ راپور | څرنګه چې غوښتل شوی وي د ملاتړ تمه وکړئ | د فدرال ادارو لخوا مرسته – د فدرال حکومت د هر وزارت، ادارې او يا هم بل سازمان څخه د اړتيا په وخت کې تقاضا شوې معلومات بايد د عمومي مفتش او يا هم د هغه باصلاحيته استازي ته په اختيار کې تر هغه حده چه عملي وي او د کوم موجوده قانون سره په ټکر که نه وي ورکړل شي. | برخه 1229(A)(5)(h) |
| موجود نه دی | راپور نه دی ورکړل شوی | د مرستې د مســــــترد شوو غوښــــتنو راپور ورکول –– هر هغه وخت چه د عمومي مفتش لخوا مطالبه شوې معلومات او يا هم مرسته د هغه په باور په غيرضروري ډول مسترد او يا هم منظور شوې نه ده، عمومي مفتش بايد پدې اړه ژر ترژره د قضيې تړاو ته په کتو هغه د بهرنيو چارو وزارت ، دفاع وزارت او ياهم د کانګرس اړوندې کميټې ته خبر ورکړي. | برخه 1229(B)(5)(h) |
| راپورونه | | | |
| بشپړ راپور<br>ضميمه ب | راپور- د هرکال په پای کې د 30 ورځو په ترڅ کې د ټولو منل شوو مرستو، مصارفو او عايداتو په اړه د فعاليتونو لنډيز وړاندي کړي. | درې مياشتني راپـــــــورونه- د افغانستان د بيارغونې لپاره د تخصيص شوو او يا ورکړل شوو مرستو لخوا تمويل کيدونکو پروګرامونو او فعاليتونو په اړه د هر مالي کال په پای کې د 30 ورځو د ننه بايد عمومي مفتش ديادې ربع يا درمياشتو او تر ممکن حد پورې د مربوطه ربع تر پايه پورې د يادو چارو په اړه د کانګرس مربوطه کميټه ته راپور وړاندې کړی. په افغانستان کې د بيارغونې په اړه د ټولو منل شوو، لګول شوو او عايداتو په ګډون بايد د اړوندې مودې په اړه په هر راپور کې ذکر شوي وي، او بايد د لاندې ټکو درلودنکي وي- | برخه 1229(1)(i) |

جدول A.1 (دوام لري)

| د پي ایل لمبر 181-110, § 1229 لاندې د دې راپور د سیګار د درې میاشتني راپورونو اوغوښتنو معاینه | | | |
| --- | --- | --- | --- |
| د راپور برخه | د سیګار عمل | د سیګار توانمنوونکي ژبه | د عامه قانون برخه |
| ضمیمه ب | د اختصاص شویو/خیرات کې ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | د اختصاص شویو/خیرات کي ورکړ شویو بودیجو مسوولیتونه او لګښتونه | برخه 1229(A)(1)(i) |
| بودیجي یادونه 1 | د لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب د هرې پروژې یا پروګرام د نالګول شویو بودیجو لیست جوړول | د هغو لګښتونو یو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب چې تر دې نېټې د افغانستان په بیا رغونه کې لګول شوي، د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، او د نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري، تر کومه چې تطبیقېدونکی وي، د هرې پروژې او پروګرام د بشپړولو د لګښتونو د یو اټکل سره ملګرې. | برخه 1229(B)(1)(i) |
| بودیجي | د مرستندویه ادارو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه، او لګښتونه | د هغو بودیجو سره تړلي یا شامل عایدات چې هغو پروګرامونو او بودیجو ته د بهرنیو ملتونو یا نړیوالو سازمانونو لخوا ورکړل شوي وي د کومو بودیجي چې د متحده ایالاتو د کوم ریاست یا اداري لخوا ورکړل شوي وي، او د داسي عایداتو<br>مسوولیتونه او یا لګښتونه | برخه 1229(C)(1)(i) |
| بودیجي | د نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو د بودیجو عایدات، مسوولیتونه او لګښتونه | د هغو بودیجو سره تړلي یا شامل عایدات چې هغو پروګرامونو او پروژو ته د بهرنیو نیول شویو یا کنګل شویو شتمنیو څخه ورکړل شوي وي د کومو بودیجي چې د متحده ایالاتو د کوم ریاست یا اداري لخوا ورکړل شوي وي، او د داسي عایداتو هر ډول مسوولیتونه او یا لګښتونه | برخه 1229(D)(1)(i) |
| بودیجي<br>ضمیمه B | د هغو ادارو یا کوم سازمان فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوي بودیجي ترلاسه کوي | د هغو ادارو یا سازمانونو فعالیتي لګښتونه چې اختصاص شوي پیسي ترلاسه کوي او یا په بله توګه د افغانستان د بیا رغوني لپاره ورکړل شوي وي | برخه 1229(E)(1)(i) |
| یادونه 1 | د قرارداد جزییات تشریح کړئ | د هر هغه قرارداد، بودیجي، تړون یا د بودیجي د بل کوم میکانزم په صورت کي چي په پراګراف (2)* کي یې یادونه شوي ---<br>(1) د قرارداد یا د بودیجي د بل کوم میکانزم رقم؛<br>(2) د قرارداد یا د بودیجي د بل کوم میکانزم د ساحي لنډ بحث؛<br>(3) په دې اړه یو بحث چې څرنګه د متحده ایالاتو د حکومت هغه ریاست یا اداري چې په دې قرارداد، بودیجه، تړون، یا د بودیجي په بل میکانزم کي کار کوي د مهمو کاندیدانو وړاندیزونه وپېژندل یا وغوښتل چې دغه قرارداد، بودیجه، تړون، یا د بودیجي بل کوم میکانزم ترسره کړي، د نورو مهمو ادارو یا اشخاصو د یو لیست سره چې د دې وړاندیز ورته شوی یا غوښتل شوی و؛ او<br>(4) د حق او منظورۍ هغه اسناد په کومو چې د دې پروسو د پرېکړې بنسټ و له هغو پروسو پرته چې بشپړه او پرانستي مقابله وړاندې کوي | برخه 1229(F)(1)(i) |
| بشپړ راپور | هدایت کړل شوی راپور په www.sigar.mil خپور کړل شئ.<br>دري او پښتو ژباړې تر کار لاندې دي | د عوام لپاره د لاس رسي وړ —<br>عمومي مفتش باید د (1) څېرکي د دغه بند په اساس باید په عام ډول د انټرنیټ پاڼي له لارې دغه راپور په انګلیسي ژبه او په هغه نورو ژبو چه د عمومي مفتش لخوا د زیات لوستکو او عامو ژبو په توګه په افغانستان کي پیرندل شوي خپاره کړی. | برخه 1229(3)(i) |

جدول A.1 (دوام لري)

| د پي ایل لمبر 181-110, § 1229 لاندې د دې راپور د سیګار د درې میاشتني راپورونو اوغوښتنو معاینه | | | |
|---|---|---|---|
| **د راپور برخه** | **د سیګار عمل** | **د سیګار توانمنوونکې ژبه** | **د عامه قانون برخه** |
| بشپړ راپور | د راپور خپرول څرنګه چې يې لاربښودنه شوې | فـــــــارم –<br>د دغه بند پر اساس هر راپور باید په يو ناتصنيف شوي فارم کې او که چيرې عمومی مفتش يې لازم وبولي د تصنيف شوي ضميمه سره تسليم کړل شئ. | برخه 1229(4)(i) |
| بشپړ راپور | د درې مياشتني راپور تسليمي | عمومي مفتش باید د (i) بند په اساس د امريکا بهرنيو چارو وزارت او دفاع وزارت ته هم راپور وسپاري. | 1229(1)(j) برخه |

يادونه 1: که څه هم دامعلومات په عادي توګه دسيګارپه ويب پاڼه کې شته دی (www.sigar.mil)، کومه ډیټاچې سیګارلاسته راوړی په نسبي توګه اومه بڼه لري او اوسمهال دبیاکتنې،تحلیل، اوترتیب کولو لاندې دی ترڅو د سيګار راتلونکو موخو لپاره چمتوشي.

*تر پوښښ لاندې " قرارداونه، پورونه، هوکړې او د میکانیزمونو موندل" د (i of P.L. No. 110-181 1229 خپرکي په (2) پارګراف کې بيان شوي دي.

"هر لوی قرارداد، مالي مرسته، تړون، يا د بوديجې مکانيزم چې د متحده ایالاتو د دولت د هر ریاست یا اداري لخوا پکې برخه واخيستل کيږي، او په هغوی د افغانستان د بيا رغوني لپاره اختصاص شوي او يا بل ډول ورکړ شوي پيسي شاملي وي، که له هر ډول دولتي یا شخصي سازمان سره د لاندې هر مقصد لپاره وي: په افغانستان کې د فزيکي انفراسټرکچر جوړول یا بیا جوړول.

د افغانستان د سياسي يا ټولنيزي اداري تاسيس يا دوباره تاسيس.

د افغانستان د خلـــــــــــکو لپاره د توليداتــــــو او خدمتونو د وړاندي کولو لپاره".

# ضميمه B

## د افغانستان بيارغونې لپاره د متحده ايالاتو بسپنې (په ميليون ډالر)

جدول B.1 د2012کال دجون ترديرشمي پورې د پروګرام پربنسټ دافغانستان بيارغوني لپاره دتخصيص شوو بسپنو لست چمتوکوي.

جدول B0.1

| د متحده ايالاتو د بوديجو سرچينې | اداره | تول |
|---|---|---|
| **امنيت** | | |
| د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه (ASFF) | DoD | 50,625.70 |
| روزنه او تجهيزات (د دفاع وزارت) | DoD | 440.00 |
| بهرني پوځي مالي مرستي (FMF) | DoS | 1,059.14 |
| نړيواله نظامي ښوونه او روزنه (IMET) | DoS | 12.68 |
| NDAA برخه 1207 انتقال | نوري | 9.90 |
| **بشپړ امنيت** | | **52,147.42** |
| **دولتداري او پرمختيا** | | |
| د قوماندان د بيړني ځواب پروګرام (CERP) | DoD | 3,439.00 |
| د افغانستان د زيربنا فنډ (AIF) | DoD | 800.00 |
| د ثبات او سوداګرۍ د کړنو لپاره کاري ځواک(TFBSO | DoD | 571.12 |
| د اقتصادي ملاتړ بوديجه (ESF) | USAID | 14,953.44 |
| پرمختيايي ملاتړ (DA) | USAID | 883.65 |
| د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ قانون (AFSA) | DoD | 550.00 |
| د ماشوم بقا او روغتيا (CSH + GHAI) | USAID | 554.28 |
| د توليداتو د اعتبار اردو (CCC) | USAID | 31.65 |
| د متحده ايالاتو د نړيوالې مرستې اداره (نوري) | USAID | 45.75 |
| د هيڅ ډول کټي اخيستلو پرته ، تروريزم ضد، ماينونه ليرې کول، او اړوند (NADR) | DoS | 505.51 |
| د ولايتي بيا رغوني د ټيم مشاوران | USDA | 5.70 |
| د خزانې تخنيکي مرسته | خزانه | 4.45 |
| **تولټال- حکومتدارۍ او د مخدره موادو ضد اداري پرمختيا** | | **22,344.54** |
| **دمخدره موادو پرضد مبارزه** | | |
| د مخدره مواد نړيوال کنټرول او د قانون تنفيذ (INCLE) | DoS | 3,561.56 |
| د مخدره موادو بنديز او د مخدره موادو پر ضد فعاليتونه (DoD CN) | DoD | 2,312.02 |
| د نشه يي توکيو په اړه د تنفيذ اداره (DEA) | DoJ | 127.37 |
| **تول – د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه** | | **6,000.95** |
| **بشري** | | |
| پي ايل 480 عنوان I | USDA | 5.00 |
| پي ايل 480 عنوان II | USAID | 716.71 |
| په مصيبت کې مرسته (IDA) | USAID | 487.83 |
| د انتقال نوښتونه (TI) | USAID | 36.02 |
| د کډوالو او مهاجرينو مرسته (MRA) | DoS | 754.05 |
| داوطلب سوله ساتنه (PKO) | DoS | 69.33 |
| د مهاجر او مهاجرت بيړنۍ مرسته (ERMA) | DoS | 25.20 |
| خواړه د پرمختګ لپاره | USDA | 109.49 |
| 416 (b) د خوړو کومک | USDA | 95.18 |
| خواړه د تعليم لپاره | USDA | 50.49 |
| ايمرسن بوديجه | USDA | 22.40 |
| **بشردوستي** | | **2,371.70** |
| **د نړيوالو چارو عمليات** | | |
| نظارت | | 172.60 |
| نوري | | 6,442.40 |
| **تول- د نړيوالو چارو عمليات** | | **6,615.00** |
| **تولې بوديجې** | | **89,479.61** |

يادونه: شمېرې په ګردي کولو اغېزمنې شوي. د ځواب ورکوونکوادارو لخواتازه معلومات ددې لامل شوچې د 2006 مالي کال او مخکينی ربع له راپورونو سره په شميروکې توپيرراشي.

سرچينې: دسيګار7/2/201، 7/16/2012، 7/18/2012، 7/20/2012، 10/14/2009، 6/26/2012، 2،او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنو ته د DoDځوابونه؛د سيګار7/13/2012, 7/6/2012، او6/27/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoSځوابونه؛د سيګار7/20/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛دسيګار4/17/2012 معلوماتي غوښتنې ته د OMBځواب؛ دسيګار6/28/2012, 10/15/2010, 1/15/2010، او10/9/2009معلوماتي غوښتنو ته د USAIDځوابونه؛ دسيګار7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ دسيګار4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDAځواب؛ P.L. 112-74, 12/23/2011؛ P.L. 112-10, 4/15/2011؛ P.L. 111-212, 10/29/2010؛ P.L. 111-118, 12/19/2009؛د 2010 مالي کال دفاعي څرګندونې.

# ضميمې

| مالي کال 2012 | مالي کال 2011 | مالي کال 2010 | مالي کال 2009 | مالي کال 2008 | مالي کال 2007 | مالي کال 2006 | مالي کال 2005 | مالي کال 2004 | مالي کال 2003 | مالي کال 2002 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | |
| 11,200.00 | 11,619.28 | 9,166.77 | 5,606.94 | 2,750.00 | 7,406.40 | 1,908.13 | 968.18 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 290.00 | 150.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 396.80 | 414.08 | 191.00 | 57.26 |
| 1.95 | 1.56 | 1.76 | 1.40 | 1.66 | 1.19 | 0.98 | 0.95 | 0.67 | 0.39 | 0.18 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 9.90 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **11,201.95** | **11,620.84** | **9,168.53** | **5,608.34** | **2,761.56** | **7,407.59** | **1,909.11** | **1,655.93** | **564.75** | **191.39** | **57.44** |
| | | | | | | | | | | |
| 400.00 | 400.00 | 1,000.00 | 550.67 | 488.33 | 209.00 | 215.00 | 136.00 | 40.00 | 0.00 | 0.00 |
| 400.00 | 400.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 257.62 | 239.24 | 59.26 | 15.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 1,836.76 | 2,067.51 | 3,346.00 | 2,088.32 | 1,399.51 | 1,210.71 | 473.39 | 1,280.56 | 893.87 | 239.29 | 117.51 |
| 0.00 | 0.00 | 0.30 | 0.40 | 148.65 | 166.81 | 183.96 | 169.56 | 153.14 | 42.54 | 18.30 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 250.00 | 135.00 | 165.00 | 0.00 |
| 0.00 | 69.91 | 92.30 | 58.23 | 63.02 | 100.77 | 41.45 | 38.00 | 33.40 | 49.68 | 7.52 |
| 0.55 | 3.09 | 4.22 | 4.22 | 10.77 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.33 | 7.48 |
| 7.18 | 6.25 | 2.90 | 3.55 | 20.37 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.50 | 0.00 |
| 64.75 | 69.30 | 57.66 | 48.60 | 26.60 | 36.60 | 18.20 | 38.20 | 66.90 | 34.70 | 44.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.70 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.47 | 0.75 | 0.13 | 0.19 | 0.95 | 0.06 | 1.00 | 0.90 |
| **2,966.86** | **3,255.29** | **4,562.63** | **2,775.16** | **2,158.00** | **1,724.02** | **932.19** | **1,913.27** | **1,327.37** | **534.04** | **195.71** |
| | | | | | | | | | | |
| 324.00 | 400.00 | 589.00 | 484.00 | 307.57 | 251.74 | 215.97 | 709.28 | 220.00 | 0.00 | 60.00 |
| 424.99 | 376.53 | 392.27 | 230.06 | 192.81 | 290.97 | 108.05 | 224.54 | 71.80 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 18.80 | 40.59 | 20.38 | 23.66 | 16.77 | 3.72 | 2.87 | 0.58 |
| **748.99** | **776.53** | **981.27** | **732.86** | **540.97** | **563.09** | **347.68** | **950.59** | **295.52** | **2.87** | **60.58** |
| | | | | | | | | | | |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 | 0.00 |
| 0.00 | 15.50 | 27.40 | 65.41 | 177.00 | 60.00 | 60.00 | 56.60 | 49.20 | 46.10 | 159.50 |
| 49.12 | 66.74 | 29.84 | 27.16 | 16.90 | 0.03 | 0.04 | 4.22 | 11.16 | 85.52 | 197.09 |
| 0.67 | 1.13 | 0.89 | 0.75 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.60 | 11.22 | 11.69 | 8.07 |
| 83.56 | 65.00 | 81.48 | 76.79 | 44.25 | 53.80 | 41.80 | 47.10 | 63.30 | 61.50 | 135.47 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 15.50 | 20.00 | 9.90 | 23.93 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.20 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 12.09 | 20.55 | 9.47 | 23.24 | 30.10 | 9.08 | 4.96 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 34.58 | 14.14 | 46.46 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 25.08 | 10.02 | 6.12 | 9.27 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 22.40 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| **133.35** | **148.37** | **139.61** | **182.40** | **281.10** | **123.30** | **150.16** | **165.14** | **204.66** | **248.08** | **595.52** |
| | | | | | | | | | | |
| 59.00 | 37.20 | 34.40 | 25.20 | 14.30 | 2.50 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 1,406.20 | 905.10 | 1,761.70 | 1,060.70 | 434.40 | 207.80 | 131.90 | 136.10 | 207.60 | 35.30 | 155.60 |
| **1,465.20** | **942.30** | **1,796.10** | **1,085.90** | **448.70** | **210.30** | **131.90** | **136.10** | **207.60** | **35.30** | **155.60** |
| **16,516.35** | **16,743.32** | **16,648.14** | **10,384.66** | **6,190.33** | **10,028.31** | **3,471.04** | **4,821.03** | **2,599.90** | **1,011.68** | **1,064.85** |

# ضميمه ج

## د سيګار پلټنې

### بشپړې شوي پلټنې

سيګار دراپورورکولو پدې موده کې ځلورپلټنې بشپړکړيدي، لکه چې په جدول C.1 کې لست شوي.

C0.1 جدول

| د 2012کال دجولای تردیرشمې پورې دسيګاربشپړې شوې پلټنې | | |
|---|---|---|
| **راپور شمېره** | **د راپور سرليک** | **د خپريدلو نيټه** |
| د سيګار 12-13 پلټنه | د عامه –ډپلوماسي قراردادونه خپل ډيري موخې لاسته راوړيدي،خوسفارت د مرستې څخه دځارنې اواداره کولو لپاره ګامونه پورته کولی شي. | 7/2012 |
| د سيګار 12-12 پلټنه | د پروژې په تطبيق کې ځنډونې او دپايښت لپاره ناکافي پلان جوړونه د افغانستان زيربناسپنې د ضايع کيدلو له ګواښ سره مخ کوي | 7/2012 |
| د سيګار 12-11 پلټنه | د USAID's افغانستان باثباته کولو نوښت-ختيځ پروګرام که څه هم دثبات زياتولو په لورپرمختګ کړی،خو اورډ-مهاله پرمختيايي هڅو ته ليږدتراوسه ندی ترلاسه شوی | 6/2012 |
| د سيګار 12-10 پلټنه | د امنيتي چاروپه لګښت کې زياتوالی بنايي دافغان عامه نظم ځواک ترمشری لاندې وي؛ USAID اړتيالري ترڅودلګښتونو څخه ځارنه وکړي اوډاډه کړي چې اجازه نلرونکی امنيت ندی کارول شوی | 6/2012 |

### نوې پلټنې

سيګاردراپورورکولو پدې موده کې پنځه پلټنې په لاره اچولي دي،لکه چې په جدول C.2 کې لست شوي.

C0.2 جدول

| د 2012کال دجولای تردیرشمې پورې دسيګارنوي پلټنې | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې شميره** | **د پروژې سرليک** | **د پيل نيټه** |
| سيګار 063A | د افغانستان بريښنايي توليداتو په سوداګري کولو کې دمتحده ايالاتو حکومت هڅې دافغانستان بريښناشرکت (DABS) | 7/2012 |
| سيګار 064A | هويي-خوځيدنې ملاتړ دافغان ترياکو څخه مخنيوي عمليات لپاره | 7/2012 |
| سيګار 060A | ګمرکي تعرفې،ماليات،يانورفيسونه چې دافغانستان اسلامي جمهوريت دولت لخوا دمتحده ايالاتو قراردادکوونکوباندې چې په افغانستان کې دبيارغونې پروژې پرمخ بيايي | 6/2012 |
| سيګار 057A | په افغانستان کې د نه –مصرفيدونې شتمنيو څخه دکنټرول لپاره د USAID تګلارې | 5/2012 |
| سيګار056A | USAID په افغانستان کې دخپل پروګرامونوپايښت لپاره پلان چمتوکوي | 5/2012 |

## رواني پلټنې

سیګار دراپوررکولو پدې موده کې پنځه رواني پلټنې لري،لکه چې په جدول C.3 کې لست شوي.

جدول C0.3

| د 2012کال دجولای تردیرشمي پورې دسیګاررواني پلټنې | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې شمیره** | **د پروژې سرلیک** | **د پیل نیټه** |
| سیګار 058A | د سهیلي سیمي کرهنیزې پرمختیا پروژې لپاره د سوکالي اوپرمختیا نړیوال شرکت سره د USAIDملګرتیا | 4/2012 |
| سیګار 055A | په بادغیس ولایت کې د افغان ملي اردو د 207 مه قطعې د 3 غونډ رغـــــــــول | 3/2012 |
| سیګار 054A | د تیـــــلو، پـــطرولیم او روغنیــــ-اتو په برخه کې د افغان ملي اردو لوژیستکی ورتیاوی | 2/2012 |
| سیګار 052A | د افغان ملي پولیس لپاه د افغان - تخنیکي اووسایلو چمتوکولو پروګرام پورې اړوند لګښتونه اوخارنې | 1/2012 |
| سیګار 049A | د افغان ملي امنیتي پوځ د تاسیساتو لپاره د ITT سیستمــــــونو شرکت سره د USACE د عملیــــــــاتو او حفظ مراقب قراردادونـــــــه | 7/2011 |

## ساینسي پلټنې

لکه څرنګه چه په C.4.جدول کې ښودل شویدي، سیګار د راپور ورکولو پدې مودې کې په 3 عدلي پلټنو باندې خپل کار ته دوام ورکړ.

جدول C0.4

| د 2012 کال د جولای تر 30مه پورې د سیګار عدلي پلــــــټنې | | |
|---|---|---|
| **د پلټنې شمیره** | **د پروژې سرلیک** | **د پیل نیټه** |
| سیګار - 027A | دDoS هغه انتقالی معلومات چې د افغانستان د بیا رغونې په اړه دی، د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ځاکړی عمومي پلټونکی هوډ لری تر څو د DoS لخوا د هغو مرستو | 6/2010 |
| سیګار - 026A | په افغانستان پورې اړوندو د انتقالی معالوماتو عدلی څیړنه او بیا کتنه | 6/2010 |
| سیګار - 022A | د افغانستان دبیارغوني په اړه د امریکا د دفاع وزارت د معلوماتو د انتقال په اړه عدلي بیاکتنه | 2/2010 |

# د سیگار تحقیقات

## بشپړي شوي معاينې

سیګار دراپورورکولو پدې موده کې د يو تحقيق کاربشپړکړيدى،لکه چې په جدول C.5 کې لست شوى.

جدول C.5

| د 2012 کال دجولاى ترديرشمې پورې دسيګاربشپړشوي تحقيقات | | | |
|---|---|---|---|
| راپور په نښه کوونکى | د راپور سرليک | د خپريدلو نېټه |
| د سيگارتحقيق 12-01 | د افغان سرحدي پوليسوپه مرکزونو کې رغونيزي نيمگړتياوي 19ميليونه ډالرپانګه اچونه له ګواښ سره مخ کوي | 7/2012 |

## روانې معاينې

سيګاردراپورورکولو پدې موده کې ددرېوتحقيقاتو په اړه خپل کارته ادامه ورکړى،لکه چې په جدول C.6 کې لست شوى.

جدول C0.6

| د2012 کال دجون ترديرشمې پورې دسيګار روان تحقيقات | | |
|---|---|---|
| د معاينې شميره | د پروژې سرليک | د پيل نېټه |
| سيګار 1004 | د ANP ورډګو روزنيز مرکز (USACE) | 1/2012 |
| سيګار 1002 | جلال اباد د افغان ملي اردو لښکرکوټ (USACE) | 1/2012 |
| سيګار 1001 | کندز دافغان ملي پوځ تسهيل 2/209 ام مرکزي اداري (USACE) | 1/2012 |

# ضميمه D

## د سیګار تحقیقات او د تماس شمیره

### د سیګار تحقیقات

پدې ربع کې،سیګار 25 نوي تحقیقات پرانیستي او1يې تړلي،چې پدې سره دپرانستو تحقیقاتو شمیر 188 ته رسیږي. دنووپلټنو څخه،ډیری یې دتدارکاتي چلبازی،عامه فساد،اورشوت اخیستلو په اړه دي،لکه چې په D.1 شکل کې ښودل شوي دي. تړل شوی دوسیه دیوبل شته تحقیق سره یوځای کړای شوی دی.

### د سیګار ځانګړي شمیره


د شکایتونو لپاره د 35 ګرمولیکوڅخه پدې ربع کې ډیرشکایتونه د بریښنالیک،ویب،یافکس له لارې رسیدلي دي،لکه چې په D.2 شکل کې ښودل شوي دي. ددې شکایتونو څخه ډیریې تړل شوي دي،لکه چې په D.3 شکل کې ښودل شویدي.

### د سیګار ایسارونه او له دندې څخه ګوښه کونې

د 2012 کال دجون تردیرشمې پورې،دځنډوني او ګوښه کونې لپاره دسیګارغوښتنې ددې لامل شوي ترڅو35 کسانو له دندې څخه ګوښه شي او 38 کسان ایسارشي،لکه چې دراتلونکې مخ په D.1جدول کې ښودل شوي.

شکل D.1


د سیګار تحقیقات: د 2012 داپریل له پیل څخه دجون ترپایه پورې نوي تحقیقات




سرچینه: د سیګار د تحقیقاتو ریاست،7/10/2012.

شکل D.2


د سیګارګرمولیکو دشکایتونو سرچینه،د 2012 کال داپریل له پیل څخه د جون ترپایه پورې




سرچینه: د سیګارد تحقیقاتو ریاست،7/10/2012.

شکل D.3

دسیګار دګرمولیکو شکایتونووضعیت، د 2012 کال داپریل له پیل څخه د جون ترپایه پورې




سرچینه: د سیګارد تحقیقاتو ریاست،7/5/2012.

D.1 جدول

| د 2012 کال دجون تردیرشمې پورې ایساروني او کوښښه کونې | |
|---|---|
| **تعلیقات** | **ایساروني** |
| Al-وطن رغونیزشرکت | فاروقي،حشمت الله |
| بصیرت رغونیزچوکاټ | حمید لیث رغونیزشرکت |
| بروفي،کینیت | حمید لیث گروپ |
| نقیب الله،ندیم | لودین،روح الله فاروقی |
| رحمان،عبیدور | بینت او فوچ شریکان، LLC |
| کیمپ بیل،نیل پاتریک | براډون،گري |
| بورکاتا،راول اي. | K5 گلوبل |
| کلوز،جارد لي | احمد،نور |
| نړیوال لوجیستیکي عملیاتونه | نوراحمدیوسفزئ رغونیزشرکت |
| روبینسن،فرانز مارتین | آیني،شیریل اډینیک |
| ټیلر،زاچیري ډوټسین | کنون،جوستین |
| آریاگروپ رغونیزشرکت | کانسټانټاینو،اپریل اني |
| آریا گروپ | کانسټانټاینو،ډي |
| آریا حیرای عمومي سوداگري | کانسټانټاینو،رامیل پامز |
| آریا ایم.اي عمومي سوداگري LLC | کریلي،برام |
| آریا مینځنی ختیځ | ډراټلف،کریسټوفر |
| آریامینځنی ختیځ شرکت LLC | فیل- ټک انجینیري اورغونیزشرکت |
| آریامینځنی ختیځ شرکت لمټډ-زره | هانډا،سیدهارټ |
| آریاسپلای شرکت LTD | جبک ،عماد |
| آریاسپلای خدمتونه او سلاکاری | جمالي،روح الله |
| افتیک نړیوال | خالد،محمد |
| افتیک نړیوال شخصي شرکت،لمټډ. | خان،دارو |
| عالم،احمدفرزاد | ماریانو،اپریل اني پیریز |
| البحرلوجیستیک | مک کیبي،ایلټون موریس |
| امریکن آریا کمپني LLC | محاکزو،جان |
| امریکن آریا LLC | قاسمي،محمداندرس |
| بارکزی،ننگیالی | راضي،محمدخالد |
| فورمیډ سپلای اوخدمات | صافي،فضل احمد |
| گرین لایټ عمومي سوداگري | شین گل شاهین،ا.ک.ا. "شین گل شاهین" |
| کابل هکلی لوجیستیک شرکت | ایسپنزوا-لور،پیدرو Aرډو |
| شارپ وي لوجیستیک | کیمپ بیل،نیل پاتریک |
| یونایټډسټیټ کلیفورنیا لوجیستیک شرکت | حضرتي،آرش |
| یوسف،نجیب الله | میډفیلډنړیوال |
| رحیمي،محمدادریس | مور،رابرټ ج. |
| ووټن،فیلیپ ستیفن | نوري،نورعالم،ا.ک.ا. "نورعالم " |
| | شمالي رغونیزه موسسه |
| | شمال پامیرودانی اوسرک جوړوني شرکت |
| | وادي،دیسي د. |

# ضميمه E

## مخففات او لنډيزونه

| مخففات يا لنډيزونه | تعريف |
|---|---|
| AAF | د افغانستان هوايي ځواک |
| ABP | افغان سرحدي پوليس |
| ACSS | د افغانستان د ملکي خدمتونو ملاتړ |
| ADB | اسيايي پرمختيايي بانک |
| AGO | لوی څارنوال دفتر |
| AIF | د افغانستان د زيربنا تمويلول |
| AIHRC | د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون |
| AIP | د افغانستان د زيربنا پروګرام |
| ALP | افغان سيمه ايز پوليس |
| AMMOA | د افغانستان د ګرځنده پيسو اپراتيـــــــفي تولنه |
| ANA | افغان ملي اردو |
| ANP | افغان ملي پوليس |
| ANSF | افغان ملي امنيتي ځواکونه |
| APAP | د افغانستان د پارلمان مرستندويه پروګرام |
| APPF | د افغانستان د عامه تحفظ ځواک |
| APRP | افغان سولې او بيا پخلاينې پلان |
| ARTF | د افغانستان د بيا رغوني د باور بوديجه |
| ASFF | د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه |
| ASI | د افغانستان د تحکيم ابتکار |
| ASYCUDA | د مشتريانه د معلوماتو لپاره اتومات سيستم |
| A-TEMP | افغانستان- د تخنيکی تجهيزاتو د حفظ او مراقبت پروګرام |
| AWCC | دافغان بيسيم مخابراتي شرکت. |
| AWDP | دافغان کاري ځواک پرمختيايي پروګرام |
| CAA | ملکي هوانوردي واک (افغان) |
| CECOM | د متحده ايالاتو پوځ دمخابراتو- الکټرونيک قومانده |
| CERP | د قومندان بيرنی عکس العمل پروګرام |
| CFSOCC-A | د ګډ ځواک د ځانګړو عملياتو د اجزاو قومندانی – افغانستان |
| CIA | CIA د استخباراتو مرکزي اداره(متحده ايالات) |
| CID | د جنايي تحقيقاتو قومانده (مخکي ليوا) (د متحده ايالاتو اردو) |
| CITF | د جنايي تحقيقاتو عملياتي ځواک(امريکايي پوځ) |
| CJIATF | د اجنسيانو تر منځ ګډ عملياتي قوه |
| CM | د وړتيا معيارونه |
| CMS | د قضيي د مديريت سيستم |
| CNG | ټينګ شوی طبيعي ګاز |
| CNPA | د مخدره موادو سره د مبارزې پوليس - افغانستان |
| COIN | د ياغيانو په وړاندې مبارزه |
| CSIS | د نړيوالو مطالعاتو اوستراتيژي مرکز |

| مخففات يا لنډيزونه | تعريف |
|---|---|
| CSO | د مرکزي احصاييي مؤسسه(افغان) |
| CSSP | د سموني د سيستم د ملاتړ پروګرام |
| CSTC-A | د ګډ امنيت انتقالي قومانده - افغانستان |
| CUAT | د قومندان د واحد د ارزوني توکي |
| DAB | د افغانستان بانک |
| DABS | د افغان ملي هوسايي کمپنی |
| DAI | د پراختيايي بديل شرکت. |
| DCHA | د ډيموکراسي،شخري،او بشري مرستي لپاره اداره(امريکا) |
| DCMA | د دفاعي قراردادونو تنظيم کولو اداره |
| DCIS | د دفاعي جنايي تحقيقاتو خدمت |
| DEA | د مخدره موادو په اړه د تنفيذ اداره (متحده ايالات) |
| DoD | د دفاع وزارت (متحده ايالات) |
| DoD CN | د مخدراتو د فعاليتونو، او د مخدراتو د کمولو لپاره د دفاع وزارت بوديجه (متحده ايالات) |
| DoD OIG | د دفاع وزارت د عمومي پلټونکی دفتر |
| DoS | د بهرنيو چارو وزارت (متحده ايالات) |
| DoS OIG | د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر |
| د خزاني محکمه | د ټرانسپورټ وزارت(متحده ايالات) |
| DSCA | د دفاع د امنيت د هماهنګی سازمان |
| DSF | د ولسوالی ثبات لپاره چوکاټ |
| DST | د ولسواليو د ملاتړ ټيم |
| ECF | د اعتبار د پراختيا اسانتيا |
| ESF | د اقتصادي ملاتړ بوديجه |
| EU | اروپايي ټولنه |
| FBI | د فدرالي نمايندګئ تحقيق (U.S) |
| FDRC | د مالي موضوعاتو د حل کميسيون |
| FEWS نيټ | دوچکالی وړاندي خبروونکي سيستم شبکه |
| FOB | د مخکښنو عملياتو قرارګاه |
| G-8 | د اتو ګروپ |
| GAO | د دولت د احتساب دفتر (متحده ايالات) |
| GDP | ناخالص کورنی توليد |
| HOO | د اداري فساد سره د مبارزي لپاره د نظارت لوی دفتر (افغان) |
| HREBGI | بشري حقوق،توکميز برابروالی،او جندر انسجام(افغان ملي پوځ دفتر) |
| IARCSC | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمت خپلواک کميسيون |
| ICAO | د ملکي هوانوری نړيواله اداره |
| ICCTF | په نړيوالو قراردادونو کي د فساد هدف ځواک |
| ICT | معلوماتي او مخابراتي تکنالوژي |
| IDEA-NEW | د شمال، ختيځ، او لويديځ لپاره د بديل معيشت پيدا کولو مراعات |
| IDLG | د سيمييز دولتداری خپلواک رياست (افغان) |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کميسيون (افغان) |
| IG | عمومي پلټونکی |
| IJC | د نړيوال سوله ساتي مرستندوي ځواک مشترکه قومانده |
| IMF | د پيسو نړيوال صندوق |
| INCLE | د مخدره موادو نړيوال کنټرول او د قانون نفاذ (متحده ايالات) |

| مخففات یا لنډیزونه | تعریف |
|---|---|
| INL | د مخدره موادو او د قانون د تنفیذ د چارو نړیواله اداره (متحده ایالات) |
| IRD | د رغوني اوپرمختیا نړیوال شرکت. |
| ISAF | د امنیت نړیوال مرستندویه ځواک (ایساف) |
| ISMA | بې واکه جلاکیدلو ساتني اجازه |
| JSSP | د انصاف د سکټور د ملاتړ پروګرام |
| KESIP | د کابل بریښنایي خدماتو د پرمختګ پروژه |
| LARA | په افغانستان کې د اراضي اصلاح |
| LOTFA | د افغانستان لپاره د قانون د حاکمیت د باور بودیجه |
| MCC | د چین فلزرااېستني ډله ییزشرکت |
| MCIT | د مخابراتو اومعلوماتي ټکنالوژی وزارت(افغان) |
| MCTF | د لویو جرایمو عملیاتي ځواک (افغان) |
| MIDAS | د افغان پایښت لپاره د کانونوپرراایستني پانګه اچونه او پرمختیا |
| MNNA | لوی غیر-ناټو ملګری |
| MoD | د دفاع وزارت (افغانستان) |
| MoF | د مالیې وزارت (افغانستان) |
| MoI | د کورنیو چارو وزارت (افغانستان) |
| MoJ | د عدلیې وزارت (افغانستان) |
| MoM | دکانونو وزارت |
| MoRR | د کډوالو اوبیرته ستنیدونکو وزارت |
| MoTCA | د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردی وزارت (افغانستان) |
| MOU | د همکاری تړون |
| MRRD | د کلیو پراختیا او بیاجوړولو وزارت (افغان) |
| NATO | د شمالي اتلانټیک د تړون سازمان |
| NDS | د ملي دفاع د اختصاصونو قانون |
| NGO | نادولتي اداره |
| NKB | نوی کابل بانک |
| NMAA | د افغانستان ملي پوځي اکدمي |
| NSC | دملي امنیت شوری |
| NTM-A | د ناټو د روزني مشن - افغانستان |
| NVD | په شپه کی د لیدني اسباب |
| O&M | عملیات او ساتنه |
| OCO | د سمندر پوري غاړه راتلونکي عملیات |
| OSI | د متحده ایالاتو د هوایي ځواک د ځانګړي تحقیقاتو دفتر |
| OTA | د تخنیکي مرستي دفتر(دامریکاخزانه) |
| OTI | د انتقالي ابتکارونو دفتر |
| OVERLORD | د ډاډ ورلوجیستیکونو دڅارني ډیتابیس عملیاتي تصدیق |
| پی. ایل | عمومي قانون |
| PAS | د عامه چاروڅانګه(امریکاسفارت کابل) |
| PJST | دګډدارالانشاولایتي ډله(افغان) |
| PM/WRA | د سیاسي-نظامي چارو اداره – د وسلو د منځه وړلو او بندیز دفتر(افغان) |
| PPC | د سولي ولایتي شوری |
| PRT | د ولایتي بیا رغوني ټیم |
| PSC | د امنیت شخصي قراردادي |

| مخففات يا لنډيزونه | تعريف |
|---|---|
| PTEC | د برېښنا لېږد پراخول او بشپړول |
| RC | سيمييزه قومانده (ايساف) |
| آر سي کړکې | د دوامي لګښت کړکې |
| RICO | په زوروپېسې اخيستونکو اغېزمن شوي او فاسدو موسسو په وړاندې کړنه |
| RMC | د خطر-اداره کولو شرکت |
| سيګار | د افغانستان د بيا رغوني لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی |
| SOAG | د ستراتيژيک هدف دمرستې هوکړه |
| USACE | د متحده اياالاتو د اردو د انجينيرانو فرقه |
| SCIP | د امنيتي همکاري معلوماتي درواږه |
| STEP | د ټاکنيز پروسې ملاتړ |
| SY | لمريز کال |
| TFBSO | په افغانستان کې د سوداګرۍ او ثبات د عمليات لپاره کاري ځواک |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNHCR | د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو لوړ کمېشنر |
| UNODC | د مخدره موادو او جرمونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر |
| USAAA | د متحده اياالاتو د پوځ د پلټنې اداره |
| USACE | د متحده اياالاتو د اردو د انجينيرانو فرقه |
| USACE-TAN | د امريکايي پوځ د انجينيرانو قطعي- د اټلانټيک ځځه پورې غاړې د افغانستان شمال |
| USAID | د نړيوالي پرمختيا لپاره د متحده اياالاتو اداره |
| USAID OIG | د USAID د عمومي پلټونکي دفتر |
| USDA | د متحده اياالاتو د کرهنې وزارت |
| USFOR-A | د متحده اياالاتو پوځونه - افغانستان |
| UXO | انفجار نه شوی وسله توکي |
| WFP | د خوراکي توکو نړيوال پروګرام |
| WSIS | د معلوماتي ټولنې په اړه نړيوالې غونډه |
| WTO | د سوداګرۍ نړيوال سازمان |

# پا یلیکو نه

1. په 5/21/2012 نیټه د افغانستان په اړه د ایساف په غونډه کې د ولسمشراوباما څــــــرګندونې.
2. "دامریکامتحده ایالاتواو افغانستان اسلامي جمهوري ترمینځ دستراتیژیک ملګرتیا تړون زغمل ،"5/1/2012.
3. د افغانستان په اړه دشیکاګو غونډې اعلانول، 5/21/2012.
4. د افغانستان په اړه دشیکاګو غونډې اعلانول، 5/21/2012.
5. ناټو،"افغان مشرتابه ته د امنیتي چارو د مسولیت لیږد: انتقال،" 5/16/2012.
6. د افغانستان په اړه دشیکاګو غونډې اعلانول،5/21/2012.
7. DoS،د بهرنیوچاروو‌زیرې هیلري کلنټن لخوا یادونې،"د افغانستان په اړه دټوکیو کانفرانس کې مینځګړیتوب،"7/8/2012.
8. د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ،7/8/2012.
9. نړیوال بانک،"افغانستان د لیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،" 5/2012،49.مخ.
10. نړیوال بانک،"افغانستان د لیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،" 5/2012، pp. 22, 47.
11. نړیوال بانک،"افغانستان د لیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،" 5/2012،57.مخ.
12. نړیوال بانک،"افغانستان د لیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،" 5/2012،61.مخ.
13. نړیوال بانک،"افغانستان د لیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،" 5/2012،47.مخ.
14. نړیوال بانک،"افغانستان د لیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،" 5/2012،49.مخ.
15. نړیوال بانک،"افغانستان د لیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،" 5/2012،44.مخ.
16. CRS،کانګرس لپاره راپور،"دمتحده ایالاتو داشغال مرسته: عراق،جرمني، اوجاپان پرتله شوي،" راپور RL3331, 3/23/2006،لومړی مخ،په 7/15/2012کې لاسته راغلی. CRS راپوروکړی چې له جرمني څخه دجګړې- نه وروسته مرسته د 2005کال په حساب له29.3میلیارډ ډالروسره برابرۀ (دراپورڅخه وړاندې کال). که چیرې دپیرودلو-توان بدلولو ضریب دنوموړي شمیرې سره یوځای کړونو،د1946–1952 کلونوترمینځ دلویدیځ جرمني لپاره چمتوشوی دجګړې څخه وروسته مرستې به د 2011کال په حساب له 35 میلیارډډالروڅخه لړې وي. وګورئ /http://oregonstate.edu/cla/polisci/sites/default/files -faculty-research/sahr/inflation
17. P.L. 111-32، "د الحاقي تخصیصاتو قانون 2009، "6/24/2009.
18. د سیګار څیړنو د 7/20/2009 نیټې پوښتنې ته دDoD ځواب.
19. د دی راپور د ب ضمیمه وګورى.
20. دسیګار7/16/2012معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
21. دسیګار 7/16/2012 او4/11/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځوابونه.
22. DoD OIG، "د افغانستان د امنیتي ځواک د فنډ – 1 مرحلې لپاره د مدیریت په موخه د مرستو ځانګړي کول او د منل شوو مرستو اعتبار،" 11/5/2007.,p. 2
23. دسیګار7/16/2012معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
24. دسیګار7/16/2012معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
25. DoD،دمالي اداري قانون،"دقوماندان بیړنی غبرګون پروګرام: 12جلد،27فصل،" 1/2009،27-3مخ
26. USFOR-A،"دقوماندان بیړنی غبرګون پروګرام (CERP) SOP،" USFOR-A خپورشوی 35،2/2011،06-1مخ؛ P.L. 112-74، 12/23/2011.
27. د دی راپور د ب ضمیمه وګورى.
28. دسیګار7/16/2012معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
29. دسیګار7/16/2012 او4/18/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځوابونه.
30. دمتحده ایالاتو دیوځي خدماتو لپاره دسناکمیټه،مطبوعاتي خپرونه،"سنا د 2011مالي کال لپاره دملي دفاع Ike سکیلټن رسمي واک قانون تصویب کوي، " 12/22/2010.
31. دسیګار7/18/2012 او7/20/2012معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب؛ P.L. 112-74, 12/23/2011؛ P.L. 112-10, 4/15/2011.
32. دسیګار7/18/2012 او4/19/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځوابونه.
33. TFBSO،"د TFBSOپه اړه،" په 10/20/2011 کې لاسته راغلی؛ دسیګار7/22/2011 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.
34. د دی راپور د ب ضمیمه وګورى.
35. دسیګار7/2/2011 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.
36. دسیګار7/2/2011 او3/30/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځوابونه.
37. د دفاع وزارت، " د مخدره توکو د منځه وړلو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې فعالیتونه، د 2009 مالي کال د مخدره توکو د منځه وړلو او مخدره توکو پر وړاندې دمبارزې فعالیتونو په اړه د دفاع الحاقي غوښتنه چه په 4/13/2010 لاس رسي ورته شوي دي.
38. د دفاع وزارت، " د مخدره توکو د منځه وړلو او مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې فعالیتونه، د 2009 مالي کال د مخدره توکو د منځه وړلو او مخدره توکو پر وړاندې دمبارزې فعالیتونو په اړه د دفاع الحاقي غوښتنه چه په 4/13/2010 لاس رسي ورته شوي دي.
39. دسیګار6/26/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoD ځواب.
40. د سیګار د برسی د نېټې پوښتنې ته د OMB ځواب.
41. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
42. دسیګار6/28/2012 او4/3/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځوابونه.
43. د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ځواب، 10\13\2009.
44. دسیګار7/13/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
45. دسیګار7/13/2012 او4/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځوابونه.
46. د امریکا د کانګرس لپاره د سیګار درې میاشتنی راپور "،7/30/2010, p. 51.
47. نړیوال بانک،" ARTF: د2012 دجون تر20 پورې دمالي وضعیت په اړه درییس راپور،" 4 مخ
48. نړیوال بانک،" ARTF: د2012 دجون تر20 پورې دمالي وضعیت په اړه درییس راپور،" 1مخ
49. نړیوال بانک،" ARTF: د2012 دجون تر20 پورې دمالي وضعیت په اړه درییس راپور،" 4 مخ .
50. نړیوال بانک،" دهیواددرې میاشتنی تازه راپور: افغانستان،" 4\2011، مخ 16.
51. نړیوال بانک،" ARTF: د2012 دجون تر20 پورې دمالي وضعیت په اړه درییس راپور،" 6 مخ .
52. نړیوال بانک،" دهیواددرې میاشتنی تازه راپور: افغانستان،" 4\2011، مخ 16.
53. نړیوال بانک،" ARTF: د2012 دجون تر20 پورې دمالي وضعیت په اړه درییس راپور،" 6 مخ .
54. EC،"افغانستان: دلوبې څرنګوالی،جنوري 2011،" 7،3/31/2011 مخ.
55. UNDP،" د LOTFA، VIپړاوکلنی پرمختګ راپور2011،" جدول 1؛د LOTFA په اړه د UNDPدرې میاشتنی او کلنی راپورونوڅخه دسیګار7/20/2012نیټې تحلیل.
56. UNDP،" د LOTFA، VIپړاو کلنی پرمختګ راپور2011 ،" جدول 2.
57. UNDP،" د LOTFA، VIپړاوکلنی پرمختګ راپور2011،" جدول 1؛د LOTFA په اړه د UNDPدرې میاشتنی او کلنی راپورونوڅخه دسیګار7/20/2012نیټې تحلیل.
58. UNDP،" د LOTFA، VIپړاوکلنی پرمختګ راپور2011،" جدول 1؛د LOTFA په اړه د UNDPدرې میاشتنی او کلنی راپورونوڅخه دسیګار7/20/2012نیټې تحلیل.
59. ب ضمیمه وګورئ؛دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
60. ناټو،"دافغانستان په اړه دشیکاګو غونډې اعلان،" 5/21/2012.
61. ناټو،"دافغانستان په اړه دشیکاګو غونډې اعلان، " 5/21/2012.

# پا یلیکو نه

62. ناټو،"دافغانستان په اړه دشیکاګو غونډې اعلان،"5/21/2012.
63. DoD،دبیاپروګرام جوړولوکار، DoDپرله پسې شمیره FY 12-17 PA،5/30/2012،په 7/10/2012کې لاسته راغلی.
64. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
65. دملګروملتونو عمومي- منشي،"په افغانستان کې وضعیت اوددې لخوا د نړیوالې سولې اوامنیت پلې کول،" 4،6/20/2012 مخ.
66. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
67. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
68. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د IJCځواب.
69. DoD OIG،"دافغان ملي پوځ لوجیستیکي ورتیاوې پایښت ته وده ورکولوپه موخه دمتحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونودهڅوارزونه،" DODIG-2012-028،12/9/2011،139مخ.
70. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د IJCځواب.
71. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د IJCځواب.
72. دسیګار7/1/2012 معلوماتي غوښتني ته د CENTCOMځواب.
73. NTM-A،"د2012کال دجنوري څخه ترمارچ پورې د ، MoD/GS، ACG-AD ارزونه،"3مخ.
74. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
75. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
76. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
77. دملګروملتونو عمومي منشي،" په افغانستان کې وضعیت اوددې لخوا د نړیوالې سولې اوامنیت پلې کول،" 6/20/2012، 5–4 .pp.
78. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
79. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
80. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
81. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
82. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
83. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
84. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
85. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
86. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
87. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
88. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
89. د امریکا دفاع وزارت، " د احتیاطي عملیاتو څخه د نظارت په موخه د 2013 مالي کال د توجیه، د افغانستان د ملي امنیتي پوځ وجهي صندوق (ASFF)،" 2/2012، pp. 8–17.
90. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
91. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب؛ دسیګار7/16/2012 پلټني ته د CSTC-Aځواب.
92. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
93. د امریکا دفاع وزارت، " د احتیاطي عملیاتو څخه د نظارت په موخه د 2013 مالي کال د توجیه، د افغانستان د ملي امنیتي پوځ وجهي صندوق (ASFF)،"2/2012، pp. 5–6.
94. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
95. دسیګار6/26/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
96. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
97. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
98. NTM-A،" افغان ملي پوځ لاسونو ته دپوځي روزنې سیمه ییزمرکزونوسپارل،" 7/5/2012،په 7/20/2012 کې لاسته راغلی.
99. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
100. NTM-A،"د2011 کال څخه دیخوا د ANSFد سوادکچه نژدې درې چنده شوی،" 5/18/2012،په 7/7/2012 کې لاسته راغلی.
101. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
102. NTM-A،"د2011 کال څخه دیخوا د ANSFد سوادکچه نژدې درې چنده شوی،" 5/18/2012،په 7/7/2012 کې لاسته راغلی.
103. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
104. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب؛دسیګار7/16/2012 پلټني ته د CSTC-Aځواب.
105. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
106. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
107. دملګروملتونو عمومي منشي،" په افغانستان کې وضعیت اوددې لخوا د نړیوالې سولې اوامنیت پلې کول،" 6/20/2012 ، 6مخ.
108. ایساف،افغان ملي پولیس پرسنات،6/21/2012.
109. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
110. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
111. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
112. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
113. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
114. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
115. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoDځواب.
116. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب؛ دفیډرالي تدارکاتو ډیټابیس سیسټم، قرارداد W91CRB11C0053، په 7/5/2012کې لاسته راغلی.
117. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
118. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
119. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب؛ دسیګار7/16/2012 پلټني ته د CSTC-Aځواب.
120. NTM-A،"د2011 کال څخه دیخوا د ANSFد سوادکچه نژدې درې چنده شوی،" 5/18/2012،په 7/7/2012 کې لاسته راغلی.
121. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب؛ دسیګار7/16/2012 پلټني ته د CSTC-Aځواب.
122. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
123. د افغانستان د بیارغوني لپاره د ځانګړی عمومي پلټونکی د 4/3/2011 ته د OSD ځواب.
124. DoD،"د دفاع وزارت بودجه،2012مالي کال،"، 82،2/2011مخ ؛ دسیګار4/3/2011 معلوماتي غوښتني ته د OSDځواب.
125. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CENTCOMځواب.
126. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتني ته د CENTCOMځواب.
127. دسیګار6/27/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoS, PM/WRAځواب.
128. دسیګار6/27/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoS, PM/WRAځواب.
129. دسیګار6/27/2012 معلوماتي غوښتني ته د DoS, PM/WRAځواب.
130. د ب ضمیمې ته ستانه شي.
131. UNODC،" په کومه کچه چې دافغان تریاکو تولید زیاتیږي قیمت یې هم پورته کیږي، " 1/12/2012، په 6/25/2012 کې لاسته راغلی.
132. UNODC،"دافغانستان تریاکو سروې2012،" 4/2012، 1مخ.
133. UNODC،"دافغانستان تریاکو سروې2012،" 4/2012 ، 7 مخ.
134. UNODC،"دافغانستان تریاکو سروې2012، " 4/2012، 13مخ.
135. دملګروملتونو عمومي- منشي،" په افغانستان کې وضعیت اوددې لخوا د نړیوالې سولې اوامنیت پلې کول،" 6/20/2012، 13مخ.
136. UNODC،"دافغانستان تریاکو سروې2012، " 4/2012، 8مخ.
137. UNODC،"دافغانستان تریاکو سروې2012، " 4/2012، 13مخ.
138. UNODC،"دافغانستان تریاکو سروې2012، " 4/2012، pp. 1, 12.
139. دسیګار6/26/2012 معلوماتي غوښتني ته د CSTC-Aځواب.
140. UNODC،"په هلمند،کندهارکې دتریاکو له مینځه وړلو پروګرام لپاره دسینګارونو چمتوکول،" 5/8/2012، په 7/12/2012 کې لاسته راغلی.

141. دسيګار6/26/2012 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-Aځواب.
142. دسيګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-Aځواب.
143. UNODC "،UNODC،جاپان او دروسيې فدرال يوه ګډه پروژه پيل کړې دي ترڅو دترياک قاچاق څخه دمخنيوی لپاره افغانستان سره مرسته وکړي،" 6/18/2012، په 6/22/2012 کې لاسته راغلی.
144. دسيګار6/26/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
145. UNODC،" دافغانستان ترياکوسروې 2011 " 1،12/2011 مخ.
146. د ب ضميمې ته ستانه شي.
147. " دامريکامتحده ايالاتواو دافغانستان اسلامي جمهوريت ترمينځ دستراتيژيک ملګرتيا تړون زغمل،" 5/2/2012، pp. 1, 2, 8.
148. دملګروملتونو عمومي- منشي،" په افغانستان کې وضعيت اوددې لخوا د نړيوالې سولې اوامنيت پلي کول،" 6/20/2012، 4مخ.
149. سپينه مانۍ، " دامريکامتحده ايالاتواو دافغانستان اسلامي جمهوريت ترمينځ دستراتيژيک ملګرتيا تړون زغمل،" 5/2/2012، pp. 1, 2, 8.
150. يوناما،"افغانستان،چين پياوړي شوي دوه اړخيزه اړيکې،" 6/12/2012؛ دملګروملتونو عمومي منشي،" په افغانستان کې وضعيت اوددې لخوا د نړيوالې سولې اوامنيت پلي کول،" 6/20/2012، 4مخ.
151. يوناما،"افغانستان،چين پياوړي شوي دوه اړخيزه اړيکې،" 6/12/2012
152. د ولسمشر دفتر، GIRoA،" افغانستان دجرمني اواسټرليا لخوا دمالي ژمنو هرکلی کوي،" 5/16/2012؛ دولسمشر دفتر، " افغانستان،استرليا داوږدمهاله ملګرتياتړون لاسليک کړل،" 5/21/2012.
153. دولسمشر دفتر، GIRoA،" افغانستان اوترکيه به دستراتيژيک ملګرتيا تړون لاسليک کړي،" 6/15/2012.
154. USAID،" دافغانستان خود-کفايي لپاره دتوکيوملګرتيا اعلانول،دليږد څخه تربدلونه پورې،" 7/8/2012.
155. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
156. دملګروملتونو عمومي منشي،" په افغانستان کې وضعيت اوددې لخوا د نړيوالې سولې اوامنيت پلي کول،" 6/20/2012، 2مخ.
157. UNAMA،" يوناما دسولې عالي شورى نوى مشرتاکلو څخه هرکلی کوي،" 4/14/2012؛ دملګروملتونوعمومي-منشي،" په افغانستان کې وضعيت اوددې لخوا د نړيوالې سولې اوامنيت پلي کول،" ، 2مخ.
158. دملګروملتونو عمومي منشي،" په افغانستان کې وضعيت اوددې لخوا د نړيوالې سولې اوامنيت پلي کول،" 6/20/2012، 2مخ.
159. دملګروملتونو عمومي منشي،" په افغانستان کې وضعيت اوددې لخوا د نړيوالې سولې اوامنيت پلي کول،" 6/20/2012، 2مخ.
160. دسيګار7/5/2012 او3/30/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoS ځوابونه.
161. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
162. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
163. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
164. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
165. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
166. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
167. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
168. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
169. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
170. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
171. ايساف، " دافغان سولې اوبيايوځای کيدلوپروګرام ته- پام کول،" 6/2012.
172. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
173. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
174. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
175. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
176. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
177. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
178. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
179. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
180. دسولې لپاره بسپنه،" دناکامودولتونولست،2012،" 6/18/2012، pp. 3, 4, 17.
181. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
182. IEC، "دټاکنې قانون مسودې بشپړيدوپه هکله مطبوعاتي خپرونه،" 6/19/2012.
183. دسيګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
184. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
185. دملګروملتونو عمومي - منشي،" په افغانستان کې وضعيت اوددې لخوا د نړيوالې سولې اوامنيت پلي کول،" 6/20/2012، 2مخ.
186. دسيګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
187. دسيګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
188. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
189. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
190. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
191. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
192. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
193. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
194. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
195. دسيګار7/12/2012،7/5/2012 معلوماتي غوښتنو ته د DoSځوابونه.
196. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
197. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
198. دسيګار 7/6/2012معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
199. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
200. دسيګار7/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
201. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
202. دسيګار7/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
203. دسيګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
204. دسيګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب؛دسيګار7/16/2012 پلټنې ته د USAIDځواب.
205. دسيګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب؛دسيګار7/16/2012 پلټنې ته د USAIDځواب.
206. دسيګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
207. دسيګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب؛دسيګار7/16/2012 پلټنې ته د USAIDځواب.
208. دسيګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته دخزانې ځواب.
209. دسيګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته دخزانې ځواب.
210. دسيګار12/30/2011 معلوماتي غوښتنې ته دخزانې ځواب.
211. دسيګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته دخزانې ځواب.
212. دسيګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته دخزانې ځواب.
213. دسيګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته دخزانې ځواب.
214. دسيګار7/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/INL ځواب.
215. دسيګار7/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/INL ځواب.
216. دسيګار7/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/INL ځواب.
217. دسيګار7/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/INL ځواب.
218. دسيګار7/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/INL ځواب.
219. دسيګار7/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/INL ځواب.
220. دسيګار7/6/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/INLځواب.
221. دملګروملتونو عمومي- منشي،" په افغانستان کې وضعيت اوددې لخوا د نړيوالې سولې اوامنيت پلي کول،" ، 11مخ.

# پا یلیکو نه

222. دسیګار7/6/2012،4/6/2012،او 7/19/2012 معلوماتي غوښتنو ته د /DoS INL ځوابونه؛ UNODC، "افغانستان: UNODC دقضايي سيستم له پرمختیاسره مرسته کوي،" 12/17/2009.
223. DoS،" جولای 9-7 دافغانستان په اړه دټوکیو کانفرانس،" 7/8/2012.
224. دسیګار7/7/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/INLځواب.
225. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
226. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
227. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
228. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
229. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
230. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
231. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
232. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
233. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
234. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب؛ دملګروملتونو عمومي-منشي،" په افغانستان کې وضعیت اوددې لخوا د نړیوالې سولې اوامنیت پلې کول،" ، 11مخ.
235. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
236. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
237. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
238. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
239. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
240. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
241. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoDځواب.
242. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
243. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
244. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
245. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
246. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
247. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
248. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
249. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
250. دملګروملتونو عمومي- منشي،" په افغانستان کې وضعیت اوددې لخوا د نړیوالې سولې اوامنیت پلې کول،" ، 11مخ.
251. دسیګار7/16/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS/INLځواب.
252. په کابل کې دمتحده ایالاتو سفارت،" متحده ایالات په پروان ولایت کې دطالبانو لخوا په عامه توګه دیوې ښځې وژنه غندي،" 7/8/2012.
253. 2012 " ،DoS قاچاق وړنه دکسانو په راپورکې،" 6/19/2012، 62 مخ.
254. 2012 " ،DoS قاچاق وړنه دکسانو په راپورکې،" 6/19/2012، 62 مخ.
255. 2012 " ،DoS قاچاق وړنه دکسانو په راپورکې،" 6/19/2012، 62 مخ.
256. 2012 " ،DoS قاچاق وړنه دکسانو په راپورکې،" 6/19/2012، 62 مخ.
257. 2012 " ،DoS قاچاق وړنه دکسانو په راپورکې،" 6/19/2012، 62 مخ.
258. AIHRC، "د NDS تسهیلاتو څارنې په اړه د AIHRC اوپرانیستې ټولنې راپورتازه کول،"
259. AIHRC، " تاوتریخوالی، لیږدونې او د مناسب پروسس څخه مخ نیوي: په افغانستان کې د شخړو سره د تړاو لرونکو بندیـــــــانو سره چلن "، 3/17/2012، دویمه پاڼه.
260. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
261. UNHCR، " افغان کانفرانس: استازودکډوالو لپاره دحل لارې ستراتیژي لاسلیک کوي،" 5/3/2012؛ دسیګار7/13/2012 پلټنې ته د DoS/PRM ځواب.
262. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
263. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب؛دسیګار7/13/2012 پلټنې ته د DoS/PRM ځواب.
264. UNHCR، " افغان کانفرانس: استازودکډوالو لپاره دحل لارې ستراتیژي لاسلیک کوي،" 5/3/2012 .
265. UNHCR.، " افغان کانفرانس: استازودکډوالو لپاره دحل لارې ستراتیژي لاسلیک کوي،" 5/3/2012 .
266. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب؛دسیګار7/13/2012 پلټنې ته د DoS/PRM ځواب.
267. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب؛دسیګار7/13/2012 پلټنې ته د DoS/PRM ځواب.
268. HRW، " افغانستان: دقانون مسوده درسنیوخپلواکي له ګواښ سره مخ کوي،" 7/2/2012.
269. یوناما، "افغان ژورنالیستان درسنیوقانون څیړي اودسمونې لپاه یې غښتلي نظریات چمتوکوي،" 6/27/2012.
270. دسیګار7/16/2012 پلټنې ته د USAIDځواب.
271. دژورنالستانو دساتنې لپاره کمیټه، "وژنې ته له سزاورکولوڅخه تیښته،" 4/17/2012.
272. نړیوال بانک،"افغانستان دلیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،1 جلد،" 5/2012، په 7/12/2012 کې لاسته راغلی.
273. CSIS،"افغانستان: دلیږد ناکام شوی اقتصاد،" 6/26/2012، په 7/18/2012 کې لاسته راغلی.
274. نړیوال بانک،"افغانستان دلیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،1 جلد،" 5/2012، په 7/12/2012 کې لاسته راغلی.
275. نړیوال بانک،"افغانستان دلیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،1 جلد،" 5/2012، په 7/12/2012 کې لاسته راغلی؛ نړیوال بانک،"دنړیوال بانک 2012 کال پرمختیایي شاخصونه اوس دلاسرسی وړدي،"4/19/2012،په 7/13/2012کې لاسته راغلی.
276. نړیوال بانک،"افغانستان دلیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،1 جلد،" 5/2012، په 7/12/2012 کې لاسته راغلی.
277. نړیوال بانک،"افغانستان دلیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،1 جلد،" 5/2012، په 7/12/2012 کې لاسته راغلی.
278. نړیوال بانک،"افغانستان دلیږدپه بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،1 جلد،" 5/2012، په 7/12/2012 کې لاسته راغلی.
279. نړیوال بانک،"افغانستان دلیږد په بهیرکې: د 2014 څخه اخواته کتنه،1 جلد،" 5/2012، په 7/12/2012 کې لاسته راغلی.
280. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
281. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب،6/28/2012.
282. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
283. .دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب،6/28/2012.
284. USAID ،" خبر پاڼه : په افغانستان کې دځمکې اصلاحات،" 6/2011 ،په 7/8/2012 کې لاسته راغلی.
285. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب،6/28/2012.
286. USAID "،USAID په افغانستان کې دښځو میراث اوځمکې حقوقو په اړه لومړی ملي کنفرانس ترسره کوي،" 5/8/2012 ،په 7/8/2012 کې لاسته راغلی.
287. USAID،" دښځو دمیراث اوځمکې حقوقو په اړه دویم سیمه ییزکنفرانس په جلال آباد کې په لاره واچول شو،" 7/5/2012،په 7/8/2012 کې لاسته راغلی.
288. USAID،" دښځودځمکې حقوقوته درسیدنې لپاره عملیاتي ځواک چمتو شوی دی،" 12/11/2011، په 7/8/2012کې لاسته راغلی؛ دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
289. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
290. دسیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
291. IMF،مطبوعاتي خپرونه 12/245،" د IMFاجرایوي بورډ دافغانستان لپاره د اعتباروکولوتمدید شوی سهولت ترتیب کول لپاره لومړی بیاکتنه بشپړکوي،

د18.2میلیون امریکایي ډالر مصارف ومنل شو،" 6/29/2012، په 7/3/2012 کې لاسته راغلی.

292. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
293. IMF،مطبوعاتي خپرونه 12/245،" د IMFاجرایوي بورډ دافغانستان لپاره د اعتباروکولوتمدید شوی سهولت ترتیب کول لپاره لومړی بیاکتنه بشپړکوي، د18.2میلیون امریکایي ډالر مصارف ومنل شو،" 6/29/2012، په 7/3/2012 کې لاسته راغلی.
294. GIRoA، "دکابل بانک دوسیه محکمې ته وړاندې شو،" 6/2/2012، په 6/20/2012 کې لاسته راغلی.
295. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ IMF، "دتمدید شوی اعتبارسهولت ترتیب لاندې لومړی بیاکتنه، دکړنې معیارونودنظارت نشتون څخه مخ اړونه لپاره،دکړنې معیار اصلاح لپاره،اودمصارفو بدیل لپاره غوښتنه وشوه،" 6/19/2012،په 7/12/2012 کې لاسته راغلی.
296. د سیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب؛ GIRoA،دولسمشردفتر،"دکابل بانک قرضې بیالاسته راوړلو بهیر څخه داقتصادي غونډو ارزونې،" 4/3/2012، په 7/5/2012کې لاسته راغلی.
297. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
298. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
299. MoF، " دکابل بانک مسالې په اړه غونډه،" 6/9/2012، په 6/20/2012کې لاسته راغلی؛ دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
300. MoF، " دکابل بانک مسالې په اړه غونډه،" 6/9/2012، په 6/20/2012 کې لاسته راغلی
301. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
302. دسیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځواب.
303. ولسي جرګه،" ولسي جرګې د مالیې وزیر، دمرکزي بانک رییس ،اودکابل بانک پخوانی رییس څخه د کابل بانک قرضې په اړه پوښتنې کوي،" 5/23/2012، په 6/21/2012 کې لاسته راغلی.
304. پژواک،" د کابل شریکانو شتمنې په متحده عرب اماراتو کې دخرڅلاو په بهیرکې،" 5/23/2012،په 6/21/2012 کې لاسته راغلی؛ طلوع ټلویزیون،" دبانک لویو افغاني قرضدارانو نومونه مشهورشول،" 5/23/2012 ،په 7/11/2012 کې لاسته راغلی.
305. IMF، "دتمدید شوی اعتبارسهولت ترتیب لاندې لومړی بیاکتنه، دکړنې معیارونودنظارت نشتون څخه مخ اړونې لپاره،دکړنې معیار اصلاح کولولپاره ،اودمصارفوبدیل لپاره غوښتنه وشوه،" 6/19/2012 ،په 7/12/2012 کې لاسته راغلی.
306. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
307. د سیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
308. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
309. DAB، "دافغانستان دبانکدارۍ او اقتصاد انستیټیوټ د USAID/FAIDA لخوا 1.2میلیون امریکایي ډالرمرسته تر لاسه کړه،" په6/21/2012 کې لاسته راغلی؛ DAB،" دافغانستان بانکدارۍ او اقتصاد انستیټیوټ لپاره د پروژې غوښتنه،" 3/29/2009، په 6/21/2012 کې لاسته راغلی.
310. DAB، "دافغانستان دبانکدارۍ او اقتصاد انستیټیوټ د USAID/FAIDA لخوا 1.2میلیون امریکایي ډالرمرسته تر لاسه کړه،" په6/21/2012 کې لاسته راغلی؛
311. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
312. دسیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب.
313. د سیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
314. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
315. USAID،" ګرځنده روپۍ د افغاني محصلینو استعداد ته ضربه رسوي،"،4/22/2012، په 6/18/2012 کې لاسته راغلی.
316. USAID،" ګرځنده روپۍ د افغاني محصلینو استعداد ته کېته کوي،" 7/9/2012، په 7/10/2012 کې لاسته راغلی.
317. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
318. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
319. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
320. USDA، " په افغانستان کې د کرهنې بیاکتنه،" په 7/17/2012 کې لاسته راغلی.
321. FEWS نیټ، "د افغانستان غذایي امنیت تازه پس منظر،" 6/2012 ،په 7/13/2012 کې لاسته راغلی؛ FEWS نیټ، " دافغانستان دقیمتونوخبرتیا،" 7/2012،په 7/13/2012 کې لاسته راغلی.
322. FEWS نیټ، "د افغانستان غذایي امنیت تازه پس منظر،" 6/2012 ،په 7/13/2012 کې لاسته راغلی.
323. WFP، "د 2012 جون خپروني لپاره دافغانستان مارکیټ قیمتونوضمیموي خبرتیا،" 6/2012، په 7/13/2012 کې لاسته راغلی.
324. WFP، "د 2012 جون خپروني لپاره دافغانستان مارکیټ قیمتونوضمیموي خبرتیا،" 6/2012، په 7/13/2012 کې لاسته راغلی.
325. USDA، " د خوړو ټیټ امنیت او زیاتیدونکي بیې: د افغانستان څخه شواهد" 9/2011، په 7/19/2012 کې لاسته راغلی.
326. د سیګار7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
327. د سیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د TFBSOځواب.
328. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
329. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
330. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
331. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
332. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
333. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAIDځواب.
334. سیګار،" کانګرس لپاره دری میاشتنی راپور،" 4/2012، 120 مخ.
335. MoM، "افغانستان دګازاوتیلو داوطلبي لپاره د اتو غوښتونکوورتیا اعلانوي،" 7/4/2012، په 7/6/2012 کې لاسته راغلی.
336. ، "افغانستان دګازاوتیلو داوطلبي لپاره د اتو غوښتونکوورتیا اعلانوي،" 7/4/2012، په 7/6/2012 کې لاسته راغلی؛ MoM، " په افغانستان کې دزلزلیزمعلوماتوتر لاسه کول بشپړشو،" 5/8/2012، په 7/6/2012 کې لاسته راغلی.
337. د سیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د TFBSOځواب.
338. د سیګار7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د TFBSOځواب.
339. ADB، " تاریخي هوکړه لیک د TAPIپایپ لاین اوږدې- مودې انتظار به واقعیت ته نږدې کړي،" 5/23/2012، په 7/14/2012 کې لاسته راغلی.
340. DoS، " لکه څنګه چې دبهرنیو چاروو زارت لخواخپورشوی،دبهرنیوچارو وزارت به په منظمه توګه دخبرو لنډیزخپورکړي،" 5/23/2012، په 7/12/2012 کې لاسته راغلی؛ په اپریل کې د سیګار QR 2012، مخ. 118.
341. ADB، " تاریخي هوکړه لیک د TAPIپایپ لاین اوږدې- مودې انتظار به واقعیت ته نږدې کړي،" 5/23/2012، په 7/14/2012 کې لاسته راغلی؛ په اپریل کې د سیګار QR 2012، مخ. 118.
342. سیګار،" کانګرس لپاره دری میاشتنی راپور،" 1/2012،مخ. 124–125.
343. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
344. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب؛ USAID، "ملګرتیا،پرمختګ، اوټینګار،" 3/29/2012 په 7/5/2012 کې لاسته راغلی.
345. USAID، "ملګرتیا،پرمختګ، اوټینګار،" 3/29/2012 په 7/5/2012 کې لاسته راغلی.
346. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
347. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
348. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
349. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
350. د سیګار6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
351. USAID،"دافغانستان کاري ځواک (AWDP) پرمختیایي پروګرام،"په 7/5/2012 کې لاسته راغلی.

352. د سيګار 6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
353. د سيګار 6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
354. CSO، " دافغانستان بيلابيلو شاخصونو پله ايزه سروې 2011/2011،" 6/2012، په 7/10/2012 کې لاسته راغلی.
355. CSO، " دافغانستان بيلابيلو شاخصونو پله ايزه سروې 2011/2011،" 6/2012، په 7/10/2012 کې لاسته راغلی.
356. CSO، " دافغانستان بيلابيلو شاخصونو پله ايزه سروې 2011/2011،" 6/2012، په 7/10/2012 کې لاسته راغلی.
357. دپوليوله مينځه وړلو لپاره نړيوال نوښت،" پوليودا اونی ،" 7/4/2012، په 7/11/2012 کې لاسته راغلی.
358. دعامې روغتياوزارت،"ډاکترثريا دليل دنړيوالې روغتيايي ټولنې درييس مرستياله وټاکل شوه،" 5/27/2012، په 7/11/2012 کې لاسته راغلی.
359. دعامې روغتياوزارت،"ډاکترثريا دليل دنړيوالې روغتيايي ټولنې درييس مرستياله وټاکل شوه،" 5/27/2012، په 7/11/2012 کې لاسته راغلی؛ دپوليوله مينځه وړلو لپاره نړيوال نوښت،" پوليودا اونی ،" 7/4/2012، په 7/11/2012 کې لاسته راغلی.
360. USAID، "ملګرتيا سوداګرې اوترانزيټ آسانوي،" 5/13/2012، په 7/13/2012 کې لاسته راغلی.
361. WTO، " د WTO غړي دافغانستان سوداګرې تګلارې ته بياکتنه کوي،" 6/18/2012،په 7/13/2012 کې لاسته راغلی.
362. USAID، "افغانستان دګرندی سوداګرې په ليکه کې،" 6/26/2012، په 7/13/2012 کې لاسته راغلی.
363. د سيګار 7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoS ځواب.
364. USIP،" دباور-جوړوني څخه ملاتړ؛ ننني دکابل' اسيازره' کانفرانس،" 6/14/2012،په 6/25/2012 کې لاسته راغلی؛ په واشنګټن ډي سي کې د افغانستان سفارت،" د آسيازره وزارتي کانفرانس اعلانول،" 6/14/2012، په 6/25/2012 کې لاسته راغلی.
365. دخلکو جمهوري چين،دبهرنيوچارو وزارت، " د شانګهای مرستي تنظيم دغړو دولتونو دمشرانوټولنی دغونډې ګډ مطبوعاتي اعلاميه،"6/7/2012، په 6/25/2012 کې لاسته راغلی.
366. د هندې صنايعو يو ځای کيدنه،" په افغانستان کې دپانګه اچوني لپاره ددهلي غونډه: د غونډې په اړه" په 6/25/2012 کې لاسته راغلی.
367. GIRoA، " افغانستان اوترکيه د ستراتيژيک ملګرتيا ترون دلاسليک کولو په درشل کې،" 6/15/2012، په 6/25/2012 کې لاسته راغلی.
368. GIRoA، " د افغانستان اسلامي دولت اود جرمني فيډرالي جمهوري ترمينځ د دوه اړخيزه مرستو ترون لاسليک کول،" 5/16/2012، په 7/14/2012 کې لاسته راغلی.
369. GIRoA، " د افغانستان اسلامي دولت او استرليا ترمينځ د اوږد مهاله ملګرتيا جامع ترون لاسليک کول،" 5/20/2012، په 7/14/2012 کې لاسته راغلی.
370. د قزاقستان د بهرنيو چاروو زارت،" قزاقستان او افغانستان همکاريو ته دوده ورکولو په موخو د هوکړو يوه مجموعه لاسليک کوي،" 6/15/2012، په 6/25/2012 کې لاسته راغلی.
371. SCO، " چين د2012 کال په ترڅ کې له افغانستان سره -150ميليون- ين مرسته کوي،" 6/8/2012، په 6/25/2012 کې لاسته راغلی.
372. DoS،"د G8غونډه 2012،" په 6/25/2012 کې لاسته راغلی.
373. سپينه مانې، "د کيمپ ډيوډ اعلان،" 5/19/2012، په 6/25/2012 کې لاسته راغلی.
374. ناټو، " دافغانستان په اړه دشيکاګو اعلان،" 5/21/2012، په 7/14/2012 کې لاسته راغلی.
375. GIRoA، "دټوکيو اعلان، په افغانستان کې د خود- کفايي لپاره ملګرتيا، د ليږد څخه تربدلونه پورې،" 7/8/2012، په 7/14/2012 کې لاسته راغلی.
376. سيګار، " کانګرس لپاره درې مياشتنی راپور،1/2011، 94 مخ؛ سيګار، " کانګرس لپاره درې مياشتنی راپور،" 4/2012، 124 مخ.
377. د سيګار 7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب؛ سيګار، "کانګرس لپاره درې مياشتنی راپور،" 10/2011، 102 مخ.
378. د سيګار 7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
379. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
380. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
381. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
382. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
383. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
384. په کابل کې دمتحده اياالتو سفارت،"د حيرتان ريل پټلۍ په تقريب کې دامريکا سفيرکارل ايکن بيري يادوني،" 5/25/2010، په 6/29/2012 کې لاسته راغلی.
385. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
386. سيګار، "کانګرس لپاره درې مياشتنی راپور،" 1/2012، 127مخ.
387. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
388. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
389. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب؛ USAID،" د افغانستان پارلماني مرستي پروګرام، قانوني خبرپاڼه،" 5/7/2012، په 7/2/2012 کې لاسته راغلی؛ دملګروملتونو عمومي منشي،" په افغانستان کې وضعيت او ددې لخوا دنړيوالې سولې او امنيت پلې کول،" 6/20/2012،2 مخ، په 7/2/2012 کې لاسته راغلی.
390. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
391. د سيګار 6/27/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoTځواب.
392. د سيګار 7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
393. د سيګار 6/28/2012 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.
394. د سيګار 7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د TFBSOځواب.
395. د سيګار 7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د TFBSOځواب.
396. د سيګار 7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د TFBSOځواب.
397. د سيګار 7/2/2012 معلوماتي غوښتنې ته د TFBSOځواب.
398. د سيګار 7/5/2012 معلوماتي غوښتنې ته د DoSځواب.
399. د WSIS شورى 2012،"د WSIS بياکتنه،" په 6/18/2012 کې لاسته راغلی؛ د WSIS شورى 2012، "دمعلوماتي شورى په اړه نړيوالې غونډې ته بلنه2012،" 3/20/2012، په 6/19/2012 کې لاسته راغلی.
400. H.E ،"MCIT، امېرزی سنګين به د جنيوا WSIS شورى 2012 لپاره د افغاني پلاوی مشري وکړي،" 6/10/2012، په 6/19/2012 کې لاسته راغلی؛ د WSIS شورى 2012،"دافغانستان هيوادورکشاپ،" 5/17/2012،په 6/19/2012 کې لاسته راغلی.
401. د WSIS شورى 2012،" دافغانستان هيوادورکشاپ دپاليلو اسناد،" 5/16/2012،په 6/19/2012 کې لاسته راغلی.
402. MCIT،"د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ H.E وزيرله واشنګټن ډي سي څخه کتنه کوي،" 6/17/2012، په 6/18, 2012 لاسته راغلی.
403. MCIT ،"MCIT د اريبا سره د 3G اجازه ليک هوکړه لاسليک کوي،" 6/20/2012، په6/20/2012 کې لاسته راغلی.
404. سيګار،"کانګرس لپاره درې مياشتنی راپور،" 4/2012، 127 مخ.
405. روشن، " يواځنی شرکت چې د مشتريانوشميريې په افغانستان کې 6 ميليونو ته رسيدلې،" 6/12/2012،په 6/19/2012 کې لاسته راغلی.
406. روشن، " روشن اوويسترن يونين په افغانستان کې د پيسو خوځند ليږد نړيوال خدمت پيل کړل،" 5/21/2012؛ په 6/19/2012 کې لاسته راغلی.